د قرآن او حدیث په رڼا کې

د میت مسائل

(بشپړ او مدلل)

لیکوال

مولانا محمد رفعت قاسمي

مدرس دارالعلوم دیوبند

ژباړن

عبدالله ګل "ریان"

مکتبۂ رشیدیہ

سرکی روڈ کوئٹہ فون: ۲۶۶۸۲۵۷، ۲۶۶۲۲۶۳

دکتاب ځانګړتیاوې:

دکتاب نوم: دمیت مسائل

لیکوال: مولانا محمدرفعت "قاسمي"

ژباړن: عبدالله ګل "ریان"

کمپوز: سواد فرهنګي ټولنه

کمپوزر: بشیراحمد "ریان"

تصحیح کوونکی: مولوي سفرمحمد "عابد"

دچاپ کال: ۱۳۳۱ هـ ق (۱۳۸۹ لمریز)

خپرندوی: رشیدیه کتابخانه، کوټه

لړلیک

بسم الله الرحمن الرحیم

انتساب

زه دخپلې دې پلټنې (مکمل و مدلل مسائل میت) هابیل ،د آدم (علیه السلام) وژل شوي زوی ته په انتساب نیکمرغې ترلاسه کوم ،چاچې دحق په خاطر ترټولو وړاندې، دمړینې جام غړپ کړ.

قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ .

محمد رفعت قاسمي
ددیوبند ددارالعلوم خادم
۱۴ شعبان المعظم ۱۴۲۹ هق
۱۶ اګست ۲۰۰۸ دشپې مهال

دليکوال عرض

الحمدلله وحده والصلوة والسلام على من لانبي بعده.

امابعد:

دغیر معمولي (ناروغی له امله) دځنډ نه وروسته داده الحمد لله یوویشتم کتاب (مکمل ومدلل مسائل میت) ستاسو په خدمت کې دی. په دي کې دناروغ دپوښتني اداب او فضائل، دمړيني دشيبي احکام او مسائل، تر مړيني وروسته غسل، کفن، دجنازي دپورته کولو او په اوږو اېښودلو مسنونه طريقه، عامه هديره، وقف شوي هديره، مملوکه هديره، د مخلوطي هديري مسائل، دجنازي لمونځ به څوک ورکوي، دامامت حق دچا دی؟ څوک دجنازي لمونځ ورکولای شي؟

دخښولو مسنونه طريقه، تر خښولو وروسته مسائل، دمړي اهل ته به ډوډی څوک ورکوي، څو ورځي او څوک يې جوړولای شي، دثواب رسيدلو مسنونه طريقه، دفون، ليک، جلسې او دنورو په ذريعه تر مړيني وروسته تعزيې ته حاضريدل. دميرمني عدت، دمړه شوي دلمانځه، روژي، زکوة او حج او نورو دفديې مسايل.

لنډه داچې دمړيني له نښو رانيولي، دثواب ببښلو، دقبرونو د زيارت نږدې ټولې اړينې مسئلې پکې شته. داټول دالله تعالى فضل او کرم دی او ددارالعلوم او ددارالعلوم دمفتيانو برکت او ثمره ده.

الله تعالى دي دنورو پخوانيو کتابونو په څېر دي ته هم په خلکو کي دمنلو درجه ورکړي. دمړيني او وروسته تر مړيني دي راسره دفضل، کرم او بخښنې معامله وکړي.

أنت وليّي في الدُّنيا والآخرة توفّني مُسلمًا وألحقني بالصّالحين.

آمين يا رب العالمين.

محمدرفعت قاسمي... ددیوبند ددارالعلوم خادم

۱۴ شعبان المعظم ۱۴۲۹ هق

۱۶ اگست ۲۰۰۸ دشپې مهال

د دیوبند ددارالعلوم دشیخ الحدیث او صدر المدرسین فقیه النفس مولانا مفتي سعیداحمد صاحب مدظله:

تقریظ

الحمد لله ربّ العالمين والصلوة والسلام على عبده ورسوله الكريم محمد رحمة للعلمين وعلى آله واصحابه اجمعين.

اما بعد: ماته دخوشحالي ځای دی چې، محترم ورور، د دیوبند ددارالعلوم استاذ، مولانا قاري محمد رفعت صاحب د(میت) مفصل احکام ترتیب کړي دي. نوموړی ماشاءالله بریالی دی، دهغه په قلم ډیر کتابونه لیکل شوي دي او په عام او خاصو کې مقبول دي.

له همدې امله، پوره هیله ده چې داکتاب (مکمل ومدلل مسائل میت) هم هغسې بلکې تر هغوی لا ښه شي، ځکه انسان هره راتلونکې ورځ دپرمختګ پړاوو نه وهي او دښېګڼو لورته په مخ ځي.

دعا کوم چې همدا کتاب هم دخدای تعالی په دربار کې دقبول شرف حاصل کړي او امت ته يې فيض ورسيږي.

کتبه:

سیعداحمد عفی الله عنه پالن پوري

خادم الحدیث دارالعلوم دیوبند.

ددیوبند ددارالعلوم دمفتي مولانا محمود حسن بلندشهري:

تقریظ

الحمدلله نحمده ونستعینه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ونشهد ان لااله الا الله وحده لا شریک له، ونشهد ان سیدنا محمدا عبده ورسوله، ارسله الله تعالی الی کافة الناس بشیرا ونذیرا وداعیا الی الله باذنه وسراجا منیرا .

امابعد: دمړي او دهغه اړوند په شرعي احکامو مشتمل کتاب (مسائل میت) مې توري په توري وکوت .په حقیقت کې دا دټولو مسلمانانو لپاره ګټور بلکې دا اهل علم کسانو لپاره لا هم غوره ډالۍ ده.له مستندو حوالو سره ،دشریعت حکم معلومېږي.دفتاواو اصل کتابونو ته هم په اسانۍ سره رجوع کېږي.الله تعالی دې دکتاب مؤلف (مولانا قاري محمدرفعت صاحب مدظله) او دهغه مرستندویانو ته ښه بدل ورکړي، دټولو لپاره دې دا کتاب دآخرت ذخیره وګرځوي او ددعاوو په قبول دې ونازوي او له ټولو فتنو څخه دې خوندي ولري.(آمین)

هذا ماکتبه احقر الزمن العبد محمود الحسن بلند شهري غفرالله له ولوالدیه واحسن الیهما والیه . خادم التدریس والافتاء جامعه دارالعلوم دیوبند.

۱۰ ذي الحجه ۱۴۲۹ هـ یوم ثلثا قبیل صلوة العصر.

دمولانا مفتي زین الاسلام قاسمي صاحب :

تقریظ

حامداً ومصلیا ومسلماً :

درانه ملګري محترم مولانا قاري محمدرفعت قاسمي صاحب دام فیضه وعم نفعه ته دې الله تعالی نیک اجراو بدل ورکړي،د خپلو مطبوعاتو په لړ کې په یوویشتم کتاب (مکمل ومدلل مسائل میت) یې هم دنورو کتابونو په څیر دفقهي اوفتاواوو له مستندو کتابونو څخه دمیت په اړه هر ډول جزیات رایوځای کړی دي.ځینې ځایونه یې په خپل قلم څو کرښې ګټور توضیحات لیکلي دي.ما دامجموعه له پیل څخه ترپایه وکتله ،هره مسئله په معتمدو حوالو ښکلې شویده ، په استناد کې یې کومه خبره نشته ،په پوره ډاډ سره داخبره کیدلای شي چې دا دمسجدونو داامامانو لپاره خورا ګټور کتاب دی.

دعا کوم چې داکتاب هم دالله تعالی په دربار کې دعام مقبولیت شرف ولري او امت ته یې برکت ورسیږي.

ددرویشانو دپښو خاوري زین الاسلام قاسمي .

په ناروغتیا کې د درمل او دعا حکم

کله چې کوم مسلمان ناروغ شي ، هغه او خپلوانو ته یې لازمه ده چې د ناروغي علاج یي وکړي، کوم داکتر ،ماهر یا بل چاته دي ورشي.ځکه په حدیث شریف کې راځي:

تداوو عبادالله فان الله تعالى ما خلق داء الا وقد خلق له دواء لا السام والهرم.(مشکوة شریف ج۱ ص ۳۸۸ او ابوداود شریف ج۲ ص۵۳۹)

ژباړه: دالله بندګانو ! علاج وکړئ،بیشکه الله تعالی چې څومره ناروغۍ پیدا کړي دي دهغوی دوایې هم پیدا کړي ده خو نه دمرګ او زوړتوب لپاره.

په بل حدیث شریف کې راځي :

[لكل غم فرح وكل داء دواء.]

ژباړه :(دهر غم لپاره خوشحالي شته او دهرې ناروغۍ لپاره دواء.)

یعني الله تعالی چې څومره ناروغۍ پیدا کړي دي، دهغوی دلرې کولو لپاره یې دواوي هم پیدا کړي دي چې ددې ناروغیو دعلاج خاصیت یې پکې ایښی دی.

دناروغیو په درملنه کې غوره داده چې اعتدال پکې مراعات شي، ماهر داکتر ته چې له خدایه ویریږي او ښه خُلق ولري، مراجعه کوئ. د درملني کار ژر ،ژر مه بدلوئ، ددوا تر معقول اثر پورې پاته کیږي، دیوه مشیر په تدبیر باندې اکتفا کوئ. ترڅو چې امکان ولري په درملنه کې داسې څه مه استعمالوي چې هغه حرام وي. ځکه الله تعالی په حرام او

ممنوع شیانو کې شفاء ایښې نه ده. لکه په حدیث شریف کې چې راځي:

ماجعل الله شفاء کم فیما حرم .(بخاري ج ٢ ص ٨٤٠)

په حرامو شیانو کې الله تعالی ستاسو لپاره شفا ایښې نه ده ، خو که کوم حاذق او ماهر طبیب د کوم ممنوع او حرام شي په هکله داپریکړه وکړي چې ددې ناروغ لپاره په دې کې شفاء شته ،له هغه پرته یې درملنه نه کیږي، شریعت په داسي څه کې دځان ژغورلو اجازه ورکړي ده. ددې کار په کولو دې مریض او دهغه خپلوان له خپلې دې ګناه څخه توبه وکړي او ډیر استغفار دې ووایې،ترڅو الله تعالی په ټولو رحم وکړي ، لکه په قرآن کریم کې چې ارشاد دی :

[واستغفروا الله ان الله غفور رحیم.]

(له الله تعالی څخه بښنه وغواړئ، بیشکه هغه بښونکی او مهربان دی.)

په حدیث شریف کې دي :

توبوا الى الله قبل ان تموتوا.(ابن ماجه ص ٧٨)

(تر مړینې وړاندې په توبه کولو کې بیړه وکړئ.)

دګناوو ډیروالی، دمنهیاتو او محرماتو ارتکاب او دحق ضایع کول هم دناروغیو سبب ګرځي ، له همدې امله په ناروغي کې توبه او استغفار کول ضرور دي. په حدیث شریف کې راځي :لکل داء دواء و دواء الذنوب الاستغفار.

هرې ناروغۍ ته درمل شته، دګناهونو درمل استغفار دی.
داهم په یاد ولرئ چې ځیني خلک دخطرناکو ناروغیو له
دواء او دعا له تتایجو څخه ناهیلي کیږي ،دشریعت خلاف
شیان کوي ،په منهیاتو او حرامو کې واقع کیږي. دشرع
خلاف نذر ، جنتر منتر ،سحر او جادو کوي. داسې تدبیرنه
داچې یوازې حرام دی بلکي ګمور هم نه دی . نو مسلمانانو ته
ضرور ده چې هغوی ددې بې پایښته ژوند لپاره په داسې کړو،
وړو خپل دین او ایمان برباد نکړي ،بلکې ددې لپاره دخاتمې
دخیر دعا وغواړي او غوره داده چې دناروغۍ دزیاتوالي په
صورت کې مستحقو خلکو ته صدقه او خیرات ورکړي
،دمسکینانو او بې وزلو دعاوې وګټي. په حدیث کې راځي :

[تداووا مریضکم بالصدقه.]

دخپلو ناروغانو درملنه په صدقه سره وکړئ.

درسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده :

لاترد البلاء الا الصدقة. صدقه بلاوې لرې کوي.

همداسې په هر مسلمان باندې فرض دی چې په خپل ژوند
کې داخرت دتوښې دبرابرولو خیال وساتي. دا فرض خورا
مهم دی. ځکه ژوند بې پایښته دی یوازې دساه په پورته کښته
کیدلو پورې ژوند تړلی دی، امکان لري په خورا معمولي
علت یا ناروغۍ سره دساه پورته کښته تلل راتلل ختم شي او
ددنیا او دین ټولي هیلي پای ته ورسیږي. نو هر مسلمان ته
لازمه ده چې هغه داخرت انتظام وکړي. که بد مرغي وي او

ددې ژوند په ډیرو کارونو کې راګیر شي او دې لوري ته
پاملرنه ونلري ، دناورغي په شپو ورځو کې که یې عقل او
حواس په ځای وي نو دې لورته متوجه شي ، که شتمن وي، د
خپلو بې وزله خپلوانو ،دوستانو، ګاونډیانو او دلویدلو
خلکو مرسته دې وکړي ،په نیکو کارونو کې دې شتمني
ولګوي.دوارثانو دحق خیال دې وساتي .له خپل حیثیت سره
سم دې دخیر په لګښتونو کې برخه واخلي .په دې حدیث
شریف دې عمل وکړي.

خیرالمال ما انفق في سبیل الله .

غوره شمتنې هغه ده چې دالله تعالی په لار کې ولګیږي.

دمړیني دبسترې حکم

انساني ژوند ددنیاوي اړتیاوو له امله په ډیرو ناخوالو کې
تیریږي، ځیني وختونه خو ،اړتیاوې انسان دبغض او کینې
دې حد ته ورسوي چې ورته جایزې بریښي. مسلمان ته چې
شریعت حکم کړی دی ،نو که کله داسې پیښ شي چې له کوم
خپلوان ،دوست ،ګاونډي یا کوم بل مسلمان سره ورته څه زړه
بداوي پیدا شي ، تردري ورځو ډیر دې په زړه کې کینې او
کرکي ته ځای نه ورکوي،خو مره چې کیدلای شي جوړه دې
کوي. دافسوس ځای دادی چې موږ دشریعت دنورو احکامو
په څیر، دې حکم ته هم شا کړي ده. ډیر کسان په کینه ،حسد
،کبر ، غرور ،ځان ښودنه او ریا اخته دي. که دژوند
مصروفیتونه ،ځان غوښتنه ،دخوندونو او سیالی جذبات

ورته دارام او راحت په وخت کې دا اجازه نه ورکوي چې
داناروغي له زړه څخه وباسي ،نو انسان ته لازم دی چې مړيني
ته په نژدې والي کې ، دناروغي په شپو کې داناولي شيان له
زړه څخه لرې کړي.دهغو کسانو خوشحالي ترلاسه کړي چې
دارامي په وخت کې يې کړولي وي.

په دې لړ کې دمريض لپاره ترهرڅه وړاندې دا فرض دی چې
دهغه عزيزانو ،دوستانو ،ګاونډيانو ،خدمت کوونکو او عامو
مسلمانانو خوشحالي ترلاسه کړي ،څوک چې يې کړولي وي،
کينه يا بغض يې ورسره وي،هغوی ته عذر ووايي.

په داسې حالت کې چې انسان دناروغي يا مړيني په بستر
پروت وي، دعامو خوشحالول دده بار سپکوي.دده ټپي او
مړژواندی زړه ورسره غوړيږي.ناروغي يې تخفيف پيدا
کوي يا مړينه ورباندې اسانه کيږي.له دې سره ،سره يو
مسلمان چې دناروغي په بستر پروت وي په دې هم غور وکړي
چې دده دلاسه چاته تکليف رسيدلی دی، دده دژوند په
مصروفيتونو کې دچا حق ضايع شوی دی.په دې توګه که
دغسې څوک ورته ياديږي.له هغوی څخه دخپلو تيروتنو
ببښنه وغواړي او په معافي او ببښنه غوښتلو کې دشرم
احساس ونکړي. که يې وس وي دهغه زيان بدل دې ورکړي،
دچا حق چې يې ضايع کړي وي هغه ورته تلافي کړي او که
وس ورسره نه ؤ نو معافي دې ورڅخه وغواړي. ځکه شريعت
مسلمانانو ته وايي چې حق ضايع کول خورا بده ګناه ده.د هغه

چا چې حق يې ضايع کړی دی،که يې هغه په خپله معاف نکړي
نو الله دده جرم او ګناه نه ببښي.

نو مسلمان ته لازمه ده چې دچا حق ضايع نکړي، که داسې
کومه ګناه ورڅخه وشي ،نو په دې ژوندکې دې ترې دببښلو
ووايي، ترڅو په اخرت کې يې له پوښتنې خلاص وي.

موږ وعده کوو چې انشاء الله بيا به دعباداتو او فرايضو له
اداء کولو سره ،سره معاملې هم سموو، دخدای مخلوق ته به
ګټه رسوونکي کيږو او پاته ژوند به له شريعت سره سم
تيروو.له بديو توبه کوو بيا به دخدای دبندګانو دتکليف
رسولو څخه ځان ساتو.له هر هغسې عمل څخه به لرې اوسو
کوم چې پکې چاته دناحق تکليف رسولو ويره وي.

الله تعالی دې زموږ توبه قبوله کړي او په نيکو خلکو کې مو
دې شامل کړي.آمين . محمدرفعت قاسمي.

په اسلام کې دناروغ پوښتنه کول

دناروغ پوښتنه ،تسلا او دهغه خدمت،رسول الله صلی الله
عليه وسلم دلوړې درجې نيک عمل او منل شوي عبادت بللی
دی.په مختلفو طريقو سره يې ددې ترغيب کړی دی.درسول
الله صلی الله عليه وسلم خپل معمول داوو چې دناروغ به يې
پوښتنه کوله ،هغه ته به يې داسې خبرې کولې چې ورباندې
تسلا به يې کيدله او غم به يې سپکيده.دالله تعالی نوم او
کلام به يې وايه او په مريض به يې دم کاوو.نورو ته به يې هم
دغسې تلقين کاوو.

ابوموسي اشعري رضی الله عنه ،درسول الله صلی الله علیه وسلم یو ارشاد روایت کوي:

په وږیو خواړه وخورئ، د ناروغانو پوښتنه وکړئ، کوم کسان چي ناحقه بندیان شوي دي، دهغوی د خلاصون هڅه وکړئ. (صحیح بخاري)

له ثوبان (رضی الله عنه) څخه روایت دی چې، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ارشاد وکړ:مؤمن بنده چي دایمان خاوند وروړ پوښتنه وکړي، تر بیرته راتلو ګواکي هغه د جنت په باغ کي واوسید.

ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم لاربښوونه وکړه : څوک که د کوم ناروغ پوښتنه وکړي، دالله له لوري په آسمان کي یو منادي غږ وکړي :ته مبارک،ناروغ ته ستا ورتګ مبارک، داچي تا داکار وکړ،په جنت کي دي ځان ته کور جوړ کړ.

(معارف الحدیث ج ۳ ص ۴۴۷ دابن ماجه په حواله.)

دناروغ عیادت(پوښتنه) کول

که دچا کوم خپلوان او یا دوست ناروغ شي، دهغه دلیدلو او دهغه داحوال معلوملو لپاره ورتګ مستحب دی ، دي ته عیادت یا دناروغ پوښتنه کول وایي.

که دناروغ کوم خپلوان یا داحوال معلوملو څوک نه و، نو په داسي حالت کي دهغه ناروغ خدمت په هغو مسلمانانو چي ورباندي خبر دي کفایي فرض دی.

دعیادت دفضیلت او دهغه ثواب په هکله ډیر احادیث راغلي

دي ، زه هغه ټول نه بیانوم، دوه دري لنډ احادیث به بیان کړم.

دصحیح مسلم په یوه حدیث کي دي چي، الله تعالی به دقیامت په ورځ ووایي :ای زما بنده !زه ستا پرودګاریم .زه ناروغ وم تا زما پوښتنه ونکړه .بنده به عرض وکړي:

ای خدایه! ته دعالم پرورګاریې، ستا عیادت څرنګه کیدلای شي؟ (یعني ته نه ناروغه کیږي) ارشاد به وشي.فلاني بنده مي ناروغه ؤ،تا دهغه عیادت ونکړ .که ته دهغه عیادت ته ورغلی وای زه به له هغه سره وم.

نبوي ارشاد دی :څوک چي سهار دکوم ناروغ عیادت وکړي، دهغه په هکله تر ماښام پوري اویازره ملایکي دمغفرت دعاوي کوي او څوک چي ماښام عیادت وکړي، د هغه لپاره تر سهاره اویازره ملایکي استغفار وایي.

(سفر السعادت)

"څوک چې دخپل مسلمان وروړ عیادت وکړي، هغه ته په جنت کي یو باغ ترلاسه کیږي."(ترمذي او بخاري ج ۱ ص ۱۶۵)

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو غوره اصحابو ته دا حکم کړی دی چې، تاسو دناروغ پوښتنه کوي اوله جنازي سره یي ځي.(صحیح بخاري شریف،علم الفقه ج ۱ ص ۱۸۳)

مسئله :له پیسو اخستلو پرته له کوم بیمار سره یا قبر ته نژدي تلاوت کول صحیح دي.داجرت اخستلو لپاره تلاوت کول حرام دي، اجرت اخستونکي او ورکوونکي دواړه ګنهکار دي.ثواب ورته نه رسیږي. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۸)

دعیادت آداب

دعیادت په آدابو کې دادي چې اودس وکړي، فقط دثواب او
دالله تعالی دخوشحالي دترلاسه کولو لپاره ورشي، له بیمار
څخه دحال پوښتنه وکړي، تسلا ورکړي، هغه ته دروغیدلو
هیله پیدا کړي او دناروغي چې کوم ثوابونه په حدیث کې
راغلي دي هغه ورته ووایي. دروغتیا دعا ورته وکړي او له
هغه څخه هم دځان لپاره ددعا غوښتنه وشي، له ناروغ سره تر
ډیره وخته نه کښیني، که یې ناروغ په ناسته خوشحاله وي نو
بیا ډیر کیناستل ورسره غوره دي. (شرح سفر السعادات)

درسول الله صلی الله علیه وسلم دامبارک عادت ؤ چې که به
یې کوم خپلوان ناروغ ؤ، د هغه عیادت ته به یې تشریف
وروړ، دناروغ له سر سره به کیناست، دهغه دحال پوښتنه به
یې کوله او ویل به یې طبعیت دي څرنګه دی او زړه مو څه شي
غواړي؟ که به ناروغ څه وغوښتل او ورته زیانمن به نه وو
دهغه شي دورکړي امر به یې کاوو او خپل ښی لاس به یې د
ناروغ په بدن کښیښود او دعا به یې ورته کوله. کله به یې دا
الفاظ ویل: **اللهم رب الناس اذهب الباس واشف انت شافي
لاشفاء الاشفاءک شفاء لایغادر سقما.**

ډیروخت به یې دري ځله دعا کوله: ای الله! دټولو خلکو
پروردګاره! ناروغي تري لرې او روغتیا ورکړي. ته صحت
ورکوونکی یې او صحت هغه ده چې ته یې ورکړې، ده ته

صحت ورکړې چې کومه ناروغي یې پاته نشي.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا هم منقول دي چې
دغیر مسلم ناروغانو عیادت یې کړی دی. یوه یهودي ځوان
درسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کاوو، کله چې ناروغ
شو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې عیادت ته تشریف
یووړ. هغه ته یې دمسلمان کیدلو لاربښوونه وکړه، دهغه نیک
مرغي وه چې مسلمان شو.

کله چې یې کاکا، ابو طالب ناروغ شو، هغه مشرک ؤ، رسول
الله صلی الله علیه وسلم یې عیادت ته ورغی، له هغه څخه یې
وغوښتل تر څو مسلمان شي، خو دازل کاتب یې دانیک
مرغي په برخه کي لیکلې نه وه او ددي لاربښووني له تعمیل
څخه بې برخي پاته شو.

له همدې امله د ډیرو علماوو رایه داده چې عیادت داسلام
په حقوقو کې نه ده، بلکې دصحبت په حقوقو کې ده. له چا
سره چې یې ملاقات شوی وي، دهغه عیادت مسنون دی، که
هغه مسلمان وي او که غیر مسلمان.

(شرح سفر السعادات، علم الفقه ج ۲ ص ۱۸۴)

مسئله: مستحب دادي چې مړه کیدونکي دخپل ځان په
هکله په الله تعالی باندي نیک ګمان وکړي. ځکه رسول الله
صلی الله علیه وسلم ارشاد کوي: [دمړینې په حال کې
ضروري ده چې انسان په خپل حق کې په الله تعالی باندي
نیک ګمان وکړي چې هغه را باندي رحم کوي او ګناه مې راته

معافوي.]

په بخاري او مسلم کې دی چې :"الله تعالی وایي :زما په هکله چې زما بنده څرنګه ګمان کوي،زه ورسره هغسې معامله کوم." (کتاب الفقه ج ١ ص ٨٠٩)

مسئله :تر مړینې وروسته دې مړی داسې ځای کښېښودل شي چې هلته خلک وي،میت دې یوازې نه پرېږدي.که ورسره کښیناستل ستونزمن وي، لکه روغتون یا نور ځایونه،لرې دې کښېني په تسبیح او تهلیل دې مشغولیږي او دمړي لپاره دې دمغفرت دعا کوي.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ١١٦ ، درمختار ج ١ ص ٧٩٨)

مسئله :که دچا دمړینې خبره واوریدله شي یا له کوم مړي سره نژدې وي، که هغه مسلمان وي او که غیر مسلمان،دهغه په لیدلو دې ورته خپله مړینه یادیږي او ورته غوره الفاظ دادي :انا لله وانا الیه راجعون.(فتاوی محمودیه ج ٢ ص ۴١۴)

مسئله :که دمړینې نښې څرګندې شي ،حاضرین دې د شهادت کلمه په لوړ اواز او دیاسین سورة ولولي. څوک چې دمړي سترګې ورپټوي په لوړ غږ دې ووایي :بسم الله وعلی ملة رسول الله . په جامه کې تر پټولو وروسته په ورو ډول په تلاوت مشغولیدل ثابت دي .

(فتاوی شامي مع رد المحتار ج ٣ ص ٧٨-٨٥ ،احسن الفتاوی ج ۴ ص ٢٢۵ ،فتاوای هندیه ج ١ ص ١۵٧ طحطاوي علی المراقي ص ٣٠٨ ،کبیري ص ۵٧٦ ،بهشتي زیور حصه ٢ ص ۵٢.)

....

....

داسلام ستر احسان

مړینه په یقیني توګه راتلونکې ده ، کوم وخت یې معلوم نه دی، له همدې امله مسلمان ته مناسب داده چې هیڅ وخت ورڅخه غافل نشي، تل یې په یاد ولري او دآخرت دسفر لپاره تیاري وکړي ، په تیره که ناروغ وي نو خپل دین او ایماني حالت دې سم کړي او له الله تعالی سره دخپل تعلق دصحیح کولو دې ډېر فکر کوي. دنورو وروڼو دخدمت ،همدردې او دغم دسپکولو دښو یادولو هڅه دې کوي. دالله تعالی دنوم او کلام په ویلو دې ورباندې دم کوي،دصحت او روغتیا دعا دې کوي.له هغه سره دې داجر او ثواب او دالله تعالی درحمت خبرې کوي.په تیره که وپوهیږي چې ناروغ په ښکاره دښه کیدلو نه دی او داخرت سفریې نژدې دی نو دهغه زړه دې دالله تعالی لورته متوجه کوي، او دایمان دکلمې دیادونې دمناسبې طریقې کوشش دې کوي.کله چې مړینه راشي،اقارب دې له صبر څخه کار اخلي،له فطري غم او زحمت سره دې مړینه دالله تعالی پریکړه وګڼي او دوفادار بنده په څیر دې دتسلیم سر ټیټوي.دالله تعالی له کرم څخه دې ددې صدمې او غم په بدل کې داجر او ثواب امیدلري.هغه ته دې دعا کوي . په ژبه او عمل سره دې دمړي دخپلوانو او کورنیو غم خواري او تسلاء کوي ، دهغوی دغم دسپکولو کوشش دې کوي،انشاء الله تعالی دخدای جل جلاله په وړاندې به داجر څښتن وي.(معارف الحدیث ج ٣ ص ۴٣۵)

داچې داسلام په مقدس شريعت کې له خپلو دينې ورونو
سره ښه سلوک او احسان او هر ډول مراعات يوستر شی ښودل
شوی دی، شريعت داغواړي چې همدا ددينې وروړګلوۍ او
دمينې لړۍ په مړينه غوڅه نشي. له همدې امله د رسول الله
صلی الله عليه وسلم دامبارک عادت ؤچې کله به کوم مسلمان
له نړۍ څخه لاړ ،له هغه سره به يې ډير احسان کاوو او کوم
شيان چې دقبر او قيامت لپاره به ګټور وو دهغوی کوشش به
يې کاوو او دهغه له خپلوانو سره به يې هم غوره سلوک کاوو.
داسبب دی چې دجنازې لمونځ چې په حقيقت کې دمړي
لپاره دمغفرت دعا ده ، په مسلمانانو باندې دالله تعالی له
لوري فرض شوی دی او دمړي پاکول او په ښه اهتمام سره يې
تر وروستني منزل پورې رسول يو لازمي امر بللی دی.
داپه حقيقت کې دمړي دحقوقو رعايت له ناروغي تر
وروستي وخت پورې آن تر هغه لا وروسته چې په اسلام کې
دي ،په بل کوم مذهب کې يې اثر هم نشته. که دچا دليد
سترګې روښانه وي ، په ديني معاملاتو کې دقدر په سترګو
ورته کتلو، ورباندې پوهيږي. (علم الفقه ص ۱۸۳)

دمړينې دمهال مسائل

مسئله : دسلفو تعامل او دخلفو توارث دادی کوم چې
هدايې غوره کړي دي. چې دمړينې داثارو په ښکاره کولو
دي مړ کيدونکي ستوني ستغ کړي او مخ دي دقبلې لورته
واړوي، دنبوي احاديثو او فقهي دلائلو دواړو دا غوښتنه ده.

په ښې اړخ پرې ايستل قيد په کوم حديث او يا په اثر کې په
صراحت سره نشته ، نو ښه طريقه داده چې مخ په قبله له
الاستلقاء (ستونې ستغ څملول او مخ قبلې ته کول) سره وي.
يا چې يې په هر صورت سهولت وي ورباندې عمل وشي. په
دواړو کې يو هم دسنت خلاف نه ده.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۴۲ – امدادالاحکام ص ۸۱۱)
داټول صورتونه هغه مهال سنت دي چې ناروغ ته تکليف نه
وي ، که هغه ته تکليف وي نو څرنګه چې ناورغ ارام وي
هغسې دې څملول سي. (بحرالرائق)
مسئله : که ميت (مړی) بالغ وي او که نابالغ، په هر صورت
کې د نزع په مهال يسن ورته اورول مستحب دي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۳ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۷۹۷)
مسئله : دمړينې له وخت سره نژدې مستحب دادي چې کوم
خپلوان يا دوست يابل څوک ، هغه تلقين کړي، يعنې دهغه تر
څنګ په لوړ غږ کلمه طيبه ووايې، تر څو يې ناروغ واوري او
په خپله يې هم ووايې او دهغه زيري وړ وګرځي چې په صحيح
حديث کې راغلي دي: "دچاچې وروستنۍ خبره لا اله الا الله
وي جنت ته داخليږي. خو ناورغ ته داسې نه ويل کيږي چې
کلمه ووايه. ځکه دناروغۍ دشدت يا دحواسو دخرابتيا له
امله دهغه له خولې څخه انکار راونه وزي. دداسې ناروغ
ترڅنګ ديسن شريف تلاوت کول مستحب دي. په حديث
شريف کې دي:

دکوم مریض ترڅنګ چې حدیث شریف تلاوت کیږي، دهغه
مړینه ښه وي، په قبرکې ورته خوشحالي وي او دقیامت په
ورځ تازه راپاڅي. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۰۹)
په وروستني وخت کې دنیکو او پرهیزګاروخلکو موجودیت
ورسره غوره دی. دهغوی په برکت رحمت را نازلیږي. (عالمګیري)
مسئله: په وروستني وخت کې له مریض سره ښه بوی
لرونکی شی ایښودل یا لوبان او عود په اور ایښودل مستحب
دي.
کله چې یې روح لاړه شي، سترګې دي په نرمي سره بندي
کړای شي او زنې دي په پاکه جامه ورته وتړي. داسې چې تر
زنې لاندي، دواړو لورو ته په سرپورې وتړل شي. اعضاء ورته
سم شي، په صحیح حالت وغزول شي بیا چې یې غسل،
تکفین او دجنازي لمونځ څومره ژر کیدلای شي، وشي او دفن
کړای شي. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۸۵ – امداد الاحکام ج ۱ ص ۱۴۲)
مسئله: ترمړینې وروسته دپښو ګوتې سره نژدې وتړلي شي،
پوندې یې سره لري نه شي. بیا وړاندې کوم څادر وغوړول
شي. (بهشتي زیور ج ۲ ص ۵۱)
مسئله: له مړه کیدونکي سره که له، لا اله الا الله سره، محمد
رسول الله وویل شي، هم پروا نلري. که یوازې دلا اله الا الله په
تلقین اکتفا وشي، هم جواز لري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۴۴
، ردالمحتار ج ۱ ص ۷۹۵ په حواله، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۰۸)

مسئله: که هغه یوځل کلمه ووایې او پته خوله شي، بیا دې
دا هڅه نه کیږي چې هغه کلمه ویل جاري ولري. ځکه مطلب
دادی چې وروستني خبره یې چې له خولې راووزي هغه
دکلمې ویل وي. خو که ترکلمې وروسته بیا کومه دنیایي
خبره وکړي بیا دي دکلمې تلقین وشي چې وي وایې بیا ئې
بس کړي. (بهشتي زیور ج ۲ ص ۵۱)
مسئله: دنزع په حالت کې مړه کیدونکي ته اوبه ورکول
مستحب دي. ځکه دنزع په مهال دتندې زیاتوالی وي او
داوبو ورکول له صحابه وو څخه هم ثابت دي.
(امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۱۸)
مسئله: دمیرمنې دنزع په وخت یې په لاسونو نوکریځې
ایښودل نه مسنون دي او نه صحیح، بلکې ناجایز دي.
مسئله: دمړه کیدونکي په وړاندې دې داسې خبره نه کیږي
چې زړه یې ددنیا لور ته میلان پیدا کړي، ځکه دا له دنیا څخه
دبیلتون او دالله په دربار کې دحاضریدلو وخت دی.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۵، درالمحتار ج ۱ ص ۸۰۳ په حواله، بهشتي زیور ج ۲ ص
۵۱ کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۰۷)

ایا مړکیدونکی باید وصیت وکړي؟

پوښتنه: نن سبا چې دچا په انتقال، وارثان یې کوم خرافات
ترسره کوي، مثلاً دښکاره کولو رواج یا نورڅه، ایا مړی هم
وړاندي ګنهګاره کیږي؟
ځواب: په مړینه ډیر منکرات رواج شوي دي، لکه:
۱- دمړي دمخ ښکاره کول. ۲- دمخ ښـــکاره کولو لپاره

جنازه څو ساعته ځنډول .

۳- دخپلوانو او دوستانو لپاره دجنازې لمونځ ځنډول .

۵- دمړي عکس اخستل . ۶- عکس یې په اخبارونو کې خپرول . ۷- جنازه له یوه ځایه بل ته وړل . ۸- دجنازې لمونځ څو ځلې کول . ۹- غائبانه دجنازې لمونځ کول. ۱۰- له عامې هدیرې ګوښه خښول . ۱۱- دقبر خواوشا دیوال راګرځول . ۱۲- دثواب په بهانه دسنت خلاف اجتماع . ۱۳- تعزیتې (دفاتحې) جلسې . ۱۴- دمړي په سوانح (صفت) کې غیر واقعي شیان خپرول او نور ...

نن سبا ددې منکراتو لمن خورا پراخه شوي ده ،آن علماء او صلحاء پکې اخته دي ، دمشهورو مذهبي مشرانو په جنازو کې دامنکرات څو ګونه ډیر لیدل کیږي.

په داسې حالاتو کې که چاته دا ویره وه چې دده په مړینه بې فکره او له اخرت څخه بې خبره ،ددنیا دنوم او شهرت وږي پاته کسان ، نالایقه معتقدین ،ناخلف خلفاء او ددین په جامه کې بې دینه خلک، په ده باندې داسې ظلمونه کوي او تر مړینې وروسته یې داسې رسوا کوي، نو وصیت کول وربانديې واجب دی چې داسې ممنوعات دې هیڅکله نه وي.تجهیز،تکفین، دجنازې لمونځ ،دثواب لپاره کارونه دې ټول دسنت مطابق وکړای شي.

که داسې وصیت ونکړي سخت ګنهګار دی او دعذاب به مستحق وي.دصحیح بخاري دیوه حدیث په اړه :

"تعذیب المیت واهله علیه ." مشهور وضاحت دادی چې که یې دمړینې له امله دنوحې او ژړا علم ؤ او هغه یې منع نکړ او داوصیت یې ونکړ، ګنهګاره کیږي.په وصیت کې دې داشیان ولیکي او له هغوی څخه دې منع کړي. په تیره ددیني علماوو او لاربنود کسانو خو دوصیت کولو ډیر تاکید شوی دی.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۲)

له ناڅاپي مړینې څخه پناه غوښتل

مسئله :له ناڅاپي مړینې څخه پناه غواړئ، ځکه په دې سره ډیر وخت دحقوقو داداء کولو، توبې ،بخشش غوښتلو او نورو څه موقع نه پیدا کیږي.(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۹۷)

دمړه کیدونکي دوصیت حکم

مسئله :په ژوند او دروغتیا په حالت کې خپله شتمنې چاته بخښل، هغه یې مالک ګرځول ، شرعاً او قانوناً دهغه ملیکت ګرځي او بخشش معتبر دی.خو که دورثاوو دحق تلفي نیت پکې وي، بیا خورا ستره ګناه ده.که کومه شرعي مجبورې وي نو بیا خو الله تعالی عفوه کوونکی دی.په کومه ناورغې کې چې څوک مري هغه مرض الموت بولي.په مرض الموت کې بخشش کول اعتبار نلري، وارث ته هم وصیت کول جواز نلري خو غیر وارث ته دشتمنې په دریمه برخه کې وصیت معتبر دی.(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۲۶۸)

......
.....

په رمضان المبارک کې په مړینه ، دقبر عذاب

پوښتنه :که کوم ګنهګار مسلمان په رمضان المبارک کې مړ شي، دقبر عذاب به تر قیامته وربانديې نه وي او که یوازې درمضان په میاشت کې؟

ځواب :له کافر څخه یوازې د رمضان په میاشت کې عذاب لرې کيږي ،خو ګنهکار مسلمان تر قیامت پورې ور څخه خوندي وي.هغه کسان چې له رمضان پرته په نورو میاشتو کې مري، دهغوی حکم هم داسې دی.دکافر به دجمعې په ورځ او رمضان کې دقبر عذاب نه وي، خو په ګنهکار مؤمن چې کله جمعه یا رمضان راشي ترقیامته ورڅخه عذاب پورته کيږي.(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۷،ردالمحتار ج ۱ ص ۷۷۳ په حواله)

ددې دری ځوابونه کیدلای شي:

۱- دنورو نصوصو په ملاحظه په حدیث کې د ،اجتناب عن الکبائر (له سترو ګناهونو څخه ځان ساتل) قید شته.

۲- ځینې عصاة (ګنهکار مؤمن) له حساب څخه پرته جنت ته ځي، دهغوی دانیکمرغي مقدره وي چې د جمعې په ورځ یې مړینه پیښه شي.

۳- دجمعې دورځې په مړینه یوازې دقبرعذاب ورڅخه لرې کيږي، دآخرت عذاب نه وي معاف ،ددې حدیث مطلب دادی چې له جمعې پرته ،دعمل په برکت که دقبر له عذاب څخه وژغورل شي ،نورې مرحلې ورته خورا آسانه وي.

په ځانګړو ورځو کې دبندیانو په بند کې تخفیف راتلل په دنیا کې هم رواج دی.که دجمعې دورځې یا دشپې په عظمت الله تعالی دشراب څښونکو او سود خوړونکو په بند کې تخفیف (کموالی)راولي ستا اوزما وربانديې څه اعتراض دی؟

او که داسهولت او تخفیف دسترو ګنهکارانو په هکله نه وي، بیا هم کومه ستونزه نشته. ددې حدیث شریف مدعی داده چې دجمعې او دجمعې دشپې دقبر عذاب یې موقوف کړی دی. پاته شوه داخبره چې دکومو، کومو خلکو عذاب موقوف شوی دی؟ دا الله تعالی ته معلومه ده؟

(آپ کې مسائل اور ان کا حل ج ۱ ص ۸۹)

مسئله :دمحرم الحرام دمیاشتې دلسو ورځو په هکله داسې څه راغلي نه دي چې ترلسو ورځو پورې به دقبر عذاب نه وي. خو دجمعې او رمضان المبارک په میاشت کې دمړه شویو کسانو په هکله دازیری په حدیث شریف کې راغلی دی.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ص ۴۶۹ –ردالمحتار ج ۱ ص ۷۹۷)

په شریعت کې دمړه دغسل اهمیت

دالله تعالی چې کوم بنده له دې دنیا څخه رخصت شي ، د مړینې په لاره داخرت په لور روان شي،اسلامي شریعت دهغه په عزت سره درخصت کولو لپاره یوه ځانګړې طریقه مقرره کړې ده. خورا پاکه ،دخدای لمانځنې او خورا درد شریکه او له شرافته ډکه لاره ده.

حکم دادی چې لومړی دې مړي ته داسې غسل ورکړل شي

لکه یو ژوندی انسان چې د پاکي حاصلولو لپاره لامبي. له
پاکې ترلاسه کیدلو سره، سره د غسل اداب هم پوره پکې
مراعاتیږي. د غسل په اوبو کې هغه څه کله شي چې خلک یې
ذخیرو د پاکولو لپاره په ژوند کې استعمالوي. په پای کې
د کافورو په څیر د ښه بوی توکي هم په اوبو کې واچول شي، تر
څو د مړي جسم له پاکې سره، سره معطر او ښه بوی هم ولري.
بیا په پاکو جامو کې په کفن شي، خو په دې لړ کې دې له
اسراف څخه هم کار نه اخستل کیږي. بیا په جماعت سره ور
باندې لمونځ کیږي، په هغه کې د مړي لپاره د مغفرت او
رحمت غوښتلو د دعا اهتمام کیږي. بیا په خورا عزت سره قبر
ته حواله کیږي چې په حقیقت کې الله تعالی ته سپارل کیږي.
د ځمکې غیږې ته ورکول کیږي، هغه چې توکو یې د ده وجود
جوړ کړی دی. په یوه لحاظ یې هغه مور ده. بیا خلک په ژبه او
عمل سره د مړي خپلوانو او کورنۍ ته تسلا ورکوي ورسره
دغمخواري او همدردۍ اظهار کوي، هڅه کوي ترڅو یې غم
ورته سپک کړي. (معارف الحدیث ج۳ ص۴۳۵)

ولي مړي ته غسل ورکول کیږي؟

مسئله: د مړي له غسل څخه مطلب د هغه پاکوالی او د هغه
عزت او حرمت څرګندول دي.
(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۲ ج۱ بحواله ردالمحتار ص۷۹۹، ج۱، باب صلوة الجنائز)

مسئله: د مړي د غسل اصل دادی چې ملائکو آدم علیه
السلام ته غسل ورکړي ؤ او هغه ته ئې ویلي ؤ چې دا ستاسي
د مړي طریقه ده. (درمختار ص۸۳۷ ج۱)

مسئله: مړی ته غسل ورکول په مسلمانانو فرض کفایه دی.
(که څو کسه مړي ته غسل ورکړي، نو د نورو مسلمانانو
غاړې خلاصې دي.) که یو مړی بې غسله دفن شي نو ټول هغه
مسلمانان چې له مرګه ئې خبر شوي وي، ګناهکار دي.

مسئله: که مړي پرته له غسله په قبر کې کښېښودل شي،
ترڅو چې خاوري ور باندې اړول شوي نه وي، را ایستلای شي
او غسل ورکولای شي او که ئې خاوري ور باندې اړولي وي نو
نه دي را باسي. (بحرالرائق، علم الفقه ص۸۷ ج۱)

د غسل شرعي حیثیت

مسئله: مړي ته غسل ورکول په ژوندو کسانو کفایي فرض
دي، یعنې که څو کسان دا فرض ادا کړي، د نورو غاړې
خلاصیږي. مړي ته یو ځل غسل ورکول فرض دي. داسي چې
پر ټول بدن ئې اوبه توي شي او درې، واره ور باندې اوبه
توېول سنت دي. (کتاب الفقه ص۸۱۱ ج۱)

مړي ته پر غسل ورکولو باندې مزدوري اخیستل

مسئله: مړي ته پر غسل ورکولو باندې اجرت اخیستل
جائز نه دی. ځکه د مړي غسل د الله تعالی له طرفه فرض دی،
بیا نو اجرت په څه اخلي؟ خو که څو کسان غسل ورکوونکي

موجود وو نو بیا اجرت اخیستل جائز دی، ځکه په داسې
صورت کې خاص پریوه سړي باندې غسل ورکول فرض نه
دی . (علم الفقه ص۸۷ ج ۲،فتاوی محمودیه ص۴۱۶ ج ۲)

مسئله: که پرته له یوه سړي بل څوک نه وي چې غسل
ورکړي، هغه ته اجرت اخیستل جائزنه دي، ځکه دمړي غسل
اوس یوازې پرده فرض دی او که بل څوک هم د غسل ورکولو
وي نو بیا جائز دی. دافریضه دې دمړي خپلوان پخپله
اداءکوي،خپل عزیزته غسل نه ورکول او نورو ته سپارل، ډیره
بې مروتي ،بې غیرتې اودکبردلیل دی ، دسړي پر غرور او
تکبر باندې دلالت کوي.
(احسن الفتاوی ص۴۱۸ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص۸۰۴ ج۱)

مسئله : داخبره مشهوره ده چې هرمسلمان ته په خپل
ژوندکې داوومړیوغسل ورکول فرض دي.داغلطه خبره
ده.مړي ته غسل ورکول کفایي فرض دي،که یو څوک دا کار
ترسره کړي نو دټولو مسلمانانو فرض اداء شو.
(آپ کې مسائل ص۱۱۹ ج ۳)

مړي ته ترغسل ورکولو وړاندې څه وشي؟

مسئله : ترمړیني وروسته مستحب دي چې سمدستې په
یوه پاکه ټوټه زنې وروتړي،ترڅوئې خوله وازه پاته نشي،
ورو،ورودې اندامونه سم کړي.که پر مځکه باندې پروت
وي، نو پر یوکټ یا تخته دې کښېږدي چې،دانتقال په دوران
کې له کوم تکلیف سره مخ نشي اوپه کومه جامه کې چې ئې

ساه ورکړې وي هغه دې ترې وایستل شي. بله داسې جامه
دې ورکړي چې کوم ځای یې تر ښکاره نشي .
دجنازې تیارولوته دومره انتظارکول واجب دی چې مړینه
یې یقیني شي .کله چې ئې مړینه یقیني شي نو بیایې دجنازې
په تیارې او دفن کې بیړه ښه ده او له مرګه یې دخلګو خبرول
مستحب دی .(کتاب الفقه ص۸۱۱ ج ۱)

دغسل سامان

۱- دغسل ورکولو لپاره داوبولوښې چې څومره ته اړتیا
وي،که څه هم په کورکې استعمال شوي وي خوباید پاک وي.
۲- لوټه (بدنی، داوبو را اخیستلو لوښی) که څه هم استعمال
شوی وي.
۳- دغسل تخته ، لکه چې په ډیرو مسجدونو کې وي یابله .
۴- داستنجاء لوټې ،درې یا پنځه دانې .
۵- دبیرې دونې پاڼې (که پیدا شي)
٦- لوبان یوه توله (۱۰ ګرامه)
۷- عطر (څلور ماشې) .
۸- پاکه رویې .
۹- ګل خیرو ،یو چټانک،که نه ؤصابون کفایت کوي .
۱۰- کافور پنځه ګرامه.
۱۱- دوه پاک تهبنده، که نه وي دبالغ سړي لپاره یومتر
اویوچارک اوږده ټوټه .(دمیرمنې لپاره یونیم متر رنګه
ټوټه ځکه په رنګه ټوټه کې ستر ښه وي .)

۱۲- دوې دانې پاکې پنډې جامې چې دستکلې ورځنې جوړې کړې چې غسل ورکونکې ئې په لاس کړې. دیوې دستکلې لپاره تقریباً شپږ ګیرې او درې ګېرې (۲۵ سانتې متره) سوره وره ټوټه پکارده. (احکام میت ص ۲۵)

مسئله: دمړي په غسل کې دېیرې دپاڼوپه استعمال سره خیرې ښې پاکیږې او دمړي بدن ژر نه خرابیږي. دکافوروپه استعمالولو سره بیا مړي ته مؤذري خزندې نژدې نه ورځي.
(مظاهرحق جدید ص ۴۰۶ ج ۲)

مړي ته دغسل ورکولو شرطونه

مسئله: دمړي غسل فرض کیدل څو شرطونو نه لري:
لومړی داچې، مسلمان به وي، کافر ته غسل ورکول فرض نه دي.
دوهم داچې، اسقاط شوی (نقصان کړی شوی وی) بچې به نه وي، ځکه اسقاط شوي بچي ته غسل ورکول فرض نه دی.
دریم شرط دادی چې، دمړي له سر سره به دبدن نیمه یاتر هغې زیاته برخه وي، کنه نو غسل ورکول مکروه دی.
څلورم شرط دادی چې، هغه به شهید نه وي. چې دالله تعالی دنوم دلوړولو په خاطروژل شوي وي (دشهید په بیان کې به راشي) ځکه نبي کریم ﷺ داحد دشهداؤ په باره کې وفرمایل: "دوی ته غسل مه ورکوئ، ددوی دهر ټپ دوینې به دقیامت په ورځ دمشکو بوی ځي."

مسئله: که اوبه نه وي اویا دمړي جسد دغسل وړ نه وي، دغسل پر ځای دې تیمم ورکړې. مثلاً څوک په سوزیدلو ومري اوداویره وي چې په مینځلو شړیږې اودبدن غوښې یې توییږې، تیمم دې ور ووهې، خو که داوبوپه بهولویې بدن نه شړیږي تیمم دې نه ورکوي، پرته له مښلو دې اوبه وربانديې تیرې کړې. (کتاب الفقه ص ۸۱۳ ج ۱)

مسئله: که دمړي جسد دپاړسوب په وجه دغسل کولو قابل نه وي، یعنې له لاس وروړلو څخه ئې دچاودیدلو اندېښنه وي، یوازې د اوبو تویول وربانديې کافي دی ځکه مښل ضروري نه دي. که یې فقط نس پړسیدلي وي او داوبو تویول هم وربانديې ممکن نه وي، نور بدن دې ومینځي او پر نس دې مسح وکړي، لکه دژوندي لپاره چې یې حکم دی.
(امدادالاحکام ص ۸۲۶ ج ۱)

(لکه چې په اوداسه او غسل کې چې دمعذورسړي لپاره څه حکم دی، که یې په کوم اندام پټۍ یا پلستر لګولی وي، هغه دې مسح کړي او نور دې ومینځي. محمدرفعت قاسمي)

مسئله: که څوک تر دیوال لاندې شو یا په اور کې وسوځیداو مړشو، غسل ورکول کیږي، خو که دغسل په ورکولو سره ئې دبدن پوستکی بیلیږي، یا بله ستونزه وي نو تیمم دې ورو کړي. (فتاوی درالعلوم ص ۴۷۲ ج ۵)

مسئله: مړي ته دتیمم ورکولو طریقه داده چې تیمم ورکوونکی به دوه ځله خپل لاسونه پرپاکه ځمکه ووهي،

یو ځل به دمړي مخ مسح کړي اوپه دوهم ځل به دمړي لاسونه تر څنګلو مسح کړي. لکه په خپلو لاسونوچې تمیم وهي.(امداد الاحکام ص ۸۲۵ ج ۱)

مړي ته هرڅوک غسل ورکولای شي که مشخص شخص؟

پوښتنه: مړي ته غسل ورکوونکی مقررول په کاردې که هرڅوک غسل ورکولای شي؟

ځواب : هرپوه شخص غسل ورکولای شي ،ښه خبره داده چې غسل ورکوونکي پرته له اجرته غسل ورکړي. پرغسل ورکوونکي باندي پخپله غسل کول ضروري نه دي.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۳ ج ۵ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۴ ج ۱ ، کتاب الفقه ص ۸۲۰ ج۱)

مسئله:دمړي داسي وصیتونه چې؛فلانی دي غسل راکړي ،فلانی مي دي خښ کړي،فلانی دي دجنازي لمونځ راکړي اوپه فلاني ځای کي مي دي خاورو ته وسپارئ . شرعاً معتبر نه دي.په دې کې دمړي اختیارنشته ،دوارثانوحق دی ،چې هرڅه ښه ګڼي په هغه دي عمل وکړي.

(فتاوی رحیمیه ص ۱۰۳ ج ۵ بحواله ردالمحتار ص ۸۲۴ ج۱)

مسئله :نابالغ هلک یا نجلۍ ته ښځه اوسړی دواړه غسل ورکولای شي.(علم الفقه ص ۱۸۸ ج۱)

مسئله: که کوم ناپاک شخص یا هغه چاچې مړي ته یې کتل جائزنه وي، مړي ته غسل ورکړ، صحیح دی ،که څه هم مکروه دی . (علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۱)

نجلۍ ته به څوک غسل ورکوي؟

پوښتنه :که نابالغه نجلۍ مړه شي او کومه ښځه نه وي،آیادهغې میړه (چې له چاسره ئې په ماشومتوب کې نکاح شوې وې واده یې نه وي شوي) یا بل کوم محرم غسل ورکولای شي ؟

ځواب : نابالغه نجلۍ که غیرمراهقه (وړه)وي،هغې ته خوهرڅوک، ښځه وي که نارینه ، غسل ورکولای شي . مراهقه په دې هکله دبالغې حکم لري . بالغې ښځې ته له ښځو پرته بل څوک غسل نشي ورکولای. میړه هم غسل نشي ورکولای . که کوم محرم ئې موجود وي نو تیمم دې ورووهي اوکه محرم ئې نه وي ،بل څوک دې پرخپلو لاسونو باندي جامه وپیچي،تیمم دې ورووهي اوکفن دې پرې واچوي ، لمونځ دې پرې وکړي او دفن دې کړي .

(فتاوی دارالعلوم ص ۱۴۶ ج ۵ بحواله درالمحتار ص ۸۰۶ ج ۱)

مسئله:که کوم ماشوم هلک مړشي نو ښځې غسل ورکولای شي او ماشومې نجلۍ ته نارینه هم غسل ورکولای شي. (کتاب الفقه ص ۸۱۶ ج ۱)

که جنب شخص ومري ، یو غسل ورته بس دی؟

پوښتنه : که څوک دجنابت په حال کې ومري، یعني غسل ورباندې اوښتی وي، نو یو. غسل ورته کافی دی که به یوځل دجنابت غسل ورکوي بیا به دمړي غسل ؟

ځواب: دجنابت په وجه دمړي په غسل کې هیڅ فرق نه راځي، لکه څرنګه چې نورو مړیو ته غسل ورکول کیږي ،همدارنګه به جنب مړي ته هم ورکول کیږي اوداحکم دحائضې اونفاسې هم دی.یعنې یوغسل ورکول کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۷ ج ۵ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۳ ج ۱ باب صلوة الجنائز)

داړتیا په مهال میړه خپلې ښځې ته غسل ورکولای شي کنه؟

پوښتنه: زید خپلې مړې ښځې ته (په داسې حال کې چې بله ښځه نه وي) غسل ورکولای شي که نه؟

ځواب: په شامي کې راغلي دي چې سړی دې خپلې مړې شوې ښځې ته تمیم ورووهي، پرخپل لاس دې ټوټه واچوي، غسل به نه ورکوي، ځکه ښځې ته ښځه غسل ورکوي، سړی که څه هم محرم وي (لکه پلار، ورور اونورچې نکاح یې ورسره جوازنلري) تیمم به ورووهي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۵ ج ۵، شامي ص ۸۰۳ ج ۱)

مسئله: ښځه خپل میړه ته (چې بل نارینه نه وي) غسل ورکولای شي، خو میړه خپلې ښځې ته غسل نشي ورکولای. دمخ کتلو اجازه یې ورته شته.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۸ ج ۱ بحواله ردالمحتار ض ۸۰۳ ج ۱)

علامه شامي (علیه الرحمه) فاطمې (رضی الله عنها) ته د علي (رضی الله عنه) په لاس دغسل ورکولو قصه نقل کړي ده چې له شرح مجمع څخه معلومیږي چې فاطمې (رضی الله عنها) ته ام ایمن (رضی الله عنها) غسل ورکړی دی. علي (رضی الله عنه) ته

مجازا غاسل ویل شوي دی، ځکه هغه ئې دغسل سامان چمتوکړی ؤ. نور دمور مینه له خپلو بچو سره مثلاً: مچول، مینه ورسره کول، په غیږ کې ټینګول او نور له دې بحث څخه وتلي دي په دې کې هیڅ مشکل نشته، ځکه مور دخپل اولاد محرمه ده. لاس ور وړل او ښکلول یې منع نه دي. موراوپلار ته له خپل اولاد سره داسې معامله سمه نه ده. په هرحال، سړي ته له خپلې مړې میرمنې سره په هیڅ ډول داسې معامله صحیح نه ده. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۶ ج ۵)

مسئله: دښځې تر مړینې وروسته یې میړه ورڅخه پردی کیږي او دنکاح اړیکې یې ختمیږي. نو ځکه ئې غسل ورکول، لاس ورڅخه لګول او داسې نور فقهاء کرامو منع کړي دي. خو لیدل اوجنازه ئې پورته کول او داړتیا په مهال ئې قبرته کښته کول جائز دي، ځکه په قبر کې یې کفن پرده وي، پر کفن سربیره د ضرورت په وخت کې چې محرم نه وي، لاس ئې ورځني لګول جائز دي. اوکه کوم محرم وي نو بیا دي قبر ته هغه ورکښته کړي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۳ ج ۵ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۳ ج ۱، باب الجنازه)

مسئله: مړي ته به غسل ورکوونکي داسې څوک وي چې مړي ته یې کتل روا وي. ښځې ته دنارینه اونارینه ته دښځې غسل ورکول جائز نه دي. خو که ښځه خپل میړه ته چې بل څوک نارینه نه وي غسل ورکړي جواز لري، ځکه دهغې دعدت په زمانه کې، دمیړه په نکاح کې شمیرله کیږي او میړه

چې دښځې له مرګ سره سم ئې نکاح ختميږي، نو پردی بلل کيږي ، نوغسل هم نشي ورکولای.

(علم الفقه ص ۱۸۷ ج ۱ ، فتاوی محموديه ص ۴۱٦ ج ۲، درمختار ص ۸۲۴ ج ۱ ،کتاب الفقه ص ۸۱۳ ج ۱، فتاوی رحيميه ص ۱۰٦ ج ۵ ، امداد الاحکام ص ۸۲۳ ج ۱، احسن الفتاوی ص ۲۱۵ ج ۴)

مسئله : که يوه ښځه په داسي ځای کې مړه شي چې هلته نه بله ښځه وي او نه کوم محرم ورسره وي، نوپردی سړی دي پر خپل لاس جامه وپيچي او تميم دي ورکړي.

مسئله: داسي که يو سړی په داسي ځای کې مړ شي چې هلته بل څوک نارينه غسل ورکونکي نه وي، که محرمه ښځه موجوده وي لـه جـامې پرتـه تـيمم وروهـلای شـي اوکـه غيرمحرمه وي نو پرخپلولاسونو دې جامه وپيچي او تيمم دي وروهي.(علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۱،کتاب الفقه ص ۸۱۴ ج ۱)

چيري چي ښځې ته دغسل ورکولو بله ښځه نه وي

مسئله : که يوه ښځه په يوه داسي ځای کي ومري چي هلته بله ښځه نه وې چي غسل ورکړي ،خوددې يو محرم (له چاسره چي ئي نکاح حرامه وي) نارينه موجود وي ، نوهغه دي ته تيمم ور ووهي اوکه غير محرم (پردی سړي) موجود وي نو پرخپلو لاسونو دې جامه وپيچي او تيمم دي ورووهي، خو دهغې مټوته دي نه ګوري.دښځې دميره لپاره هم همدا حکم دی ،خو دهغې مټو ته په نه کتلو سره مکلف نه دی. په دې کې ځوان او سپين ږيری دواړه راځي.

مسئله : که يو سړی په داسي ځای کي ومري چي هلته له ښځوپرته نارينه نه وي او دده خپله ښځه هم نه وي. نو يوه پاک لمنې ښځه چي د غسل ورکولو په طريقه باندي پوه وي، غسل ورکړي او که کومه معصوم النفسه ښځه موجوده نه وي ،بيا دي نورې پرخپل لاس جامه وپيچي او تيمم دې ورو هي، خو پردې له ځايه دي ستر ګي پټي ساتي. (کتاب الفقه ص ۸۱۵ ج ۱ ،آپ کې مسائل ص ۱۰۰ ج ۳)

دمخنث دغسل تفصيل

پوښتنه :که خنثی مشکل ومري نوښځې به غسل ورکوي که نارينه؟

ځواب : ترکومه ځايه چي ممکنه وي خنثی مشکل ته د نارينه يا ښځې احکام ثابتيږي،که دنارينه علامې په کې زياتې وي مثلاً ،ږيره يي راغله،دنارينه دذکر په شکل دواړو بولوځای ولري اويا کومه ښځه ورځنې حامله شي، نو هغه ته دنارينه احکام ثابت دي اوکه دښځې نښې پکې وي، مثلاً ، حامله شي ، تيونه ئي دښځې په څير ځرګند شي او يا حيض ورته راشي،نو ښځه بلله کيږي اوکه له دواړو ځايونو څخه بولي راوتلي نو له هريوه څخه چي اول راوزي هغه معتبر دی .که بيخي په مشتبه حالت کې وُ،يوطرف ئي هم معلوميدلای نشوای بيا خنثی مشکل بلل کيږي .که خنثی مشکل دځلوروکلونو يا تر هغه کم وي، ښځه او نارينه دواړه غسل ورکولای شي اوکه يي عمرتردې زيات وي نو نه دي ښځه غسل ورکوي اونه نارينه ،بلکې تيمم دي ورووهي.

(احسـن الفتـاوی ص ۲۲۱ ج ۴ بحوالـه ردالمحتـار ص ۸۰٦ وص ۳۷۸ ج ۱، کشـف الاسرار ص ۴۱ ج ۱، فتاوی دارالعلوم ۲۵۲ ج ۵)

مسئله :خنثی مشکل چي بلوغ ته نژدې وي،هيڅ مړي ته دي غسل نه ورکوي.يعني که مړی نروي اوکه ښځه اونه دي ده ته نرياښځه غسل ورکوي،په لاس دې ټوټې وتړي اوتيمم دي ورکړي.(کتاب الفقه ص۸۱۶ج۱)

مسئله: خنثی مشکل ته دې غسل نه ورکول کيږي، بلکې تيمم دې ورووهي ،کفن دې دښځې په څير په پنځوټوټوکې ورکړي،خو وريښم به نه وي او نه به زعفران ورباندي وهل شوي وي.

(فتاوی رحيميه ص۱۰۱ج۳ ، فتاوی سراجيه ص۲۲ج۱ بحواله شامي ص۳۰۹ج۱)

******

مسئله : دنابالغ خنثي مشکل د جنازې په لمانځه کي که دهلک دعا ولولي اوکه دنجلۍ پروا نلري.

(احسن الفتاوی ص۲۰۲)

جذامي(کوي)اوبرص (پيس) ته به څوک غسل ورکوي ؟

مسئله : هغه څوک چي دفيس په ناروغۍ اخته وي ،که هغه ته غسل ورکول سخت وي نو پر نارينه مړي باندي دي نارينه اوپرښځه باندي دي ښځه اوبه واچوي،لوښی دې را واخلي او اوبه دې ورباندي توی کړي .که داهم ناشوني وي نوپرلاس دي جامه وپيچي اوتيمم دي ورووهي .

(فتاوی محموديه ص۲۸۵ج۴، فتاوی دارالعلوم ص۲۵۵ج۵)

****

شيعه ته غسل ورکول

پوښتنه : که شيعه مړشي او بل شيعه نه وي چي ده ته غسل ورکړي، ايا مسلمان غسل ورکولای شي ؟

ځواب : هغه ته دې مسلمان غسل ورکړي ، خوغسل،کفن اوخښول دي دسنت مطابق نه وي، بلکې اوبه دي ورباندي توي کړي ، په جامه کې دي ووپېچي ،په يوه کنډې کې دي کيږدي اوخاروه دي ورباندي واړوي .(احسن الفتاوی ص۲۳۱ج۴)

په اوبوکې ډوب شوي ته غسل ورکول

مسئله:که څوک په اوبوکې ډوب اومړشي،نو کله چي ئي راوباسي،غسل ئي فرض دی ،په اوبوکې دډوبيدل دغسل لپاره کافي نه دي، ځکه دمړي غسل پرژونديو باندي فرض دی او په ډوبيدلوکي خو ددوی څه دخل نشته ،خو که دراايستلو په مهال دغسل په نيت درې غوپې ورکړي نو غسل ئي کيږي .همدرانګه که پر مړي باندي باران وشي يا همداسي اوبه ورباندي راشي نو کله چي ئي را اخلي غسل به ورکوي .(علم الفقه ص۱۸۸ج۲، فتاوی رحيميه ص۹۴ و ص۱۰۵ج۵، مظاهر حق ص۴۱۴ج۲ بحرالرائق ص۱۷۴ج۱، فتاوی قاضي خان ص۸۹ج۱ امداد الفتاوی ص۷۳۷ج۱)

په سيلاب کې مړشوي ته غسل ورکول

مسئله : دمسلمان جسدکه سيلاب راوړي، غسل ورکول فرض دي. پرته له غسله هم لمونځ ورکول جائزدی خوغسل نه ورکوونکي ګناهکاردی .دلمانځه دصحت لپاره دسيلاب غسل کافي دی . (احسن الفتاوی ص۲۲۷ج۴)

مسئله: په سیلاب کې چې جسدونه وموندل شي، که د مسلمان کومه علامه ورباندي وي مسلمان شمیرل کیږي. که کومه علامه ورباندي نه وي، نو په دارالاسلام کې داوسیدلو په وجه دې مسلمان وبلل شي غسل او لمونځ دې ورکړل شي. (احسن الفتاوی ص ۲۲۶ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۵ ج ۱)

که د مسلمانانو او کافرانو جسدونه یوځای وموندل شي غسل ئي څه حکم لري؟

مسئله: که د مسلمانانو او کافرانو جسدونه سره ګډ شي، دتمیز کومه نښه نه وي، نو ټولو ته دې غسل ورکړل شي او که کومه نښه موجوده وي نو د مسلمانانو جسدونه دې بیل او غسل دې ورکړي، کفارو ته دې غسل نه ورکوي.
(علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۲، احسن الفتاوی ص ۲۲۶ ج ۴)

مسئله: که د مسلمان کوم کافر خپلوان مړ شي نو دهغه مړی دې د هغه هم مذهب ته ورکړي او که دهغه هم مذهبه څوک نه وي یا یي نه مني، نو د مجبوری په وجه دې هغه مسلمان غسل ورکړي، خو په سنت طریقي سره دې نه ورکوي. یعني نه دې اودس ورکوي، نه دې کافور پر بدن باندي وروهي او نه دې د جنازې لمونځ ورکوي. (علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۲)

مسئله: که مړی کافر وي او له مسلمان ولي څخه پرته، دهغه کوم بل ولي نه وي، نو مسلمان ولي دي اوبه ورباندي توی کړي، یعني دهغه په غسل کې دې د مسنونه طریقي اهتمام نکوي. (کشف الاسرار ص ۱۴۱ ج ۱)

باغي او مرتد ته دغسل ورکول

مسئله: یاغي او لاره وهونکی که مړ شي، غسل دې نه ورکوي، په دې شرط چې په جګړه کې مړ شي.
(دا ددوی دبد عمل په وجه، ترڅو نورو ته عبرت شي.)

مسئله: مرتد (څوک چې له اسلام څخه اوښتی وي) که مړ شي، هغه ته دې هم غسل نه ورکوي او که یې جسد دهغه هم مذهبه وغواړي نه دې ورکوي. (علم الفقه ص ۲۰۴ ج ۲)

شهید ته غسل ورکول

مسئله: په کوم شخص کې چې دشهید ټول شرائط موجود شي، نه دې غسل ورکوي او نه دې له بدن څخه وینه پاکوي او که په چاکې دشهادت ټول شرائط موجود نه وي، غسل او کفن دې ورکړي. (علم الفقه ص ۲۰۵ ج ۲)

ځان وژونکی ته غسل ورکول

مسئله: ځان وژونکي ته غسل او دجنازې لمونځ ورکول کیږي، خو دجنازې لمونځ به یې دوخت حاکم، خطیب یا بل ستر شخص نه ورکوي، بلکې عام سړی دې دهغه دجنازې لمونځ ورکړي. (نماز مسنون ص ۷۲۵)

(لوي عالم یا بل غټ سړی یې په جنازه کې شرکت کولای سي، خو لمونځ دې نه ورکوي ترڅو دنورو لپاره عبرت شي. محمد رفعت قاسمي غفرله)

دهغه ماشوم دغسل حکم چې دپیدایښت په مهال یې دژوندآثار ښکاره شي

مسئله: که دماشوم دپیداکېدو په وخت کې دماشوم دوجودتر نیمائي ډېره برخه ژوندی راووزي (که دسرله خوا راوزي، دسینې تر راوتلو او که دپښو خوائي اول راووزي ترنامه پورې ترراوتلو دژوند آثارورباندې وي،نودا ماشوم ژوندی شمیرل کیږي اوپه مسنونه طریقه دې تکفین اوتجهیزو شي،دجنازې لمونځ دې ورباندې وشي، خښ دې کړای شي.که دزیاتې برخې ترراوتلو وړاندې مړ شي نو مړیلل کیږي ،(پرته له غسله) دې ومینځي ،په پاکه جامه کې دې وپیچي دجنازې له لمانځه پرته دې خښ کړي.

(فتاوی رحیمیه ص۹۶ ج ۵ بحواله شامي ض۸۳۰ ج ۱، علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۲)

مسئله:کوم ماشوم چې ژوندی پیداشي،څه شیبه وروسته یا سمدستې مړشي، هغه ته دې هم له سنت طریقې سره سم غسل ورکړل شي او لمونځ دې ورباندې وشي .

(بهشتي زیور ص ۵۵ ج ۲)

دمړه پیدا شوي ماشوم دغسل حکم

مسئله : داسقاط(ضایع کیدلو) په صورت کې که دماشوم کوم اندام پوره شوې وي، خوجسم یې بشپړشوی نه وي،اوبه دې ورباندې توی کړي او په یوه جامه کې دې وپیچي په خاورو کې دې خښ کړي. دمسنوني طریقې-مراعات دې نکوي.که ټول وجودیې جوړشوی ؤ بیایې په کفن او دفن کې

اختلاف دی. خوپه مسنونه طریقه کې یې احتیاط دی اوپه غیرمسنونه کې اساني ده .دجنازې لمونځ دې نه ورباندې کوي،البته که له پیداکیدلو وروسته ومري،دجنازې لمونځ دې ورباندې وکړي اودسنت مطابق دې دفن کړي.

(احسن الفتاوی ص۲۰۶ ج۴)

مسئله : کوم ماشوم چې له موره مړ پیداشي او دپیدا کیدو په وخت کې دژوند څه اثار ورباندې نه وي، هغه ته دې هم دسنت مطابق غسل ورکړي، خو مسنون کفن دې نه ورکوي ،په یوه پاکه جامه کې دې وپیچي او خښ دې کړي .

(بهشتي زیور ص ۵۵ ج ۲)

مړه ماشوم ته دنرس په لاس دورکړل شوي غسل حکم

پوښتنه:دلته ماشومان په روغتونونو کې پیداکیږي. داسې هم پیښیږي چې ماشوم مړ شي او یا مړ پیدا شي نو هغه ته په روغتون کې نرس غسل ورکړي او دفن ئې کړي. په کورکې هغه ته غسل نه ورکوي . حکم یې څه دی؟

ځواب : دنامسلمان په لاس ورکړل شوي غسل،غسل بلل کیږي ځکه دمړي په غسل کې مکلف والی شرط نه دی.

(شامي ص۸۰۵ ج۱)

مګرپه دې کې دوې وراني (خرابي)شته :

۱-دغیرمسلم په لاس غسل ورکول،له سنت طریقې سره سم نه وي.

۲-دمسلمان تجهیز،تکفین اوتدفین پرمسلمانانولازم دی، ددې ذمه واري دهغوئ پرغاړه پاتې کیږي.نوپه سنت طریقه برابر غسل ورکول ضروري دي،که په روغتون کې وي که په کور.

(فتاوی رحیمیه ص ۲۷۳ ج۱)

که دچا غسل زده نه وي او مړي ته غسل ورکړي؟

مسئله: څوک چې دغسل په ورکولو نه پوهیږي او مړي ته غسل ورکړي، څه ګناه وربانديي نشته، خوڅومره چې ممکن وي، داسي څوک دي غسل ورکړي چې دسنت په طریقه غسل ورکولای شي. (فتاوی دارالغلوم ص ۲۴۹ ج ۵)

مسئله: ښه خبره داده چې مړي ته غسل ورکونکي دمړي کوم قریب او عزیز وي او که يي خپلوان دغسل په ورکولو نه پوهیږي، نو بیو متقي او پرهیزګار سړی دي غسل ورکړي. (علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۱)

مسئله: مړی ته بیلمانځه سړی هم غسل ورکولای شي خوغوره داده چې لمونځ ګذاره او دشریعت پابنده سړی غسل ورکړي.
(فتاوی محمودیه ص ۳۹۳ ج ۲، فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۰ ج ۵)

مسئله: حائضه او نفاسه ښځه دي مړي ته غسل نه ورکوي، ځکه دا ورته مکروه ده. (بهشتي زیور ص ٦١ ج ٢، علم الفقه ص ٦٤ ج ٢)

(که پرته له حائضې او نفاسي بله ښځه نه وي نو دمجبورۍ په صورت کې بیا غسل ورکولای شي. محمدرفعت قاسمي غفرله.)

مسئله: غوره داده، هغه ځای ته چې مړي ته غسل ورکول کیږي، له غاسل اویوهمکارپرته بل څوک ورنشي او که غاسل په مړي کې کومه ښه عجیبه خبره ووینې نوخلکو ته دي بیان کړي او که بده خبره ورته ښکاره شي، له بیانولو دي ډډه وکړي، خو که مړی کوم مشهوربدعتي سړی وي نو بیا دي بدي هم بیان کړي ترڅو دخلکو عبرت شي.
(علم الفقه ص ١٨٦ ج ١ بحواله بحر و عالمګیري)

دغسل په وخت کې دمړي دجامو پاکول

مسئله: مړي ته دغسل ورکولو په مهال چې کومه جامه دمړي له نامه تر زنګنونو پوري اچول کیږي، که دنجاست دلري کولو په وخت کې پر هغې باندي څاڅکي ولګیږي، نو هغه جامه دي هم پاکه کړي او یا دي بله پاکه جامه را واخلي. (امداد الفتاوی باب الجنائز ص ۷۳۱ ج ۱)

(دري ځله دي پر جامه او به توی کړي، پاکیږي او که کومه پاکه جامه موجوده وي نو هغه دي ور واخلي.)

دغسل ورکولو په مهال دمړې ښځې دستر حد څومره دی؟

پوښتنه: دمړې شوي ښځې پر ټول بدن باندي جامه اچول ضروردي او که یوازي له نامه تر زنګنونو پوري پټیدل یي کفایت کوي؟

ځواب: دښځې له ښځې څخه دومره پرده ضروري ده لکه دنارینه له نارینه څخه، نو که ښځه ښځې ته غسل ورکوي، له نامه تر زنګنونو پوري پټیدل ئي کافي دي.
(احسن الفتاوی ص ۲۳۷ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۰ ج ۱)

دمړي دجسم پټې برخې ته کتل او لاس ورسره لګول

مسئله: دمړي مخصوص اندامونه پټول واجب دي. غاسل یا بل شخص ته روا نه دي چې عورت ته ئي وګوري، یا لاس ورځني ولګوي. غاسل (غسل ورکونکی) دي پر خپلو لاسونو باندي یوه جامه وپیچي او عورت (له نامه تر زنګنونو پوري دبدن برخه) دي ورپریمنځي. نور بدن بې له جامې، یه

لوڅ لاس هم ور مینځلای شي.
دحنیفه وو په نزد ستر خفیف (له مخصوص اندامه پرته نور)
ته لاس وروړل حرام نه دی. خو پټ ساتل او لاس نه وروړل ئې
ښه غوره ده. ستر غلیظ (مخصوص اندام) ته لاس ور وړل
حرام دی. (کتاب الفقه ص ۸۱۳ ج ۱)
(دمړي مخصوص اندام ته لوڅ لاس وروړل حرام دي. له
مخصوص اندام څخه پرته له نامه تر زنگنونو نوره برخه ستر
خفیف دی.)

دغسل په مهال مړي ته په لوټه استنجاء وهل

مسئله: دفقهې په کتابونو کې دمړي لپاره استنجاء
ځرگنده ده، که څه هم په لوټه یا ډبره سره استنجاء ور وهل یې
نه دي ذکر شوي، خو عموماً دا استنجاء مسنونه طریقه ده
چې، اول لوټه یا ډبره استعمال کړای شي بیا او به استعمال شي
، په دې کې دمړي او ژوندي توپیر نشته نو دلته هم دلوټې
استعمال مسنون دی. (احسن الفتاوی ص ۲۲۹ ج ۴)

مسئله: مړي ته په غسل ورکولو کې غوره داده چې غاسل
دي پر خپل لاس باندي کومه جامه وپیچي، په لوټه دي
استنجاء ورووهي او بیا دي اوبه استعمال کړي.
(فتاوی محمودیه ص ۲۸۴ ج ۴)

دنوکانو له رنگ سره مړي ته غسل ورکول

پوښتنه: دیوې خور دنوکانو رنگول عادت ؤ، ترمړینې
وروسته یې غسل ورکړل شو، خو دې ته یې فکر نه ؤ چې نوکان

یې په رنگ دي. وروسته له معلومیدلو سره به بیرته غسل
ورکوي او که څنگه؟

ځواب: له نوکانو څخه دې رنگ وا ړوي او بیا وازي نوکان دي
ورو مینځې، د دوهم ځل غسل ورکولو ضرورت ئې نشته.
رنگ لري کول او نوکان یې ور مینځل فرض دي، پرته له لري
کولو یې غسل صحیح شوی نه ؤ، نو ځکه ئې دجنازې لمونځ
هم نه دی صحیح شوي. (احسن الفتاوی ص ۲۲۷ ج ۴)

مسئله: دکوم مړي چې نوکان رنگیدلي وي، پاک دي کړي
او غسل دي ورکړي کنه، غسل یې نه صحیح کیږي.
(آپ کې مسائل ص ۷۵ ج ۳)

دحایضې مړي په خوله او به رغړول؟

مسئله: دحیض او نفاس یا جنابت په حال کې که څوک
مړشي، نو هم یې په خوله او پزه کې او به ور اچول صحیح نه
دي، خو که غاښونه او پزه ئې په لمده جامه باندي ور پاک کړي
ښه ده. (احسن الفتاوی ص ۲۳۸ ج ۴ بحواله درمختار ص ۸۰۱ ج ۱)

دمړي په خوله کې که مصنوعي غاښونه وي؟

مسئله: که دمړي له خولې څخه دمصنوعي
غاښونو ایستل ستونزه لري او په زحمت کې دمړي بې عزتي
هم کیږي، نو په خوله کې دي ور پریږدي. په غسل، کفن او دفن
کې یې حرج نشته. دمال تر عزت دمړي عزت ډیر دی.
(احسن الفتاوی ص ۲۴۱ ج ۴ بحواله ردالمحتار ص ۸۴۰ ج اول آپ کې مسائل ص ۷۷ ج ۳)

مسئله : دمړي سترګي ورتړول او سر ورغوړول جائز نه دي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۸ ج ۵ بحواله ردالمحتار ج ۱)

مسئله:دمړي ویښتان دي نه غوړوي اونه دي نوکان، ویښتان او بریتونه ورپري کوي،که یي کوم نوک پخپله مات شي، لري کول یي پروانلري.(علم الفقه ص ۱۸۸ ج ۱)

مسئله:دمړي ویښتان اوبریتونه خرییل ،دبغل اوترنامه لاندي ویښتان پریکول مکروه دي .دشریعت غوښتنه داسي ده چي څرنګه وفات شوي وي ، همداسي دي خښ کړای شي ،که دمړي له جسد څخه له همدې شیانو کوم یو شی په خپله وغورځي نوهغه دې هم په کفن کې ورسره کښېښودي .
(کتاب الفقه ص ۸۲۰ ج ۱)

دغسل په وخت کې دنبي کریم ﷺ پښې کوم طرف ته وي؟

مسئله : داخبره په هیڅ ځای کې هم نه ده نقل شوي چي دغسل په وخت کې دنبي ﷺ پښې کوم طرف ته اوسرکوم طرف ته ؤ،خودنبي کریم ﷺ دا ارشاد مبارک دکعبې په باره کې دی چي داستاسو دژوند اومرګ قبله ده ، په دې کي اشاره دې خبري ته کېدلای شي، لکه څرنګه چي په قبرکې مړی اېښودل کیږي ،همداسي دي دغسل په مهال هم ږدي. ، لکه چي همدا اوس معمول دی .
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۲ ج ۵، ردالمحتار ص ۷۹۹ ج ۱، فتاوی محمودیه ص ۱۶۳ ج ۹)

مسئله: مړي دغسل په وخت کې، څرنګه چي مناسب وي' ږدي دي. داصحیح خبره ده .ځیني وایي چي دقبلي په خوا دي

مخ کړي او پري دي باسي لکه چي په قبرکې یي ږدي اوځیني وایي چي دقبلې په خوا دی یي مخ کړي ،په اوږدوالي دي پریباسي ، چي په دې صورت کې ئي پښې او مخ دواړه قبلي ته کیږي. (امداد الاحکام ص ۸۲۲ ج ۱، آپ کې مسائل ص ۹۸ ج ۳)

(دواړه صورتونه جائز دي ، څرنګه چې اسانه وي هغې خواته دي دمړې مخ کړي ،ځکه ځیني ځایونه ډیرتنګ وي د مړي مخ قبلي ته نشي کېدلای .محمدرفعت قاسمي غفرله.)

دمړي دغسل لپاره کورپه لوښوکې اوبه تودول

مسئله:دمړي دغسل لپاره د کورپه پاکو لوښوکې اوبه تودول او غسل ورباندي ورکول څه حرج نه لري .
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۹ ج ۵)

مسئله:دمړي دغسل لپاره په نوي لوښې کي اوبه را اخیستل ضروري نه دی .(فتاوی محمودیه ص ۲۹۴ ج ۱۰)

(هرڅرنګه لوښې چي وي خوچي پاک وي .محمدرفعت قاسمي غفرله.)

دمړي دغسل لپاره اوبه څرنګه وي؟

پوښتنه :.مشهوره خبره خو داده چي دمړي دغسل لپاره به اول ځل هغه اوبه په کوموکې چي دبیري پاڼي وایشي، دوهم ځل دکافوراوبه او.دریم ځل خالصي اوبه ضروري دي ؟

ځواب : علامه شامي رحمه الله دمړي په باره کې داسي بیان کړي دی چي اول دي په ساده اوبو تسره غسل ورکړل شي، وریسي دي هغه چي دبیري پاڼې پکي ایشیدلي اوبیاد کافور

په اوبوسره،خوفتح القدیر ییا نقل کړي دی چي اول دې دوه
ځلي دېيري په اوبونسره او دریم ځل دی دکافور په اوبو سره
غسل ورکړل شي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۵۵ ج ۵ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۲ ج ۱ باب الجنائز)

مسئله: که دمړي دغسل په اوبوکې دمرداری څه اثر وي خو
له غسل، کفن او خښولو څخه وروسته معلومه شوه، نوپرمړي
ددې مواخذه نشته، هغه مجبور او معذور بلل کیږي، له هرچا
څخه چي په همدې باره کي بې احتیاطي شوې وي، توبه او
استغفار دې ووايي، دمړي لپاره دې دمغفرت دعا وغواړي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۷۰ ج ۵)

(نن سبا دېيري پاڼې هرځای نه پیدا کیږي ،مطلب دادی چي
په هرشي سره دمړي جسد پاکیږي ، هغه دې استعمال کړي
،محمد رفعت قاسمي غفرله.)

ترغسل وړاندي مړي ته اودس ورکول

مسئله: مستحب او غوره داده چي مړي ته هم داسي اودس
ورکړل شي لکه څرنګه چي يې جنب دجنابت ترغسل وړاندي
کوي، خو مړي ته به په خوله او پوزه کې اوبه نه وراچوي
ترڅو يې اوبه نس ته تیري نشي چي خرابي پیدا نکړي او په
داسي کولو کې ئې سختي هم ده. مستحب داده چي غاسل دې
دخپل لاس دشهادت اوبه ګوته باندي جامه وپیچي، لمده
دې کړي اوپه غاښونو دې ورووهي .دا دخولي او پزې د
مینځلو ځای نیسي.(کتاب الفقه ص ۸۲۰ ج ۱)

مسئله : نابالغ ماشوم ته هم دغسل په مهال اودس ورکول
مناسب دي . (احسن الفتاوی ص ۲۱۲ ج ۴)

مسئله : که دمړي دغسل ځای له لاري څخه ګوښه وي
خوښه، کنه نو دغسل تر تخته لاندي دي کنده ی پریکړي چي
اوبه پکې جمع شي. که يې تر تخته لاندي کنده ی پري نکړ،
اوبه په ټول کورکې خورې ورې شوي هم ګناه نه ده . مطلب
یوازي دادی چي په لاره کې چاته تکلیف ونه رسیږي .
(بهشتي زیور ص ۵۲ ج ۲)

دمړي دغسل مستحبات

مسئله : دمړي په غسل کې دا څو امور مستحب دی :
یو داچي درې ځله دي غسل ورکړل شي، په داسي ډول چي
په هر ځل کې دمړي ټول بدن ته اوبه ورسیږي. له همدې دریو
وارو څخه يې لومړی وار فرض دی نور دوه ځله سنت دي .
که په درې ځله هم دمړي بدن پاک نشي، نو زیاتول يې
مستحب دی تر څو يې بدن ښه پاک شي.ددې لپاره کوم معلوم
شمیرنشته خو مستحب دادی چي شمیریي طاق وي. مثلاً که
په څلور ځله يې بدن پاک شي نوپنځم ځل غسل دي هم ورکړي.
(کتاب الفقه ص ۸۱۷ ج ۱)

مسئله: دوهم دا مستحب دی چي په اخرځل غسل کې په
اوبو کې دکافورو یا بل شي خوشبويي وي ، کافور غوره دی .
له اخري غسل سره،سره ددوو نورو غسلونو په اوبو، کې
دېيري پاڼې یابل داسي شی لکه صابون وي چي خیري پاکې

کړای شي. د مړي په اوبو کې خوشبوئي اچول مستحب دي.
که څه هم هغه د احرام په جامه کې وي، ځکه مړي مکلف نه
وي، له مړيني سره يې احرام او نور قيدونه هم ختميږي.
(کتاب الفقه ص ۸۱۸ ج ۱)

مسئله: مستحب خبره داده چې مړي ته غسل په سړو اوبو
باندې ورکړل شي، خو که ډيره يخني وي يا د خيرو دلرې کولو
ضرورت وي يا تودې اوبه غوره دي او د حنفي علماوو په نزد
تودې اوبه ښې دي. (کتاب الفقه ص ۸۱۸ ج ۱)

مسئله: څلورم مستحب دادی چې ترغسل وروسته دې
د مړي پرسر او ږيره خوشبوئي ورولګوي، خو زعفران به نه وي
. پر کومو اندامونو باندې چې خوشبوئي لګول مستحب دي
هغه دادي: تندی، پوزه، دواړه ورغوي، دزنګونو
سترګی، سترګي، غوږونه او تربغلونو لاندې، غوره داده چې
داخوشبويي کافوروي. (کتاب الفقه ص ۸۱۸ ج ۱)

مسئله: پنځم مستحب کار دادی چې مړي ته د مرګ له ځای
سره نژدې خوشبولرونکی شي دودکړي او مړي ته پردرې
ځايونو خوشبو لرونکی شي دودول مستحب دي:
يو داچې کله د مړي روح قبض شي، نو هغه دې پر لوړ ځای
کښيږدي. مثلاً پر کوم تخت، يا کټ يا چوتره او پر هغه ځای
دې د مړي تراښودلو مخکې درې يا پنځه ځله خوشبويي
دودکړي. دوهم د غسل ورکولو په مهال او دريم د کفن
وراغوستلو په وخت.

مسئله: شپږم مستحب دادی چې د غسل ورکولو په مهال
به له مړي ټولې جامې لرې کوي، پرته له هغې جامې چې ستر
يې ورباندې پټ شوي وي. (کتاب الفقه ص ۸۱۹ ج ۱)
(پر ستردې يې يوه پاکه جامه واچوي او غسل دې ورکړي.
محمد رفعت قاسمي غفرله)

ترغسل وړاندې، د مړي ترڅنګ د تلاوت حکم

پوښتنه: د مړي څنګ ته، ترغسل کولو وړاندې تلاوت جائز
دی که نه؟

ځواب: مړي که په جامه کې ونغاړی نوبيا يې په خواکې
تلاوت کول جائز دي، کنه نو مکروه دی. تر غسل کولو
وروسته په هر صورت جائز دی. (احسن الفتاوی ص ۲۴۲ ج ۴)

مسئله: مړي ته ترغسل ورکولو مخکې د هغه په خواکې له
جامو پرته (چې مړي لوڅ وي) د قرآن کريم تلاوت کول مکروه
دي. خو تسبيح ويلای شي يا په بله خونه کې له مړي څخه لرې
تلاوت کولای شي. (فتاوی رحيميه ص ۹۲ ج ۳، نورالايضاح ص ۱۳۳،
فتاوی محموديه ص ۴۵ ج ۱۲، آپ کې مسائل ص ۹۷ ج ۳)

مسئله: غوره داده چې حائضه، نفاسه ښځه يا جنب سړی
دې د مړي خوا ته نه ورځي. (بهشتي زيور ص ۶۱ ج ۲، علم الفقه ص ۶۴ ج ۲)

مړي ته د غسل ورکولو مسنونه او مستحب طريقه

۱- د احنافو په نزد د غسل ورکولو په وخت کې دې مړي پر
لوړ ځای کښېږدي او درې، پنځه يا اووه ځله دې
خوشبو لرونکی شي ورته دود کړي لکه مخته چې وويل شول.

بیا دې د مړي د ستر له ځایه پرته نوري ټولې جامې تري
وباسي . دا هم مستحب دی چې له مړي سره دې له غاسل او
دهغه له مرسته کوونکي پرته بل څوک نه پاتې کیږي. غاسل
دې پر خپل لاس باندې جامه وپیچي او استنجاء دې ورووهي .
مخ دې ورو مینځي حو خوله او پوزه دې نه ورمینځې ،
د مینځلو پر ځای دې په یوه لمده جامه باندې ورپاک کړي لکه
چې منځکې دا خبره یاده شوه. ورپسې دې د مړي د سرا و ږیري
وېښتان په یو خیره لري کوونکي شي باندې ،لکه صابون یا بل
څه ومینځي ، بیا دې مړي پرکیڼ اړخ باندې پرې باسي ،ښی
لوری،شا او مخ دې درې،درې ځلې ورومینځي بیا دې په بل
اړخ باندې واړوي.همداسې دې درې ځله له سره تر پښو او به
ورباندې توی کړي، ترڅو یې او به پر ټول بدن آن لاندې
لاو بهیږي. د ګیډې د مینځلو لپاره دې ستوني ستغ نه اړوي
بلکي په اړخ دې ومینځي. دا اول غسل شو. که داسې په ټول
بدن یې او به تیرې کړي کفایي فرض اداشو . دا رنګه به دوه
نور غسلونه ورکړي ترڅو سنت هم اداء شي. بیا غاسل ته
ښایي چې مړي راکښېنوی او پرنس یې یې په ارام سره لاس تیر
کړي. که کوم شی یې له ګیډې څخه خارج شول،هغه دې
ومینځي.دا دوهم غسل دی.له دې وروسته به یې په اړخ
واړوي او دریم غسل به ورکړي.لو مړني دوه غسلونه به په
ګرمو اوبو او په خیرې لرې کوونکې شي باندې ورکوي .

د دریم غسل په اوبو کې به کافوراستعمال کړي.تر هغه
وروسته دې جسد نسم اووچ کړي،خوشبوئي دې ور
ولګوي،لکه چې وړاندې وویل شول.

د غسل د صحت لپاره نیت ضروري نه دی. همدارنګه
د فرض کفایه داداء لپاره نیت شرط نه دی،خود ثواب
حاصلولو لپاره نیت شرط دی.

(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ص ۸۲۲ ج ۱)

د تفصیل لپاره وګوره : (علم الفقه ص ۱۸۶ ج ۲، فتاوي دارالعلوم
ص۲۴۵ ج ۵ بحواله ردالمحتار ص ۸۰۳ ج ۱)

مسئله :یو ځل مړي ته غسل ورکول فرض دی او درې ځله
سنت دي.له نیت څخه پرته یې غسل اداء کیږي او هغه پاکیږي.
(درمختار ص ۸۳۵ ج ۱)

مسئله: که د مړي کوم اندام وچ پاتې شي او تر کفن ورکولو
وروسته ورته یاد شي نو کفن دې ورڅخه خلاص کړي
او یوازې هغه اندام دې ورومینځي،(د بیا غسل ورکولو
اړتیایي نشته)خو که یوه ګوته یا د هغې په اندازه کوم ځای
وچ پاتې شي ، تر کفن ورکولو وروسته یې بیرته د خلاصولو
ضرورت نشته .(درمختار ص ۸۳۵ ج ۱)

تر غسل وروسته که له مړي څخه نجاست ووزي

مسئله :که تر غسل ورکولو وروسته د مړي له بدن څخه کوم
نجاست ووزي، څه پروا نلري،که څه هم له بدن یا کفن سره ئې
ونښلي .خو تر کفن کولو وړاندې د پاکوالي په خاطر د هغه

پریمنځل بنه دي . امادا د جنازې د لمانځه لپاره شرط نه دی.
که له کفن ورکولو وروسته خارج شي نو پریمنځل یې ضروري
نه دي، ځکه په دې کې ستونزه ده. د دې صورت په خلاف چې
کفن په نجاست باندي ککړ وي .یعني که ناولی کفن وروا
غوندي نو د جنازې لمونځ یې نه صحیح کیږي.
(کتاب الفقه ص ۸۲۱ ج ۱)

مسئله : که (د غسل په جریان کي) د مړي له خیټې څخه په
زور کولو کوم نجاست ووزي، هغه دي و مینځي خو غسل او
اودس دي بیرته نه را ګرځوي. (درمختار ص ۸۳۱ ج ۱)

مسئله :که د کفن له ورکولو وروسته د مړي له بدن څخه
نجاست ووزي ، مینځل یې ضروري نه دي، هغه که د مړي پر
بدن یا کفن باندي هم وي، د جنازې لمونځ یې له مینځلو پرته
صحیح دی .دا حکم د هغې ناولتیا دی چې د مړي له بدن څخه
راووزي، خو هغه چې له خارج څخه د مړي پر بدن یا کفن باندي
ولګیږي نو له مینځلو پرته یې د جنازې لمونځ نه صحیح کیږي.
(احسن الفتاوی ص ۱۹۷ ج ۴ بحواله رد المختار ص ۸۱۲ ج ۱ کتاب الفقه ص ۸۱۱ ج ۱)

د مړي د غسل په اړه بیلا ، بیلي مسئلې

مسئله :مړي ته د غسل ورکولو په مهال که د مړي پر بدن
باندي زخم وي او پر هغه پټۍ لګیدلي وي، هغه دي لري کړي.
(آپ کي مسائل ص ۹۹ ج ۲)

مسئله: که مړی له غسل ورکولو وروسته ،یوه شپه په کور
کي پاتي شي ، په دوهمه ورځ باندي د بل ځل غسل ورکولو

اړتیا یې نشته . (اپ کي مسائل ص ۹۸ ج ۳)

مسئله : میړه ته د هغه د ښځې ترمړیني وروسته یوازې د
هغې مخ ته د کتلو اجازه شته، خو د لاس وروړلو اجازه
نشته. غسل ورکول یې هم میړه ته روا نه دي ،خو که ضرورت
وي نو قبر ته یې کښته کولای شي. د جنازې وړل محرم
او غیر محرم ته صحیح دي .
(فتاوی محمودیه ص ۲۱۵ ج ۲ ،فتاوي رحیمیه ص ۹۳ ج ۵)

مسئله :که کوم مړی له حکمي نجاست څخه پاک شوي نه
وي،یعني غسل یې ور کړي نه وي یا د غسل د نه امکان په
صورت کې تیمم نه وي ور وهل شوي،نو د جنازې لمونځ
ورباندي صحیح نه دي. خو که یې پاکیدل ممکن نه وي ،مثلا
له غسل او تیمم څخه پرته دفن شوي وي، او په قبر یې خاوري
هم لویدلي وي،بیا یې پر قبر باندي په همدغه حالت کې هم
لمونځ صحیح دی .

مسئله :که په کوم مړي پرته له غسل او تیمم څخه لمونځ
شوی او دفن شوی وي ،وروسته څرګند شوه چې غسل
ور کړل شوي نه دی نو د هغه په قبر دې دوهم ځل لمونځ وکړای
شي، ځکه لومړی لمونځ صحیح شوي نه دی ، اوس چې غسل
ورکول امکان نلري نو لمونځ ورباندي صحیح دی .
(علم الفقه ص ۱۹۲ ج ۲)

ترڅو پوري چې میت په قبر کې خراب شوی نه وي لمونځ
ورباندي کیږي .

مسئله: که د چاسر په یو ځای کې وموندل شي، هغه ته غسل نه ورکول کیږي، په هغه ځای کې دي خښ کړای شي اوکه ترنیم جسد زیاته برخه وموندله شي، نو غسل ورکول ضروري دي، هغه که له سر سره وي اوکه له سره څخه پرته، خوکه نیم جسد له سرسره وي، غسل دي ورکړل شي که سرنه وي نو غسل دي نه ورکول کیږي. که جسد تر نیم کم وي هم غسل دي نه ورکول کیږي هغه که له سرسره وي اوکنه.

(بحرالرائق ص۱۷۴ ج۱، فتاوی رحیمیه ص۸۹ ج۱، درمختار ص۸۳۵ ج۱، شامي ص۸۰۹ ج۱)

مسئله: ترڅوچې د مړي د جسد ډیره برخه یا نیمه برخه خوله سرسره یا ترهغې زیاته برخه نه وي موندله شوي نو غسل ورکول ضرور نه دي. (کتاب الفقه ص۸۱۲ ج۱)

مسئله: که داوبو د نه موجودیت په صورت کې مړي ته تیمم وهل شوی وي، بیا اوبه وموندلې شي نو غسل دي ورکړل شي.

مسئله: مړي ته چې غسل ورکړل شي، لمدې جامې دي ورڅخه لرې کړي اوکفن دي ورکړل شي. (علم الفقه ص۱۸۹ ج۲)

مسئله: مړي ته له غسل ورکولو وروسته، غاسل ته په خپله غسل کول مستحب دي. ځکه که د غسل ورکولو په مهال کوم څاڅکي پرې لویدلي وي هغه به پاک او نظافت به مراعات شي.

(احسن الفتاوي ص۴۴۳ ج۴، آپ کي مسائل ص۹۹ ج۳، مظاهر حق ص۴۸۱ ج۱)

مسئله: مړي ته غسل ورکول په مسلمانانو باندې کفايي فرض دی. که مړی پرته له غسله خښ کړای شي، ټول هغه مسلمانان ګنهکاره دي چې ورباندې خبر دي.

مسئله: که څوک مړی له غسل پرته په قبر کې کیږدي، خو خاوره لا ورباندې اچول شوې نه وي، نو د مړي بیرته را ایستل او غسل ورکول ضروري دي. خو که خاوره ورباندې اچول شوې وي، بیا دې نه را ایستل کیږي. (علم الفقه ج۲ ص۱۸۵)

مسئله: د مړي ویښتان دې نه ږمونځوي، نوکان یا ویښتان دې نه غوڅوي، که کوم نوک مات شي، د هغه په بیلولو کې څه خبره نشته. (علم الفقه ج۲ ص۱۸۷ فتاوی دارالعلوم ج۵ ص۲۴۸ کتاب الفقه ج۱ ص۸۲۰)

مسئله: که اوبه نه وي او مړي ته یې تیمم وواهه، وروسته اوبه پیدا شوې غسل ورکول لازم دي. (علم الفقه ج۲ ص۱۸۹)

مسئله: مړي ته چې په کومو اوبو غسل ورکول کیږي، په هغوی کې خوشبویې یا نور څه ګډول مستحب دي. که سړی د احرام په لباس کې وي او که نه وي ځکه مړ شوی انسان غیر مکلف دی او له مړینې سره احرام هم ختمیږي. همدا وجه ده چې د هغه سر پټیږي په خلاف د دې، که ژوندی وي او په احرام کې وي. (کتاب الفقه ج۱ ص۸۱۸)

مسئله: دا مستحب دی چې غسل ورکوونکی پوه وي، ترڅو بشپړ غسل ورکړي، که له مړي څخه کوم بد شی ووینې په هغه پرده واچوي، که ښه خبره ورڅخه ووینې هغه بیان کړي. (کتاب الفقه ج۱ ص۸۲۰)

(دمړي په سترګو کې رانجه یا کاجل لګول منع دي.)

مسئله: که بې لمانځه سړي غسل ورکړي، غسل کیږي خو غوره داده چې لمونځ کوونکی او دشریعت پابند سړی ورته غسل ورکړي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۹۳)

مسئله: دا مستحب ده چې تر غسل وروسته دمړي بدن په یوه جامه وچ کړای شي. تر څو کفن لوند نشي.
(کتاب الفقه ج ۲ ص۸۲۰ – علم الفقه ج ۲ ص۱۸۹)

روح غسل او نور څه ویني

له ابن دینار رضی الله عنه څخه روایت دی، څوک چې ومري، دهغه روح دیوې ملایکې په لاس کې وي، خپل بدن وینې چې څرنګه غسل ورکول کیږي، څرنګه کفن ورکول کیږي. جسم یې لا په تخته پروت وي چې ملایکه ورته وایې: خلک چې ستا ستاینه کوي هغه واوره (دراتلونکو نعمتونو زیری دی.) (شوق وطن ص۲٦ –احکام میت ص ۲۵)

مړي ته تر غسل ورکولو وروسته څرنګه کفن ورکړل شي؟

مسئله: غوره کفن هغه دی چې دسپین رخت وي، هغه که نوی وي او که زوړ. هغه جامه چې نارینه ووته یې په ژوند اغوستل مباح وي تر مړینې وروسته یې کفن هم ورته مباح دی. هره جامه چې په ژوند کې یې اغوستل ورته مکروه وي، کفن هم ورڅخه مکروه دی. نو نارینه وو ته دوریښمو، یا ګڼ رنګه او زعفراني جامه کفن کول مکروه دي. که له دې پرته بله جامه نه وي نو بیا بیله خبره ده. ښځو ته له هم داسې

جامو څخه هم کفن جائز دي. یعني رنګه کفن هم ورکول کیدلای شي.

نارینه ته دې له داسې جامې څخه کفن ورکړل شي کومه چې دی یې عیدګاه ته دتللو لپاره اغوندي او ښځې ته دي له داسې جامې څخه کفن ورکړل شي چې دایې دپلار کره دتللو په مهال اغوندي. (کتاب الفقه ص۸۲۹ ج۱)

مسئله: په حدیث شریف کې دي (که تاسو خپل وروړ ته کفن ورکوئ، ښه کفن ورکړئ.) (مشکوة ج۱ ص ۱۴۳)

مسئله: په درمختار کې دي چې ښه کفن سپین کفن دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲٦۴ درمختار ج ۱ ص ۸۱۰)

مسئله: ګران بیه کفن مکروه دی، خو دتیټې بیې وال هم نه ښایي. (علم الفقه ج ۱ ص ۱۹۱)

مسئله: مړي ته کفن ورکول، پر مسلمانانو باندې کفایي فرض دی. په دې معنی چې که څوکسان دا کار وکړي نو دټولو مسلمانانو ذمه خلاصه شوه.

مسئله: کفن به لږترلږه دومره وي چې دمړي ټول بدن ورباندي پټ شي، که نروي او که ښځه. که تر دې اندازې کم وي نو بیا پر مسلمانانو کفایي فرض پاته شول.

(کتاب الفقه ج۱ ص۸۲۷)

(دمړي په ترکه کې تر هرڅه وړاندې دهغه دتجهیز او تکفین لګښت کیږي. خو دا کار دې سم دسنت په طریقه برابر وشي. کفن دې دمړي له حیثیت سره سم ورکړل شي. رخت دې سپین

وي ، د دومره بیې دي وي چې هغه په ژوند کې یې اغوستل او
له کوره یکې ووت او له خلکو سره یکې مخامخ کیده . بازار،
مسجد او نورو ځایونو ته یکې تو . دومره ارزان بیه دې نه
ورکول کیږي چې په هغه سره یې تحقیر او تذلیل وشي او نه
دې دومره ګران بیه وي چې یکې اسراف وشي او یا د وارثانو
حق ته یکې زیان ورسیږي. که د نوي جامې وس نه وي یا کوم
داسې خپلوان یې نه و چې کفن ورکړي نو پاکه جامه هم د کفن
لپاره کافي ده. ځکه د احد په غزوه کې زوړ ځادر په کفن کې
ورکړل شوی دی. محمد رفعت قاسمي)

دکفن رنګ څه ډول وي؟

مسئله :دکفن لپاره سپینه جامه غوره ده .بل ډول هم جواز
لري. کوم رنګ او کومه جامه چې په ژوند کې جواز لري، هغه
دکفن لپاره هم جواز لري. کومه چې په ژوند کې نا جایزه ده، په
کفن کې هم جواز نلري.
(فتاوی محمودیه ج ٧ ص ٢٢۴ دشامې ج ١ ص ٥٨٠ په حواله)

مسئله :دمیرمنو لپاره هم غوره کفن سپین دی، خو رنګه هم
ورته جایز دی ، که ټول رنګه وي او که یې لږ .
(امدادالفتاوی ج ١ ص ٨١۴)

مسئله :په جامه کې که ښکاره څه ناولتیا نه وي ، پاکه وي
له هغې څخه کفن هم جایز دی .که یکې څه ناولې شی وي نو
کفن یې جواز نلري ، پلیتنه دې وشي.)
دمړي په دې (ناپاکه جامه) کې څه دخل نشته، هغه بري الذمه

دی. که مړي وصیت وکړي چې له ناپاکې جامې دې ورته
کفن ورکړي یا ورته علم وي چې له ناپاکې جامې څخه کفن
ورکوي او هغه یې منع نکړي بیا ګنهکار ریږي.(فتاوی محمودیه ج ٧ ص ٢٢٦)

کفن دچا په ذمه دی؟

مسئله :دمړي کفن دي دهغه له شخصي شتمنې څخه ورکړل
شي، هغه چې دبل چا ورسره شریکه نه وي لکه درهن(ګرو)
صورت چې دی.

که دمړي شخصي مال او شتمني نه وه ،نو کفن یې دهغه چا
په ذمه دی چې په ژوند کې یې لګښت ورباندې لازم ؤ .
(کتاب الفقه ج ١ ص ٨٢٧)

مسئله :دمړي کفن دي هغه څوک ورکړي چې په ژوند کې
یې کفالت په غاړه وي، که له مړي څخه څه پاته وو او که نه وو.

مسئله :لنډه دا چې دچا په غاړه او ذمه دژوند خوړل څښل و ،
هغه به یې تر مړینې وروسته کفن هم ورکوي. (علم الفقه ج ٢ ص ١٩١)

مسئله :که دمړي کوم غیر مسلم ملګری دکفن پیسې
ورکړي څه خبره یکې نشته. (فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٢٥٠)

مسئله :که داسې څوک نه وي چې دمړي دژوند لګښت
ورباندې لازم ؤ، نو له بیت المال څخه به کفن ورکول کیږي خو
په دې شرط چې بیت المال دمسلمانانو وي او اخستل هم
ورڅخه شوني وي. کنه په هغه مسلمانانو باندې لازم دی چې
وس لري. همداسې دجنازې او نورو لګښتونو خبره هم ده،
لکه تر هدیرې رسول ،دخښولو لګښت او نور. (کتاب الفقه ج ١ ص ٨٢٧)

دمیرمنې کفن دچا په ذمه دی؟

مسئله :دمیرمنې کفن له منل شوي (مفتي به) قول سره سم دمېړه په ذمه دی.(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۲۴)

مسئله :دمیرمنې کفن دوالدینو په ذمه نه دی.د شریعت داسې حکم نشته ،بلکې دشریعت خلاف کار او رواج دی.شرعاً کفن او دفن دمېړه په ذمه دی.که یې مېړه وس نه درلود نو دمیرمنې دترکې له مال څخه دې ورکړي.
(فتاوی محمودیه ج ۲ص ۳۷۷ دشامي ج ۱ ص ۸۱ ۵ په حواله ،دارالعلوم فتاوی ج ۵ ص ۲۸۵)

مسئله :که مړی دچا میرمن وه او په ترکه کې یې شتمني هم وه ،بیا یې هم په مېړه چې دکوم حیثیت خاوند وي ،دمیرمنې کفن واجب دی.(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۲۷)

(ځینې ځایونه دنجلۍ دکفن او خوراک څښاک مصارف په والدینو یا ورور او نورو لازم بولي.په دې کې دشریعت کوم اصل نشته.دا یو غلط رسم او رواج دی.- محمدرفعت قاسمي)

دغیرمسلم دوست تجهیز او تکفین

مسئله :دشریعت حکم دادی چې که دسړي یا ښځې کوم دوست ،والدین یانور په کفر و مري،په سنت طریقه دې تجهیز او تکفین نکوي،په ناپاکه جامه کې دې پټ او په کنده کې دې واچوي.که هغه مړه شوي دخپل مذهب مطابق عمل وصیت کړی وي،عمل دې ورباندې نه کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۷ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۲ په حواله)

مسئله :مسلمان دخپل غیرمسلم دوست په کفن ،دف[illegible] جنازه کې ګډون کولای شي خو بهتره له اړتیا دا کار [illegible]

مسئله :که کوم غیرمسلم دکوم مسلمان له جنازې سره دکوم ملاقات یا پیژندنې له وجې ځي ،هغه دې نه منع کیږي ځکه داکار داهل اسلام له اخلاقو څخه لري دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۳ ،دردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۲ په حواله)

په تجهیز او تکفین کې که کومه نیمګړتیا پاته شي؟

مسئله :دمړي په تجهیز ،تکفین ،غسل یا نورڅه کې که بې احتیاطي وشي ،مثلاً په ناجایزه بیه کفن واخستل شي.یا دغسل په اوبو کې کوم نجاست وي،له دې امله په مړي باندې هیڅ مواخذه نشته، مجبوراً هغه معذور دی.په څه شي کې که بې احتیاطي وشي (او مړی خبن کړای شي) نو توبه او استغفار دې وایې او د مړي لپاره دې دمغفرت دعا کوي او ثواب دې ورته غواړي. دالله تعالی ارشاد دی:لاتزر وازرة اخری .(القرآن) یعني دبل په ګناه سړی نه ګنهکار کیږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۰)

دکفن لپاره مرسته غوښتل

پوښتنه :کوم مسافر راغی وفات شو ،دهغه دتجهیز او تکفین لپاره مرسته ټوله شوه ،له هغه څخه څه مبلغ پاته شو ، دهغه د استعمال کوم ځای [illegible]؟

ځواب:که د[illegible] چا ورکړي دي، بیرته دې هغه ت[illegible] [illegible] ییسي چا [illegible]

مسئله: که دتکفین او تجهیز لګښت بالغ وارث له خپلې شتمنۍ څخه ورکړي، نو دتجهیز او تکفین دلګښت چې له سنت سره برابر شوي وي، دترکې له شتمنۍ څخه اخستلای شي. که دېې وزلو او نورو په خوړلولګیدلي وي هغه دترکې له مال څخه اخستلای نشي. (فتاوی دارالعلوم ج۵ ص ۲۷۱ دسراجي ص۴ په حواله)

دکفن ډولونه

مسئله: کفن درې ډوله دي: سنت کفن، کفایي کفن اوضرورت کفن. دا درې واړه به یا دنارینه لپاره وي او یا به دښځې لپاره.

دنارینه او ښځې په سنت کفن کې قمیص (کمیس)، ازار اوڅادر شامل دي.

قمیص له غاړې څخه نیولي بیا ترپښو پورې وي. ازارله تندې څخه بیا ترپښو پورې وي اوڅادر هم له سره بیا ترقدمونو پورې وي. د ښځې لپاره له دې سره، سره پړونې اوسینه بند هم وي، په قمیص کې به لستوڼي اوڅاکونه نه وي، څادر دواړو لوروته څه تیروي. دسرله خوا به یې هم په یو شي باندې وتړي اودپښو له خوا هم، ترڅو دمړي د بدن کومه برخه ښکاره نشي.

که یې دخلاصیدلو احتمال وي نوله کفن څخه دې یوه ټوټه (ریښکۍ) وباسي اوپرمابین دې وربانده وتړي.

مسئله: دښځې لپاره کفایه کفن: یو ازار، څادر، پړونې اوسینه بند کافي دي. قمیص دې نه وي. همدومره کفن پرته

له کراهته جائزدی.

مسئله: ضروري کفن دادی چې دضرورت په وخت کې پیداشي، هغه که یوازې یوه جامه، دعورت دسترپه اندازه وي هم بس دی.

مسئله: که همدومره اندازه کفن هم نه وي، نوپه اذخرویعنې وښو دې پټ کړي، له دفن کولو وروسته دې پرقبرلمونځ وکړي.

مسئله: که دمړي شتمني کمه او وارثان ډیر وي یا مړی پوروړی وي، په کفایي کفن دې اکتفا وشي. (کتاب الفقه ص۸۳۰ ج۱)

مسئله: لومړی دې کفن درې یا پنځه ځله په خوشبویي لوند شي بیا دې مړی په کفن شي. (بهشتي زیورج۲ ص۵٦ علم الفقه ص۱۹۰)

دکفن دغوټو حکم

مسئله: تر کفن کولو وروسته، کفن ته درې غوټې ورکول کیږي. که مړی سړی وي او که ښځه.

۱- له سرسره. ۲- په ملا کې. ۳- دپښو لورته. په قبر کې ترایښودلو وروسته دې دا درې واړه غوټې پرانستل شي. ددې دریو ځایونو د غوټو ورکولو ګټه داده چې دجنازې دپورته کولو او وړلو په مهال کفن نه خلاصیږي خو په قبر کې ترایښودلو وروسته داویره نشته. نو هغه دې خلاصې شي. دسړي او ښځې دواړو دې داغوټې خلاصې شي. که دکفن دخلاصیدلو ویره نه وه نو دې تړلو ته اړتیا نشته.

کبیري دمنیې شرح (ج ۱ ص ۵۳۸) دا دري غوټې یې له همدې سره مقیدې کړې دي. او په قبر کې تر ایښودلو وروسته دخلاصولو حکم رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سمره (رضی الله عنه) ته کړی دی. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۱۵، دعالمګیري ج ۱ ص ۱۶۰ په حواله، زیلعي ج ۱ ص ۲۳۸، مجمع الانهر ج ۱ ص ۱۸۲، فتاوای دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۱، امداد الفتاوی ج ۱ ص ۸۳۹، کفایت المفتي ج ۴ ص ۲۵)

په کفن کې ګریبان کوم لورته شي

پوښتنه: دسړي او میرمنې دکفن ګریبان (جاغه) کوم لورته کیږي، مخته که دغاړې شاته؟

ځواب: دسړي او ښځې که کفن برابرؤ نو په دې کې څه حرج نشته. ځکه ډېر فقهاء درع او کمیس سره یو بولي او کوم فقها چې پکې توپیر کوي له هغو څخه یې هم لزوم ثابت نه دی، دا کار په عادت پورې اړه لري.

اوس چې عادت داسې دی چې دسړي او میرمنې دواړو دګریبان چاک په سینه وي، نو ددواړو د کفن لپاره دا صحیح ده او که یې توپیر وکړي، هم څه خبره نشته. لنډه دا چې دسړي جاغه مخته او دمیرمنې شاته وي، دا توپیر لازم نه دی.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۰ دغنیة ص ۵۳۷ په حواله)

په کفن باندې طیبه کلمه لیکل

مسئله: دمړي په کفن باندې کلمه په خته لیکل او په قبر کې تر ایښودلو وروسته په خښته دپاسه په لرګي باندې کلمه لیکل او له سر سره دغرب لورته ایښودل او دخاورو په وړو، وړو لوټو دا خلاص سورت ویل او لوټې له مړي سره په لحد کې اچول. دا ټول کارونه

دشریعت خلاف دي او کوم اصل نلري، دداسې رواجونو پرېښودل ضروري دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۸۱)

مسئله: دمړي په تندي دشهادت په ګوته له رنګ پرته هسې په اشاره سره، بسم الله الرحمن الرحیم او په سینه باندې لا اله الا الله محمد رسول الله، په لیکلو کې څه ستونزه نشته.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۹، دردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۷ باب صلاة الجنایز په حواله)

مسئله: نن سبا دخلکو په عقیده کې فساد څرګندیږي، په دې (له سیاهي پرته په اشاره لیکل) کې دضروري بللو خیال کوي. له داسې کارونو څخه په ګناوو کې زوروتیا پېښیږي، نو داسې لیکل هم جایز نه دي. (احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۵۱ – فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۳۹۸ دشامي ج ۱ ص ۸۴ په حواله)

مسئله: خو په کوم صحیح حدیث کې ددې، یعنې په اشاره سره دلیکلو ثبوت نشته، له همدې امله دا باید مسنون یا مستحب ونه ګڼل شي. (علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۸)

په کفن یا نور څه خوشبویي وهل

مسئله: دمړي دکفن کولو په مهال، حنوط چې له خوشبویه شیانو مرکب وي، دمیرمن دسر په ویښتانو او دسړي دسر او ږیرې په ویښتانو ووهل شي. دسجدې کولو په اندامونو یعنې تندي، پزې، وزغویو، دځنګانه سترګیو او پښو چې دسجدې په مهال له ځمکې سره لګیږي، کافور ووهل شي. دا حکم دسړي او میرمنې دواړو لپاره دی.

دسړي لپاره دي له حنوط سره زعفران او نور رنګین خوشبویه شیان نه ګډوي، خو میرمنې ته اجازه شته. دفقه په

ځينو كتابونو كې په ټول جسم د خوشبويۍ لګولو اجازه ورکړل شوې ده. خو دستر (له نو تر ځنګانه) كتل او لاس وروړلو دي ځان وساتي. د دې صورت داسې كيدلای شي چې كفن وغوړوي او حنوط ورباندې ووهي او كفن په مړي واړوي، ټول جسم به يې معطر شي، داسې دستر له ليدلو او لاس وهلو څخه حفاظت كيږي.

(فتاوى رحيميه ج ٦ ص ٣٤٧ د جوهريه نيره ص ١٠٥ په حواله)

پر كفن ګلان اچول

مسئله: د مړي پر جنازه د ګلانو د څادر اچولو كوم اصل نشته. د رسول الله صلى الله عليه وسلم، صحابه وو او تابعينو له وينا او عمل څخه ثابت شوي نه دي. كه دا شيان د مړي لپاره ګټوروای، نو دې جنابانو به ورڅخه سپما كړې نه وه. نو په جنازه باندې د ګلانو څادر اچول مكروه تحريمي او بدعت دی.

مسئله: په جنازه باندې د ګلانو څادر اچول بدعت دی، له دغسې جنازې څخه انكار كول صحيح دي.

(احسن الفتاوى ج١ ص ٢٧٨ – فتاوى رحيميه ج ٥ ص ٩٨ – مالابد منه ص ١٣١)

د ميرمنې په جنازه سور څادر اچول

پوښتنه: ميرو ښه ميرمن كه مړه شي، دهغې په جنازه يو سور څادر اچول، د داسې جنازې لمونځ كول څرنګه دي؟

ځواب: د جنازې لمونځ په دې هم صحيح دی. د سره د څادر پابندي چيرې هم ثابته نه ده. (فتاوى محموديه ج ٢ ص ٢٩٨)

مسئله: له مسنون كفن سره، سره په جنازه د پاسه سپين څادر

اچول څه خبره نه ده، لكه د اعام رواج چې دی، خو د ميرمنې په جنازه رنګه جامه اچول ښه نه دي. اما كه هغه پاكه وي نو ورسره لمونځ كول هم جايز دی، د لمانځه لپاره د هغه لرې كول ضرور نه دي، بلكې غوره داده چې بيا رنګه جامه ورباندې وانه چوي، ځكه مستحب داده چې په مړي باندې سپينه جامه پرته وي. (فتاوى دار العلوم ج ٥ ص ٢٦١، رد المحتار ج ١ ص ٨١٠، باب الصلوة په حواله)

مسئله: په مړي باندې سيوری د هغه د اعمالو له امله وي، د تودوخې له امله چترې يا د بل څه سيوري مړي ته ضرور نه دي. دا بدعت او ناروا دی. شال اچول (خصوصاً په ميرمنو) د كفارو او جاهليت رواج دی.

(فتاوى دار العلوم ج ٥ ص ٤١٠ – مشكوة باب غسل الميت ج ١ ص ١٤٤)

د سړي كفن

د سړي د كفن جامې درې دي:

١– ازار (لنګ) له سر څخه تر پښو نږدې دوه نيم متره.

٢– لفافه (څادر هم ورته وايي) تر ازار يې اوږدوالي ۴ ګره (دلاس څپک) زيات وي، نږدې چارک كم درې متره.

٣– كرته له لستونو پرته (دا كميس هم بلل كيږي) له غاړې تر پښو، نږدې دوه نيم يا چاريک كم درې متره.

د ميرمنې كفن

د ميرمنې د كفن لپاره مسنونې جامې پنځه دي:

١– ازار له سره تر پښو (د سړي په څير).

٢– لفافه تر ازار اوږده. (د سړي په څير).

۳- کرته له لستونو پرته، له غاړې تر پښو پورې. (د سړي په څېر)

۴- سینه بند، له بغله تر ورنونو پورې ښه دی، کنه له نو څخه هم صحیح دی، دومره سور دې وي چې سره بند شي. (نژدې دوه متره)

۵- سربند چې ټکرۍ هم بلل کېږي، درې لاسه اوږد (نژدې یو نیم یا دوه متره.)

د میرمنې د کفن درې جامې هم هغه دي چې د سړي کفن دی. خو دوې جامې یې زیاتې دي: یو سینه بند او بل سربند (ټکری).

(بهشتي زیور ج ۲ ص ۵۶)

مسئله: د سړي درې جامې او د ښځې پنځه جامې کفن مسنون دی. خو که د سړي دوې جامې (ازار او لفافه) او د میرمنې درې جامې (ازار، لفافه او سربند) وي هم کفن یې صحیح دی. او همدغومره کفن هم بس دی. تر دې کم کفن ورکول مکروه او بد دی. خو که کومه مجبوري وه نو تر دې کم هم صحیح دی.

(بهشتي زیور ج ۲ ص ۵۶- احکام میت ص ۵۵)

مسئله: د میرمنې پنځه جامې کفن سنت دی: لومړی کرته، دوهم ازار، دریم سربند (ټکری) څلورم څادر او پنځم سینه بند.

ازار له سر څخه تر پښو پورې او څادر تر هغه یو لاس اوږد وي او کرتې (کمیس) له غاړې تر پښو پورې. خو د دې نه غاړه وي او نه هم لستوني. سربند ټکری درې لاسه اوږد وي، سینه بند له سینې څخه تر ورنونو پورې او دومره اوږد وي چې وتړل شي.

مسئله: د میرمنې سینه بند، که له سینې څخه تر نو پورې وي هم صحیح دی. خو تر ورنو پورې ښه دی. (بهشتي زیور ج ۲ ص ۵۴ د بحر ج ۱ ص ۲۸۹ په حواله)

د ماشومانو کفن

مسئله: که نابالغ ماشوم یا ماشومه ومري، ځوان لا نه وي خو ځوانۍ ته نژدې وي، نو د هلک کفن درې او د نجلۍ کفن پنځه جامې سنت دی. که نجلۍ ته د پنځو په ځای درې او هلک ته دوه جامې کفن ورکړل شي، هم بس ده. کوم حکم چې د بالغ سړي او میرمنې دی، هغه د نابالغ هلک او نجلۍ هم دی. د بالغانو لپاره حکم په تاکید سره دی خو د نابالغو لپاره بهتر دی. (بهشتي زیور ج ۴ ص ۵۵- علم الفقه ج ۲ ص ۱۹)

مسئله: د بالغ او غیر بالغ محرم او حلال ټولو کفن یو ډول دی. (علم الفقه ج ۲ ص ۹۱)

مسئله: کوم ماشوم یا ماشومه چې په کم عمر کې ومري که مسنون کفن نه ورکړل شي او هلک ته یوه او نجلۍ ته دوې جامې ورکړي، همدا کفن هم صحیح دی. د جنازې لمونځ او تدفین یې هغسې وشي.

(احکام میت ص ۵۰، علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۱، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۸)

مسئله: که کوم ماشوم مړ پیدا شي یا د حمل اسقاط وشي (ماشوم نقصان کړي) د هغه لپاره کفن، په یوه جامه کې پیچل کفایت کوي، مسنون کفن ته یې اړتیا نشته.

(علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۰)

په حج کې د مړه شوي کفن

مسئله :څوک چې حج یا عمرې ته تللي وي او د احرام په حالت کې مړ شي ، سړی وي که میرمن، د هغه تجهیز ،تکفین، غسل او نور څه داسې کیږي لکه د نورو عامو خلکو چې کیږي ځکه په مړینه یې احرام ختمیږي.نو د هغه سر پټول ،خوشبویې وهل او نور څه یې داسې کیږي لکه د عامو مسلمانانو چې کیږي.(فتح الملهم :ج ۳ ص ۱۴۱ –شامې ج ۱ ص ۸۰۳)

دکفن د رخت څخه مصلی (جانماز) بیلول

مسئله :مصلی (جای نماز) په کفن کې داخل نه دی،هغه دې په کفن کې نه شمیرل کیږي. که یې هغه ټوټه چاته ورکړي ، هغه یې مالک ګرځي. خو لومړی د دې ټوټې اېښودل د جای نماز لپاره ضرور نه دي ، که یې څوک په غلطۍ سره بیله کړي نو مالک یعنې ولي دې وساتي یا دې کوم اړ شخص ته ورکړي . که یې ولي امام ته ورکړي ، امام ترې څه شی جوړ کړي او وایې غوندي نو لمونځ ورپسې صحیح دی.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۳ او ۲۸۳)

مسئله :له کفن څخه جامه سپمول او امام ته مصلی جوړول یو غلط رواج دی، ناجایز دی او د کفن په مصرف کې داخل نه دی.(احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۷۹)

(د کفن په هکله چې په حدیثونو او دفقه په کتابونو کې کومې څرګندونې راغلي دي ، په هغوی کې د مصلی (جای نماز) ذکر نشته او د کفن جامه که یې څوک چمتو کوي

پاکوالی پکې شرط دی .کومه جامه چې په بازار کې پیدا کیږي هغه پاکه ده ، که یې په ناپاکي علم نه وي، پاکه شمیرل کیږي. محمد رفعت قاسمي)

په کفن کول

کله چې مړي ته غسل ورکړل شي کټ دې دري ،پنځه یا اوه ځله له لوبان او نور څه پاک شي ، کفن په کټ وغوړوي او مړی دې پکې کښیږدي، له پزې ، غوږ او خولې څخه یې هغه پخته (پنبه) لرې شي چې د غسل په مهال اېښودل شوې وي.خو د کفن د غوړولو او د مړي پکې د اېښودلو طریقه د سړي او میرمنې څه فرق لري .نو دلته به بیل ، بیل ولیکل شي.

د سړي د کفن کولو طریقه

د سړي لپاره د کفن ورکولو طریقه داسې ده چې په کټ باندې لومړی لفافه وغوړوي بیا ازار او بیا د کرته (کمیس) نیمه برخه چې نوره یې د سر لور ته کښیږدي. بیا مړی د غسل له تختې ورو راپورته کړي او په کفن کې یې کښیږدي او د کمیس چې کومه حصه د سر لور ته ایښې ده ، هغه وربانديې را واړوي او ګریبان یې غاړې ته شي او د پښو لور ته ورسول شي. تر غسل وروسته چې یې جامه وربانديې اچولې وه، هغه ترې لرې شي ، په سر او ږیره یې څه خوشبویې ووهله شي .خو په یاد دې وي چې نارینه ته زعفران نه استعمالیږي.بیا په تندي،پزه ،ورغوو ،د څنګنونو په سترګیو او دواړو پښو (هغو اندامونو چې ورباندې سجده کیږي) کافور وو هل شي.

بیا دازار کینه خوا په میت را واړول شي، وروسته ښی
لوری. یعني داسې چې چپه خوا لاندې او ښې خوا باندې شي
بیا لفافه هم داسې را واړوي چې چپه خوا لاندې او ښې خوا
دپاسه را واړوي. بیا په یوه ټوټه دکفن دسر او پښو لوری بند
شي او په ملا کې هم په یوه ټوټه بند شي، ترڅو په وړلو کې
خلاص نشي.

دمیرمن کفن کول

دمیرمنې لپاره لومړی لفافه اچول، بیا ورباندې سینه بند
بیا ازار او وروسته دکمیس لاندینۍ برخه او برسیرنه له سر
سره کنبېښودل شي، بیا مړی دغسل له تختې څخه ورواخلي
او په کفن یې کښېږدي او دکمیس پاته برخه ورباندې دسر له
لوري واچوي، دکفن سوری غاړې ته راشي او دپښو لورته
کش سي. دغسې چې کمیس اچولی وي. هغه جامې چې
ترغسل وروسته ورکړل شوي ده، ترې لرې شي. په سریې عطر
یا بله خوشبویي ووهله شي، میرمنې ته دزعفرانو استعمال
هم کیدلای شي بیا په تندي، پزې، ورغوو، سترګیو او پښو
کافور ووهي. بیا دسر ویښتان دوه ځایه شي په کمیس دپاسه
په سینه باندې ښې او چپ لورته واچول شي. بیا سربند
(ټکری) په سراو ویښتانو واچول شي او بند نشي. بیا مړی په
ازار کې داسې پټ شي چې چپ لوری لاندې او ښی لوری
سربیره شي او سربند پکې دننه راشي بیا سینه بند په سینه
دپاسه تر بغلونو ووږي او دځنګنونو ترحد ښې او چپ لوړته

بند شي، بیا لفافه داسې را واچوله شي چې چپه خوا لاندې
او ښې خوا پورته شي. بیا کفن دسر او پښو لورته او. هم په ملا
کې په یوه ټوټه استنل شوي څیره وتړل شي. ترڅو په وړلو کې
خلاص نشي.

په پاسنۍ ترتیب سینه بند په ازار دپاسه او په لفافه کې دننه
کیږي، خو که هغه په کمیس دپاسه تر ازار لومړی وتړل شي هم
جایز دی. که تر ټولو جامو دپاسه یعنې تر لفافې هم بهر وتړل
شي هم صحیح دی.

مسئله: ځینې کسان په کفن کې هم عطر وهي، په عطر
وهل شوي پخته یې په غوږوو کې ږدي. دا ټوله ناپوهي ده،
څه چې په شریعت کې راغلي دي په هغوی زیاتوالی مه کوئ.
(احکام میت ص ٥٧ - علم الفقه ج ٢ ص ١٩٢، کتاب الفقه ج ١ ص ٨٨٥)

دکفن مسائل

مسئله: کفن له پاکو جامو ورکول کیږي. ترغسل وروسته
مړی پاک دی. نو دزمزم او به تر غسل وروسته په مړي او کفن
باندې دتبرک لپاره پاشل جایز دي. (فتاوی محمودیه ج ٧ ص ٢٣٣)

مسئله: مړي ته چې غسل ورکړل شي دکفن ورکولو په
مهال که نجاست ترې ووزي، غسل دي بیا نه ورکوي بلکې
یوازې هغه نجاست دې ومینځل شي.
(فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٢٦٧، ردالمحتار ج ١ ص ٨٠٢ په حواله)

مسئله: په کفن باندې خوشبویي لګول مستحب دي. خو
هغه خوشبویي چې دسړي لپاره په ژوند کې منـــــع ده

(لکه زعفران يا نور) په کفن هم دهغوی لګول منع دي.
(فتاوی محموديه ج ۲ ص ۳۹۹ دطحطاوي ج ۱۰ ص ۳۶۷ په حواله)

مسئله: مړي ته درنجو پوري کول ښکلا ده نو ناجايز ده.
(امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷۱۲)

مسئله: په کوم څادر چې کلمه شريفه ليکلې شوي وي که په مړي ولويږي دادکلمې او آياتونو داحترام خلاف ده.
(فتاوی محموديه ج ۲ ص ۴۰۱)

مسئله: په جنازه باندې داسې څادر اچول چې ورباندې کلمه يا اياتونه ليکل شوي وي، کوم ثبوت نلري او پکې دبې ادبې ويره شته نو ځکه جواز نه لري. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۰)

مسئله: مړی که عالم وي که عام سړی، په سريې عمامه تړل مکروه او بدعت دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۰ – احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۶ – ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۶)

مسئله: که دزمزم په اوبو لمده شوي او بيا وچه شوې جامه په کفن کې دبرکت اپاره استعمال شي بې ادبي غوندې څه پکې نشته. (فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۳۶۲).

مسئله: دکفن ورکولو په مهال دي دمړي لاسونه په ګېډه نه ږدي، بلکې دواړه لاسونه دي سيده لـه ورنونو سره برابر ږدي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۵۹ دردالمحتار باب صلوة الجنائز ج ۱ ص ۸۰۳ په حواله)

مسئله: په ژوند کې خپل کفن او قبر تيارول جواز لري.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۵۷، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۸)

کفن تيار ساتلی شي خو په وقف شوي هديره کې قبر کيندلای نه شي. رفعت قاسمي.

مسئله: دنابالغ هلک اونجلۍ لپاره چې دلويانو په څير کفن ورکول غوره دي خو داهم جايز دی چې يوه يا دوه جامې کفن ورکړي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۵۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۹ په حواله)

مسئله: دمړي دجنازې دپاسه چې کوم څادراچول کيږي، دهغه څنډې ګنډل کيدلای شي، خو کفن به بيله ګنډلو وي، لاندې جامه به هم بې ګنډلو وي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۱)

که لاندې دجامې سورکم وي، هغه لـه غبرګو ټوټو جوړول صحيح دی. رفعت قاسمي.

مسئله: دميرمنې په کفن کې سينه بندتر لفافې لاندې او په کميس دپاسه وي، يعني لفافه په ليدلو سره تر ټولو سرپيره وي او بيا به سينه بند، خو تر لفافې دپاسه وي هم خرابې نلري، جايز ده. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۵۸، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۳ په حواله)

که دکوم انسان قبر وسپړل شي يا دڅه لـه امله جسد را وايستل شي او کفن ونلري، هغه ته هم مسنون کفن ورکول مناسب کاردی، خو چې جسد شهيدلی نه وي، که شهيدلی وي فقط په پاکه جامه کې يې نغښتل کافي دي. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۱)

مسئله: دکعبې شريفې دپوښ ټوټه په کفن کې اېښودل جايز دي. دبرکت سبب دی. که دپوښ په ټوټه کلمه ليکله شوې وه که هغه دمړي په سينه کښېښودله شي او خښ شي، که څه هم صحيح ده خوښه داده چې دکعبې دپوښ داسې ټوټه په سينه کښېښودله شي چې کلمه ورباندې ليکله شوې نه وي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۵)

دجنازې لپاره په کټ څرنګه وي؟

پوښتنه :دجنازې لپاره داسي کټ (چارپايي) ایښودل چي
هر څوک يې اوچت کولای نشي، جوازلري او که يې نلري؟
ځواب :په جواز کې خو يې کومه خبره نشته، خو سپکه
چهارپايي غوره ده چي ټول خلک يې په آسانۍ سره پورته
کولای او په اوږو يې اېښودلای شي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۸۴)
مسئله :که له بان يا بل څه څخه چهارپايي اوبدل شوي وي
په هغې جنازه اېښودل او دجنازې لمونځ کول جواز لري. که
هغه ناپاکه وي پاکه جامه دي وربانديږ ولويږي او مړی دي
باندي کښېږدي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۲۸ او کفایت المفتي ج ۴ ص ۲۰۵)
مسئله:دغير مسلم په څير دمسلمان جنازه دبانسونو په
زينه اېښودل او وړل صحيح نه ده. دمسلمان جنازه په عزت او
احترام سره وړله کیږي. مړی په سریر (پلنګ، کټ، چارپايي)
وړل درسول الله صلی الله علیه وسلم له وخته تر دا ننه پوري
رواج ده. جنازه داسي تخت یا چارپایي ته ويل کيږي چي ور
باندي مړی اېښي وي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۵، ردالمحتار ج ۱ ص ۷۹۵ په حواله)

دمړي په کټ څه شی اچول

مسئله :دمړه دجنازې لپاره په کټ باندي دکومې ټوټې یا
پوزکي (بوریا) داچولو ضرورت نشته. له کفن سره په جنازه
کې اېښودل او جنازه له کټ څخه اخستل په قبر کې اېښودل
کيږي، که کله ضرورت معلومیده، څادر، سترنجې یا بل څه
موجود ؤ او داکار تري واخلي بيا يې په خپله هم استعمال

کولای شي. (فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۲)
(ددغسې څادر خیراتول ضرور نه دي، هغه چې دمجبورۍ
له امله په کټ کې تر مړي لاندي اچول شوي دي.)
مسئله : تر غسل ورکولو وروسته، سنت دی چې مړی په
تخت یا کټ کښېښودل شي، په دي کې دمړي عزت هم دی.
دا ضرور نه ده چې کټ تر معمولي حد زیات لوړوي، دځمکې
له لوړوالي څخه لږ لوړوالی يې کافي دی.
(که یې مړی په چارپایي یا کټ اېښی وي او دجنازې
لمونځ يې وشي، جایز دی. ځکه چې دا دڅاروي سوارۍ یا
دسړي دا خستلو په څیر نه ده. په چهارپایي يې اېښودل يې
حکماً په ځمکه اېښودل دي.
درسول الله صلی الله علیه وسلم دجنازې لمونځ چي کیده
،درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک جسد په کټ دپاسه
ؤ. چي هغه په ځمکه اېښی و. محمد رفعت قاسمي)

تر کفن ورکولو وروسته مړی څه ډول څملول کیږي؟

پوښتنه : دلته چې مړي ته کفن ورکړي دقبلې لورته پښې
او ختیز ته يې سر کوي، ایا داسې صحیح دی؟
ځواب :ناروغ چي په پروتو لمونځ کوي، دهغه دلمانځه
یوه طریقه داده چې دقبلې لورته پښې کوي خو ځنګنونه يې
ولاړوي که يې وس نه ؤ نو پښې غزولای شي او ترسر لاندي
بالښت یا بل څه لاندي کوي ترڅو لږ لوړ او مخ يې قبلې ته
شي. همداسې دقریب الموت ناروغ د پریوتلو یوه طریقه داده

لکه په قبر کې چې په اړخ وي او مخ یې قبلې ته وي دغسي څملي . که ورته تکلیف ؤ بیا دې پښې د قبلې لور ته کړي او تر سر دې څه شی لاندې کړي څو یې مخ قبلې ته شي او د اسمان لور ته نه وي.

د کفن ورکولو په وخت او وروسته یې شمالاً او جنوباً څملولای شي. که یې د اصورت مشکل و، شرقا او غرباً دې څملول شي، پښې یې د قبلې لورته کول نامناسب دي، ځکه سرېې نه او چتیږي. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۱۱)

دمړي دکټ دڅادر حکم

مسئله : دمړي په کټ چې کوم څادر اچول کیږي، هغه به دمړي دخپلوانو وي ، یعنې دهغه چاچې مړي ته کفن ورکوي او دا دهغه ملکیت دی. داویل چې دادهغه فقیر حق دی چې له جنازي سره ځي یا هلته اوسیږي داغلط ده. دادکوم خاص سړي حق نه دی .دادې په خپله مالک (کفن ورکوونکی) له ځان سره وساتې یادې چا ته ورکړي.

مسئله : که دمړي ولي هغه څادر مسجد ته واستوي چې لاوارثه مړي ته دي کفن کړي ، نو دا څادر دي په دغسي کار کې استعمال کړي. ددې فکر دي نه کوي چې د لاوارثه مړي په انتظار کې ، هغه وروست شي ، دلته پکې دورکوونکي نیت معتبر دی. که مالک هغه څادر دکوم بې وزله یا طالب العلم ته د ورکړي لپاره ورکړی وي، هغسي دي وکړي. له ځانه دي دمالک دنیت او امر خلاف پکې څه نه کوي. که مالک هغه

څادر د مجسد د کارکوونکو خوښې ته پرې ایښی و نو بیا چې دوی یې ښه وبولي ، دنورو لپاره یې بیا د خلاف اجازه نشته.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۲)

مسئله : د جنازې دوړلو په مهال په کټ باندې دپاسه څادر اچول دمړي عزت دی. د فقهې روایت په حساب په دې کې څه خبره نشته. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص:۲۷۰ – ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۷)

(ځینې ځایونه چې دمړي په کټ باندې کوم څادر اچوي، هغه بد ګڼې او استعمال یې نه خوښوي ، له همدې امله هغه په قبر اچوي او هغه خرابیږي. په هدیره کې ضایع کیږي. هغه دي کفن ورکوونکي په خپله استعمال کړي یا دي کوم اړ شخص ته ورکړي څو یې استعمال کړي، ددې په استعمال کې کومه خبره نشته. محمد رفعت قاسمي) .

مسئله : هغه څادر (یابله جامه) چې په کټ باندې اچوله کیږي، هغه په کفن کې نه ده شامله ، غریب شخص که دا څادر واخلي او نه یې واچوي ،بلکې خپل یا دبل چا کوم پاک څادر ور باندې واچوي هیڅ پروا نلري. هغه څادر چې هغه ته یې وزکړي دی که یې خپل وي ودي ساتي یا دي کوم بې وزله ته ورکړي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲٦٦ – احکام میت ص ۵۷)

تر مړینې وروسته دخپلې میرمنې مخ کتل

پوښتنه : دا خبره مشهوره ده چې کله کومه میرمن ومړي نو خاوند یې نه مخ کتلای شي او نه لاس وروړلای شي ، ایا دا صحیح ده ؟

ځواب :دمیرمنې تر مړینې وروسته یې میړه دهغې مخ کتلای شي، خو لاس وروړلای نشي.جنازه یې په اوږو اېښودلای شي ،دجنازې په لمانځه کې یې ګډون کولای شي، قبر ته دکښته کولو په مهال یې محرم دوستان ورته ضرور دي خو که نه وو ،نور خلک دي قبر ته کښته کړي چې میړه یې هم پکې ګډون کولای شي.دا صحیح ده چې دمیرمنې په مړینه ددنیوي احکامو په اعتبار دسړي او میرمنې ترمنځ تعلق ختمیږي او دمیړه حیثیت په یوه لحاظ دپردي کیږي.

(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۰۶– فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۷ – شامې ج ۱ ص ۵۷۵ ، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۸)

مسئله :دمیرمنې په مړینه یې دمیړه تعلقات ورسره غوڅیږي، نو دمیرمنې غسل او لاس وروړل ورته صحیح نه دي خو لیدلای یې شي. که سړی ومري دمیرمنې اړیکې یې تر عدت پورې ورسره پاته وي، له همدې امله میرمن خپل مړه شوي میړه ته غسل ورکولای شي. (که بل سړی نه وي.)

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۸ ،احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۵ ،د ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۳ په حواله)

مسئله : دمیړه په مړینه ،دمیرمنې بنګړي ماتول او ضایع کول غلط کار دی.لرې دي کړي ودې ساتې او چې عدت یې تیر شي بیرته دې په لاس کړي.(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۰۸)

****

دمړي دمخ کتلو رواج

مسئله :دمړي دمخ په کتلو کې دا مفاسد شته، نو واجب الترک دي.

۱– په ځینې ځایونو کې دمړي دمخ کتل دا جر او ثواب سبب ګڼي.حال دا چې په شریعت کې ددې کوم اصل نشته. ددې ثواب ګڼل بدعت دی. که یې ثواب هم ونه ګڼي په دې سره دبدعت ترویج او تائید کیږي.

۲– شرعي حکم دا دی چې مړي ته دغسل ورکولو او کفن ورکولو په مهال دې کم کسان وي، هغه دې هم دمړي خپلوان وي .ترڅو که خدای مکړه کوم عیب یا تغیر پکې پیدا شي هغه ښکاره نشي او دمخ کتلو رواج ددې حکم او حکمت خلاف دی.

۳– که مړی کوم مشهور شخصیت وي، دهغه دمخ کتلو په مهال څو ساعتونه لګیږي،خو دمیت دخښولو تاخیر جایز نه دی.

۴– دمخ کتلو نتیجه داده چې دمړي تصویرونه اخلي، اخبارونو ته یې ورکوي او هلته خپریږي چې دتصویر له لعنت او عذاب سره ،سره دمړي دڅهرې دتغیر خپرول هم دي او دا حرام دي.

نن سبا دا بد رواج په علماوو او مشائخو کې هم معمول دی. له همدې امله له دې څخه دځان ساتلو وصیت کول لازم دي. که وصیت ونکړي نو عذاب او وبال یې دمړي دی.(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۰)

مسئله :غیر محرمې میرمنې ته لکه څرنګه چې په ژوند کې دپردي سړي مخ ته کتل منع دي تر مړینې وروسته هم منع دي .(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۷ دمشکوة شریف ج ۱ ص ۲۶۹ باب النظر په حواله)

په هدیره کې د مړي د مخ کتل

مسئله: په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته. دا چې ځینې ځایونو مړی په قبر کې کښېږدي کفن یې پرانیزي او مخ یې لوڅ کړي، دا بې اصله ده په شریعت کې یې کوم تائد نشته. د کفن تړ بندولو وروسته یې خلاصول مناسب نه دي، ځکه کله د برزخ اثار ورباندې پیل کیږي چې د هغه اخفاء او پټول مقصود (اوغوره) دي.

(خو په قبر کې د کفن د غوټو خلاصولو اجازه ده.)

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۸، فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۹۸، فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۱۰)

د مړه مخ ته د غیر مسلم کتل

مسئله: غیر مسلم ته تر لمانځه وړاندې د مړي مخ ښکاره کول جواز لري. خو که ډیره فتنه نه را ولاړیدله، بیا دې انکار تري وکړي. دا احتیاط دی ځکه دا مهال د رحمت د نزول وخت دی. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۳۴)

له جنازې سره د تللو فضایل

په حدیث شریف کې له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وکړ: څوک چې د ایمان له صفت سره او د ثواب په نیت د مسلمان له جنازې سره لاړ شي، تر هغه له جنازې سره پاته شي چې ورباندې لمونځ وشي او له دفن څخه یې فارغ شي، له دوو قیراط ثواب سره بیرته راځي. چې هر قیراط د احد له غونډۍ سره برابر دی. هر څوک چې یوازې د جنازې لمونځ یې وکړي بیرته لاړ شي تر

دفن کولو ورسره پاته نشي، د یو قیراط له ثواب سره بیرته ځي. (ترمذي ج ۱ ص ۲۰۱ - صحیح بخاري او مسلم باب الجنائز ج ۱ ص ۱٦۵ ص ۱۷۵)

مسئله: که هدیره لري وي او په اوږو د جنازې وړل ګرانه وي، تر څو مره چې ګرانه نه وي په اوږو دې یوړل شي خو چې تکلیف وي پر سوارلي دې کښېږدي. (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷٦۰)

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وکړ: جنازه به په ګړندي تګ وړئ که هغه نیک شخص وي قبر ورته خیر دی، یعني ښه ځای دی، ژر به ورته ورسیږي او که د غسې نه وي نو یو بد بار به ستاسو له اوږو لرې شي.

په حدیث شریف کې دي: څوک چې د جنازې څلور لوري په اوږو واخلي، څلوېښت کبیره ګناهونه یې بخښل کیږي. (ترمذي ج ۱ ص ۱٦۷)

مسئله: مړی که ګاونډی، دوست یا هم کوم نیک شخص وي، له جنازې سره تلل یې تر نفل کولو غوره دي.

د ترمذي شریف په حدیث کې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له جنازې سره تللی دی او تر څو چې به جنازه له اوږو څخه کښته نشوه، نه کښېناست.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده:

"کله چې له جنازې سره لاړ شئ، تر څو هغه اېښودل شوې نه وي، مه کښېنئ."

کله چې به رسول الله صلی الله علیه وسلم له جنازې سره

پیاده روان ؤ، ویل به یې، زه نه سپریږم، فرښتې پیاده
ځي. چې د جنازې له دفن څخه به فارغ شو، کله به پیاده او کله
هم سپور بیرته راګرځیده.

درسول الله صلی الله علیه وسلم معمول ؤ چې له جنازې
سره به روان و، پټه خوله به ؤ، په زړه کې به یې د مړینې په
هکله خبرې کولې. (ترمذي ج ۱ ص ۱۹۸ - بخاري شریف ج ۱ ص ۱۷۵)

د جنازې تر اخستلو وړاندې فاتحه ویل

پوښتنه: دلته زموږ دستور دی چې د مړي په کور کې
خلک راغونډیږي، د جنازې تر وړلو وړاندې، امام صاحب
ودریږي الفاتحه وایې او بیا په لوړ اواز دعا کوي. ایا دا له
سنت سره برابر دی؟

ځواب: که هر یو ځانته او بیله دعا کوي خو جواز یې شته،
ټول راغونډیدل او دعا کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم،
صحابه وو او صالح سلفو د عمل او طریقې خلاف دي، نو په
پوښتنه کې چې کومه طریقه یاده شوې ده، هغه مکروه ده.
(فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۳۶۳ د عالمګیري ج ۵ ص ۳۱۹ په حواله)

مسئله: د کبیرې د ۵۴۸ مخ له عبارت څخه څرګندیږي:
څوک چې له جنازې سره څلوېښت قدمه لاړ شي، څلوېښت
کبیره ګناهونه یې بخښل کیږي. (فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۴۲۰)

د جنازې د اخستلو په مهال حیله کول

پوښتنه: کله چې مړی د جنازې د لمانځه ځای ته وړي، قرآن
کریم را اخلي، یو بل ته یې ورکوي، ګرځوي یې، بیا څه پیسې

ملا صاحب ته ورکوي. دا کار ګناه د معافې لپاره کیږي. آیا
دا صحیح ده؟

ځواب: دا اسقاط معاصي (د ګناه د معاف کیدلو) طریقه
بې اصله ده. بدعت او ناروا ده. که ملا صاحب بې وزله او
مستحق وي، هغه ته خیرات ورکول او مړه ته یې ثواب بخښل
صحیح دي. د غسې نورو بې وزلو، د خوړلو، څښلو څه شی یا
پیسې، یا جامې یا بل څه د ثواب په هیله ورکول ښه دي.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۳۱)

(په قرآن او حدیث کې چیرې هم د دې ثبوت نشته او نه
فقهاوو داسې لیکلي دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او
صحابه وو چې کومه طریقه روایت شوې ده، د هغې خلاف ده
او د قرآن کریم بې عزتي هم ده. د دې پرېښودل ضروري دي.
محمد رفعت قاسمي)

له جنازې سره په لوړ اواز کلمې ویل

پوښتنه: دلته رواج دی، کله چې جنازه واخستله شي
ورسره په جهر سره کلمه ویل ضروري ګڼي، ایا د داسې کار
اصل شته؟

ځواب: له جنازې سره په لوړ اواز کلمه ویل بدعت دی.
(احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۳۸ فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۰۱ عالمګیري ج ۱ ص ۱۰۴)

مسئله: له جنازې سره د خفي ذکر اجازه شته، په زوره ویل
یې جواز نلري، مکروه ده. داسې که تر جنازې وړاندې څو
کسه یو ځای په لوړ غږ سره څه وایې دا د سنت خلاف او

تحریمي مکروه ده. له جنازې سره په زړه کې ذکر کول جایز
دي. جهر ذکر کول مکروه دي. ځکه د جنازې لمونځ په خپله
دلوړې درجې دعا ده. تر هغه وروسته په ډله ایزه توګه دعا
کول ثابت نه دي خو په تلو، تلو کې په انفرادي ذکر کې څه
خبره نشته. (فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ١٩٤ شامي ج ١ ص ٨٣٨ بحر الرائق ج ٢ ص ١٩٢)

مسئله: په پټه خوله د جنازې د وړلو حکم دی. په حدیث
شریف کې دي چې د جنازې د وړلو په مهال په پټه خوله تلل
خدای تعالی ته خوښ دي.

(فتاوی رحیمیه ج ٨ ص ١٨٥ د جامع الصیغر ص ٧٥ په حواله)

جنازه په سواري وړل

پوښتنه: دلته زموږ هدیره له ښار څخه دري میله لري
ده. خلک جنازه دومره لري پیاده وړلای نشي، هغه په موټر
کې ږدي او ورسره کښیني ایا دا جایز ده؟ که جایز وي نو
جنازه به څلور کسان اخلي او که به یې کښته ږدي او څومره
لوړه به یې ږدي؟

ځواب: د جنازې په اخستلو کې سنت داده چې جنازه په
څلورو کسانو واخلي او کټ به په اوږو ږدي. په درمختار کې
دا طریقه د مړي د وړلو لپاره بیان شوې ده. او وایې جنازه په
شا کول یا د کوم څاروي د پاسه ایښودل مکروه ده. دا حکم په
موټر کې د وړلو هم دی. خو د مجبوریت او اړتیا په مهال
داسې کول صحیح دي.

مسئله: کله چې کوم عذر نه وي نو سنت او مستحب دادی

چې جنازه څلور کسه واخلي او یو یې سې، په سورلې یا په څه
ایښودل مکروه ده. خو که ضرورت او عذر وْ، داسې چې په
پوښتنه کې یادونه شوې ده چې هدیره خورا لري ده او پیاده
تلل او جنازه پیاده وړل ستونزمن کار دی، نو د مجبورۍ په
حالت کې چې په سوال کې یاده شوې ده بیا صحیح ده. یعنې
مړی دې د موټر په مختنۍ برخه کې کښېږدي او خلک دې
شاته چیرې چې ځای وي کښیني، دا جایز دي او په موټر کې د
ایښودلو لپاره د څلورو کسانو قید نشته، څومره چې یې پورته
کوي او هلته یې ږدي صحیح ده. خو تر موټر پورې وړل یې په
څلورو کسانو ښه دی، غوره ده چې څلور کسه یې په موټر کې
کښېږدي او چې له موټره یې کښته کړي او هدیرې ته یې وړي
هم څلور کسان یې په هغې طریقي سره واخلي. په موټر کې
دا قید نشته چې تر پښو دې جنازه لوړه کښېږدي.

(فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٢٧٣ – ٣٧٤، ردالمحتار ج ١ ص ٨٣٣ په حواله)

جنازه په لري لاره او که په لنډه لاره وړل کیږي

مسئله: دابوهریره رضی الله عنه له خوا د روایت شوي
حدیث، د "اسرعوا بالجنـــازه" د عبارت غوښتنه داده چې له
اړتیا او ضرورت پرته، په داسې اوږده لاره د جنازې وړل چې
په خښولو کې یې ځنډ راځي ښه نه ده او د مستحب خلاف کار دی.

(فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٢٨٠، مشکوة ج ١ ص ١٤٤ په حواله، ردالمحتار ج ١ ص ٧٩٩)

مسئله: جنازه په لنډه لاره وړل غوره دي. له شرعي عذر
څخه پرته لنډه لاره پرېښودل او لري لاره نیول او جنازه په کلیو

کړخول ښه رواج نه دی، مړی له اضطراب څخه ساتل مشکل
وي. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۸۳)

مسئله: له مړي سره قرآن کریم په چارپائي ایښودل او تر
هدیري وړل، دسنت خلاف او ناروا دی. دا باید بالکل
پرېښودل شي .(فتاوی دارالعلوم ج ٦ ص ۲۸۳)

له کتاب او سنت څخه چیري هم دا ثابته نه ده او نه فقهاوو
لیکلي دي. بلکې کومه طریقه چې له رسول الله صلی الله علیه
وسلم او صحابه وو څخه را نقل شوي ده، دهغې خلاف ده او د
قرآن کریم بې عزتي ده، د دې پرېښودل ضروري دي.
(محمد رفعت قاسمي)

مسئله: له جنازې سره دي لوخ سر نه ځي. دا د غیر
مسلمانانو طریقه ده. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۲۱)

دجنازې دوړلو لپاره مزدوري

مسئله: جنازه وړل عبادت دی، هر چاته ښائي چې ورته
لومړی والي وکړي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم
جنازه اخستي ده. دسعد ابن معاذ رضی الله عنه دجنازې
پورته کول ورڅخه ثابت دي. خو که هدیره دومره لرې وه چې
ملګرو ته یې هلته دجنازې وړل مشکل و، نو که په مزدوري
داسې کسان وموندل شي، چې هدیري ته جنازه یوسي نو ښه
ده چې په مزدورانو باندې جنازه یووړل شي.

دجنازې لپاره مزدوري ورکول او اخستل جواز لري. په دې
کې په متوارث سنت پاته کیدل دي. خو مزدور باید مسلمان

او صالح وي، په کافرانو او فاسقانو دجنازې وړل ښه نه دي.
دمسلمان جنازه په کافرانو باندې وړل جواز نلري او داځکه
چې دجنازې وړل هم په مسلمانانو باندې کفایي فرض دي. که
مسلمانان موجود وي او کافران یې وړي له یوه لحاظ دفرضو
ترک دی.

مسئله: که یې فاسق مسلمانان وړي که څه هم جواز لري،
حرام نه دی، خو هغوی ورڅخه بیل کول ښه دي. ځکه دکبایرو
په ارتکاب کې هم دالله تعالی عتاب دی.

مسئله: که یې تر هدیري پوري وړلای نشي، ډیره ستونزه
وي او مسلمانان مزدوران هم نه پیدا کیږي نو جنازه په موټر
کې وړل پرته له کراهته جایز دي. دهدیري لرې والی هم عذر
دی او فقهاوو هغه ته اعتبار ورکړی دی. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۳۰)

مسئله: هدیره لرې ده، جنازه په اوږو وړل مشکل ده،
دلته غوښتنه دا ده چې څومره په اوږو وړل مشکل نه وي په
اوږو دي یوړل شي او چې وروباندې شاقه شي په سوارلي
(څاروي – موټر) دي کښېږدي. (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷٦۰)

دجنازې دوړلو په مهال به دمړي سر کوم لورته وي؟

پوښتنه: که هدیره دختیز په لور وه نو دمړي دوړلو په مهال
به یې سر کوم لورته وي او پښې به یې کوم لورته؟

ځواب: هدیره که هر لورته وي، مشرق، مغرب، شمال یا
جنوب ته وي. سر به یې دکټ مختنه لورته وي، دمړي سر به
دمخې خواته وي (کوم لورته چې میت وړل کیږي، هغه لورته

به یې سر وي.) (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۱ ،دعالمګیري مصري ج ۱ ص ۱۵۲ په حواله –غنیة ص ۵۳۴)

مسئله :دمړي سر وړاندي لورته کیږي، په دې کې کوم حرج نشته چي دوړلو په مهال دمړي پښې دقبلي لورته وي. یعني ختیز لورته دجنازې وړل او پښې یې دقبلي لورته کېدل صحیح دي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۵ –عالمګیري مصري ج ۱ ص ۱۵۲ په حواله، فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۷۴ فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۷)

جنازه به په څرنګه تګ وړل کیږي؟

مسئله : جنازه به په بشپړ رفتار وړل کیږي، منډې به نه ورسره وهي ، داسې لکه چي غیر مسلم ورسره ځي او نه به دومره ورو ځي لکه دلته چي عادت دی او ورو ،ورو ځي او که څوک بشپړ قدم واخلي نور یې منع کوي چي ورو،وروځه، ګواکې جنازه ناروغ فرضوي او داسې روان وي لکه هغه چې روغتون ته وړي. په حدیث کې دجنازې دوړلو لپاره دګړندي تګ امر شوی دی ، داحکم دفقه په کتابونو کې موجود دی.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۰۰ –کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۵۷)

مسئله :جنازه په داسې تګ سره یوړل شي چي مړي ته په کټ کې اضطراب نه وي .یعني مړی دې خوا هغې خوا ته په حرکت کې نه وي، مړی ونه غورځوي. (مشکوة ،ج ۲ ص ۱۴۴)

جنازه په بیړه وړئ، که هغه نیک عمله وي نو ورته (هغه ځای خیر دی چي تاسې یې ورته وړئ او که صالح نه وي نو له خپلو اوږو به مو شر ژر لرې کړي وي.)

(فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۳۷٦ –بخاري شریف ج ۱ ص ۱۷۵)

له جنازې سره به خلک څرنګه ځي؟

پوښتنه :ترجنازې به وړاندې ځي که وروسته؟ دلته خو تر جنازې وړاندې اووړ دکتار جوړوي.

ځواب :له براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم موږته دجنازې داتباع یعنې وروسته تللو حکم کاوو.(بخاري شریف ج ۱ ص ۱٦٦)

له دې څخه ثابتیږي چي جنازه متبوع ده او خلک تابع دي. متبوع تر تابع وړاندې وي. نو جنازه مخته کېدل او ترجنازې وروسته تلل افضل او مستحب دي.

جنازه نږدې او ترمخ کول ، عبرت او نصیحت هم دی او دمړي عزت هم دی.

تر جنازې وړاندې کېدل هم جایز دي خو غوره نه دي. په اوږو دجنازې داېښودلو لپاره مخته کېدل هم جایز دي خو له جنازې څخه به نه لرې کیږي. دټولو ترمخ تلل او جنازه شاته پرېښودل مکروه ده. دخلکو مخته کتار جوړول او جنازه شاته پرېښودل یوه غلطه طریقه ده. دجنازې په اوږو اېښودلو لپاره چې څوتنه وړاندې وي او ډیر شاته وي، مخته خلک چي جنازه ورکړي، شاته لاړ شي ترڅو ، مخکنیو ته داخستلو موقع وموندله شي، همدا طریقه اختیارول ښه دي.

په هدیره کې له بوټونو سره یا لوڅې پښې ګرځېدل سخت مکروه او بد دي.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۰۴ د درمختار مع شامي ج ۱ ص ۸۳۴ په حواله،عالمګیري ج ۱ ص ۱۰۴ او بحر الرایق ج ۲ ص ۱۹۲)

دمړي ددرناوي لپاره دریدل

مسئله: کله چي جنازه نږدي تیریږي، کوم خلک چي ناست وي، د جنازې لپاره ولاړیدل ښه دي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۰۵)

مسئله: دمیت په لیدلو دریدل په حدیث شریف کې راغلي دي، په دي کي څه خبره نشته. (مشکوة شریف باب المشي بالجنازه ج ۱ ص ۱۴۷)

له دي سره نور احادیث هم په دي هکله راغلي دي او ورڅخه معلومیږي چي لومړي دولاړیدلو حکم ؤ، بیا منسوخ شو خو جوازیې اوس هم پاته دی. دریدل د خالق النفس او ملایکو د احترام لپاره وي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۷ - کتاب الفقه ج ۱ ص ۸٦۰)

په اوږو ایښودلو مسنونه طریقه

مسئله: د جنازې په اوږو ایښودلو مسنونه طریقه داده چي په ځینو احادیثو کي د جنازې د څلورو لورو په اوږو ایښودلو فضیلت هم راغلی دی.

په مجمع الزوائد کې (ج۳ ص ٢٦) کې له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد کړی دی: " څوک چي د جنازې څلورو لورو ته اوږه ورکړي، هغه ته د څلویښت کبیره ګناهونو کفاره ګرځي."

امام سیوطي رحمه الله په جامع صغیر (ج ۲ ص ۱۷۰) کې دا حدیث رانقل کړی دی. مسنون او مستحب دا دی چې څوک د جنازې کټ څلویښت قدمه یوسي. لومړي دي په ښي اوږه د جنازې مخ لوري لس قدمه یوسي بیا دي ددي خوا د شا پایه

په ښي اوږه کښیږدي. بیا په کینه اوږه د مخ لوزي لس قدمه او وروسته په چپه اوږه د شا لوری واخلي. که کوم مزاحمت نه وي په دي طریقي عمل کول غوره دی.

(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۰۵ - فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۲۰)

مسئله: هر څوک چي څلویښت قدمه جنازه یوسي د هغه څلویښت ګناهونه بښل کیږي. (مراقي الفلاح مع طحطاوي ج ۱ ص ۳۳۱)

مسئله: تر جنازې وروسته تلل غوره او مستحب دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۹ رد المحتار ج ۱ ص ۸۳۴)

له جنازې سره د نعت ، طیبه کلمي او نور څه ویل

پوښتنه: ځیني کسان له جنازي سره ورځي، وړي ډلي جوړوي په لوړ اواز طیبه کلمه، نعت او درود شریف وایې، ځیني یې بیا مخالفت کوي، کومه یوه صحیح ده؟

ځواب: له جنازې سره دتلونکو لپاره پټه خوله لازمه ده. په لوړ غږ ذکر کول یا قرآن کریم تلاوت کول مکروه دي. که څوک دالله تعالی ذکر کوي په زړه کي دي وکړي.

(شرح طحاوي ج ۱ ص ۱٦۲)

له دي روایت څخه څرګندیږي چي دا خلک ټولي جوړوي طیبه کلمه لولي، لکه دا رواج چي یاد شوی دی دا مکروه او بدعت دی. څوک چي یې مخالف کوي هغه ښه وایي. کلمه او نور څه دي په پټه وایي. (آپ کي مسائل ج ۳ ص ۱٦٦)

مسئله: له جنازې سره اشعار، نعت او نور څه ویل غیر مشروع او بدعت دي. پریښودل یې لازم دي. دا ثابت نه دي. سره یوځای کیدل او په لوړ غږ ویل د صالح سلفو د عمل خلاف

دی. نو بایـد پریښـودل شي .(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۱۵۰-۱۵۱
دعالمګیري مصري ج ۱ ص ۱۵۲ په حواله)

مسئله :داطریقـه دصالح سلفو ، صحابه وو ، تابعینو او امامانو څخه ثابته نه ده. نو بدعت او مکروه ده. دفقهې له تصریحاتو څخه یې ممانعت معلومیږي نو ترک کول یې لازم دي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۴ ،مشکوة باب الاعتصام ج ۱ ص ۲۷ په حواله)

داوږه ورکولو مسائل

مسئله : دجنازې په ملګرتیا ورسره پیاده تلل افضل دي. خو په سواري تلل هم جایز دي . یوازې داولی (غوره والي) خلاف دي. دبیرته راتلو په مهال سپاره راتلل خلاف اولی هم نه دی. ځکه په بیرته راتګ کې سپاره راتلل له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي .(کفایت المفتي ج ۴ ص ۳۱)

مسئله : له جنازې سره په خپله په سواري تللو کي څه خبره نشته .خو پیاده تلل ښه دي. که په سواري ؤ ، له ضرورت پرته دي تر جنازه وړاندي نه ځي ځکه مکروه ده.

مسئله :غوره داده چي له جنازي سره تري شاته لاړ شي که څه هم وړاندي تلل جایز دي خو له جنازي څخه لري او له خلکو دي بیل نه ځي. په داسي ډول مخته تري تلل مکروه دي. دجنازي ښي او کیڼ لوري ته تلل هم داولی خلاف دي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۵۸)

(داحکم دهغو خلکو په هکله دی چي جنازي ته اوږه نه ورکوي.)

مسئله :له جنازي سره دمیرمنو تلل تحریمي مکروه دي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۵۹)

مسئله : کـه لـه جنـازي سـره کـوم منع شـوي کـارؤ لکـه موسیقي یا مـاتم ، نـو هغه دي منع کړل شي که یي منع کول ممکـن نـه ؤ نـو بیا دي هـم (عـام خلـک) لـه جنازي څخـه نـه راګرځي. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۵۹)

مسئله : کوم خلک چي له جنازي سره ځي ، وړاندي تر دي چي جنازه له اوږو کښته شي، کښیناستل ورته مکروه دي خو که ضرورت ؤ بیا کومه خبره نشته.

مسئله :کوم خلک چي له جنازي سره ځي نو تري شاته تلل مستحب دي، که څه هم وړاندي تلل هم جایز دي.که ټول خلک وړاندي ځي دا مکروه ده ، همداسي سپاره تر جنازه وړاندي تلل هم مکروه دي.

مسئله : له جنازي سره پیاده تلل مستحب دي ،که څوک سپاره ځي تر جنازه دي وروسته ځي.

مسئله :څوک که له جنازي سره ځي ، په زوره یې ذکر او دعا کول مکروه دي.(علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۹)

مسئله :څوک چي جنازه په اوږو اخلي هغوی ته په ښي او کیڼ لوري تلل د جنازي دضرورت له امله مباح دي. تر جنازه وړاندي د ډلي ذکر کول شرعي طریقه نه ده .هر څوک دي په زړه کې ذکر یا دعا کوي ، دا جایز دي.

مسئله :دا هم صحیح نه دي چي وروسته بیرته دمړي کور ته راشي، بلکې تر ښخولو وروسته دي هر یو په خپل کار پسي ځي. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۴۳)

مسئله :که مړی ماشوم یا ماشومه وي نو یو کس دي په لاسونو کې واخلي ، که لوي یا بالغ وي نو هغه دي په کټ (یا چارپایي) کیږدي،څلور کسان دي واخلي. په دي اخستلو کې خو یو فقط سنت دی او بل بشپړه سنت. نفس سنت خو دادی چي پرته له ترتیبه یې څلور پښې و نیسي او لس لس قدمه یې یوسي . او کمال سنت دادی چې لومړی د سر لوری، ښي پایه په ښي اوږه کیږدي لس قدمه لاړ شي، بیا وروستني ښي پایه په ښي اوږه کښیږدي لس قدمه واخلي بیا د سر لوري کیڼه پایه په کیڼه اوږه کیږدي لس قدمه لاړ شي بیا وروستنې خوا کیڼه پایه په کیڼه اوږه واخلي او لس قدمه لاړ شي.د جنازې دوړلو په مهال د مړي سر مخته لورته وي ، جنازه لړ په ګړندي تګ یوړله شي خو منډې نه وي.

(امدادالفتاوی ج ۱ ص ۷۲۴ – عالمگیري ج ۱ ص ۲۲۶)

مسئله :د میرمنې جنازه د نامحرم لپاره په اوږو اېښودل مستحب دي،ثواب ده او څلور پایي یې اخستل ، له هري پایې سره لس قدمه تلل غوره دي خو که نه کیده هر ډول چې وي صحیح ده . (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۲ ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۳ په حواله)

مسئله :میره د خپلې میرمنې تر مړینې وروسته هغه کتلای شي او بدن ته یې له جامو پرته لاس وروړل مکروه دي، جنازه یې اخستل او په اوږه اېښودل یې صحیح دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۵ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۳ په حواله)

مسئله :د میرمنې جنازه هرڅوک په اوږو اخستلای شي

خو قبر ته به یې یوازې محرم کسان کښته کوي (که محرم نه و یا پوره نه وو بیا غیرمحرم هم ورسره شریک کیدلای شي) خو په اوږو اخستلو یې ټولو ته اجازه ده.(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۰۸)

مسئله : د نامحرمې میرمنې جنازه ،نامحرم شخص وړل، صحیح او ثواب ده .(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۲)

مسئله :ناپاکه سړي ته جنازه په اوږه اخستل صحیح دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ص ۲۰۷)

(جنازې اخستونکي ته پاکې شرط نه ده خو مناسب هم نه ده چې له جنازې سره ناپاکه ځي. د لمانځه لپاره پاکې ضروري ده. محمد رفعت قاسمي)

مسئله: د اعمالو اغیز د مړي په وزن نه وي. که د چاغ شخص جنازه سپکه او د کمزوري درنه وي، د دي درندوالي او د سپک والي له امله کوم حکم کیدلای نشي، دا امرالله ته مفوض دی چې د هغه په وړاندې کوم ښه او کوم بد دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۷)

مسئله :په پیل کې جنازه په اوږو اېښودل مکروه دي، سنت طریقه داده چې یو سړی د کټ پایه په لاسونو ونیسي بیا یې په اوږو کښیږدي.

مسئله :جنازه د دوو عمودو (ستنو) په ځیر وړل مکروه دي، داسې چې دوه کسه یې ، یو مخته بل وروسته (د غیر مسلمانانو په ځیر) واخلي، خو که مجبوري وه بیا دي د غسې واخلي.

مسئله: شیدې رودونکې یا داچې شیدې نه روي ترڅه ډیرعمرپورې ماشوم مړي داسې اخستل کیږي چې په لاسونو کې یې واخلي او بیا یې نوریو په بل پسې په لاسونو کې اخلي، که یې پر سوارۍ دپاسه هم دغسې واخلي پروا نه لري. خو دلوی سړي مړی په سوارۍ وړل مکروه دی اما که ضرورت وي بیا کراهت نلري. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۵٦، علم الفقه ج ۳ ص ۷۹۹)

دجنازې دلمانځه کولو وصیت

مسئله: که څوک داسې وکړي چې زما دجنازې لمونځ به فلانی شخص کوي ځکه هغه دیانت او تقوی لري، دا وصیت صحیح دی، اعتبار لري او که نه؟

ځواب: څوک معلومول چې زما دجنازې لمونځ به کوي، داسې وصیت باطل دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۰ دشامي ج ۱ ص ٦۵۰ په حواله، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۴)

مسئله: که څوک وصیت وکړي چې زما دجنازې لمونځ دې فلانی شخص وکړي، که هغه سړی دالمونځ ونکړای شي او بل څوک یې وکړي صحیح دی، فرض اداء شول ځکه داسې وصیت کول باطل دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۰ دعالمګیري ج ۱ ص ۱۵۳ په حواله)

مسئله: داسې وصیت کول چې فلانی دې غسل راکړي، فلانی مې دې خښ کړي، فلانی دې دجنازې لمونځ وکړي، فلانی ځای مې دې خښ کړي، داشرعاً اعتبار نلري. دا شیان دمړي په واک کې نه دي دا دوارثانو حق دی څرنګه چې ښه پوهیږي هغسې دې وکړي.

(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۰۳ دشامي ج ۱ ص ۸۲۴ په حواله، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۴)

په جنازه کې دنه ګډون وصیت کول

پوښتنه: ددوو وروڼو ترمنځ جګړه وشوه، مشرورور دریم شخص ته وصیت وکړ چې زما کوچنی وروردې زما په تجهیز او تکفین کې ګډون نکوي، په داسې صـــورت کې کوچنی ورور ګډون کولای شي؟

ځواب: داسې وصیت کول باطل او ناجایز دی. په دې عمل کول نه ښایي. کوچنی ورور دې که څه هم نورخلک ډیروي داسلام دحقوقو له امله ګډون وکړي. په مشکوة کې دباب عیادة المریض په ۱۳۳ مخ کې حدیث شریف دی: دیوه مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي، له هغوی څخه یویې په جنازه کې ګډون کول دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۲٦)

مسئله: دجنازې له لمانځه دې څوک نه منع کیږي، داکفایي فرض دی، له فرض څخه دمسلمان منع کول که څه هم فاسق وي جواز نلري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۲، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۱ په حواله)

مسئله: که څوک په سترو ګناهونو لکه غلا، شراب څښل، زنا او نورو اخته وي، بیاهم له فرضو څخه یې منع کول جواز نلري. نو دجنازې له لمانځه او نورو عبادتونو څخه منع کول ناجایز دي. او که هغه ومري نو دهغه دجنازې لمونځ به هم مسلمانان کوي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۵)

دجنازې دلمانځه دنه کولو وصیت

پوښتنه: یو څوک داسې وایي: زما په جنازه دې یو هم لمونځ نه کوي، کنه په آخرت کې یې لمن نیسم. ځینو سوګند

وکړ چي موږ به يې دجنازي لمونځ ونکړو ، دهغه په مړینه
ډیرو له لمانځه څخه له دي امله انکار وکړ چې دا الفاظ دکفر
دي. خو ما دمړه شوي داخبري دناپوهي وبللي او دجنازي
لمونځ مي وکړ او چا چي قسم کړی وو هغو ته مي وویل دقسم
کفاره ورکړئ، ایا دا صحیح دی او که څرنګه ؟

ځواب : دهغه په جنازه لمونځ کیږي. دا خبره يې کفر نه ده.
نو چا چي يې دجنازي لمونځ کړی هغه صحیح دی. هغو چې
قسم اخستي او دجنازي لمونځ يې کړی، دقسم کفاره
ورباندي واجب ده. تا صحیح ویلي دي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۱)

څوک چي وصیت وکړي چي ما وسوزئ ، دهغه دجنازي لمونځ؟

پوښتنه : یو هسي تش په نوم مسلمان مړ شو ، عقیده يې
سمه نه وه ، کله به يې داسلامي قانون په خلاف بدشیان ویل،
دمړیني په مهال يې وصیت وکړ چې ما مه خښنوئ بلکې جسد
مي وسوزوئ ،ایا دجنازي لمونځ يې وشي کنه ؟

ځواب : دمړي خښول فرض کفایي دي ، په دي باندي
اجماع ده، او دمسلمانانو شعار دی. نو هغه چي وصیت
وکړي چي ما دي نه خښوي بلکي ومي دي سوزوي، له دي
څخه دا معلومیږي چې دهغه په زړه کي داسلام له طریقي څخه
کرکه ده ، دغیر مسلمانانو دطریقي پکي درنښت دی او په
دي سره داسلام دشعار سپکاوی دی، نو هغه مسلمان بلل،
دسنت په طریقه غسل او کفن ورکول او دجنازي لمونځ
ورباندي کول صحیح نه دي. که دهغه په زړه کي داسلام

عظمت وای او رسول الله صلی الله علیه وسلم يې ریښتنی نبي
بللای ،داسي جرئت يې کولای نشوای.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۱۱،
شرح عقاید ص ۱۲۰ په حواله ،بیضاوی تفسیر ص ۲۳ دبقرې سورة)

دمسلمانانو او غیر مسلمانانو دجنازي لمونځ

پوښتنه :څو تنه مسلمانان او هندوان په اور کي وسوزیدل
او مړه شول ، له اندامونو څخه يې دا نه معلومیدله چې
دا مسلمان دی که غیر مسلمان ؤ، دجنازي دلمانځه يې څه
صورت دی؟

ځواب :دواړه دي یو ځای سره کښیږدي دمسلمانانو په
نیت يې دجنازي لمونځ وکړي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۷ ردالمتحار
ج ۱ ص ۸۰۵ په حواله ،احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۳)

مسئله : سوزیدلو ته دي غسل ورکړل شي که دغسل
ورکولو وړ وو، دواړه دي په کفن کړل شي .دجنازي لمونځ دي
دمسلمانانو په نیت وزباندي وشي ،هغه چي مسلمان دي
دجنازي لمونځ به يې وشي او دکافر نه کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۴ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۵ په حواله ، احسن
الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۶ ،امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۲۷)

مسئله :که کوم سړی چیري ومونډل شي، له کومي قریني
او نښي څخه نه معلومیده چې دا مسلمان دی او که غیر
مسلمان.که دا پیښه په دارالاسلام کي شوي وي نو غسل
ورکول کیږي او دجنازي لمونځ يې هم کیږي.دتفصیل لپاره
وګورئ. (شامي ج ۱ ص ۸۰۵ – عالمګیري ج ۱ ص ۱۵۹، علم الفقه ج ۲ ص ۱۸۸)

که په سوزیدلو سکاره شي، دهغه دجنازې لمونځ

مسئله: که څوک وسوزي او بالکل سکاره شي، یا یې دبدن ډیره برخه وسوزي او ایره شي، هغه ته غسل او کفن ورکول او لمونځ ورباندې کول څه شی واجب نه دي. په یوه جامه کې دې وپیچل شي او خښ دې شي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۵)

مسئله: که دبدن ډیره برخه له سوزیدلو خوندي وي، خو سر یې نه وي یا یې له سره نیم بدن ساتلی وي یا یې ټول بدن سوزیدلی وي خو معمولي وي، غوښه، پوستکي او هډوکي سالم وي نو دهغه سم غسل، کفن او لمونځ کیږي او بیا خښیږي. (احکام میت ص ۱۱۷، شامي ج ۱ ص ۸۰۹ په حواله، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۳)

دبې لمانځه سړي دجنازې لمونځ ولې کیږي؟

پوښتنه: دنیک سړي، بد سړي او بې لمانځه سړي دجنازې لمونځ کیږي، موږ دا منو ځکه په نه کولو یې ګنهکاره کیږو خو په دې صورت کې دلمونځ کوونکي او بې لمانځه سړي څه توپیر پاته کیږي؟

هغه خلک چې لمونځونه نه کوي، وایې: دلمونځ کوونکي او بې لمانځه سړي یوه درجه ده، موږ ستاسي نصحیت نه منو، اوس موږ څه وکړو؟

ځواب: په حدیث شریف کې راغلي چې:

"صلوا علی کل برو فاجرا"

(دهر نیک او بد دجنازې لمونځ وکړئ.)

چې په حدیث شریف کې راغلي او فقهاوو هم لیکلي دي

نو دتردد یې کومه وجه نشته. همدا وجه ده، فاسق او فاجر چې مسلمان وي، د الله تعالی له رحمت څخه دي نه ناهیلي کیږي او ترمړینې وروسته دې دمغفرت دعا ورته کیږي. دجنازې لمونځ دمړي لپاره دعا ده او په حدیث شریف کې هم راغلي چې ترمړینې وروسته دچا بد مه وایاست، ځکه څه چې یې په دنیا کې کړي دي دهغوی جزاء یا سزاء هلته ورته رسیږي. ژوندو خلکو ته دا مناسب ده چې مسلمان مړي ته دعا وکړي، که الله تعالی هغه وبښي نو دچا پکې څه زیان دی؟

په قرآن کریم کې دي: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا} (الزمر)

"ای زما بندګانو! چې تاسي په خپلو نفسونو زیاتوالی کړی یعني ظلم او ګناه مو کړي ده، د الله تعالی له رحمت څخه مه ناهیلي کیږئ، بیشکه الله تعالی ټولې ګناوې بښي."

نو په دې کې فکر مکوئ هغه چې حکم دي هغه کول په کار دي، بې لمانځه سړي ته به لمونځ کوونکي نصیحت کوي او په ژوند کې به یې همداسې ډاروي خو چې ومړي نو دهغه خیر غوښتل مناسب دي. الله تعالی ته یې په حق کې دعا وشي، دجنازې لمونځ یې وشي تر څو وي چې الله تعالی دهغه او زموږ له ګناهونو راتیر شي. (خدای جل جلاله دي وکړي.)

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۳)

مسئله: دلمانځه پریښودونکی فاسق دی، واجب التعزیر دی، کافر نه دی. نو ځکه دهغه دجنازې لمونځ کیږي، فاسق

دې توبه وکړي، لمونځ دې پيل کړي. د جنازې دلمانځه حکم
وويل شو چې ودې شي .خو که زجراً خواص يې په جنازه کې
ګډ نشي او نوريې وکړي، صحيح دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۷)

دبې لمانځه سړي جنازه که دعبرة لپاره ونشي

مسئله : هغه کسان چې لمونځ نه کوي، دهغوی د جنازې د
لمانځه ممانعت تر سترګو شوي نه دی،له حديث او دفقهاوو
له ويناوو هم دا معلوميږي چې د جنازې لمونځ دې وشي.

مسئله : دعبرت لپاره که دبې لمانځه سړي د جنازې لمونځ
ونشي او پرته له لمانځه خښ شي دا کار روا او ښه نه دی.
حرام دی او دفرضو ترک دی. دمسلمان لمونځ نه کوونکی
دجنازې لمونځ دلمونځ کوونکو دلمانځه په څير فرض دی.
فقهاوو دهغو کسانو د جنازې لمونځ مستثنی کړی دی لکه
باغيان او نور ، هغوی په فساقو او بې لمانځه کسانو کې نه
شميرل کيږي .نو دعبرت لپاره شرعي فرض ترک کول صحيح
نه دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۱۳۴ ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۴ په حواله ، فقه اکبر
ص ۱۹۱ امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۱)

مسئله :دعبرت لپاره داسې کيدلای شي چې دبې لمانځه
او فساقو د جنازې لمونځ خواص او لاربښود خلک ونکړي،
عوامو ته وواييي چې تاسو يې د جنازې لمونځ وکړئ او خښ
يې کړئ ترڅو بې لمانځه خلک وپوهيږي او ورته عبرت شي.
(مشکوة ج ۱ ص ۲۵۲ په حواله ،فتاوی دارالعلوم ج۵ ص ۴۶۷ -کفايت المفتي ج ۴ ص ۷۱)

****

بې لمانځه مړي تر لمانځه وړاندې کش کول

مسئله : دا خبره مشهوره ده ، هغه څوک چې ټول عمريې
لمونځ کړي نه وي ، دهغه د جنازې لمونځ نه کيږي، څلوېښت
قدمه لرې دې کش کړي، که يې لمونځ کيږي. دا قول په اصل
کې غلط دی. د جنازې لمونځ دهرنيک او بد کيږي، لرې
ايښودل يې ښه نه دي. دهغه لپاره دمغفرت دعا وشي هغه
ذليل نشي، لږ تر لږه کلمه ويونکي مسلمان خو دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۳)

مسئله :په رسۍ تړل او دبې لمانځه کش کول د شريعت
حکم نه دی ، داسې ورسره وړ نه دي، بلکې بايد لمونځ
ورباندې وشي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۵)

مسئله : دچاچې لمونځ کول کله هم ليدل شوي نه وي دهغه
دجنازې لمونځ کول جايز بلکې ضرور دي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۳ دمشکوة شريف ج ۱ ص ۱۰۰ په حواله)

مسئله :لمونځ نه کول کبيره ګناه ده ، په قرآن کريم او
حديث شريف کې دبې لمانځه په هکله سخت الفاظ راغلي
دي ، خو که څوک له لمانځه څخه منکر نشي. نو دهغه دجسد
بې احترامي کول جواز نلري ،دهغه دجنازې لمونځ هم کيږي.
که يې لمونځ فرض نه باله ، هغه مرتد دی دهغه دجنازې
لمونځ کول صحيح نه دي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۳۰- فتاوی محموديه ج ۲ ص ۲۴۴)

دکبيره ګناه کوونکی او مرتد دجنازې لمونځ

مسئله :دکبيره ګناه دمرتکب دجنازې لمونځ کيږي خو
دکافر نه کيږي. په چاچې دکفر حکم شوي نه وي ، دحکم

دروایت دنیشت والي له امله یې د جنازې لمونځ کیږي. که
دچا له لوري دکفر کلمه صادره شوې وي او بیا یې توبه کړې
اوتجدید اسلام یې کړي وي که څه هم دچا په لاس نه وي، هغه
مسلمان دی د هغه د جنازې لمونځ کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۹ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۴ په حواله)

د هغه د جنازې لمونځ چې دوه خویندې په نکاح کې ولري

مسئله: زید له هندې سره نکاح کړې ده، د هغې په
موجودیت کې یې د هغې له خور سره هم نکاح وکړه، دا نکاح
نه کیږي. زید باید د هندې حقیقي خور بیله کړي او توبه
وکړي. کنه سخت ګنه کار او فاسق دی. پر مسلمانانو باندې
له هغه سره متارکه او مقاطعه لازمه ده، له هغه سره دې خوړل
څښل پریږدي، وروګلوې دې ورسره غوڅه کړي؛ خو چې
توبه وکړي او هغه پریږدي بیا دې ورسره ګډون کوي. که زید
په همداسې حالت کې تر توبه وروسته او د هغې تر پریښودلو
وروسته ومري نو یې د جنازې لمونځ کیږي، که له توبې پرته
ومري، عام مسلمانان دې د جنازې لمونځ وکړي او خښ دې
کړي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۰ د سورة النساء په حواله)

د عبادت منع کوونکي د جنازې لمونځ

پوښتنه: زید مدعی دی او د کامل صوفي او عارف دعوه
یې کړې ده. خپل مریدان له لمانځه، روژې، زکوة، حج،
تلاوت او نور څه منع کوي. د هغه د جنازې لمونځ وشي، کنه؟
ځواب: د زید دعوه د صریح او قطعي نصوصو مخالفه ده،

د هغه د خبرو څخه د شریعت انکار څرګند دی، له لمانځه،
روژې، زکوة او نورو څخه انکار په خپله کفر دی. نو زید چې
کفریه کلمې وایې او کفري عقاید لري، هغه عارف او صوفي
نه دی بلکې ملحد او مضل دی، له حدیث شریف سره سم هغه
مرشد بلل او ورسره بیعت کول حرام دي. که همدا شخص په
همدې عقیده ومري نو د هغه د جنازې لمونځ نه کیږي او
د مسلمانانو په هدیره کې دې نه خښیږي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص
۲۹۷ د مشکوة کتاب العلم ص ۳۳ په حواله، شرح فقه اکبر ص ۲۰۹)

د ذلیل کسب د خاوندانو د جنازې لمونځ کول

پوښتنه: څوک چې د دایي په توګه کار کوي، چیرې چې
کوم څاروي ومري، د هغه پوست باسي، پاکوي یې او بیا یې
پلوري، دا خلک ډیر ذلیل ګڼل کیږي، د داسې خلکو د جنازې
لمونځ کیږي، که نه کیږي، څوک چې یې د جنازې لمونځ
کوي، خلک په هغوی بد وایې، د دې څه حکم دی؟
ځواب: هغه خلک چې د وی مسلمانان دي هغوی له جمعې
او جماعت او مسجد ته له راتلو منع نسي، که یې څوک منع
کوي هغه د دې وعید (ومن اظلم ممن منع مساجدالله.) (البقره)
مصداق ګرځي. د هغوی په مړي د جنازې لمونځ کول لازم دي.
دا مسلمانان، نه باغیان دي او نه لارې وهونکي دي. نو
د هغوی د جنازې لمونځ د فقهاوو په قول فرض دی، کوم عالم
چې دا فرض اداء کړي هغه د ثواب مستحق دی او د خدای جل
جلاله په نزد اجر لري، دا کسان بد بلل او ورته سپکنځل کول

ګناه ده. څوک چې طعنه ورکوي هغوی فاسقان دي،توبه دي وکړي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۲ ،فقه اکبر ص ٦١ په حواله ، مشکوة ج ١ ص ٤١١)

مسئله : د مسلمان بنګي (جاروکش – خاکروب) د جنازې لمونځ هم کیږي او په اسلامي طریقه سره کفن ورکول کیږي او خښیږي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۷)

دبازارې میرمنې (رنډۍ) دجنازې لمونځ

مسئله : دمسلماني بازارې میرمنې د جنازې لمونځ کول شرعاً ضرور دي. ځکه په حدیث شریف کې راځي چې (دهرنیک او بد دجنازې لمونځ کوئ.) کومي پیسې چې دمسجد امام ته په لاس ورځي او هغه دحرام مدرک له امله وي، هغه په هیڅ ډول نه روا کیږي. دامام دا خبره چې وایي : که کومي پیسې چې په حرام مدرک ترلاسه کړئ هغه بنګې یا نورو ته ورکړئ، غلطه ده. که په خوړو کې ولګیږي، دحجام یا بنګې مزدوري ترې ورکړي یا په بل څه کې مصرف شي، دا ټول برابر او ناروا دي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۲ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۱۸۰ په حواله)

دشیعه دجنازې لمونځ

مسئله : داهل تشیع هغه ډله چې شیخینو ته بد نه وایې یعنې ښکنځل ورته نه کوي ، اصحاب کرام رضی الله عنهم بد نه ګڼي، دعایشي رضی الله عنها په هکله په افک قایل نه دي (تهمت ورباندې نه وایې) دکفر کومه عقیده ونلري ، دهغه دجنازې لمونځ کیږي. که له اهل سنت والجماعت څخه یې هم [illegible] ک دجنازې لمونځ وکړي نو کومه خبره نشته ، کوم تعـزیر

ورباندې نشته ، ناسته ولاړه ورسره منع نه ده .

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳٦۳ –امدادالفتاوی ج ۱ ص ۷۱۲)

مسئله : کوم شیعه چې غالي وي ، هغوی چې تکفیر شوي دي، دهغوی دجنازې لمونځ ونکړل شي څوک چې تبرا وایې دهغوی دجنازې لمونځ نه کیږي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳٤۳ –فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۸۹)

مسئله :په روافضو او اهل تشیع کې مختلف العقیده فرقې دي ، ځینې هغه دي چې علي رضی الله عنه دلومړي خلیفه په توګه مستحق ګڼي، خو دنورو صحابه وو تبراء نکوي، دا فاسق او مبتدع دي ، له اسلام څخه وتلی نه دي. دهغوی دجنازې لمونځ کیدلای او دمسلمانانو په هدیره کې خښیدلای شي. ځینې هغه دي چې علي رضی الله عنه معبود ګڼي (معاذ الله) ،ځینې هغه دي چې عقیده یې ده چې جبرائیل علیه السلام دوحي په راوړلو کې غلطي وکړه ، علي رضی الله عنه ته دراوړلو په ځای یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړه ، ګواکې ددوي په نظر د رسول کیدلو حقدار علي رضی الله عنه و، ځینې بیا هغه دي چې په عایشې رضی الله عنها باندې تورپوري کوي، ځینې بیا هغه دي چې صحابه کرام مسلمان نه ګڼي هغوی مرتد او کافر بوڼي . ددې فرقې دجنازې لمونځ صحیح نه دی او دمسلمانانو په هدیره کې خښول یې هم جایز نه دي.ددې هرې فرقې پیژندل مشکل دي هر څوک چې روافض او شیعه بلل کیږي، هغوی ته دې

دمسلمانانو په هدیره کې دخښیدلو اجازه نه ورکوله کیږي،
په دې کې احتیاط دی.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۹۲ دعالمګیري ج ۲ ص ۲۶۴
په حواله، شامي ج ۳ ص ۳۰۵، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۰)

دبوهره دفرقې دجنازې لمونځ

مسئله: دشیعه یا بوهره دفرقې دخلکو دجنازې لمونځ
کول او یا هغوی ته دمغفرت دعا کول صحیح نه ده .له هغوی
سره تر هدیرې پورې تلل او نه تلل یا یې تعزیت کول یا نه کول
له خپلو مصالحو او ضرورت سره سم دې عمل وشي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۶۶ عالمګیري ج ۱ ص ۱۵۷)

دقادیانو دجنازې لمونځ کول

مسئله: څوک چې خپل کفري عقاید داسلام په بڼه
وړاندې کوي. داسلام دصحیح او قطعي عقایدو خلاف په
قرآن او سنت کې تاویل وکړي. داسې چاته زندیق ویل
کیږي. زندیق دمرتد حکم لري، په یوه اعتبار خو زندیق تر
مرتد بد دی، ځکه که مرتد توبه وکړي او بیرته په اسلام کې
داخل شي په اتفاق سره یې توبه دقبلیدو وړ ده. خو دزندیق
دتوبې دقبول او نه قبول په هکله اختلاف دی.
دقادیانو زندیقیت څرګند دی. ځکه دهغوی عقاید د
اسلامي عقایدو بیخي خلاف دي. هغوی په قرآن او سنت کې
غلط تاویل کوي، جاهلانو دا نظر پیدا کړي چې دوی خو
ریښتوني مسلمانان دي، له هغوی پرته نور امت کافر او بې
ایمانه دي. له همدې امله قادیانان غیر مسلم او زندیقان دي،

په هغوی دمرتد حکم جاري کیږي، دغیر مسلم دجنازې
لمونځ صحیح نه دی.
همداسې دمسلمانانو په هدیره کې دغیر مسلمانانو
ښخول هم جواز نلري. دهغوی په ښخولو کې ګډون کول،
هغوی ته دعا کول حرام دي. مسلمانان دې له هغوی سره خپلې
اړیکې غوڅې کړي. (آپ کې مسائل ج ۲ ص ۱۳۲ – فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۱)

دغیر مقلد دجنازې په لمانځه کې ګډون کول

مسئله: دیوه حنفي عالم دا فعل دمواخذې وړ نه دی چې
په یوه غیر مقلد پسې دیوه غیر مقلد په جنازه کې لمونځ
وکړي. ځکه نبوي ارشاد دی: "په هر نیک او بد پسې لمونځ
کوئ." او (دهر نیک او بد دجنازې لمونځ کوئ.) نو غیر
مقلد کافر نه دی چې دومره ډیر تشدد ورسره وشي. خو
دا ضروري ده چې غیر مقلد دعقایدو دفساد له امله یې په
لمانځه کې مخته نکړي، که پیښه شوه چې غیر مقلد امام ؤ او
چا په تیره دجنازې په لمانځه کې ورپسې لمونځ وکړ نو په
حنفي مسلک کې په دې شخص باندې طعن او تور پورې کول
جایز نه دی، دهغه تفسیق او تضلیل ناروا دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۰، شرح فقه اکبر ص ۹۱ په حواله)

په اسقاط (ضایع شوي) دجنازې لمونځ

مسئله: که اسقاط دحمل وشي، دهغه لاس، پښې، پزه او
خوله یا نور څه نه معلومیږي، هغه ته غسل او کفن نه ورکول
کیږي، دجنازې لمونځ یې نه کیږي او نه هم سم ښخیږي. په

یوه جامه کې دې ونغاړي ځمکه دې وکندي پکې خښ دې
کړي ، نوم دې هم نه ورباندې ږدي .(شامي ج ۱ ص ۸۰۹)

مسئله : که حمل ضایع شي او دبدن څه غړي یې جوړ شوي
وي خو جسم یې پوره نه وي ،اوبه دې ورباندې تیرې کړي، په
یوه جامه کې دې وپیچي او خښ دې کړي ، ځمکه دې
ورباندې همواره کړي .په غسل ،کفن او دفن کې دې مسنونه
طریقه نه مراعاتوي. (دجنازې لمونځ دې ورباندې نه کوي او
دغسې دې خښ کړي.)

مسئله : که دماشوم ټول جسم جوړ وي او حمل ضایع شو
په غسل ، کفن او دفن کې دې مسنونه طریقه مراعات شي،
نوم دې هم ورباندې کښیږدي خو دجنازې لمونځ دې نه کوي.
که تر پیدا کیدلو وروسته ومري بیا دې دجنازې لمونځ هم
وکړي او دسنت مطابق دې په هدیره کې خښ کړای شي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰٦ فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۸۳۱)

په مړه ماشوم دجنازې لمونځ

مسئله : که حمل ضایع شي یا دولادت په مهال ومري او
وزیږي ، دزیږیدلو په مهال یې دژوند اثار ښکاره نشي، که څه
هم اندامونه یې ټول ښکاره وي، نو داسې ماشوم ته دې غسل
ورکړل شي ، نوم دې ورباندې کښیښودل شي ، خو نه دې
مسنون کفن ورکول کیږي او نه دې دجنازې لمونځ ورکوي
بلکې په یوه جامه کې دې ونغاړي خښ دې کړي .
(شامي ج ۱ ص ۳۰ فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۳۸۵ ، احکام میت ص ۱۱۴)

دزیږیدلو په مهال ژوندي وي بیا ومري

مسئله : دزیږیدلو په مهال یې د سر له راوتلو سره ژوندی
وي او بیا ومري ، دهغه حکم دمړه ماشوم په څیر دی .یعني
غسل دې ورکړي ، نوم دې ورباندې کښیږدي خو مسنون
کفن دې ورته نه ورکوي، په یوه جامه کې دې ونغاړي او له
لمانځه پرته دې خښ کړي. (شامي ج ۱ ص ۳۰ ، احکام میت ۱۱۴)

مسئله : دچاچي مور او پلار مسلمان وي او دې تر بلوغ
وړاندې مجذوب یا لیونی شي، هغه مسلمان بلل کیږي، د
جنازې لمونځ یې واجب دی ، په ختنه (سنت) کیدلو یا نه
کیدلو یې د کفر حکم نه کیږي.(امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۴)

که دبدن دډیرې برخې دراوتلو په مهال ژوندی وُ

مسئله : دزیږیدلو په مهال یې دبدن د ډیرې برخې تر
راوتلو ژوندی و بیا ومړ، دژوندي ماشوم حکم لري، غسل
او کفن دې ورکړل شي ، ښه داده که ماشوم وُ ،دسړي او که
ماشومه وه دمیرمنې په څیر کفن ورکړل شي. خو که ماشوم
وي یوه جامه او که ماشومه وي دوې جامې کفن یې هم
صحیح دی. نوم دې ورباندې کښیښودل شي ، دجنازې
لمونځ دې وکړای شي او سم دې خښ کړل شي.

مسئله : که د ډیرې برخې تر راوتلو وړاندې مړ وُ ،دمړه
حکم لري .لکه مړ چې پیدا شوي وي. د ډیرې برخې دراوتلو
معنی داده چې که دماشوم سر را وتلی و ترسینې راوتلی یې

ډیره برخه بلله کیږي او که سرچپه راووت نو ترنو (ناف) پورې یې زیاته برخه ګڼله کیږي. (شامي ج ۱ ص ۸۳۰، احکام میت ص ۱۱۵)

دهغه دجنازې لمونځ چې په غوږ کې یې آذان شوی نه وي

مسئله: دکوم ماشوم چې دزیږیدلو په مهال دژوند کومه نښه ولیدله شي، دجنازې لمونځ یې ضروري دی، که څه هم تردوو، درېو دقیقو وروسته مړ شوی وي، که یې له دې امله دجنازې لمونځ نه کوي چې په غوږ کې د عدم موقع له امله اذان شوی نه دی، دا ناپوهي ده. دجنازې لمونځ یې ضرور کیږي، که دناخبرۍ له امله تري پاته شوی وي نو توبه او استغفار دې ووایي، دا یې کفاره ده. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۵۶)

مسئله: کوم ماشوم چې تر زیږیدلو وروسته ومري، که یې څورا کمه ساه اخستې وي هم غسل ورکول کیږي، دجنازې لمونځ یې کیږي، که څو شیبې هم ژوندی وي.

که کوم ماشوم مړ زیږیدلی وي، دهغه دجنازې لمونځ نشته. هغه ته دې غسل ورکړي په جامه کې دې ونغاړي او پرته دجنازې له لمانځه دې خښ کړي، خو نوم دې ورباندې کښیږدي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۵۷)

دجوړه (غبرګولې) ماشومانو دجنازې لمونځ

پوښتنه: دیوې میرمنې دوه ماشومان غبرګوني وشول او دواړه یو ځای مړه شول ایا ددواړو دجنازې لمونځ به یو ځای کیږي او که بیل، بیل؟

ځواب: په پوښتل شوي صورت کې یې دجنازې لمونځ بیل، بیل کول غوره دي، یو ځای هم کیدلای شي. خو لمونځ به په دواړو کوي.
(فتاوی رحیمیه ج ۶ ص ۲۷۱، درمختار ج ۱ ص ۸۲۱ په حواله)

دبدکارې ښځې دجنازې لمونځ

پوښتنه: یوه ښځه یوازې په نوم مسلمانه، دیوه هندو میرمن شوه، څو کاله ورسره وه، په شراب او کباب، کفر او شرک کې له هندوانو سره اخته وه، په همدغسې وخت کې مړه شوه، دهغې دجنازې لمونځ کیږي او که نه؟

ځواب: زناکاري دمسلمان او کافر په هکله کبیره ګناه ده، شراب څښل قطعي حرام دي، ددې مرتکبین فاسقان دي کافران نه دي. که دبتانو یا غیر الله عبادت ورڅخه ثابت وي نو دجنازې لمونځ یې نه کیږي، که بت لمانځنه له دې مسلمانې میرمنې څخه ثابت نه وي، هسې قیاس او اټکل وي نو هم دجنازې لمونځ یې کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۸، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۴ په حواله)

مسئله: په حدیث شریف کې راغلي چې دهرنیک او بد دجنازې لمونځ کوئ، نو که کومه میرمن نوې مسلمانه شوې وي، فاسقه او فاجره وي، که یې څو تنو دجنازې لمونځ وکړ خو ښه، کنه ټول ګنهګاره دي، توبه دې وکړي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۹)

دمخنث (خنثی) دجنازې لمونځ

مسئله : دهر مسلمان که هغه سړي وي او که ميرمن دجنازې لمونځ يې ضروري دی، که څه هم هغه فاسق او بدکاره وي.نو مخنث چې دمسلمانانو له ټولې څخه دی دجنازې لمونځ يې کيږي ، که څه هم دبدکارۍ له امله هغه فاسق وي، دهغه دې لمونځ وشي ،دمسلمانانو په هديره کې دې خښ کړای شي ،له دې پرته يې په مجلس کې کيناستل ، دعوت او خواړه يې بنه نه دي ؛يوازې تجهيز او تکفين يې اسلامي حق دی.هغه دې وشي نور ورڅخه بيلتون ضرور دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۸ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۴ په حواله، فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۹۴ ، فتاوی محموديه ج ۲ ص ۲۹۴ ،طحطاوي ص ۴۷۷ په حواله)

مسئله :که کوم ماشوم ژوندی وزيږي ، دبولو مخکنی او ورستنی لارې يې بالکل بندې وي، تر مړينې وروسته دې دماشومې احکام وربانديې جاري شي. له هغو مخصوصو احکامو پرته چې په اشباه ص ۲۴۴ کتاب کې ياد شوي دي. (فتاوی محموديه ج ۲ ص ۳۸۲)

مسئله :کوم ماشوم چې پيژند ګلوي يې نه کيږي چې ماشوم دی او که ماشومه ،تر مړينې وروسته يې اختيار چې دماشوم دعا ورته کيږي که دماشومې .(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۲)

مسئله :دمخنث مړي دجنازې لمونځ فرض دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۰)

مسئله : دهيجړې (بدکاره مخنث) دجنازې لمونځ کيږي

خو عالم او لاربنود خلک دې نه کوي ، عادي خلک دې وکړي او خښ دې کړي.

دزانې دجنازې لمونځ

مسئله : مسلمان که دزنا په مهال ومري ، هغه فاسق دی کافر نه دی ،ځکه يې دجنازې لمونځ کيږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۰۹ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۴ په حواله)

مسئله :امام او علماء دې دزانې او زانيې دجنازې لمونځ نه کوي، عام مسلمانان دې دجنازې لمونځ وکړي، خښ دې کړي. ځکه پرته له لمانځه دمسلمان خښول منع دي، که يې څوک په جنازه کې ګډون ونکړي ، نه ګناه کاره کيږي. (کفايت المفتي ج ۴ ص ۸۴)

دولد الزنا دجنازې لمونځ

مسئله : ولدالزنا چې مور او پلار يا يې يو مسلمان وي، هغه مسلمان ماشوم دی. دهغه دجنازې لمونځ کيږي. ښکاره دی چې په دې سره دهغه هيڅ ګناه نشته. ګناه که يې دمور او پلار وه ، دهغې مواخذه په ده نشته. هغه بې ګناه معصوم دی. دا چې ماشوم دی ، دا ولدالزنا کيدل يې اختياري کار نه دی .نو دتعزير، تنبيه او زجر نه محل دی او نه هم مستحق . تنبيه او زجر که دزانې او زانيې لپاره وي نو کومه خبره نشته، هغه هم داسې چې دزانې او زانيې دجنازې لمونځ دې ټول خلک او ښه خلک نه کوي ، بلکې يو يا دوه کسه دې وکړي

او خښ دي کړي.(کفایت المفتي ج ۴ ص ۸۰)

مسئله: که کوم مسلمان شخص، کومه مسلمانه میرمن له نکاح پرته وتښتوي او دهغې میرمنې ماشوم وزیږي او ومري، د هغه د جنازې لمونځ کیږي، ځکه هغه ماشوم خو ملامت نه دی، هغه مسلمان ماشوم دی.

(کفایت المفتي ج ۴ ص ۹۷ – فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۲۹)

مسئله: که له بې نکاح غیر مسلمې ښځې څخه د چا ماشوم پیدا شو او مړ شو، دهغه د جنازې لمونځ دي وشي او د مسلمانانو په هدیره کې دي خښ کړای شي.

(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۷۲ محمودیه ج ۲ ص ۳۹۶)

مسئله: که له غیر مسلم څخه کومې مسلمانې میرمنې ماشوم وزیږاوه د جنازې لمونځ یې کیږي .

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۲ – ردالمحتار ج ۱ ص ۱۸۰)

مسئله: نابالغ ماشوم د کفر او اسلام په لحاظ د خپلو والدینو تابع دی، که په هغوی کې هریو مسلمان وُ د هغه تابع بلل کیږي او د جنازې لمونځ یې کیږي، که د غیر مسلم زوی پوهیده یعنې اوه کلن وُ، دهغه اسلام منل صحیح دي، که د اوو کلونوؤ او کلمه یې وویله او مړ شو هغه مسلمان بلل کیږي تکفین او تجهیز دي د مسلمان په څیر کیږي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۸)

که جسد خراب شوی وُ

مسئله: که د چا جسد په اوبو کې د ډوبیدلو له امله یا د تجهیز او تکفین د ځنډ له امله یا له بلې وجه دومره خراب شوی وي چې د لاس وروړلو نه وي، یعني د غسل لپاره د لاس په وروړلو د هغه د شړیدلو اندیښنه وي. په دې صورت کې یوازې اوبه وربانډي بهول کفایت کوي، ځکه په غسل کې مښل او نور څه ضروري نه دي. بیا دي سم کفن ورکړل شي، د جنازې تر لمانځه وروسته دي خښ شي، که تر لمانځه وړاندې شړیدلی وُ له لمانځه پرته دي خښ شي.(احکام میت ص ۱۱۶)

مسئله: که د کوم جسد بدبوي ولاړیده خو شړیدلی نه وُ د جنازې لمونځ یې کیږي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۵)

مسئله: که کوم جسد خراب شوی او شړیدلی و، د جنازې لمونځ یې ساقط دی، د جنازې لمونځ دي نه کوي.

مسئله: که د کوم جسد غوښه او یا نور څه بیل شوي وو یوازې د هډوکو کالبد یې راووت، دې کالبد ته د غسل ورکولو اړتیا نشته، د جنازې لمونځ دي نه وربانډي کوي، هسې دي په پاکه جامه کې ونغښتل شي او خښ دي کړای شي.(امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۸)

مسئله: که څوک په اور یا برق وسوزید او مړ شول، له سنت سره سم دي غسل، کفن ورکړي، د جنازې لمونځ دي وربانډي وشي، خو که یې جسد خراب شوی یا شړیدلی و نو

حکم یې پاس بیان شو. (امدادالاحکام ج ۱ ص ۷۳۸)

هغه چې خپله مسلماني نه څرګندوي دهغه دجنازې لمونځ؟

پوښتنه: یو شخص پټ مسلمان شو، لمونځ او نور شرعي احکام په پټه کوي خو په ښکاره هغه غیر مسلم دی او د هندوانو په خپل کور کې هستوګنه لري، خو دواده یا دشتمنۍ دویش لپاره په ښکاره مسلمان نه دی. ایا هغه مسلمان بلل کیږي او جنازه به یې کیږي؟

ځواب: کله چې دتوحید کلمه ووایي او داسلام احکام ومني، مسلمان کیږي. دخدای جل جلاله په حضور کې هغه مسلمان دی، هغه مسلمان ګڼل کیږي دجنازې لمونځ یې کیږي. (فقه اکبر ص ۱۰۲، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۱)

تر خاورو خزلو لاندې دجنازې لمونځ

پوښتنه: که څوک تر خاورو خزلو لاندې ومري له هغه سره، سره راونه ایستل شي، دهغه دجنازې لمونځ به څرنګه کیږي؟ یو شخص وایي چې دهغې دخاورو دډېرې دپاسه دې ورباندې دجنازې لمونځ وشي.

ځواب: په داسې چا باندې دلمونځ کولو په هکله اختلاف دی، داچې غسل ورکړل شوی نه دی، نو اتکل یې نه کول دي او استحساناً یې دجواز وینا هم شوې ده، خو چې دجسد دنه خرابیدلو اتکل یې غالب وي، که یکې شک وي یا په اتفاق ورباندې لمونځ کول جواز نلري. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۱، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۷ په حواله)

که څوک تر ودانۍ لاندې شو یا راولوېده دهغه دجنازې لمونځ

مسئله: که څوک تر ماڼۍ یا دیوال لاندې مړ شو (جسد یې هم ومونډل شو) یا څوک له پاسه راولوید یا دالوتکې په رالوېدو کې ومړ، دبدن یې ډېره برخه خوندي وه، دهغه سم غسل، کفن کیږي او دجنازې لمونځ هم ورباندې اداء کیږي. (احکام میت ص ۱۱۷)

دپوروړي دجنازې لمونځ

پوښتنه: په حدیث شریف کې دي چې جنازه به راوړل شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم به پوښتنه کوله چې مقروض خو نه دی؟ که به کوم صحابي دهغه دپور داداء کولو ذمه ووهله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې دجنازې لمونځ کاوه، ایا زه هم دسنت په متابعت داپوښتنه کوم؟ زه امام یم.

ځواب: درسول الله صلی الله علیه وسلم په ویلو کې چې کوم حکمت ؤ هغه ستاسو په ویلو کې نشته، نو ځکه ستاسو داسې کړه دسنت متابعت کیدلای نشي. (امدادالفتاوی ج ۱ ص ۷۴۹ ترمذي شریف ج ۱ ص ۲۰۵)

مسئله: تر هغه چې وارثان یې پور اداء کولای شي، که په قبر کې عذاب و هغه دپور تر اداء کولو وروسته انشاء الله لرې کیږي. تر ممکن حده دې دمړي دپور په اداء کولو کې بیړه کیږي. ځکه په حدیثونو کې دپور په اړه سخت وعید راغلی دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۸ دمشکوة ج ۱ ص ۳۳۷ په حواله)

مسئله: که څوک مړ شي او ورباندې پور وي. هغه دومره شتمني نه پرېږدي چې هغه پور ورباندې ادا شي او نه یې پاته

کسان دپور دپرې کولو لپاره چمتو وي، دابده مړینه ده.

داسلام په شروع کې به رسول الله صلی الله علیه وسلم دداسې شخص جنازه په خپله نه کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به صحابه وو ته هدایت کاوو چې دجنازې لمونځ یې وکړي. په خپله به یې دهغه دجنازې لمونځ نه کاوو ترڅو خلک له اړتیا پرته له قرض اخستلو ځان وساتي.

مسئله: هغه څوک چې شاته دومره څه پرېږدي چې پور یې ورباندې اداء کېدلای شي یا یې وارثان دپاته شوي پور په اداء کولو راضي وي، داسړی حکماً مقروض مړ نه دی. په خپله په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دوفات په مهال څه پوروؤ، دکور داړتیا لپاره یې شل صاع اوربشې اخستې وې او زغره یې ورته کرو ایښې وه. تروفات وروسته یې وارثانو اداء کړ. همداسې عمر او زبیر بن العوام (رضی الله عنهما) هم پورپرې ایښی و چې وارثانو یې اداء کړ.

مسئله: بده مړینه هغه ده چې هغه پوروړي ومري، نه څه پرېږدي او نه یې وارثان دپور دابار په غاړه واخلي، دده روح په پور کې بنده پاته وي. (تحفة الالمعی ج ۳ ص ۴۸۲، شرح ترمذي، مولانا مفتي سعید احمد پالنپوري شیخ الحدیث د دارالعلوم دیوبند)

دمړي دپور اهمیت

دتجهیز او تکفین تر مصارفو وروسته، تر ټولو مهم دخدای دمخلوق دقرضونو اداء کول دي، هغه چې دمړي په

غاړه پاته دي. که مړی دخپلې میرمنې مهر نه وٚ ورکړی، هغه هم پور دی، دهغه اداء کول هم دنورو قرضونو په څیر ضروري دي.

تر تجهیز او تکفین وروسته دمړي دټولو قرضونو ورکړه فرض ده. که مړي وصیت کړي وو او که یې کړی نه و، که د هغه ټوله ترکه په قرضونو کې یې ولګیږي، اداء کول یې لازم دي. که دپور تر اداکولو وروسته یې کومه شتمني پاته شي، هغه به دمړي په وصیت کې له شرعي قاعدې سره سم لګیږي او وارثانو ته به هم پاته کیږي، که څه هم پاته نشي نو نه یې په وصیت عمل کیږي او نه یې وارثانو ته څه رسیږي. ځکه په شریعت کې دقرضونو ورکړه ترمیراث او وصیت دواړو لومړی ده. (مفید الوارثین ص ۳۶)

رسول الله صلی الله علیه وسلم دپور په هکله خورا تاکید کړی دی. دابوهریره رضی الله عنه بیان دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې به داسې مړی دجنازې دلمانځه لپاره راوړل شو چې هغه به قرضدار وٚ. پوښتنه به یې کوله چې دې سړي دپور داداء کولو لپاره مال پرې ایښی دی؟ که به ورته وویل شول چې دومره څه ورڅخه پاته دي چې قرض یې ورباندې پرې کیږي نو به یې دجنازې لمونځ ورباندې کاوو، کنه صحابه وو ته به یې وویل چې لمونځ ورباندې وکړئ.
(صحیح مسلم شریف ج ۲ ص ۳۵)

دا په داسې حال کې چې دهغو خلکو قرض به هم ډیر نه و

او دضرورت لپاره به یې پور اخست، بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم دومره سختې کوله.

نن زمانه خو خلک دعبث مصارفو لپاره ډیر قرض غواړي، بیا یې تر اداء کولو وړاندې مړه شي او وارث یې هم کوم فکر نه کوي. په حدیث شریف کې دي: دمؤمن چې تر څو پور اداء نکړای شي روح یې (له ثواب یا جنت ته تللو) حصاره وي. لنډه دا چې، د بندګانو دپورونو او دخدای تعالی دحقوقو ترمنځ دري توپیره شته:

۱- دبنده دقرضونو اداء کول دمړي په وصیت کولو پوري اړه نلري او دالله تعالی دحقوقو اداء کول دمړي په وصیت پوري تړلي دي. که یې وصیت ونکړ په وارثانو یې دا لازمه نده.

۲- دبندګانو دقرض په اداء کولو کې کوم حد نشته، تر تجهیز او تکفین وروسته ټوله شتمني یې په پورونو کې ورکوله کیدلای شي او اداء کول یې فرض دي. خو دالله تعالی حقوق وروسته تر هغه چې دخلکو پورونه ورکړل شي او ترکه څه شي پاته شي، دهغې په دریمه برخه کې یې اداء کول لازم دي. تر دریمي برخې زیات لګول یې په وارثانو لازم نه دي.

۳- دالله تعالی حقوق هغه وخت اداء کیږي چې دبندګانو قرضونه اداء کړای شي. تفصیل یې په مفید الوارثین، د میاصاحب په تالیف کې وګورئ.

یوه شخص رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ: زما ورور مړ شوی دی، واړه، واړه ماشومان ورڅخه پاته دي، ایا زه وربانديي مال مصرف کړم. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته لارښوونه وکړه: ورور دي دپور له امله قید دی، قرض یې اداء کړه. (مفید الوارثین ص ۴۰، دمشکوة شریف په حواله)

دمور او ماشوم یوځای دجنازې لمونځ

پوښتنه: دحمل دوضع په مهال مور او ماشوم دواړه مړه شول، دجنازې لمونځونه به یې یوځای که بیل، بیل کیږي؟

ځواب: ددواړو جنازې بیلې، بیلې کول غوره دي، خو که یوځای کیږي نو دامام مخته دي لومړی ماشوم او بیا دهغه دمور جنازه کښېښودل شي یا دي دماشوم پښو ته دمور جنازه کښېښودله شي، دا هم جایزه ده.

ددواړو که جنازه یوځای کیږي لومړي دي دبالغ دعا او بیا دنابالغ دعا وویله شي. (فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۰ دطحطاوي ص ۳۴۵)

مسئله: که کومه میرمن دحمل دوضع په مهال ومري او ماشوم یې زیږیدلی نه وي، ددواړو دي یوځای دجنازې لمونځ وشي، چې ماشوم دمور په ګیډه کې مړ وي، دماشوم لپاره بیله جنازه نه کیږي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۵۷)

مسئله: که کومه میرمن دحمل دوضع په حالت کې ومري خو په ګیډه کې یې ماشوم ژوندی وي، دمیرمنې ګیډه دي غوڅه او ماشوم دي ترې راوباسي. که ژوندی را وایستل

شي او وروسته ومري، دنورو ماشومانو په څير دي ورباندې نوم كښيښودل شي ،غسل او كفن دي وركړل شي ،دجنازې لمونځ دي وشي او خښن دي شي. كه مړ ؤ يا تر را ايستلو وړاندې مړ شو،نو دمور ګيډه دې نه څيري او ماشوم دې نه را ايستـــل كيږي ،خو كه را وايستل شي دنورو مړه شويو ماشومانو حكم لري. (احكام ميت ص ۱۱۵ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۰ په حواله)

(نن سبا دنويو اختراع شويو لوازمو په سبب دمړينې او ژوند حال يې معلومولاى شي.)

مسئله : كه چا دبل چا څه مال (قيمتي شى) تير كړ او مړ شو، ګيډه دې وڅيري او هغه دې ترې را وايستل شي.

(علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۷)

مسئله : كه حامله ميرمن ومري او ماشوم يې په ګيډه كې حركت كوي ،ګيډه دې وڅيري او ماشوم دې ترې را وباسي. دا حكم هغه وخت دى چې ماشوم دد ومره مودې وي چې حركت كوي او دمور تر مړينې وروسته يې هم حركت پاتې وي. دمودې كوم قيد نشته بلكې كه د ۹ مياشتو هم وي خو دمور تر مړينې وروسته يې په ګيډه كې حركت معلوم نشي نو دمور ګيډه دې نه څيري. دماشوم ژوندي توب په حركت كې دى نه په موده سره .(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷٦ درمختار ج ۱ ص ۸۴۰)

نن سبا [illegible] شويو لوازمو په مرسته دمړينې او [illegible] ي.

مسئله : كه په ماشوم كې ساه نه وي يا وي خو معلومېږي چې مړ شوى دى كوم حركت نلري،نو دا مړه شوې ميرمن دې له هغه ماشوم سره خښه شي.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۱۹۱ ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۰ په حواله)

مسئله : دميرمنې له ګيډې كه دماشوم څه برخه را ووتله او مړه شوه نو ماشوم (كه مړ وي) له مـــوره دې نه بيليږي بلكې ميرمنې تـه غسل وركـول ، كفن وركـول او لمونځ ورباندې كول كافي دي.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۴٦۹)

دباغي، لاروهونكي او دوالدينو دوژونكي دجنازې لمونځ

پوښتنه : كـه قاتـل دسزا پـه ډول ووژل شي او يا پـه دار ځوړنـد شـي، دهغـه دجنـازې حكـم څـه دى؟ او دوالـدينو دوژونكي دجنازې دلمانځه حكم څه دى؟

ځواب: دجنازې لمونځ دهر ګنهګار مسلمان كيږي خو باغي او لاروهونكى كه دمقابلې په مهال ووژل شي، دهغه دجنازې لمونځ نه كيږي ، نه دي غسل وركول كيږي. همداسې كه څوك له مور او پلار څخه كوم يو ووژني او دى په قصاص كې ووژل شي، دهغه دجنازې لمونځ دې هم نه وركوي، كه په خپل مرګ ومري دهغه جنازه كيږي خو مخور خلك دې په جنازه كې ګډون نكوي.(آپ كي مسائل ج ۳ ص ۱۳۲)

مسئله : دلاروهونكي او باغي جنازه له دې امله نه كيږي چې تر څو دنورو لپاره عبرت او خبرتيا شي.

(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۲۰۸ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۳ په حواله)

د ځان وژونکي د جنازې لمونځ

پوښتنه: چا ځان په خپله وواژه. د جنازې د لمانځه په مهال یې اختلاف راولاړ شو، چایې د جنازې لمونځ وکړ، هغوی دا بلې ډلې ته وویل تاسو له ثواب څخه بې برخې شوئ. خو دوهمې ډلې لومړنۍ ته وویل: تاسو د ځان وژونکي په جنازه کې ګډون وکړ ګناه کار شوی، شرعي حکم یې څه دی؟

ځواب: ځان وژنه یو خورا ستر جرم دی. له همدې امله فقها لیکي چې نوموتي کسان دې د جنازې لمونځ نه کوي ترڅو له دې کار څخه د خلکو کرکه پیدا شي، عوام دې وکړي. په کوونکو یې ګناه نشته او نه یې د تاریکینو ګناه شته، د دې دواړو ډلو په یوه او بل باندې تور ویل غلط دی.
(آپ کي مسائل ج ۳ ص ۱۳۱)

مسئله: ځان وژونکی فاسق دی کافر نه دی. نو د مغفرت دعا او ثواب ورته ښېل جایز دي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۶، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۸، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۵ فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۷)

مسئله: که یو مسلمان بل مسلمان قصداً ووژني، حکومت دې اعدام کړي، هغه ګناه کار دی خو د جنازې لمونځ دې ضرور ورباندې وشي.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۹۷ د شامي ج ۱ ص ۵۸۴ په حواله)
(دلته دې هم نوموتي خلک پکې ګډون نه کوي. رفعت قاسمي.)

مسئله: ځان وژنه که څه هم ستره ګناه ده، خو مرتکب یې کافر نه دی، نو ځکه یې د جنازې لمونځ فرض دی. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۶)

په ترافیکي پېښه کې که ومري د هغه د جنازې لمونځ

مسئله: که له ریل یا موټر یا هم له بل څه ولوېږي او ومري یا له څه شي سره په ټکر کې ومري، دا صغری شهادت دی. د شهید د دنیا احکام نه ورباندې عملي کېږي خو په اخرت کې امید دی چې په شهداوو کې وګڼل شي. انشاء الله. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۴)

مسئله: د شهادت لپاره لومړنی شرط اسلام دی، له همدې امله شیعه مسلمان نه دی، نو د هغه مړینه نه کبری شهادت دی او نه هم صغری. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۴)

یادونه: اهل تشیع یوه فرقه نه ده، هغوی ډېرې فرقې دي د ټولو حکم یو نه دی او دا خبره د همدې کتاب د جنازې د لمانځه په برخه کې څرګنده شوې ده. ریان.

په بمباري کې د شهید شویو حکم

مسئله: په جګړه کې که په ښارونو کې د هوایي بمبارۍ له امله څوک شهیدان شي، په هغوی باندې د شهادت دنیایي احکام نه جاري کېږي، غسل ورکول کېږي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۴ مراقي الفلاح ص ۳۱۲-۳۳۶)

مسئله: که څوک په اوبو کې ډوب او ومري یا د هیضې او طاعون په ناروغیو ومري، هغه حکماً شهید دی، غسل او کفن ورته ورکول کېږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۷۳)

مسئله: که کوم مسلمان د کفارو له لوري ووهل شي او مړ شي، هغه شهید دی. حریق (سوزیدلی) غریق (ډوب شوی)

یا هغه چې دېوال وربانـدې راولـوېږي او مړشي دا ټول
دآخرت شهیدان دي ، هغوی ته غسل ورکول لازم دي. که یې
امکان نه وُ، تیمم دي ورووهل شي. که پرته له غسل څخه
خښ شي، حکم یې دا دی چې تر خښـولو وروسته دي بیا
دجنازي لمونځ له قبرسره وشي، ځکه کوم لمونځ چې له غسل
پرته شوي دي هغه اعتبار نلري.

تر خښولو وروسته یې غسل کیدلای نشي،متعذر دی،نو
ساقطیږي او لمونځ بیا لـه قبره سره وربانـدي کیږي، خو دا
حکم دمړي دبدن تر تغیر وړاندي دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۷۴ و ۴۷۶ ، ردالمحتار باب الشهید ج ۱ ص ۸۵۲)

مسئله : کامـل شـهید یـوازي هغـه وژل شـوی دی چې په
جنګ کې ووژل شي، هغـه ددنیـا او اخرت شـهید دی اونور
یوازي داخرت شهیدان دي،ددنیا په احکامو کې شهیدان نه
دي.(امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۴۱)

مسئله : حقیقي شهید تـه غسـل نه ورکـول کیږي، خو د
جنازې لمونځ یې واجب دی. یـو شرط یـې دا دی چې دبدن
داسې برخه به یې موجوده وي چې غسل ورکول کیږي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۲)

دشهید ډولونه

مسئله :داحنافو په نزد شهید هغه دی چې هغه په ظلم سره
… وژل شوي وي، که هغه په جنګ کې وژل شوي وي یا

دباغي ، دښمن یا لاروهونکي له خوا مړ شوي وي، که څه هم
دغه یې د مړینې مستقیم سبب نه وي.

مسئله : شهید دري ډوله دی:

۱- کامل شهید : هغه دی چې ددنیا اوآخرت شهید دی او
دکامل شهید لپاره شپږ شرطونه دي:

۱- عقل. ۲- بلوغ. ۳- اسلام. ۴- له حدث اکبر(لویې
بې اودسي) حیض او نفـاس څخه پـاکوالی. او داچې
دهلاکت تر سبب وروسته به پرته له خوړلو ،څښلو او خوب
کولو مړ شوي وي ، نه به یې درملنه شوي وي او نه به له هغه
ځایه کومې خیمې یا کور ته په ژوند نقل شوي وي. نه به د
لمانځـه بشـپړ وخـت وربانـدې پـه ژونـد تیـر شـوي وي اوپـه
وژونکي به یې قصاص واجب شوي وي ، که څه هم په کوم
سبب مثلاً روغه جوړه یا بله وجه دقصاص حکم مرتفع شوی
وي. خو که دا وژل داسې وي چې مالي بدل پکې واجبیږي،
لکه غیر قصدي وژنه ، په هغه صورت کې دکامل شهادت
درجه ورته نه پیدا کیږي. خو په کامل شهادت کې دا صورت
هم شـامل دی چـې کـوم مسـلمان دخپـل مـال یـا ځـان یـا
دمسلمانانو او ذمیانو دحفاظت له امله وژل شوي وي.

دداسې شهیدانو پـه هکلـه مسئله داده چې غسل بـه نـه
ورکول کیږي خو که له وینې پرته نوره کومه ناولتیا وربانـدي
لګیدلي وي هغه به یې پریمنځي.

شهيد په خپل لباس کې خښيږي خو داسې څه چې د کفن حيثيت نلري هغه به ترې لرې کوي، لکه پخته لرونکې جامه، خولۍ، جرابې، وسله او زغره خو د پرتوګ په خلاف چې هغه به نه ترې لرې کيږي.

مسئله: د شهيد د جنازې لمونځ کيږي او د هغه په وينو له لړلي لباس سره خښيږي. د شهيدانو دوهم ډول دادی چې يوازې د اخرت شهيد دی. لکه دا چې په ياد شويو شرايطو کې يې کوم يو پوره کړې نه وي. مثلاً په ظلم وژل شوی وي خو د ناپاکۍ يا حيض او نفاس په حالت کې وي. يا تر ويشتلو وروسته سمدستي مړ نشي يا نابالغ يا مجنون وي يا په ناپوهۍ سره ووژلای شي چې په وژنه يې تاوان واجبيږي. داسې شهيدان کامل شهيدان نه دي خو د اخرت شهيدان دي، په قيامت کې ورته هغه څه شته کوم چې د شهيدانو لپاره وعده شوې ده.

داسې شهيدانو ته کفن او غسل ورکول کيږي، د نورو مړه شويو په څير د جنازې لمونځ ورباندې کيږي. د اخرت د شهيدانو په ډله کې هغه کسان هم دي چې ډوب شي يا وسوزي، په جلا وطنې کې مړ شي، په وبايي ناورغيو، استسقاء، پيچ، ساه بندي، سل، محرقه، چيچلو يا همداسې بل سبب ومري.

د طالب العلمۍ په حال کې او د جمعې په شپه مړ شوي هم دغسې دي. دې شهيدانو ته غسل ورکول کيږي، کفن ورکول کيږي، د جنازې لمونځ ورباندې کيږي که څه هم په آخرت کې د شهيدانو ثواب ورکول کيږي.

دريم ډول شهيد، دنياوي شهيد دی. له دې څخه مطلب منافق دی چې د مسلمانانو په صف کې ووژل شي، هغه ته غسل نه ورکول کيږي، په خپلو جامو کې يې خښيږي او د هغه له ظاهري حال سره ورباندې د جنازې لمونځ کيږي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۵۱، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۵)

مسئله: که شهيد کامل وي کومې جامې چې يې اغوستې وي، هغه نه ترې ايستل کيږي که يې جامې تر مسنون کفن کمې وي، نو د مسنون کفن شمير دې ورته پوره کړي دا زياتول جواز لري. که يې تر مسنون کفن جامې ډيرې وي لرې کول يې هم جواز لري. (علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۵)

په داسې حال کې چې شهيد ژوندی وي، لمونځ يې ولې کيږي؟

پوښتنه: په قرآن کريم کې د الله تعالی ارشاد دی:
"مؤمن چې د الله تعالی په لاره کې ومري، هغه ته مړه وایاست هغه ژوندی دی."

له دې حقيقت څخه دا پوښتنه راپورته کيږي چې شهيد ژوندی دی، نو د شهيد د جنازې لمونځ ولې کيږي، د جنازې لمونځ خو په مړه شويو باندې کيږي؟

ځواب: ستاسو دسوال ځواب په ورپسي ایت کې شته،
(هغه ژوندي دي خو تاسي نه پوهیږي) له دي ایت څخه
معلومیږي چي قرآن کریم دشهیدانو کوم ژوند یاد کړی
دی، هغه یې دنیایې ژوند نه دی، بلکې یو بل ډول ژوند دی
چې ورته برزخي ژوند ویل کیږي او زموږ له شعور او پوهې
څخه لوړ دی، ددنیا ژوند ور څخه مقصد نه دی.

داچې دي مبارکو خلکو ژوند بشپړ کړی او تللي دي نو موږ
یې دجنازې په لمانځه او خښولو مکلف یو، دهغه وراثت
ویشل کیږي او میرمن یې تر عدت وروسته دوهمه نکاح
کولای شي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۳۲)

دطبي معاینې دمړي دجنازې لمونځ

مسئله: نن سبا دهغه چاچې په ترافیکي پېښو کې مړ
شوي وي یا وژل شوي وي، طبي معاینه کیږي، څیروي یې
او دننه یې ګوري، ډیر خو داسي وي چې له شرعي ضرورت
څخه پرته داکار کیږي او دا جواز نلري.

خو که په شرعي اړتیا سره کار کیږي، دبل شخص ژوند
ورباندي ژغورل کیږي یا دبل دحال دنه ضایع کیدلو له امله
طبې معاینې کیږي، هلته هم باید شرعي احکام لکه ستر او د
مړي احترام او نورو لحاظ وساتل شي. تر فراغت وروسته یې
ټول اندامونه خښ کړای شي. (امداد الفتاوی ج۱ ص۵۰۸، کفایت المفتی ج۴ ص۱۸۸ - احکام میت ص۲۲۷)

(که دطبې معاینې په صورت کې دمړه په وجود باندې پټۍ یابل څه
تړل شوي وي، که یې په پرانستلو کې مړه ته زیان رسیده، نه دې پرانیزي
، په هغه حالت کې دي غسل او کفن ورکړي. محمدرفعت قاسمي)

مسئله: تر خښولو وروسته قبر سپړل او مړي دطبي
معاینې لپاره را ایستل جواز نلري. په غیر مسلم حکومت
کې دي مسلمانان هڅه وکړي چې دا قانون منسوخ کړي، که
یې کولای نشوای، حکومت دا کار جبراً کاوو نو مسلمانان
معذور دي. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۸۹)

که دجسد څه برخه ومونډل شي، دهغه دجنازې لمونځ

که دچا پوره جسد ونه موندل شو، څه برخې یې پیدا
شوي، ددې څو صورتونه دي:

- یوازې لاس یا لینګې یا سر یا ملا یا کوم بل اندام یې
وموندل شو، دهغه غسل، کفن، دجنازې لمونځ هیڅ نشته،
په یوه جامه کې دي ونغښتل شي او خښ دي شي.

مسئله: دوجود څو متفرق اندامونه مثلاً دوه لینګې یا
دوه لاسونه، یا یو لاس او یوه پښه یا دغسې نور غړي
وموندل شول، دغه سره یو ځای شي او تر نیم بدن ور څخه کم
ښکاره شي، دمړي ډیره برخه غایبه وي، ددې غړو غسل، کفن
او لمونځ شته، په جامه کې دي پټ او خښ شي.

مسئله: که دجسم نیمه برخه له سر سره وسپړل شي نو
غسل او کفن نه ورکول کیږي، دجنازې لمونځ یې کیږي په.

ځواب: ستاسو د سوال ځواب په ورپسي ایت کې شته، (هغه ژوندي دي خو تاسي نه پوهیږي) له دي ایت څخه معلومیږي چي قرآن کریم د شهیدانو کوم ژوند یاد کړی دی، هغه یې دنیایي ژوند نه دی، بلکې یو بل ډول ژوند دی چې ورته برزخي ژوند ویل کیږي او زموږ له شعور او پوهې څخه لوړ دی، د دنیا ژوند ورڅخه مقصد نه دی.

داچې دي مبارکو خلکو ژوند بشپړ کړی او تللي دي نو موږ یې د جنازې په لمانځه او خښولو مکلف یو، د هغه وراثت ویشل کیږي او میرمن یې تر عدت وروسته دوهمه نکاح کولای شي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۳۲)

دطبي معاينې د مړي د جنازې لمونځ

مسئله: نن سبا د هغه چاچې په ترافیکي پیښو کې مړ شوي وي یا وژل شوي وي، طبي معاینه کیږي، څیروي یې او دننه یې ګوري، ډیر خو داسي وي چې له شرعي ضرورت څخه پرته دا کار کیږي او دا جواز نلري.

خو که په شرعي اړتیا سره کار کیږي، د بل شخص ژوند ورباندي ژغورل کیږي یا د بل د حال د نه ضایع کیدلو له امله طبي معاینې کیږي، هلته هم باید شرعي احکام لکه ستراو د مړي احترام او نور ولحاظ وساتل شي. تر فراغت وروسته یې ټول اندامونه خښ کړای شي. (امداد الفتاوی ج۱ ص ۵۰۸، کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۸۸ - احکام میت ص ۲۲۷)

(که د طبي معاینې په صورت کې د مړه په وجود باندې پټۍ یا بل څه تړل شوي وي، که یې په پرانستلو کې مړه ته زیان رسیده، نه یې پرانیزي، په هغه حالت کې دي غسل او کفن ورکړي. محمد رفعت قاسمي)

مسئله: تر خښولو وروسته قبر سپړل او مړي د طبي معاینې لپاره را ایستل جواز نلري. په غیر مسلم حکومت کې دي مسلمانان هڅه وکړي چي دا قانون منسوخ کړي، که یې کولای نشوای، حکومت دا کار جبراً کاوو نو مسلمانان معذور دي. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۸۹)

که د جسد څه برخه وموندل شي، د هغه د جنازې لمونځ

که د چا پوره جسد ونه موندل شو، څه برخې یې پیدا شوي، د دې څو صورتونه دي:

– یوازې لاس یا لینګې یا سر یا ملا یا کوم بل اندام یې وموندل شو، د هغه غسل، کفن، د جنازې لمونځ هیڅ نشته، په یوه جامه کې دي ونغښتل شي او خښ دي شي.

مسئله: د وجود څو متفرق اندامونه مثلاً دوه لینګې یا دوه لاسونه، یا یو لاس او یوه پښه یا د غسي نور غړي وموندل شول، د غه سره یو ځای شي او تر نیم بدن ورڅخه کم جوړ شي، د مړي ډیره برخه غایبه وي، د دې غړو غسل، کفن او لمونځ شته، په جامه کې دي پټ او خښ شي.

مسئله: که د جسم نیمه برخه له سر سره وسپړل شي نو غسل او کفن نه ورکول کیږي، د جنازې لمونځ یې کیږي په.

جامه کې پټ او خښیږي.

مسئله : که د جسم ډیره برخه وموندله شي، که څه هم سر یې نه وي غسل، کفن او لمونځ هر څه دې وشي او خښ دې شي.

(هغه جسد چې د مسلمانۍ نښه په کې نه وي نو له مسنونې طریقې پرته دې غسل ورکړل شي، خښ دې کړل شي، که کومه داسي قرینه وه چې زړه ورباندې د مسلمانۍ شاهدي ویله، نو لمونځ دې ورباندې وشي او د مسلمانانو په هدیره کې دې خښ شي. رفعت قاسمي)

مسئله : که د مړي جسد خراب او شړیدلی ؤ سبب یې په اوبو کې ډوبیدل یا بل څه و نو د جنازې لمونځ ورڅخه ساقطیږي. (امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۰ - بحر ج ۲ ص ۱۸۲)

که کوم اندام په ژوند کې تري بیل شي

که په ژوند له چا څخه کوم غړی غوڅ شي یا د عملیاتو په واسطه تري بیل شي، د هغه غسل کفن او د جنازې لمونځ هیڅ نشته، خو په جامه کې دې پټ او خښ کړي. (احکام میت ص ۱۲۳)

مسئله : که کوم اندام له ژوندي انسان څخه بیل شي، په هغه باندې د جنازې لمونځ نه کیږي. که د مړي له سر پرته نور وجود موجود و. د جنازې لمونځ یې کیږي خو که یې یوازې سر وموندل شو، د جنازې لمونځ یې نه کیږي. لنډه دا قاعده داده : که تر نیم زیات جسد وموندل شو، د جنازې لمونځ یې کیږي او کنه ؤ ، بیا نه کیږي.

(فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۳۱۵ ، رد المحتار ج ۱ ص ۸۰۴ په حواله)

په نیم جسد باندې د جنازې لمونځ

که د چا یوازې سر وموندل شو ، غسل نه ورکول کیږي، هسې خښیږي. که د چا د بدن تر نیم ډیر وموندل شو، غسل ورکول یې ضروري دي ، که سر ورسره وو او که نه و. خو که تر نیم زیات نه و بلکې نیم و، که سر ورسره ؤ غسل ورکول کیږي او که نه و، نه ورکول کیږي. که تر نیم کم ؤ غسل نه ورکول کیږي، که سر ورسره ؤ او که نه و. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۸۸)

مسئله : که د مړي نیم جسد او سر ورسره ؤ ، هغه د پوره جسم حکم لري. په مسنونه طریقه دې تجهیز، تکفین او تدفین وشي او د جنازې لمونځ دې ورباندې وکړل شي. که جسم نیم ؤ سر ورسره نه و نو د داسي مړي نه په مسنونه طریقه غسل شته، نه کفن او نه خښول او نه هم لمونځ ورباندې کیږي. و دې مینځې په یوه جامه کې دې پټ او خښ کړي او خاوره دې ورباندې واچوي. که تر نیم جسد کم و هم دغه یې حکم دی. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۹۴ د شامي ج ۱ ص ۸۰۹ په حواله)

مسئله : که د مړي د جسد ډیره برخه پاته وه، یعنې تر نیم زیاته وه ، که څه هم سر ورسره نه و نو غسل ورکول کیږي او لمونځ ورباندې کیږي. خو که یې ډیره برخه سوزیدلې او ایره شوې وه او لږه برخه یې پاته وه نو غسل او لمونځ یې لازم نه دي. (فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۳۴۵ ، رد المحتار ج ۱ ص ۸۰۴ ، باب صلوة الجنائز په حواله)

****

که تر خښولو وروسته ځینې اندامونه وموندل شي؟

مسئله: که د کوم مړي بدن ډېره برخه وموندله شوه او نوره ونه موندله شوه، په دې ډېره برخه یې د جنازې لمونځ وکړ او خښ یې کړ، وروسته هغه پاتې برخه وموندله شوه، په پاتې برخه د جنازې لمونځ نه کیږي، په یوه جامه کې دې وپیچي او خښ دې کړي. (احکام میت - ۱۲۳ دعالمګیري او شامي په حواله)

مسئله: په ځنګل یا بل ځای کې د مړي ټول جسد ونه موندل شو یوازې سر او ځینې هډوکي یې پیدا شول، په دې صورت کې د هډوکو غسل او کفن ته ضرورت نشته، هغه دې په جامه کې پټ او خښ کړي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۴، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۰۴ په حواله)

مسئله: څوک په سیند کې ډوب شو، جسد داسې وموندل شو چې هسې هډونه پاتې وو. د هغه د جنازې لمونځ نه کیږي، هغه هډونه دې په پاکه جامه کې په خاورو کې خښ کړل شي. (امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۰)

مسئله: څوک که د طاعون له ځایه وتښتي او هغه هلته ومري د هغه د جنازې لمونځ کیږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۶)

مسئله: د بدعتي د جنازې لمونځ هم کیږي ځکه هغه کلمه وایي، کافر نه دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۳)

مسئله: د غیر مسلم زوی که کوم مسلمان واخلي د جنازې لمونځ یې نه کیږي خو که یې پلار یا مور کوم یو مسلمان وي

نو د جنازې لمونځ یې واجب دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۲، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۱ په حواله)

مسئله: د ګنهکار مسلمان د جنازې لمونځ هم کیږي، که څه هم هغه زاني، شرابي، بې لمانځه او فاسق وي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۹)

مسئله: د نشه اي موادو خوړل، څښل حرام دي، له شرابي سړي سره خوړل څښل وړ نه دي، خو که ومري د جنازې لمونځ وربانديې کیږي، د سود خوړونکي هم د غه حکم دی، یعنې د جنازې لمونځ دې وشي او د سود راکړه، ورکړه حرامه ده، له داسې کس څخه بیل اوسیدل ضرور دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۱۲۴)

مسئله: خاوند ته د خپلې میرمنې د جنازې لمونځ صحیح دی، ضرور دې وکړي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۵)

مسئله: څوک چې د روژې په حال کې ومري، روژه ماته نه کړي، د هغه د جنازې لمونځ صحیح دی، هغه د روژې د نه ماتولو له امله ګنه کار نه دی، په دې صورت کې ورته اجر ورکول کیږي. (دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۶)

مسئله: که د زیږېدلو په مهال په ماشوم کې د ژوند کومه نښه ولیدله شي، د جنازې لمونځ دې وشي او که نه وه، نه دې کیږي. (فتاوی دارالعلوم ص ۳۵۹)

مسئله: که ماشوم مړ وزیږي، د جنازې لمونځ یې نشته، خو کفن ورکول کیږي او خښیږي. (که یې پزه، غوږونه، لاس

او پښې او نور ټول جسم وو کفن ورکول کېږي او خښېږي)

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۹ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۸ په حواله)

مسئله : دېې واده دجنازې لمونځ داسې ضرور دی لکه دواده والا ، خو نکاح عفت خوندي ساتي.

مسئله : داغلطه ده چې که چا واده کړی نه وي او مړشو د جنازې لمونځ يې نه کيږي، ځکه دجنازې دلمانځه لپاره دمړي مسلمان والی شرط دی ، واده کول شرط نه دي.

(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۳۰)

که غير مسلم دمسلمان په جنازه کې ګډون وکړي

مسئله :دمسلمانانو په ذمه چې فرض دی هغه دمړي غسل، دجنازې لمونځ او نور دي،چې دا پوره شي بیاکه کوم غیر مسلم شخص له مړي سره لاس لګاوو، مخ يې کوت يا يې استغفار وايه يايې په خپل ډول لمونځ کاوو نو له دي څخه نه ورته زيان شته او نه هم ګټه ، که وس و منع دي کړي او که نه و، پټه خوله دې وي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۵۳)

مسئله : که کوم پير او مرشد تر جنازې وړاندې هندوانو دخپلې عقيدې او ورته ددرناوې له امله ساز او سروز کاوو، کورنۍ يې هغه منع کول ، بيا هم نه منع کيدل نو دمنکراتو له امله دې جنازه نه پريښودله کيږي، بلکې له منکراتو دې هغوی منع کړي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۲ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۳ په حواله)

****

دغير مسلم په جنازه کې ګډون کول

سوال : دلته يو غير مسلم ماشوم مړشو، يو مسلمان شخص يې په جنازه کې ګډون وکړ او دهغه ماشوم مړی يې په خپلو لاسونو کې واخيست او يويې وړ. ددې شخص په هکله حکم څه دی؟ ايا داکار يې په ايمان او نکاح اغيز کوي؟

ځواب :دکوم مصلحت يا اړتيا له امله ، له غير مسلمانانو سره ناسته ولاړه ،دهغه په درد او دوک کې ګډون کول او دانسانيت په چوکات کې ورسره مرسته کول تيره بيا چې ګاونډي هم وي، شرعاً جايز دي.نيت به يې پکې سم او دهغه داصلاح وي.د مداهنت (چاپلوسي – تملق) به نه وي. خو دهغوی په مذهبي معاملو او رواجونو کې ګډون کول جواز نلري، نو که کوم غير مسلم ناروغ وي يا مړشي،دهغه پوښتنه او تعزيت خو جوازلري اما له جنازې سره يې تلل او په نورو مذهبي رواجونو کې يې ګډون کول ناجايز دي.

کومه پوښتنه چې شوې ده که هغه دخپل مروت يا په بل لحاظ سره پکې ګډون کړي وي نو هغه دې له دې کار (دمړي اخستلو او وړلو) له زړه توبه وکاږي. دخلکو په وړاندې دې خپله توبه څرګنده کړي ، بيا دې داسې حرکت نه کوي او دغسې هوډ دې وکړي ،دهغه ايمان او نکاح باقي پاته دي، په دې کې شک نه کيږي.(فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۱۸۰ ،ردالمحتار ج ۵ ص ۵۴۱ کتاب الحظر په حواله ،امداد الفتاوی ج ۱ ص ۵۳۱)

مسئله: ځینې خلک وایې، کله چې د غیر مسلم جنازه ولیدله شي، نو داسې دې وایې:

في نارجهنم خالدين فيها. په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته. (اغلاط العوام ص ۲۱۸)

دجنازې دلمانځه لپاره په هدیره کې چوتره جوړول

مسئله: چوتره په داسې ځای جوړول چې هغه د هدیرې لپاره وقف وي او هغه دلمانځه لپاره ځانګړې کول جواز نلري. هغه چوتره دې رنګه شي او د مړو د خښولو لپاره دې ځمکه خالي شي. خو که دغه ځمکه د مړو د خښولو لپاره وقف شوې نه وي، بلکې هغه یې د جنازې د لمانځه لپاره وقف کړې وي، نو بیا د جنازې لمونځ ورباندې صحیح دی. که له پنځګونو لمونځونو څخه کوم لمونځ کله په دې چوتره وکړل شي، پروا نلري. خو د دې پنځګونو لمونځونو لپاره هغه ځانګړې کول جواز نلري. (کفایت المفتي ج ۷ ص ۱۴۰)

که چوترې دیوال نه درلودا و مخته ستره و دروي لمونځ کیږي.

مسئله: که د جنازې د لمانځه لپاره یا دیخ او ګرمۍ په مهال، د کښیناستلو لپاره کومه خونه یا بل څه د هدیرې په خالي ځای کې جوړ شي، پروا نلري. په هغې کې څه تشبه (یو رنګوالي) منع نه ده. خو په هدیره کې د جنازې د لمانځه لپاره داضروري ده چې نژدې ورته قبر نه وي، غوره داده چې د جنازې لمونځ بل ځای وشي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۰)

مسئله: چیرې چې څلورو لوروته قبرونه وي، د جنازې لمونځ او نور فرض لمونځونه هلته کول مکروه دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۷)

مسئله: د جماعت په مسجد کې د جنازې لمونځ کول مکروه دی، که په هدیره کې مسجد ؤ او هلته پنځه وخته لمونځونه نه کیدل او هغه د جنازې دلمانځه لپاره جوړ شوی و، هغه په حقیقت کې د مسجد حکم نلري، هلته پکې د جنازې لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۴۴، ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۵ په حواله)

مسئله: که په هدیره کې خالي ځای و، نژدې ورسره قبرونه نه وو یا خو دومره لرې وي چې د لمونځ کوونکي سترګې ورباندې ونه لګیږي یا یې ترمنځ کوم حایل و، نو د جنازې لمونځ پرته له کراهت څخه صحیح دی. خو د قبرونو په منځ کې د جنازې لمونځ کول منع دی.

(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۳ د صغیري ص ۱۸۱ په حواله)

جنازه د مسجد په انګړ کې ایښودل

پوښتنه: زموږ په مسجد کې یې یوه لورته د جنازې دلمانځه لپاره یو ځای جوړ کړی دی، د جنازې لمونځ هلته کیږي خو که جنازه د فرض لمانځه په وخت راشي نو هغه د مسجد په انګړ کې د فرض لمانځه تر کیدلو ږدي، په دې کې څه خبره نشته؟

ځواب: له عذر او اړتیا پرته جنازه د جماعت ځای یا انګړ

او مسجد ته داخلول منع او مکروه دي، ځکه د مسجد د ناولتیا ویره ده. (له مړي څخه د وینې یا نوري ناولتیا د وتلو خطره ده.)
(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۰۵ د شامي ج ۱ ص ۸۲۷ په حواله، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۸۶۶ په حواله)

په مسجد کې داسې د جنازې لمونځ کول چې مړی بهر وي

پوښتنه: ځینې ځایونه رواج دی چې د مسجد د قبلې لورته تر محراب بهر، د جنازې دایښودلو لپاره یو ځای جوړ وي، په محراب کې داسې دروازه یا کړکین پریږدي چې امام دننه ولاړ وي او د جنازې لمونځ وکړي. ایا په داسې ډول سره خو کراهت نشته چې جنازه بهر او امام دننه ولاړ وي.

ځواب: په مسجد کې خو په هر حال د جنازې لمونځ مکروه دی. که جنازه په مسجد کې وي او که بهر، خو که د باران یا بل څه عذر وي او بل ځای هم نه وي بیا په مسجد کې د جنازې لمونځ جایز دی، په دې صورت کې که جنازه بهر وي نو غوره داده چې امام او څو تنه مقتدیان هم تر مسجد بهر په چوتره کې ودریږي. ځکه جنازه من وجه (له یوه امله) د امام په حکم کې ده، که امام یوازې بیل ودریږي، تنزیهي مکروه ده.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۴، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۳ په حواله، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۶)

مسئله: په عامه لاره کې د جنازې لمونځ کول مکروه ده خو که عذر و، بلا کراهته جواز لري. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۷۸)

مسئله: له عذره پرته په کوم بازار یا لاره کې د جنازې لمونځ کول مکروه دي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۵۹)

مسئله: که کوم عذر نه وي او هسې د جنازې لمونځ په مسجد کې وشي، د جنازې لمونځ اداء کیږي، کفایي فرض هم ساقطیږي، خو ثواب نه ترلاسه کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۷ په حواله)

مسئله: مسجد ته د لمانځه پرته هم د مړي راوړل مکروه دي او په مړي باندې په مسجد کې د جنازې لمونځ مکروه دی، که څه هم بهر کښېښودل شي. (خو دا کراهت هلته دی چې کوم عذر نه وي.) (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۴)

که په مسجد کې زیاتوالی راولي هلته د جنازې لمونځ

مسئله: کومه برخه چې پخوا مسجد وه، هلته دوهم جماعت او د جنازې لمونځ کول (تنزیهي) مکروه دی. هغه حصه چې په مسجد کې وروسته زیاته شي، که یې دا زیاته برخه د مسجد په نیت جوړه کړه، نو هم ورباندې د مسجد احکام جاري کیږي، یعنې هلته د ناپاکه شخص ورتګ منع ده او دوهم ځلي جماعت مکروه کیږي.

که د مسجد په نیت اضافه شوې نه وي، په دې غرض یې اضافه کړې وي چې د اړتیا په مهال به ماشومان هلته کښېني او درس به وایې یا که لمونځ کوونکي ډیر شي، هلته به دریږي خو د مسجد حصه نه وي، نو په دغسې ځای کې د مسجد حکم نه جاري کیږي، ناپاک شخص ورتلای شي، دوهم جماعت او د جنازې لمونځ پکې کیدلای شي.

داتحقیق او پلټنه ،له وقف کوونکي او د مسجد له باني
څخه کیږي چې دازیاتوالی یې د مسجد په نیت کړی او کنه.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۷۱ ،کبیري ج ۱ ص ۵۴۵ په حواله ،ترمذي شریف ج ۱ ص ۲۰۰)

مسئله :په غصب شوي ځمکه د جنازې لمونځ کول مکروه ده.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۵ ،مراقي ج ۱ ص ۳۲۷ په حواله)

مسئله :د جنازې لمونځ که په ټاکلی ځای د خلکو
ګنجایش نه درلود، د جماعت له ځای څخه پرته بل ځای نه و،
په دې صورت کې پرته له کراهته د جماعت په ځای کې
د جنازې لمونځ کیدلای شي .(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۷۹)

په مسجد کې د جنازې لمونځ کول

مسئله : له عذر څخه پرته په مسجد کې د جنازې لمونځ
کول مکروه دي، نبوي ارشاد دی :

من صلی جنازة في المسجد فلا شی له.(ابوداود شریف ج ۲ ص ۱۵۳)

په بخاري ،مسلم او نورو کې راځي ، کله چې رسول الله
صلی الله علیه وسلم، د نجاشي د مړینې خبر واوریده ،له
اصحابو سره بهر ووت ، نږدې ورته چې کوم ځای د جنازې
لپاره ځانګړی شوی وو، هلته یې صف وتاړه او د جنازې
لمونځ یې پکې وکړ.(صحیح بخاري ج ۱ ص ۱۶۷ – مسلم ج ۱ ص ۳۰۹)

دا په دې پیښې پوري ځانګړي نه ده بلکې د رسول الله
صلی الله علیه وسلم معمول داوو چې د جنازې لمونځ به یې
په مسجد کې نه کاوو. په مسلم (ج ۱ ص ۳۱۳) کې دي چې
د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به یې جنازه

مسجد ته نه راوړه، بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم به
بهر د جنازې لمونځ کاوو. رسول الله صلی الله علیه وسلم او
صحابه وو په مسجد کې د جنازې لمونځ نه کاوو، تر مسجد
بهر یې ځانته ځای جوړ کړی و، دا ځای له مسجد سره نږدې
ختیځ لورته و. له دې څرګندونو څخه ښکاري چې مسجد
د پنځګونو لمونځونو لپاره جوړوي ، هلته له عذره پرته
د جنازې لمونځ کول له کراهته خالي نه دي.

که په مسجد کې د جنازې لمونځ له کراهته پرته جایز
وای، رسول الله صلی الله علیه وسلم به یو مستقل ځای ورته
نه جوړاوو، بلکې مسجد ورته کافي و، خو داسې نه وو،
رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځای د مسجد د ودانۍ له
ختم سره جوړ کړی و چې د جنازې لمونځ به یې پکښې کاوو.
د ابن سعد په طبقات کې دا څرګند ونه شته، نور دلیل ته
اړتیا نشته. (التعلیق الصبیح ج ۲ ص ۲۳۹ ،فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۸۷)

مسئله :په حرمینو شریفینو کې د جنازې په کولو استدلال
ځکه کیدلای نشي چې دا دهغوی مسلک دی.(پر موږ حجت
نه دی.) (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۳ – فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۴)

په مسجد کې د جنازې دلمانځه دري صورته او دهغوی احکام

مسئله :په مسجد کې د جنازې دلمانځه د کولو دري
صورتونه دي ،د احنافو په وړاندې په ترتیب سره دري واړه
مکروه دي.یو دا چې جنازه ،امام او مقتدیان ټول د ننه په

مسجد کې وي. دوهم یې دا دی چې جنازه بهر، خو امام او
مقتدیان د مسجد په دننه کې وي. دریم دا چې جنازه، امام او
څو تنه مقتدیان بهر او نور دننه په مسجد کې وي.
خو که د صحیح عذر له امله په مسجد کې دننه د جنازې
لمونځ وکړي جواز لري. (اپ کې مسائل ج ۳ ص ۵۸)
مسئله: د مسجد په دننه کې د جنازې لمونځ کول مکروه
ده بهر دې کیږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۷)

په ناپاکه ځمکه د جنازې لمونځ

پوښتنه: چیرې چې ناولتیا وي، پاک نه وي هلته د جنازې
لمونځ کول صحیح دي که نه؟
ځواب: ځمکه په وچیدلو پاکیږي، لکه په مشکوة شریف
کې چې حدیث شریف دی، کله چې ځمکه وچه وي او ښکاره
ورباندې نجاست نه وي، هلته د جنازې لمونځ صحیح دی.
که په وچه ځمکه کوم وچ نجاست وي، هغه دې لرې کړل شي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳٫۲۳ د مشکوة ج ۱ ص ۲۰۱ په حواله)
مسئله: که میت او جنازه پاک وي، چیرې چې جنازه
کښېښودله شي که هغه ناپاک وي دا زیان نلري، لمونځ
صحیح دی، د راکرځولو ارتیا یې نشته.
(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۰، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۲ په حواله)
مسئله: له بان یا بل څه څخه په اوبدل شوې چارپایي چې
لمونځ ورباندې جایز نه وي، هلته د مړي اېښودل او یا

د جنازې لمونځ کول جایز دي. په هغه جنازه ښودل او هغه
ترمخ اېښودل هم صحیح دي. که چارپایي ناپاکه وي، په هغه
دې پاکه جامه ولویږي او مړی دې ورباندې کښېښودل شي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۸)
{پالنګ، کټ یا بل څه چې ورباندې جنازه وي او هغه په
ځمکه اېښې وي، د جنازې لمونځ یې صحیح دی. دا طریقه
داسې نه ده لکه په سوارۍ چې جنازه اېښې وي یا چا اخستې
وي، دا ژوندی شی نه دی. په چارپایي اېښودل حکماً په
ځمکه اېښودل دي.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنازې لمونځ چې کېده
هغه مهال یې مبارک جسد په سریر (کټ) باندې اېښی و.
(محمد رفعت قاسمي)}

په پایزار باندې پښې اېښودل او د جنازې لمونځ کول

پوښتنه: که د پڼو (بوټونو) تلې ناولې او منځ یې پاک
وي، هغه ایستل، سربېره ورباندې پښې اېښودل او د جنازې
لمونځ کول څرنګه دي؟
ځواب: روا دي، د څه شي که په یوه لوري ناولتیا وي او بل
لوري ته یې سرایت کړی نه وي، د هغه په پاک لوري د جنازې
لمونځ کول جایز دي. خو داسې بوټونه چې لاندې لوري یې
ناولې وي، په پښو کول او عام لمونځونه ورسره کول صحیح
نه دي. ځکه د لمونځ کوونکي په خوځیدلو د هغه ناولې لوري

هم حرکت کوي او دا دلمانځه مانع دی، خو که یې لاندې تلې هم پاک وي، بیا یې پښو کول او لمونځ ورسره کول جایز دي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۲ دعالمګیري ج ۱ ص ۳۲ په حواله)

مسئله: پښې که پاکې وي، هغه په پښو کول او د جنازې لمونځ کول صحیح دي، خو که هغه پاکې نه وي، نو نه هغه پښو کول او لمونځ کول صحیح دي او نه پر هغو پښې ایښودل او لمونځ کول صحیح دي. خو که یې سرپیرنه برخه پاکه وه خو لاندې تلی یې ناپاک وي، په هغه پښه ایښودل او لمونځ کول صحیح دي. ځمکه که وچه یعنې پاکه وي نو لوڅې پښې ورباندې درېدل صحیح دي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۰ – علم الفقه ج ۱ ص ۱۹۲)

مسئله: که پښې وباسي او پر ځمکه ودرېږي د ځمکې پاکي شرط ده. ځمکه چې وچه شي پاکه ده، چې د ناپاکې اثر ورباندې نه وي. (امدادالاحکام ج ۱ ص ۸۳۳)

پښې پښو کول او د جنازې لمونځ کول

مسئله: ځینې خلک په هغه بوټونو چې پښو کوي یې پښې ږدي او د جنازې لمونځ کوي، دا نه ګوري چې هغه پاک دي او که ناپاکه. خو که بوټونه پښو وي لمونځ کوي نو ضروري ده چې ځمکه او د بوټونو د ننه او لاندې او دواړه اړخونه پاک وي، کنه لمونځ نه کیږي. که له بوټونو پښې کاږي او بیا پښې ورباندې ږدي او لمونځ کوي، نو دا ضروري ده چې د بوټونو پاسنۍ برخه، کومه چې له پښو سره لګیږي

پاکه وي، که څه هم لاندې لوری یې ناپاکه وي او که یې پاسنۍ برخه ناپاکه وي له هغه سره لمونځ نه صحیح کیږي.
(امداد الاحکام ج ۱ ص ۷۴۰)

په عیدګاه کې د جنازې لمونځ کول

مسئله: راجح او صحیح قول دا دی چې عیدګاه یوازې د اقتداء د جواز چې صفوف پکې اتصال ولري، د مسجد حکم لري. نو په عیدګاه کې د جنازې لمونځ د مسجد په څېر منع نه دی.
که له عیدګاه سره بل ځای وي او که نه وي جواز لري. که یې خوا کې عامه لاره وي نو هلته د جنازې لمونځ مکروه ده. همداسې که کومه مځکه د چا ملکیت وي، هلته له اجازې پرته مکروه دی. که کوم ځای د جنازې لپاره ځانګړی وي نو هلته د جنازې لمونځ کول په اتفاق سره غوره دی. د بل په ځمکه کې یې په اجازه د جنازې لمونځ مکروه نه دی. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۲)

مسئله: په عیدګاه کې د جنازې لمونځ جایز دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۱، فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۵، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۶)

د قبر ځمکه په مسجد کې داخلول

پوښتنه: د مسجد د قبلې لورته نژدې شو پخواني قبرونه دي، ایا دا ځای د جماعت لپاره کیدلای شي؟ د قبر ځمکه په مسجد کې داخلول، په دې صورت کې خو د قبر سپکاوی نه دی؟ په لمونځ کولو کې خو خرابي نه راځي؟

ځواب: د قبر ځمکه که د مسجد ملک وي یا چا مسجد ته ورکړې وي او دا بې علامې قبرونه دومره زاړه وي چې دا

يقين وي چې مړي يېنځي خاوري شوي وي ، نو داځاى
دمسجد لپاره كيدلاى شي ، هلته په لمونځ كولو كې څه خبره
نشته ، دلته دمړوسپكاوى هم نه دى .خوكه كومه هديره
وقف وي، دهغې هيڅ برخه هم په مسجد كې شاملېدلاى
نشي. ځيني فقهاوو دداسې هديرې چې بې كاره وي نه اوس
پكې مړي ښخيږي او نه په راتلونكي كې ورته داتوقع وي ، د دې
اجازه وركړې ده چې په مسجد كې وركړه شي . نو دسختې اړتيا
په مهال په دې باندې عمل كول صحت لري.
(فتاوى رحيميه ج ۱ ص ۳۶۸ دشامي او عمدة القاري په حواله)

دجنازې لمونځ تر جمعې ځنډول

پوښتنه :دجمعې په ورځ مړ شوي ،وارث يې دجمعې تر
لمانځه وروسته ښخنوي، وايې دجمعې په ورځ ثواب ډير وي، ايا
داصحيح دى؟
ځواب : يوازې ددې لپاره دمړي ځنډول مكروه دي، مستحب
اوغوره داده چې دهغه په ښخولو كې بيړه وشي؛ كه داسې مهال
ومري چې په ښخولو يې دجمعې لمونځ پاته كيږي دجمعې تر
لمانځه دي وځنډول شي.
(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۳۷۳ ،دطحطاوي ص ۳۳۲ په حواله ،فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۲۶۵)

مسئله : دا رواج دشريعت خلاف دى، ددې لپاره جنازه ځنډول
چې ډير خلك پكې ګډون وكړي دامكروه ده. په جنازه كې په بيړه
كولو دومره تاكيد دى چې په مكروه وختونو كې لا اجازه وركړل
شوې ده. يعني كه مكروه وخت جنازه تياره وه هم دې انتظار
نكوي.تلوار دي كوي چې دا مستحب ده .(فتاوى دارالعلوم ۳۱۹/۵

داختر دلمانځه په مهال دجنازې لمونځ

مسئله :په درمختار (ج ۱ ص ۷۷۵) كې ليكي :داختر
لمونځ دي تر جنازې وړاندې وسي. خو كه خطبه وروسته
وويله شي يا هم لمونځ كيږي،لمونځ وشو.وهم
مكوئ.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۹)

مسئله :دجنازې لمونځ دي تر خطبې هم وروسته وكړي،
دا اسانه ده ، كنه خلك دجنازې تر لمانځه وروسته خطبه نه
اوري.(امداد الاحكام ج ۱ ص ۸۳۳)

مسئله :څرنګه چې ضرورت وي ،هغسې دي وشي.څه
خبره نشته.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۹)

دجنازې لمونځ تر سنتو وروسته كه وړاندې

مسئله : په دې كې اختلاف دى چې دجنازې لمونځ
ترسنتو وروسته وشي كه وړاندې ؟
په دې زمانه كې يې تر سنتو وروسته كول مناسب دي ،
ځكه له دين سره دغفلت غلبه ده ترفرضو وروسته كه خلك
جنازې ته راووزي دسنت دپرېښودلو وېره وي.
(احسن الفتاوى ج ۲ ص ۴۱۸ –فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۶–آپ كې مسائل ج ۳ ص ۱۵۹)

مسئله :لومړى دماسپښين لمونځ له سنتو سره وشي او بيا دې
دجنازې دلمونځ وكړي، داحكم دولي او غير ولي ټولو لپاره دى.
خوكه دڅه ضرورت له امله دجنازې لمونځ وړاندې وكړل شي هم
څه خبره نشته . خو غوره داده چې لومړى دماسپښين لمونځ له
سنتو سره وشي.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۰ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۷۷۵ په حواله)

دجنازې دلمانځه لپاره نفل پرېښودل

پوښتنه: دنفل لمونځ يې کاوو، دجنازې لمونځ پيل شو، د جنازې دلمانځه لپاره نفل پرېښودل کيدلای شي؟

ځواب: که دجنازې لمونځ نه نيول کيده نو نفل دي پرېږدي اما قضايې لازمه ده. (فتاوى رحيميه ج۱ ص۳۶۱، ردمختار ج۱ ص۶۶۶ مع شامي)

مسئله: که مړی ګاونډی يا خپلوان او يا هم صالح شخص وي، ترهديري پورې يې له جنازې سره تلل تر نفلو غوره ده.

(احسن الفتاوى ج۴ ص۲۱۴، ردالمحتار ج۱ ص۸۴۰ په حواله)

ايا دجنازې لمونځ په ټولو حاضرينو ضروري دی؟

مسئله: داصحيح ده چې دجنازې لمونځ به ټول حاضرين کوي، ځکه دالمونځ هم فرض دی، يعنې کفايې فرض؛ چې دځينو په کولو دنورو له ذمې ساقطيږي. خو فرض په ټولو دی. نو ټول حاضرين دي کوي. د بدن او جامو پاکوالی پکې شرط دی. که دچا جامې ناپاکه وي او يا يې اودس نه وي هغه دي نه کوي. (فتاوى دارالعلوم ج۵ ص۳۱۶، دغنية ج۱ ص۵۳۹ په حواله)

مسئله: دجنازې لمونځ کفايې فرض دی. که يې ځينې خلک وکړي، چاچې پکې ګډون کړی نه وي هغه ګنهکار نه دی، خو هغه له ثوابه بې برخې پاته کيږي.

(فتاوى دارالعلوم ج۵ ص۳۲۹، فتاوى محموديه ج۷ ص۳۲۵)

مسئله: که نورو خلکو دجنازې لمونځ وکړاو چاونکړ په هغه مواخذه نشته. خو داضروري نه ده چې يوازې دموزو (بوټونو) دساتلو لپاره چې په ختېنه ځـــــمکه کولويې

خرابيږي، ځان تري ساتي. بيا دې له دې سره احتياط وشي.

(فتاوى دارالعلوم ج۵ ص۳۳۹)

که په جنازه کې ګډون کوونکی لمونځ ونکړي

مسئله: که څوکسان دجنازې لمونځ وکړي نود کفايې والي له امله دټولو له ذمې ساقطيږي. خوثواب يوازې هغوته رسيږي چې لمونځ يې کړي دی. دلمانځه په مهال چې نور کسان دسيل کوونکو په ډول ولاړ وي او په لمانځه کې ګډون نه کوي، ډيره بېغيرتي ده او دمړي دحقوقو او دلمانځه د احترام خلاف کار دی.

(فتاوى محموديه ج۲ ص۳۷۳)

مسافر او دجنازې لمونځ

مسئله: دجنازې لمونځ کفايې فرض دی. که په مړي باندې دجنازې لمونځ وشي، نو مسافر ته دلمانځه سوال نه پيدا کيږي. که لمونځ شوی نه وي نو ښه داده چې مسافريې هم وکړي. که څه ستونزه وي يا يې بېړه وي او نه يې وکړي بيا هم ګنهکار نه دی، همدا سې دښځو لو حال هم دی، يعنې که ورته موقع وه، نو په ښځو لو کې دې ګډون وکړي او که نه هم ګناه نشته. (فتاوى محموديه ج۷ ص۲۱۹)

دقرآن کريم دزده کړې په مهال دجنازې لمونځ

پوښتنه: که کوم ښوونکی دقرآن کريم ښوونه کوله او دجنازې لمونځ تيار شو، نور ښوونکي په جنازه کې حاضر وو، دې ښوونکي ته دا ښه ده چې جنازې ته لاړ شي او که ښوونه وکړي؟

ځواب: که کوم عذر نه وي، نو په جنازه کې دې ګډون
وکړي او که کوم عذر وي او په ښوونه کې لګیا پاته شي هم
کومه خبره نشته. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۰)

په مکروه وخت کې د جنازې لمونځ

مسئله: که جنازه چې د جنازې د لمانځه سبب دی په دریو
(مکروه) وختونو کې حاضره وه، نو د احنافو په نزد به
د جنازې لمونځ نه ځنډوي، غوره داده چې د جنازې لمونځ
وکړل شي، که د جنازې لمونځ تر مکروه وختونو وړاندې
کېدلای شي بیا یې په دغو دریو (مکروه) وختونو کې اداء
کول مکروه دي.

دتوپیر لامل یې دادی چې په لومړي صورت کې وجوب
نیمګړی دی، اداء هم نیمګړې ده.

او په دوهم صورت کې یې وجوب بشپړ دی او اداء یې
نیمګړې ده، له دې امله تحریمي مکروه ده، دځینو فقهاوو
په نزد خو بیخي نه صحیح کیږي. نو اصل په جنازه کې داده
چې ونه ځنډیږي. لکه له حدیث شریف څخه چې معلومیږي.
خو که چیري مانع او خنډ موجود وي، ځنډیدلای شي. لکه په
دوهم صورت کې چې مو یادونه وکړه. یعنې په هغه صورت
کې چې جنازه تر مکروه وخت وړاندې حاضره شوې وي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۴، دمشکوٰة ص ۱۶۱ او ۹۴ په حواله)

مسئله: په حرمینو شریفینو کې د سهار او ماز دیګر تر
لمانځه وروسته سمدستي د جنازې لمونځ کیږي، په هغه کې

باید ګډون وشي، ځکه تر سهار او ماز دیګر وروسته نوافل
او د طواف دوه رکعته کول مکروه دي خو د جنازې لمونځ
جایز دی. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۵۹)

مسئله: د جنازې لمونځ د ماز دیګر او ماښام تر منځ صحیح
دی، کراهت نلري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۵، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۶ په حواله)

مسئله: کوم وختونه چې لمونځونه مطلقاً منع دي، په
هغو وختونو کې د جنازې لمونځ هم منع دی او هغه ممنوع
وختونه دري دي: لمرختل، لمرلویدل او استواء، یعنې د زوال
مهال، که جنازه تیاره شي او دغه وخت راورل شي داوختونه
منع نه دي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۶۸، شامي ج ۱ ص ۲۵۰ په حواله)

مسئله: که د عین استواء په مهال جنازه تیاره شوه، د
جنازې لمونځ یې مکروه نه دی، خو که تر زوال وړاندې
حاضره شوه بیا د استواء په مهال تحریمي مکروه ده.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۴۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۳۸۸ په حواله)

مسئله: دا وخت (زوال، طلوع یا د لمر لویدل) جنازه راغله
نو لمونځ یې کیږي، مکروه نه ده خو که وړاندې راشي او بیا
یې وځنډوي، نو دغه وخت یې کول جایز نه دي، منع دی.
(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۳۷۱، شامي ج ۱ ص ۳۴۷)

مسئله: د شپې مهال د جنازې لمونځ کول صحیح دي،
کراهت نلري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۳)

مسئله: د شپې د مړي خښنول بیشکه صحیح دي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۲)

د جنازې د لمانځه امامت حق د چا دی؟

پوښتنه: دیوه مسجد امام وایې: د جنازې لمونځ له ما پرته بل څوک کولای نشي، ایا دی د مړي تر ولي هم وړاندي دی؟ او دده دادعوه څرنګه ده؟

ځواب: د حنفي مذهب په کتابونو کې د جنازې د لمانځه امامت په دي ترتیب لیکل شوی دی، د جنازې د لمانځه د امامت لپاره تر ټولو لومړی (مسلمان) پاچا دی. څوک موجود ؤ. یا د هغه نائب، بیا قاضي او بیا د مسجد امام او داهم په درمختار کې دي چې د کلي د امام وړاندي والی تر ولي استحبابا دی. یعني که یې د کلي د مسجد د امام په موجودیت کې ولي وکړي هم صحیح ده.

داهم په درمختار او شامي کې دي چې که ولي غوره او افضل و، نو د کلي تر امام د ولي امامت غوره دی. په هر حال د امام دادعوه بالکل غلطه ده.

(فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٣٤٠، الدرالمختار ج ١ ص ٨٢٣، باب صلوة الجنائز ج ١ ص ٥٣٢ په حواله)

مسئله: د کلي امام هغه مهال ډیر حقدار ه دی چې د میت په اولیاوو کې تر ده افضل نه وي. که د میت په اولیاوو کې هغه چې د ولایت حق لري تر امام افضل وي نو ډیر حق د هغه دی او یا به د امامت اجازه ورکوي.

مسئله: که د امام انتخاب د کلیوالو او د مسجد د اهل له لوري په ټولو کې د عالم شخص شوی وي، نو د هغه شرعي اصولو په اساس چې فضیلت دی، تر ټولو د مسجد امام

حقدار دی چې تر ده بل افضل څوک نه وي، څوک د امام انتخاب په قومیت، عصبیت یا د کمې تنخواه له امله شوی وي او د مړي خپلوان تر ې غوره وي، بیا هغه د جنازې د لمانځه حقداره دي.

(فتاوی رحیمیه ج ١ ص ٣٨٢، بحرالرائق ج ٢ ص ١٨٠، او مراقي الفلاح ج ١ ص ٣٤٣ په حواله)

مسئله: که د کلي امام د ولي له اجازې پرته د جنازې لمونځ وکړي، نو که امام تر هغه افضل وي، ولي یې بیا کولای نشي.

(احسن الفتاوی ج ٤ ص ٢٠٧ او کتاب الفقه ج ١ ص ٨٤٤)

مسئله: د میرمنې د جنازې د امامت ډیر حقدار یې پلار دی چې یا یې وکړي او یا چا ته اجازه ورکړي. (فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٣٠٢)

مسئله: دا آتکل بالکل غلط دی چې که سید موجود ؤ بل څوک د جنازې لمونځ کولای نشي، بلکې د سید په موجودیت کې بل د جنازې لمونځ کولای شي. (آپ کې مسائل ج ٣ ص ١٦١)

که په کوم امام پسې څوک عادي لمونځونه نه کوي، په جنازه کې یې امامت

پوښتنه: که څوکسان په کوم امام پسې وختي لمونځونه نه کوي، په همدې امام پسې د دي کسانو د جنازې لمونځ کیږي که نه؟

ځواب: په هغه پسې یې د جنازې لمونځ کیږي، څوک ه د شرعي نیمګړتیاوو او عیبونو له امله په هغه پسې لمونځونه نه کوي، داسې وجه وي چې هغه فاسق وي، نو بیا د هغه امامت په ټولو لمونځونو کې مکروه دی چې د جنازې لمونځ هم پکې راځي. (فتاوی دارالعلوم ج ٥ ص ٣٠٢، ردالمحتار ج ١ ص ٥٢٣ په حواله)

دجنازې لمونځ په مزدورۍ اخستلو جواز لري او که نه؟

پوښتنه : يو چا په ټول عمرکې لمونځ کړې نه وي او روژه يې نيولې نه وي، تر مړينې وروسته يې يوه عالم پيسې واخستلې او دجنازې لمونځ يې وکړ، ايا دا جواز لري که نه؟

ځواب : دداسې چا چې لمونځ نه کوي دجنازې لمونځ کول فرض دي. ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد کوي:

"صلوا على كل بر وفاجر" (شرح فقه اكبر ص ٩١)

(يعني په هر نيک او بد باندې لمونځ وکړئ.)

او دجنازې په لمانځه بدل او فديه اخستل حرام دي، داد اخستونکي ناپوهي ده او ددنيا طمع هغه ړوندکړی دی چې دمسلمانانو دجنازې پر لمانځه باندې اجرت اخلي، الله تعالى دې ورته هدايت وکړي.

(فتاوى دارالعلوم ج ٥ ص ٣٢، ردالمحتار ج ٥ ص ٤٦ كتاب الاجاره په حواله)

مسئله : دمسجد امام يا موذن چې معاش له مسجد څخه اخلي، په هغه کې دجنازې لمونځ کول هم شامل دي که نه دی؟ که وي او له کوم وقف څخه چې دا معاش اخلي په هغه کې هم دداسې شرط ځای وي نو دا مزدوري صحيح ده. يا که دا شخص په ناخاپي ډول دچا دجنازې لمونځ ونکړي نو دهغه اغيز په معاش باندې نسته، خوکه دا عادت وي چې که دجنازې لمونځ ونکړي نو دمعاش مستحق نه کيږي.

(كفايت المفتي ج ٧ ص ١٤٧)

په اجرت باندې دلمانځه حکم

پوښتنه: که څوک په اجوره باندې دجنازې لمونځ وکړي، دجنازې لمونځ يې کيږي که نه؟ کفايي فرض ساقطيږي او که نه؟

ځواب : دجنازې لمونځ اداء کيږي او فرضيت هم له غاړې ساقطيږي خو دجنازې په لمانځه اجرت اخستل معصيت او حرام دي . (فتاوى دارالعلوم ج ٥ ص ٣٦٥، ردالمحتار ج ١ ص ٨٠۴)

مسئله : دجنازې په لمانځه داسې اجرت ورکول او اخستل چې لمونځ وکړي او اجرت واخلي دا ناجايز دی. خوکه څوک دجنازې د لمانځه لپاره مزدور ونيسي او معاش ورته مقرر کړي بيا کومه خبره نشته. (كفايت المفتي ج ٧ ص ١٤٧)

ميرمن دجنازې لمونځ کولای شي؟

مسئله : دا ښکاره ده چې ميرمن دسړي امام کيدلای نشي، خو دجنازې د لمانځه په هکله ليکي : که ميرمن دجنازې په لمانځه کې دسړيو امامت وکړي، که څه هم امامت يې صحي نه دی او دسړيو لمونځ په هغې پسې نه کيږي خو دا چې دهغې خپل لمونځ کيږي نو فرضيت ساقطيږي، ځکه دجنازې لمونځ که يوې ميرمنې وکړ هم فرض کفايي اداء کيږي.

(فتاوى دارالعلوم ج ٥ ص ٢٢٩، ردالمحتار ج ١ ص ٨١٢)

مسئله : په شامي کې له فتح القدير څخه نقل شوی دی چې دجنازې په لمانځه کې يوازې دميرمنو جماعت مکروه نه دی او دجنازې لمونځ اداء کيږي، آن که يوه ميرمن هم د

جنازې لمونځ وکړي ،فرض اداء کیږي او دسړیو په جماعت
کې دمیرمنو حضور مطلقاً مکروه ده.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۷۱ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله)

مسئله :که دجنازې په لمانځه کې دچا ترڅنګ کومه میرمن
ودریدله نو دسړي لمونځ صحیح کیږي، ځکه دجنازې په لمانځه
کې دمیرمنې خواته دریدل مفسد نه دي.(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۶)

مسئله :دجنازې لمونځ به سړي کوي ،میرمنې به یې نه کوي
خو که دجماعت شاته ودریږي ددوی لمونځ هم کیږي.
(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۸)

که سړي نه وو ،ایا میرمنې دې جنازه وکړي؟

پوښتنه :که چیري کوم سړی نه وُ، ایا میـــرمنې دجنازې
لمونځ کولای شي؟ که یې لمونځ صحیح وي نـو میرمنې به
جماعت څرنګه کوي؟

ځواب:میرمنې دې یوازې دجنازې لمونځ وکړي،د جنازې په
لمانځه کې جماعت واجب نه دی، نو ځکه ښه داده چې میرمنې
جماعت ونکړي، بلکې بیل ،بیل لمونځ وکړي خو ټولې دې په یو
وخت کې وکړي، دیوې ترفراغت وروسته دې بله نه پیل کوي
اوجماعت یې هم له کراهت څخه پرته جایز دی. په دې صورت کې
دې امام میرمن دصف په منځ کې ودریږي ،دسړو په څیر دې
دصف مخته نه کوي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۸ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۷۲ په حواله)

درسول الله (صلی الله علیه وسلم) دجنازې لمونځ چا وکړ؟

مسئله :په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دجنازې
لمونځ صحابه کرامو بیل ،بیل وکړ، یوه ډله به حجرې ته

ننوتله او بیل ، بیل به یې لمونځونه وکړل چې هغه به فارغ
شول او رابهر به شول بیا به بله ډله ورغله او په انفرادي توګه
به یې لمونځ وکړ. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۷ ،زرقاني ج ۸ ص ۲۹۲ په حواله)

مسئله :درسول الله صلی الله علیه وسلم دجنازې دلمانځه
امامت چاکړی نه دی،خلکو بیل،بیل لمونځونه وکړل او دا
طریقه ورته ابوبکر (رضی الله عنه) وښودله. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۴)

{له عبدالله بن سعد (رضی الله عنه) څخه په مستدرک دحاکم
(ج ۳ ص ۶۰) کې یو روایت راغلی دی چې یو ځل دمرض
الوفات پـه مهـال رسول الله صـلی الله علیـه وسلم دکورنۍ
غړي دعایشې رضی الله عنها حجرې ته راوغوښتل او څو
نصیحتونه یې ورته وکړل. په پای کې هغوی ورته عرض
وکړ: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! ستاسو تر وفات
وروسته به ستاسو دجنازې لمونځ څوک کوي؟ او څرنګه به
یې کوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وکړ:
"کله چې تاسو راته غسل راکړ، کفن مو راکړ تاسو ټول د
عایشې (رض) له حجرې څخه دڅو شیبو لپاره بهر ووزئ،
لومړی به جبرائیل علیه السلام زما دجنازې لمونځ وکړي ،
بیا میکائیل علیه السلام ،بیا اسرافیل علیه السلام او بیا به
عزرائیل علیه السلام دجنازې لمونځ وکړي (درود او سلام
به وواییې) بیا نوري ملایکې.وروسته تاسو لومړی سړي او
بیا میرمنې ډله ،ډله دننه راشئ او په ماصــــلوٰة او سلام

وواياست ،يا عام مسلمانان سړي او ميرمنې ."

دغسې لومړى اهل بيت (نبوي كورنى) صلوة او سلام وړباندي ووايه يا مهاجرينو ،له دي خلكو سره ابوبكر او عمر (رضی اللہ عنهما) هم ولاړ وو ، درود او سلام يې وړباندي ووايه.}
(البدايه والنهايه ج ٥ ، حاشيه سنن ابن ماجه- محمد فعت قاسمي.}

په شافعي مذهبه امام پسې دجنازې لمونځ

پوښتنه :زيد حنفي مذهبه دی، دجنازې په لمانځه کې يې په شافعي مذهبه امام پسې اقتداء وکړه ، دشوافعو په نزد دجنازې په لمانځه کې پنځه تکبيرونه دي، ايا دحنفي مذهبه اقتداء به دپنځم تکبير هم وي؟

ځواب : دحنفي په شافعي مذهبه پسې اقتداء صحيح ده خو په پنځم تكبير كې دي متابعت نه كوي ،پټه خوله دي ودريږي او له امام سره دي سلام وګرځوي.(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۲، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۸ په حواله ، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۱ ،فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۰۲)

مسئله :که دجنازې په لمانځه کې امام دڅلور تکبيرونو په ځای پنځه تکبيرونه ووايي نو لمونځ کيږي. (البته حنفي مذهبه امام) (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۸ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۷ په حواله)

مسئله :دشافعي مذهبه کسانو دجنازې په لمانځه کې له تکبير سره لاسونه پورته کوئ، دحنفي مذهبه لپاره دجنازې په تکبيراتو کې متابعت کول مستحب کار دی.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۳۳ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱٦ په حواله)

مسئله :په شافعي مذهبه پسې دحنفي مذهبه شخص اقتداء صحيح ده،خو په شيعه امام پسې صحيح نه ده.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳٦۴)

که دشوافعو په مسجد کې دجنازې لمونځ ؤ حنفي به متابعت کوي؟

پوښتنه :دمړي خپلوان شافعي مذهبه دي امام هم دهغه مذهب دی. په مسجد کې پرته له کوم عذر څخه دجنازې لمونځ کوي، احناف به يې متابعت کوي او که نه ؟ که حنفي مذهبه دجنازې لمونځ ونکړي ايا ګنهګاره کيږي؟

ځواب :داچې په جماعت کې حنفي مذهبه هم ګډون کوي، شوافع دي مراعات وکړي او دجنازې لمونځ دي تر مسجد بهر وکړي، خو که داسې ونکړي نو حنفي مذهبه دي مجبوراً پکې ګډون وکړي. هيـــله ده مواخذه وړباندي نه وي او که څوک احتياطاً پکې ګډون ونکړي،داهم پروا نلري.(امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۵)

که دجنازې دلمانځه څوک ونه موندل شي نو بيا؟

پوښتنه :په ځينې كليو كې دجنازې دلمانځه څوک نه وي، له انتظار سره ،سره څوک نه پيدا کيږي، دخرابيدلو له امله مړي له لمانځه پرته دفن کوي، ددي په هکله څه حکم دی؟

ځواب :دجنازې لمونځ کفايې فرض دی،که يې څوتنه وکړي، دټولو غاړې خلاصې دي.خو که يې هيڅوک ونکړي ، ټول دفرضو تارکين ګڼل کيږي او مړی په زيان کې پاته کيږي. نو دجنازې لمونځ زده کول او کول خورا ضروري دی. که هيڅوک هم دجنازې دلمانځه دکولو ونه موندل شي، يو سړی يا ميرمن دي اودس وکړي ،له جنازې سره دې ودريږي، تکبير دي ووايي او لاسونه دي وتړي ،بيا دي نور دري تکبيرونه ووايي .(ټول به څلور تكبيره شي) نو دجنازې لمونځ

کیږي او خلک له ګناه څخه خلاصیږي. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۹۷)

مسئله: که چیرې څوک د جنازې د لمانځه په سم اداء کولو نه پوهیدل، هلته موجود مسلمانان دې د جماعت په شکل ودریږي، څلور تکبیرونه دې یو په بل پسې ووایې، تر هر تکبیر وروسته دې د مغفرت دعا کوي. تر لومړي تکبیر وروسته دې ثناء (سبحانک اللهم) تر دوهم وروسته درود او تر دریم وروسته دې هغه دعا ولولي کومه چې یې زده وي او تر څلورم تکبیر وروسته دې سلام واړوي. (کفایت المفتي ج ۱ ص ۵۵)

په ناسته د جنازې لمونځ کول

پوښتنه: که د مړي ولي ناروغ او کمزوری وي او په ناستو لمونځ وکړي حکم یې څه دی؟

ځواب: پدې صورت کې د جنازې لمونځ صحیح کیږي، دا حکم یوازې د ولي لپاره نه دی، هرچا ته چې د جنازې د لمانځه حق وي د هغه لپاره هم دا حکم دی. (په ناستو دې ناروغ او کمزوری د جنازې لمونځ وکړي یا دې وکړي.)

(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۱۷)

مسئله: د جنازې د لمانځه په مهال که کوم عذر نه وي نو په ناسته او پرسپارلې جایز نه دی. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۶)

د جنازې د لمانځه تر مخ تیریدل

مسئله: د لمانځه تر مخ د تیریدلو ممانعت په عام لمونځونو کې دی، د جنازې په لمانځه کې جواز لري، او د امام په وړاندې جنازه ستره ده او د امام ستره د مقتدیانو لپاره کافي ده.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۹)

د جنازې په لمانځه کې به چیرې ګوري

مسئله: په دې هکله کومه څرګنده جزیه تر سترګو شوې نه ده، د قاعدې غوښتنه دا ده چې د نورو لمونځونو په څیر به د جنازې په لمانځه کې هم د سجدې ځای ته ګوري. د لمانځه په مختلفو ارکانو کې له مختلفو ځایونو ته له کتلو مقصد خشوع او خضوع ده. که یوه ځای ته وکتل شي، توجه یوه لوري ته کیږي. هغه خشوع او خضوع ته معین شوې وي، په قیام، رکوع او سجده کې چې په کومو ځایونو نظر لګوي طبعاً هغه اسانه دی او له طبعي حالت سره برابر دی، له همدې امله تعین شوی هم دی. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۰)

په غیاب کې د جنازې لمونځ

پوښتنه: په غیاب کې د جنازې لمونځ جواز لري او که نه؟ دا چې زید وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حبشې د پاچا نجاشي د جنازې لمونځ په غیاب کې وکړ، ایا د زید دا وینا صحیح ده؟

ځواب: د اعلاء السنن (ج ۸ ص ۱۷۴) له حدیثونو څخه ثابتیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجاشي او معاویه ابن معاویه مزني (رضی الله عنه) د جنازې لمونځونه له لرې څخه داسې وکړل چې د معجزې په توګه د هغوی جنازې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته وړاندې شوې، نو ځکه له دې دواړو پیښو څخه د غایبانه جنازې د کولو استدلال باطل دی.

که فرضاً دا معجزه له حدیث څخه ثابته شوي نه وي ، بیا هم دا پیښي باید په معجزه یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځانګړتیاوو حمل شي، ځکه له :

"وصل علیهم ان صلوتک سکن لهم" سره برابر، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هر صحابي د جنازي په لمانځه حریص ؤ. تر دي چي که به د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لمانځه پرته کوم صحابي دفن کړای شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم به خلک تنبیه کول او پر قبر به یې د جنازي لمونځ کاوو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له لري څخه د ځینو صحابه وو او قراؤ د جنازي لمونځ کړي نه دي. دا ښکاره کوي چي په غیاب کې د جنازي لمونځ صحیح نه دی.

د نجاشي ، معاویه یا نورو لمونځ ،رسول الله صلی الله علیه وسلم د معجزي یا د خپلي ځانګړتیا له کبله کړي دي.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۱ ، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۱ ، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۶ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۳ په حواله)

ایا له نجاشي پرته د بل چا لمونځ هم په غیاب کې شوی دی؟

د جنازي د لمانځه لپاره د مړي حاضریدل ضروري دي ، په غایب باندي لمونځ صحیح نه دي. خو که مړی له لمانځه پرته خښ کړای شي نو په قبر یې تر یوي مودي لمونځ کیدلای شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجاشي د جنازي لمونځ په غیاب کې کړي دی. دا روایت معتبر دی. د حدیث په شرح

کې راغلي دي چي د نجاشي جنازه ورته حاضره کړل شوه او په غیاب کې نه وه. کوم صحابه چي د جنازي په لمانځه کې شریک وو ، هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابع وو.

علامه ابن تیمیه (رح) لیکي: که مړی په کوم ښار کې د جنازي له لمانځه پرته خښ شي، لکه د نجاشي حال چې ؤ، نو په بل ښار کې دي خلک د جنازي لمونځ په غیاب کې وکړي. که د چا د جنازي لمونځ وشي او خښ کړل شي بیا دي د جنازي لمونځ ورباندي نه کوي ځکه فرض د لومړي لمانځه په کولو اداء شو.

ډیر صحابه په لري ،لري ځایونو کې وفات شوي دي ، لکه د بیر معونه په پیښه کې چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحي له امله خبر شو او ورته غم هم ډیر پیښ شو ،خو د هغوی د جنازي لمونځ یې ونکړ.

تر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وروسته، د صحابه وو هم په چا باندي په غیاب کې د جنازي د لمانځه کولو خبره ثابته نه ده.

که دا عمل یو متوارث سنت وای،نو صحابه کرامو به هم ضرور دا کار کړی وای. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۹۵ ،دکبری ص ۵۴۱ په حواله رحیمیه ج ۶ ص ۳۷۲)

مسئله : د حرمینو شریفینو امامان د احمد حنبل (رح) پیروان دي، د هغوی له مسلک سره سم د جنازي لمونځ په غیاب کې کول جایز دي. دا امام ابو حنیفه او مالک (رحمهما) په نزد بیا جواز نلري.

(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۷)

مسئله : د جنازي حضور د جنازي د لمانځه یو شرط دی، که څه هم یوازي له امام سره نژدي وي. (شامي ج ۱ ص ۸۱۳)

دجنازې دلمانځه دامامت ضروري مسائل

مسئله :دسنې مسلمان دجنازې لمونځ قادیاني امام کولای نشي ،ځکه هغه خلک مسلمان نه دي. غیر مسلم ، دمسلمان جنازه کولای نشي،که کوم غیر مسلم دمسلمان دجنازې لمونځ وکړي بیایې دجنازې لمونځ کول فرض دي.که یې له لمانځه پرته خښ کړي ټول مسلمانان ګنهکاردي (آپ کې مسائل ج ۲ ص ۱۶۱)

مسئله :چیري چې دجنازې دلمانځه دکولو څوک نه وي، که دچا دجنازې پوره لمونځ زده نه و، یوازې یو شخص دي اودس وکړي، جنازه دې مخته کښېږدي او څلور ځله دې الله اکبر ووایې، فرض اداء کیږي او بیادې خښ کړي.

(امداد الفتاوی ج ۱ ص ۷۳۶)

مسئله : رافضي که غالي وي چې رفض یې دکفر حدته رسیدلی وي، نو که هغه دچا دجنازې لمونځ یوازې وکړي، کفایې فرض یې نه اداء کیږي، په هغه پسې اقتداء هم سمه نه ده.په ماشوم پسې هم اقتداء صحیح نه ده.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۱ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۴ ، باب الامامة په حواله)

مسئله :دجنازې په لمانځه کې دمیرمنې، خنثی او نابالغ ماشوم امامت صحیح نه دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۱)

مسئله :هلته چې دطاعون ناروغي وي، که بل څوک نه وي چې دجنازې لمونځ ورکړي، ورتګ ضروري دی، خوچې دي پوهیږي ، که ورنشم نو لمونځ نه کیږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۲)

مسئله :که هیڅوک هم دجنازې دلمانځه دکـــولو نه ؤ نو

ټول ګنهګاردي، ځکه دجنازې لمونځ ضروري دی او لږ ترلږه خو چې یو کس دجنازې لمونځ وکړي هم فرضیت اداء کیږي. او کنه بیا ټول ګنه کاردي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۲ ، ردالمحتار باب الامامت ج ۱ ص ۵۲۳ په حواله)

مسئله :که دمړي ولي غیر عالم شخص امام کړ، نو غوره او احتیاطي خبره داده چې لمونځ راونه ګرځوي، داچې دجنازې لمونځ بیاکول دامام ابو حنیفه(رح) په نزد مشروط نه دی، نوله دې امله ډیر احتیاط په دې کې دی چې لمونځ راونه ګرځول شي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۰ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۶ په حواله)

مسئله :که لومړنی لمونځ ولي وکړ یا دهغه په اجازه بل چا وکړ او ولي پکې ؤ ، نو دبل چا لپاره په دې مړي یا یې په قبر بیالمونځ کول صحیح نه دي. خو که ولي یې دجنازې لمونځ کړی نه ؤ ، دهغه دبیا کولو حق شته ، خو چاچې لومړی ځل لمونځ کړی وي، هغوی دې بیاګډون نه کوي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۵۸ ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۶ په حواله)

مسئله :دمیرمنې ولي دهغې پلار یا ورور او نور عصبه دي، میړه یې ولي نه دی.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۷۸)

مسئله :دجنازې دلمانځه لپاره دولي اجازه اخستله کیږي، ترپلار وروسته تر ټولو هلک مقدم دی، په هغوی کې بیا مشر وړاندې دی چې اجازه ورڅخه واخستله شي، هغسې له اجازې پرته هم دجنازې لمونځ اداء کیږي.(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۱)

****

دجنازې دلمانځه فرایض او سنتونه

مسئله : دجنازې په لمانځه کې دوه شیان فرض دي :

۱– څلور ځلې الله اکبر ویل ، دلته هر تکبیر دیوه رکعت په ځای دی.

۲– قیام ، یعنې په ولاړه دجنازې لمونځ کول. داسې لکه دفرض او واجب لمونځونو لپاره چې قیام فرض دی او پرته له عذره په ناستو لمونځ کول جایز نه دي. دلته هم دغسې قیام فرض دی او له عذره پرته یې پریښودل جایز نه دي. رکوع، سجده ،قعده او نور په دې لمانځه کې نشته . (علم الفقه ج ۲ ص ۲۹۳)

دجنازې په لمانځه کې درې شیان سنت دي :

۱– دالله تعالی حمد . ۲– په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) درود ویل .

۳– مړي ته دعا کول . (علم الفقه ج ۲ ص ۲۹۳، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۰)

جماعت په دې لمانځه کې شرط نه دی . که یو شخص هم دجنازې لمونځ وکړي فرض اداء کیږي. که څه هم دا لمونځ کوونکی سړی، میرمن، بالغ او نابالغ وي صحیح دی .خو که یې هیڅوک هم ونکړي ، ټول ګنهکار دي .خو په جنازه کې چې څومره ډیر کسان وي هغومره ښه دي. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۵)

دجنازې دلمانځه لپاره شرایط

مسئله :دجنازې لمونځ فرض کفایي دی، له هغه څخه منکر کافردی، دجنازې لمونځ په حقیقت کې له ارحم الراحمین ذات څخه دمړي لپاره دعاده .

مسئله : دجنازې دلمانځه دوجوب لپاره هغه شرایط دي کوم چې دنورو لمونځونو لپاره دي. دلته یو بل شرط هم ضروري دی. هغه دا چې دې شخص ته به یې دمړینې علم وي ،که ورته دا خبر نه وي، بیا هغه معذور دی ، دجنازې لمونځ ورباندې ضروري نه دی.(ردالمحتار)

دجنازې دلمانځه دصحت لپاره دوه ډوله شرطونه دي:یو هغه چې له لمونځ کوونکو سره اړه لري، هغه دا دی چې دنورو لمونځونو لپاره دي، لکه :

۱– طهارت . ۲– سترعورت . (له نو ترزنګونو پټوالی)

۳– استقبال قبله . ۴– نیت . وخت ددې لپاره شرط نه دی.

دوهم ډول هغه شرایط دي چې له مړي سره اړه لري:

۱– دمړي اسلام ، دکافر او مرتد دجنازې لمونځ صحیح نه دی. مسلمان که څه هم فاسق یا بدعتي وي ، دجنازې لمونځ یې صحیح دی.

۲– دمړي بدن او کفن به له حقیقي او حکمي نجاست څخه پاک وي. که حقیقي نجاست یې له بدن څخه ووزي او له همدې امله یې بدن نجس شي، پروا نلري، لمونځ صحیح دی. (ردالمحتار)

مسئله : که کوم مړی له حکمې نجاست څخه پاک نه وي، یعنې ورته غسل نه وي ورکړل شوی یا دغسل دنه امکان په صورت کې ورته تیمم وهل شوی نه وي، په هغه دجنازې لمونځ کول صحیح نه دی. خو که دهغه پاک کول ممکن نه ؤ

له غسل او تیمم پرته خښ کړای شو او په قبر یې خاورې هم
ولویدلې بیا یې په هغه حالت کې لمونځ جواز لري.

مسئله : که کوم مړي ته غسل نه وو ورکړل شوی یا یې تیمم
نه وو وهل شوی او لمونځ یې وشو او تر خښولو وروسته یې
ورته پام شو چې غسل نه و ورکړل شوی ،بیا دې په قبر باندې
دجنازې لمونځ وکړل شي، ځکه لومړنی لمونځ صحیح نه و،
اوس چې غسل یې ممکن نه دی نو لمونځ یې کیږي.

۳- دمړي بدن به پټ وي، که مړی بالکل لوڅ وي ،نو
دجنازې لمونځ یې صحیح نه دی.

۴- مړی به دلمونځ کوونکو ترمخ وي ، که مړی شاته وي
لمونځ وربانډې صحیح نه دی.

۵- مړی یا هغه شی چې مړي ورباندې ایښودل شوي وي
هغه به په ځمکه وي. که مړی خلکو په لاسونو کې اخستی
وي یا په کوم موټرکې یا په کوم حیوان دپاسه وي او لمونځ
یې وشي ،دانه صحیح کیږي.

۶- مړی به هلته موجود وي، که هلته موجود نه وي، لمونځ
نه صحیح کیږي.

۷- مړی چې چیرې ایښودل کیږي دهغه ځای پاکوالی شرط نه
دی.(علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۳ ، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۱۰)

۸- دجنازې په لمانځه کې جماعت شرط نه دی، که یو کس
هم دجنازې لمونځ وکړي ، فرض اداء کیږي. که هغه سړی وي

که میرمن ، که بالغ وي او یا هم نابالغ وي. خو دلته ډلې او
جماعت ته اړتیا ده ځکه دامړي لره دعاده ، که څو کسان سره
راغونډ شي، دخه شي لپاره دعا وکړي، هغه یو عجیب
خاصیت لري چې درحمت دنزول او دقبول سبب ګرځي.
(علم الفقه ج ۱ ص ۲۹۴ ،کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۰)

دجنازې په لمانځه کې دصفونو طریقه

مسئله : دجنازې په صفونو کې د ډیرواټن پرېښودلو ته
اړتیا نشته ، نژدې، نژدې صفونه دریدل دي .(په دې کې
سجده نشته چې ډیر واټن وغواړي) .(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۶)
او په مابین کې فاصله پرېښودل مکروه دي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۹۹ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۵۳۱ په حواله)

مسئله :داسې مشهوره ده چې دجنازې په لمانځه کې
دصفونو ترمنځ دیوې سجدې په اندازه فاصله پاته کیږي،
داغلطه ده ، څه اصل نلري. دې ته څه ضرورت نشته . (داچې
سجده پکې نشته نو ځای پرېښودلو ته یې څه اړتیا ده .)
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۸۹)

مسئله :دجنازې په لمانځه کې دا مستحب دی چې حاضر
کسان (که کم وو) په دریو صفونو کې ودریږي ، آن که یوازې
اوه کسان وي، یو دې امام شي ، په لومړي صف کې دې درې
کسان ودریږي ، په دوهم کې دوه او په دریم کې دې یو تن
ودریږي.(علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۵ ، ردالمحتار ج ۱ او کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۲ په حواله)
ددې مستحب والی وجه داده چې په یوه صحیح حدیث کې

له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه رانقل شوي دي چې په کوم مړي دري صفونه دجنازې لمونځ وشي، هغه بخښل کیږي.
(ابوداود)

داچې په جنازه کې څومره زیات افراد وي هغومره ښه ده ځکه دادمړي لپاره دعا ده او چې څو مسلمانان سره راغونډ شي دالله تعالی په دربارکې دعا وکړي، درحمت دنزول او دقبول لپاره عجیبه ځانګړتیا لري. خو دجنازې په لمانځه کې ددې لپاره ځنډ کول چې خلک ډیر شي مکروه ده.
(محمدرفعت قاسمي)

له عایشه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وکړ: په کوم مړي چې دمسلمانانو یوه ستره ډله چې شمیر یې سلو تنو ته ورسیږي دجنازې لمونځ وکړي، ټول دالله تعالی حضورته دهغه سپارښتنه وکړي یعنې دمغفرت او رحمت دعا ورته وکړي، دهغوی دعا ضرور قبلیږي. (معارف الحدیث ج ۳ ص ۴۸۰)

دمالک بن هبیره رضی الله عنه داعادت و چې کله به یې دلمونځ کوونکو شمیر کم ولید، دهمدې حدیث له وجه به یې هغه کسان دري صفه کول. (احکام میت ص ۸۲)

دجنازې دلمانځه نیت

پوښتنه: دجنازې په لمانځه کې به امام دمقتدي نیت کوي، که نه؟ نیت کول په ژبه ویل ضروري دي، که نه؟ که چاته

معلوم نه و چې مړی سړی دی که میرمن نو په دې صورت کې به نیت څرنګه کوي؟

ځواب: امام ته دمقتدي دنیت کولو ضرورت نشته، نه نیت ویل په ژبه ضروري دي، بلکې په نیت کې دزړه قصد ته اعتبار دی او په ژبه ویل یې مستحب دی. که مړی معلوم نه و چې سړی دی او که ښځه، داسې نیت دې کوي چې په کوم مړي امام دجنازې لمونځ کوي زه هم له امام سره په هغه مړي لمونځ کوم. که یې تعین ونکړي هسې دجنازې دلمانځه نیت وکړي هم صحیح دی.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۸۹، دتنویر ص ۴۳۱ په حواله او کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۳۴)

که څوک وروسته په لمانځه کې شریک شو، څرنګه نیت به کوي؟

پوښتنه: دجنازې لمونځ ودرید، یو سړی وروسته راورسید او دجنازې په لمانځه کې شریک شو، داورته نه معلومیږي چې جنازه دچا ده، ایا مړی سړی دی، ښځه ده او که ماشوم، په دې صورت کې به هغه څرنګه نیت کوي او څه به وایې؟

ځواب: دسړي او ښځې لپاره دجنازې په لمانځه کې دعاء یو ډول ده، دماشوم او ماشومې ددعا لپاره الفاظ سره بیل دي، که دماشوم دجنازې په لمانځه کې هم دبالغ دعا وویله شي، صحیح ده. نو که څوک وروسته پکې ګډون کوي او ورته معلومات نه و فقط دجنازې دلمانځه نیت دې کوي او دبالغانو دعا دې وایې. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۳)

مسئله: د ماشوم په جنازه کې که څوک وروسته شریک شي ورته معلومات نه وي چې دا ماشوم هلک دی که نجلۍ، نو **اللهم اجلعه لنا فرطا** د مذکر په ضمیر دعا دې ووایې ځکه دشخص به تاویل د مؤنث لورته هم راجع کیږي او که یې دمؤنث په ضمیر ووایې هم صحیح دی ځکه هغه د نفس په تاویل صحیح ده. (یعني دواړه ډوله یې ویلای شي)

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۰، دهدایه ج ۱ ص ۱۶۳ په حواله)

که څوک وروسته ګډون وکړي، لموځ به څرنګه بشپړ کوي؟

پوښتنه: که څوک وروسته جنازې ته ورسید، تیر شوي تکبیرونه به څرنګه پوره کوي؟

ځواب: مقتدي چې هر وخت راورسیږي تکبیر دې ووایې او له امام سره دې ګډون کوي، که څه هم امام څلورم تکبیر ویلی وي، خو سلام یې ګرځولی نه وي، نور تکبیرونه دې دامام تر فراغت وروسته ووایې. که دګډون په مهال پوه شو چې کوم تکبیر دی، نو بیا دې دهغه دعا ووایې کومه چې امام یې وایې او پاته شویو تکبیرونو کې دې پاته شوې دعا وې په ترتیب سره ووایې.

که پوه نه شو چې امام په کوم تکبیر کې دی، نو دلومړي تکبیر دعا یعني ثناء دې ووایې، بیا دې په ترتیب سره نورې ووایې. په پاته شویو تکبیرونو کې که د جنازې د پورته کیدلو ویره وي، دعا دې نه وایې. فقط تکبیرونه دې ووایې.

که جنازه پورته شوه نو لا ځمکې ته نژدې وه نو تکبیرونه دې ووایې او که د خلکو اوږو ته نژدې وه، بیا دې تکبیرونه نه وایې، لمونځ نه صحیح کیږي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۱، آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۵)

مسئله: څوک چې د جنازې په لمانځه کې وروسته ګډون وکړي، هغه دې دامام تر فراغت وروسته تکبیرونه ووایې. که د جنازې د اخستلو ویره وه چې ډیر د غسې کیږي دعا دې نه وایې.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۰، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۰ په حواله، علم الفقه ج ۲ ص ۱۱۷)

د جنازې په لمانځه کې دکمو یا زیاتو تکبیرونو حکم

مسئله: د جنازې په لمانځه کې که امام تر څلورو تکبیرونو زیات ووایې، مقتدي دې په زیاتو تکبیرونو کې متابعت نه کوي، د سلام ګرځولو انتظار دې وباسي، په دې صورت کې د ټولو لمونځونه صحیح کیږي. که تر څلور تکبیرونو کم ووایې نو د ټولو لمونځونه باطل دي، خو دا په هغه شرط چې په قصدي توګه یې کم ووایې، که تکبیر سهواً پاته شي نو د دې حکم دا دی لکه پوره یو رکعت چې پاته شي، خو دلته سجده سهو نشته. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۲۲۳، علم الفقه ج ۱ ص ۲۰۷)

مسئله: که د چا د جنازې په لمانځه کې څلورم تکبیر هیر شو، یوه لوري ته یې سلام واړاوو او ورته یاد شول نو څلورم تکبیر دې ووایې او بیا دې سلام وګرځوي.

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۲۳، فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۱)

مسئله: په دریو تکبیرونو د جنازې لمونځ ختمول، لمونځ فاسدیږي خو په پنځو تکبیرونو ختمولو نه فاسدیږي.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۶۷، د طحطاوي ص ۳۲۲ په حواله)

دجنازې دلمانځه لپاره تیمم کول

مسئله: که دجنازې دلمانځه دتیریدلو ویره وه بیا د تیمم وهلو جواز شته، مثلاً لمونځ ولاړ دی او په اودس کولو دلمانځه دتیریدلو ویره وه نو تیمم دي وکړي او لمونځ دي ونیسي. که څه هم اوبه وي، دادنورو لمونځونو په خلاف ده چې وخت هم تیریږي خو په اوبو باندې قدرت وي، تیمم جواز نلري. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۲)

له اودس پرته دجنازې لمونځ

مسئله: داغلطه خبره ده چې دجنازې لمونځ له اودس پرته جایز دی، له اوداسه یا تیمم پرته دجنازې لمونځ کول کبیره ګناه ده. خو که امام ولاړ وا او یو څوک راغی او دا ودس په کولو لمونځ تري تیریده او تیمم وکړي په لمانځه ورسره ودریږي، جواز لري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۳۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۲۲۳ باب التیمم په حواله)

مسئله: که داویره وه چې دا ودس په کولو دجنازې لمونځ تیریږي، تیمم دي ووهي په لمانځه دي ودریږي. خو داتیمم یوازې دجنازې لپاره دی، نور لمونځونه په دې تیمم باندې جواز نلري، بلکې اودس کول ورته ضروري دي.
(آپ کې مسائل ج ۳ ص ۳۷۱)

مسئله: که دجنازې دلمانځه لپاره اودس وکړي، نور لمونځونه ورباندې صحیح دي.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۴، فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۷۱)

د ډیرو جنازو یوځای لمونځ کول

مسئله: د څو جنازو لمونځ یوځای کول هم جواز لري، په دې دریو صورتونو کې چې هریو غوره کوي:

لومړی صورت دادی چې جسدونه داسې کښیږدي چې دیوه له پښو سره دبل سر وي.

دوهم صورت یې دادی چې جسدونه دیوه او بل ترڅنګ داسې کښیږدي چې دیوه له اوږې سره دبل سر وي او دغسې دیوې زینې شکل تري جوړ سي.

دریم صورت یې دادی چې وړاندې وروسته یې سره کښیږدي او دټولو سینې دامام په مقابل کې وي.

په وروستنیو دوو صورتونو کې به امام ته نژدې سړی وي بیا وریسې نابالغ ماشوم، وریسې خنثی بیا میرمن او بیا نابالغه ماشومه.

په لومړي صورت کې چې دصف په صورت وي، امام دي له افضل او غوره سره نژدې ودریږي. (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۸۲۶، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲ په حواله، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۸، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۸، کفایت المفتي ج ۴ ص ۷۵۰)

مسئله: که (خدای مکړه) څو جنازې یوځای وي، دهغو یوځای لمونځ کیدلای شي او په دې کې څه خبره نشته. دټولو دجنازې لمونځ اداء کیږي او دجنازې په لمانځه کې اللهم اغفرلي لحینا ... تر پایه دسړو، ښځو او ماشومانو لپاره ویله کیږي. په دې صورت کې غوره او افضل دادی چې دهر یوه دجنازې لمونځ بیل، بیل وشي، کوم مړی چې غوره او

ښه دي اول او بیا په ترتیب سره څوک چې افضل دی ، وشي .

مسئله : که د ټولو د جنازې لمونځ یوځای کیږي ، د ټولو نیت دي وکړي او غوره طریقه داده چې د امام مخته ټول داسې کښېښودل شي چې امام د هغو د سینو په برابر ودریږي. لومړی د سړي بیاد نابالغ ماشوم بیا د میرمنې بیا د نابالغې ماشومې جنازې کښېښودلې شي. که په دې جنازو کې د خنثی جنازه هم وي نو د میرمنې تر جنازې دي وړاندې کښېښودله شي، بیادي د میرمنې جنازه وي. امام دي تر ټولو له غوره سره ودریږي. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۹۸ ، نورالایضاح ص ۱۲۷ په حواله)

مسئله : د مړو په زیاتوالي کې چې عامه وبا وي په جواز عمل کیږي یعني یوځل د ټولو د جنازو د لمانځه په کولو کې کومه خبره نشته . (امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۲۸ ، فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۰۰، علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۶ – فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۸)

د جنازې په ډله ایز لمانځه کې کومه دعا ویله کیږي؟

پوښتنه : په حرمینو شریفینو کې دلویو او وړو جنازه یوځای کیږي، په دې صورت کې کومه دعا ویله کیږي ؟

ځواب: په ډله ایز لمانځه کې هغه دعا ویله کیږي کومه چې د لویانو د جنازې په لمانځه کې ویله کیږي. په دې کې ماشوم هم راځي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۳)

مسئله : د بالغ سړي او ښځې په دعا کې توپیر نشته ، یو ډول ده.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۲ ، غنیة ج ۱ ص ۵۲۹)

د سړي څو ځلې د جنازې لمونځ

پوښتنه : د یوه مړي د جنازې لمونځ دوه ، درې ځلې کول څرنګه دي؟

ځواب : که د جنازې لمونځ داسې څوک وکړي چې د هغه حق وي بیا یې نور بیرته کولای نشي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۳ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۶ په حواله)

مسئله : که د مړي ولي د جنازې لمونځ وکړي، نو د جنازې لمونځ بیا نه کیږي، خو که هغه ونکړ بیا کیږي او په دوهم ځلي کې هغه کسان ګډون کولای شي چې لومړی یې کړی نه وي.

(آپ کې مسئله ج ۳ ص ۱۹۷)

مسئله : که لومړی ځل ولي د جنازې لمونځ ونکړ او نه د هغه په اجازه شوی و ، داسې چا کړی وي چې د تقدم حق یې نه درلود. نو ولي یې بیا کولای شوای. خو که ولي لومړی لمونځ کړي او یا ورکړي و ، بیا نورو ته اجازه نشته چې مکرر (دوهم ځل) یې لمونځ وکړي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۸۲۹)

مسئله : که د ولي له اجازې پرته لمونځ شوی وي نو ولي ته د اعادې (راګرځولو) حق شته خو په دې صورت کې هغه چا ته چې لومړی یې د جنازې لمونځ کړي وي د بیا لمانځه حق نشته.

په حمزه رضی الله عنه باندې په تکرار سره لمونځ کول د هغه ځانګړتیا وه ، هرځل له نورو شهیدانو سره یې ایښودلو کې یې دده لمونځ مقصود نه و ، بلکې د لمانځه د ځـای او نورو

صالحانو دجوار دبرکت لپاره ایښودل کیده.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۳ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۶ په حواله ، اعلاء السنن ج ۸ ص ۲۱۸)

مسئله :په حمزه رضی الله عنه باندې لمونځ په تکرار سره سوی نه دی، یوځل یې دجنازې لمونځ وسو، بیا دنورو شهیدانو ؤ، خو دحمزه (رضی الله عنه) جنازه به ورسره ایښودله کیدله، همدا ورسره ایښودل یې راوي په اویا وو لمونځونو تعبیر کړی دی اوله لمانځه څخه مطلب تکبیر دی.

درسول الله صلی الله علیه وسلم دجنازې دلمانځه تکرار، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ځانګړتیا وه. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۱)

ایا دجنازې دوهم ځلي لمونځ کول ګناه ده؟

پوښتنه :په یوه کلي کې دجنازې لمونځ وسو، کله چې بل کلي ته یې یووړه چیرې دمړي دخپلوانو هستوګنه وه، هلته مسلمانانو دخواخوږي لپاره بیا دجنازې لمونځ ورباندې وکړ، لومړی جنازه یې ولي وکړه، نودبیا جنازه کوونکو ګناه شته کنه؟ که ګناه وي بیا به صغیره وي اوکه کبیره؟

ځواب :دجنازې لمونځ بیا کول غیر مشروع او ناجایز دی. څرګنده ده چې دغیر مشروع او حرام مرتکب ګنهکار دی. دثواب مستحق نه دی او حرام فعل کبیره ګناه ده.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۹ دعالمګیري مصري ج ۱ ص ۱۵۳ په حواله)

مسئله : که دجنازې لمونځ دولي په اجازه په جماعت سره وشو، بیانکیږي. خو لومړی ځل که پرته له جماعته شوی وي نوترخښولو وړاندې یې بیا کول مستحب دي. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۹)

دجنازې لمونځ څه وخت مشروع شو؟

مسئله :له طحطاوي علي مراقي الفلاح (ص ۳۳۸) څخه معلومیږي چې دجنازې دلمانځه دمشروعیت په هکله دوه قوله دي: لومړی دا چې دجنازې لمونځ ددې امت ځانګړتیا ده او دخدیجې (رضی الله عنها) تروفات وروسته مشروع شوی دی.

دوهم قول دادی چې په آدم علیه السلام باندې ملایکو دجنازې لمونځ وکړ او نورو ته هم دغسې مقرر شو.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۳۲)

دجنازې په لمانځه کې امام چیرې دریږي؟

مسئله :سنت داده چې دامام ترمخ جنازه داسې کښیښودله شي چې سریې دامام ښي او پښې یې چپ لورته وي. ددې په خلاف بده ده. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۴۶)

مسئله :مستحب دي چې امام دمړي سینې ته مخامخ ودریږي، مړی که سړی وي او که میرمن، که بالغ وي او که نابالغ، فرق نکوي. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۲)

مسئله : دزیلعي د ۲۴۲ مخ له عبارت څخه معلومیږي چې امام دې دمړي دسر یا پښو لوري ته نه دریږي، سینې ته دې برابر ودریږي. په روایت کې چې راغلي دي چې مړی یې وړاندې کښیښود او رسول الله صلی الله علیه وسلم ودرید لمونځ یې وکړ، ددې مطلب همدا دی. ځکه سر او لاسونه ترسینه لوړ دي، ګیډه او پښې ترې لاندې دي نو سینه په وسط (منځ) کې ده اوبله خبره داده چې سینه دایمان، حکمت

او علم ځای دی، له دې امله سینه فوقیت لري او داسې کول مستحب دي.

که د ځنګونو یا اوږو برابر هم ورته ودریږي، لمونځ صحیح کیږي، خو د مړي له یوې برخې سره برابر دریدل د جنازې د صحت لپاره شرط دی. که د مړي کومه برخه د امام په وړاندې نه وي، بیا د جنازې لمونځ صحیح نه دی.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۴۶ – علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۴)

د جنازې د لمانځه طریقه

د جنازې د لمانځه مسنون او مستحب طریقه داده چې مړي مخته کښیږدي، امام یې د سینې په برابر ودریږي او خلک د امام ترشا ودریږي، داسې نیت وکړي:

نَوَیْتُ اَن اُصَلِّيَ صلوة الجنازة لله تعالی ودَعَاء للمیت.

(ما نیت کړی چې د جنازې لمونځ وکړم چې د الله تعالی لمونځ دی او مړي ته دعا ده.)

دا نیت په عربي یا خپله مورنۍ ژبه وي او دواړه لاسونه د تحریمې د تکبیر په څیر تر غوږونو لوړ کړي، یو ځل الله اکبر ووایي. دواړه لاسونه د لمانځه په څیر وتړي او تر همدې لومړي تکبیر وروسته، سبحانک اللهم، تر اخره ووایي. بیا دوهم ځل الله اکبر ووایي، خو دا ځل لاسونه، او چت نکړي، په لمانځه کښې چې درود ویل کیږي هغه درود شریف ووایي. دریم تکبیر وویل شي، لاس او چت نشي او مړي ته دعا وشي.

که مړی بالغ سړی یا ښځه وي، دا دعا ووایي:

اللهم اغفر لحینا ومیتنا وشاهدنا وغائبنا وصغیرنا وکبیرنا وذکرنا وانثانا. اللهم من احییته منا فاحیه علی الاسلام و من توفیته منا فتوفه علی الایمان.

په ځینو حدیثونو کې نورې دعاوې هم راغلي دي او فقهاوو رانقل کړي دي، که دواړه دعاوې ووایې هم ښه ده. کومه دعا چې غواړې هغه دې ووایې. که مړی نابالغ ماشوم وي نو دا دعا دې ووایې:

اللهم اجعله لنا فرطا وجعله لنا اجراوذخرا وجعله لنا شافعا ومشفعا.

او که مړی نابالغه ماشومه وي، هم دا دعا ویله کیږي خو د "اجعله" په ځای "اجعلها" او د "شافعا" او "مشفعاً" په ځای "شافعة" و "مشفعة" ووایي.

کله چې دا دعا ووایي نو څلورم تکبیر وویل شي، لاسونه او چت نسي او سلام واړول شي. داسې لکه چې په لمانځه کې اړول کیږي. په دې لمانځه کې التحیات او د قرآن کریم قرائت او نور څه نشته، مقتدي هم هغه څه وایي کوم چې امام یې وایي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۸، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۶ په حواله، احکام میت ص ۷۲، آپ کي مسائل ج ۳ ص ۱۶۲، کتاب الفقه ج ۱ ص ۷۳۷، ترمذي ج ۱ ص ۱۹۸)

مسئله: د جنازې د لمانځه له هر تکبیر سره، سر د آسمان لور ته نه پورته کیږي. (آپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۴ – علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۴)

دجنازې دلمانځه سلام ورو اوکه په زوره ؟

مسئله : دجنازې دلمانځه دسلام په هکله دري قولونه دي :

۱- دواړه لورو ته سلام ورو ويل کيږي.

۲- يو لورته په زوره او بل لورته ورو ويل کيږي .

۳- دواړه په لوړغږ.

په اصل کې لومړی صورت يعني دواړو لورو ته ورو ويل غوره دي. دريم صورت يعني امام دواړو لورو ته سلام په زوره وايې ، دعام تعامل له امله په هغه فضيلت لري . که لومړنی صورت غوره شي ،په عوامو کې فتنه او ګډوډي پيدا کوي نو هغه دي نه غوره کوي.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۵ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۷ په حواله)

مسئله : دجنازې په لمانځه کې دواړو لورو ته سلام اړول واجب دی ، نو يوه لورته سلام جايز نه دی.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۸ ، طحطاوي ۳۲۰ په حواله)

مسئله :دجنازې په لمانځه کې تر ځلورم تکبير وروسته او تر سلام وړاندي کومه دعا نشته .

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۰ ،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۷ په حواله)

له سلام سره لاسونه خلاص وي اوکه بند ؟

مسئله : دجنازې په لمانځه کې تر ځلورم تکبير وروسته به لاسونه بند وي او سلا م به اړوي . دادي هم څرګنده وي چې تر هر تکبير وروسته ذکر مسنون دی. تر لومړي تکبير وروسته ثناء تر دوهم وروسته درود شريف، تر دريم وروسته دعا اوترځلورم وروسته سلام دی . داهريو مسنون ذکر دی.

تر ځلورم تکبير وروسته دذکر په مشروعيت کې خبره نشته که خلاف وي، هغه ددعا په مشروعيت کې ده . ذکرعام دی چې سلام هم پکې شامل دی.فقها دجنازې په لمانځه کې وضع يعني لاس نه خلاصول دمسنون بللو لپاره کافي دي ، له تصريح پرته دهغه خلاف کول صحيح نه ښکاري.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۴ ،شامي ج ۱ ص ۴۵۵ په حواله، امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۲۸ په حواله)

مسئله :دجنازې دلمانځه دځلورم تکبير ويل او سلام ګرځول دواړه دوله صحيح دي . که لاس خلاص کړي او سلام واړوي اوکه سلام وګرځوي او لاس خلاص کړي.

(کفايت المفتي ج ۴ ص ۹۶- احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۷ ، فتاوی محموديه ج ۲ ص ۳۶۸)

مسئله : دجنازې په لمانځه کې بسلام اړول دسلفو او خلفو معمول پاته شوی دی او دسلام اړولو دثبوت په اړه په کنز العمال کې دري روايتونه راغلي دي.(کفايت المفتي ج ۴ ص ۹۹)

مسئله :دجنازې لمونځ دامام او مقتدي په هکله يو ډول دي ،يوازې دومره توپير لري چي امام تکبير او سلام په زوره وايې او مقتديان يې ورو وايي .نور شيان يعني ثناء ، درود اودعا مقتدي هم ورو وايي او امام هم.(علم الفقه ج ۱ ص ۱۹۵)

مسئله :دجنازې په لمانځه کې دوه ځله سلام ويل کيږي ، لومړی ښي اوبيا کيڼ لوري ته .

په ښي لوركې دښي خوا دخلکو نيت کيږي اوكيڼ لوري ته دکيڼې خوا دخلکو نيت کيږي خو دمړي نيت په يوه کې هم نه کيږي.(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۳۳)

که دجنازې په لمانځه کې سلام هیر سو؟

پوښتنه: دجنازې په لمانځه کې ترڅلورم تکبیر وروسته امام سلام اړول هیر سول، نو ایا لمونځ کیږي که نه؟

ځواب: دجنازې په لمانځه کې سلام فرض نه دی، واجب دی، په عامو لمونځونو کې دواجب په پرېښودلو سره دسهو سجده کیږي. خو دجنازې په لمانځه کې دسهو سجده نشته نوځکه لمونځ صحیح کیږي، راګرځول یې واجب نه دي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۹، طحطاوي ج ۱ ص ۳۲۱ په حواله)

مسئله: دجنازې په لمانځه کې سلام واجب دی، لکه په نورو لمونځونو کې چې واجب دی، نو که سلام پاتې سي لمونځ نه باطلیږي. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۰)

مسئله: دجنازې په لمانځه کې که له تر څلورم تکبیر څخه پرته سلام وګرځوي خو وروسته ورته یاد شي او څلورم تکبیر ووایې او امام بیا سلام وګرځوي په دې صورت کې لمونځ وسو. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۵، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۳ په حواله، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۰، مراقي الفلاح ص ۳۲۱ په حواله)

مسئله: که دجنازې په لمانځه کې امام تر درېو تکبیرونو وروسته سلام واړوي، بیا دفتح په ورکولو سره څلورم تکبیر ووایې، لمونځ پوره کړي صحیح دی او دلمانځه دراګرځولو ضرورت نشته. که دري تکبیرونه څلور وګڼي او سلام واړوي، داسهو بلل کیږي او که پوه وي او په دې باور تر درېو تکبیرونو وروسته سلام واړوي چې دجنازې په لمانځه کې

دري تکبیرونه دي، دا سلام قصدي بلل کیږي او لمونځ فاسدیږي. (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۴۲۱، درمختار مع شامي ج ۱ ص ۷۰۵، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۶)

دجنازې تر لمانځه وروسته دعا کول

پوښتنه: دجنازې تر لمانځه وروسته په ولاړه، مستقل دمړي لپاره دمغفرت دعا کول څرنګه دي؟

ځواب: دجنازې لمونځ په خپله دعا ده او مړي ته دمغفرت دعا پکې اصل دي، ترلمانځه وروسته درېدل او دعا کول ثابت نه دي، بلکې دفقه په کتابونو کې ورڅخه منع شوې ده.
لایقوم بالدعاء بعد الصلوة الجنازه.
(خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۵۲۵، فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۰۷)

مسئله: دجنازې تر لمانځه وروسته لاسونه پورته کول او دعا کول په شریعت کې کوم ثبوت نلري. لمونځ په خپله دعا ده، هو که په زړه کې له لاس پورته کولو پرته دعا کوي، جواز لري. دله ایزه دعا کول، لاس پورته کول بدعت دی.
(کفایت المفتي ج ۴ ص ۸۵)

مسئله: له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او صحابه وو (رضی الله عنهم) څخه ثابته نه ده، ځکه یې فقها ناجایزه او مکروه ګڼي.
(احسن الفتاوی ج ۱ ص ۲۳۶، رحیمیه ج ۱ ص ۳۵۷)

مسئله: فقهاوو دجنازې تر لمانځه وروسته بیا دعا کول مکروه او ممنوع لیکلي ده ځکه دجنازې لمونځ پخپله دمړي لپاره دعا ده. پکې دزیاتوالي اړتیا نشته. تر لمانځه وروسته دا التزام چې دري، دري ځله داخلاص سورة ولولي او ثواب یې مړي ته وبښي، ښه نه دي. بل وخت په خپل زړه کې پرته له

اعلان او التزام څخه که کوم سورت وویل شي، کومه خبره پکې نشته. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۴۲، مرقات المفاتیح ج ۱ ص ۳۶۹، فتح الباري ج ۱ ص ۱۲۲)

تر لمانځه وروسته د امام په جامه څه نښه ولیدله شوه

پوښتنه: یو څوک امام ؤ او د جنازې لمونځ یې ورکړ وروسته یې په جامه څه نښه ولیدله شوه چې غسل ته یې اړتیا وه، د جنازې لمونځ صحیح شو او که به بیا په قبر کیږي؟

ځواب: په دې صورت کې لمونځ نه دی شوی، بیا به یې کوي، که خښ شوی وي په قبر باندې به یې کوي. یعني د مړي تر خرابیدلو وړاندې، څینو تر دریو ورځو پورې حکم ورکړی دی. په دې معنی چې تر دریو ورځو پورې په قبر لمونځ کیدلای شي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۸)

مسئله: امام د جنازې لمونځ ورکړ، بیا څو قدمه ولاړ، معلومه شوه چې په ذکر یې د بولو څاڅکې راغلل، په دې اشتباه لمونځ نه خرابیږي، شوی لمونځ صحیح دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۰۳)

په هیره یې بې اودسه لمونځ وکړ؟

پوښتنه: امام په سهوه سره بې اودسه لمونځ وکړ، د جنازې تر وړلو وروسته ورته یاد شول چې اودس یې نه ؤ، په داسې حال کې څه حکم دی؟

ځواب: په دې صورت کې د جنازې لمونځ شوی نه دی، په درمختار کې راځي چې که امام بې اودسه او قوم اودس درلود لمونځ به راګرځي. نو دا د جنازې لمونځ به بیا کوي او

که مړی دفن شوی وي تر هغه لمونځ ورباندې لازم دی تر څو مړی خراب شوی او شړیدلی نه وي. یعني ورباندې د غسې ګمان نه وي، څینو فقهاوو دا موده درې ورځې ښودلې ده. که دا موده تیره شوه بیا هیڅ کیدلای نشي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۶، باب الجنایز په حواله)

که د جنازې په لمانځه کې د دعا په ځای سورت وویل شي

پوښتنه: یوه سړي د جنازې لمونځ ورکړ، د دعا په ځای یې: "قل هو الله" او "انا اعطینا" د جنازې په لمانځه کې وویل، د دې حکم څه دی؟ ایا لمونځ وشو او که ونه شو؟

ځواب: په دې صورت کې لمونځ وشو، خو ده بد وکړل ځکه د جنازې په لمانځه کې د قرآن کریم ایاتونه یا سورتونه ویل مکروه دي، له فاتحې پرته چې اختلاف پکې دی، په بیا کې دې دا شخص نه امام کیږي، ورته لازمه ده چې ثنا او دعا یاد کړي، که څه هم کومه سزا ورته نشته.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۸، د عالمګیري مصري ج ۱ ص ۱۵۴ په حواله)

مسئله: فقهاوو دا لیکلي دي چې که د دعا په نیت فاتحه د جنازې په لمانځه کې وویله شي صحیح ده او دا مطلب عالمګیري د روایت دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۲۶، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۴۰)

که یې جنازه سرچپه ایښې وه؟

پوښتنه: په غلطۍ سره یې د جنازې د لمانځه په مهال جنا سرچپه ایښې وه، کوم لورته چې یې سر ایښودل کیږي ه لورته یې پښې کړې وي، د جنازې تر لمانځه وروسته معلو

شوه. ایا دجنازې لمونځ وشو؟ لمونځ بیرته راوګرځول شي؟

ځواب: که پوهیږي او جنازه چپه ږدي دامکروه ده. که په هیره داسي وشي څه خبره نشته دلمانځه دراګرځولو یې اړتیا نشته. (فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۰، درمختار او طحطاوي ص ۵۹۳، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۹، دردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۳ په حواله)

دجنازې دلمانځه په اړه مسائل

مسئله: دجنازې په لمانځه کې به مقتدي دامام په پیروي ثناء او نور څه برابر وایې او تر لمانځه وروسته لاس پورته کول او دعا کول ثابت نه دي، فقهاوو دامنع کړي دي، ځکه لمونځ په خپله دمړي لپاره دعا ده.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۲۰، اپ کې مسائل ج ۳ ص ۱۶۵)

مسئله: دکومو خلکو چې دجنازې دلمانځه دعا زده نه وي، یوازې په اقتداء او تکبیرونو یې لمونځ کیږي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۳، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۴ په حواله)

مسئله: چاته چې ماثوره دعاوې یادې نه وي، تر دریو تکبیرونو وروسته، د"اللهم اغفرلنا" په ویلو سره یې دجنازې لمونځ کیږي خو سنت دعا و نه ویله سوه.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۴۷، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۶ په حواله)

مسئله: څوک چې دجنازې دلمانځه په جوړښت نه پوهیږي، هغوی دې هم په لمانځه کې ګډون کوي، له امام سره دې تکبیرونه وایې، که یې ماثوره دعا یاده نه وي "اللهم اغفرلنا" دې په ځای وایې او داکافي دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۹)

مسئله: څوک چې دجنازې دلمانځه په دعا نه پوهیږي، نیت

دي وکړي، دامام تر شا ودریږي یوازې په تکبیرونو او سلام اکتفا وکړي، لمونځ کیږي او مړي ته یې ثواب رسیږي.

دجنازې په لمانځه کې ددعا رکنیت مختلف فیها مسئله ده.

علامه شامي یې رکنیت ته ترجیح ورکړې ده، خو دعذر په مهال دارکنیت په اتفاق سره ساقطیږي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۶)

مسئله: یوازې دڅلور تکبیرونو په ویلو سره دجنازې لمونځ اداء کیږي، څوک چې دتکبیرونو په ویلو پوهیږي دهغه دجنازې لمونځ کول صحیح دي.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۴، مراقي الفلاح ص ۳۲۰ په حواله، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۷)

دجنازې دلمانځه لپاره هغه شرایط دي کوم چې دنورو لمونځونو لپاره دي، پرته له رکوع او سجدې او نور. کوم شیان چې نور لمونځونه فاسدوي هغه دجنازې لمونځ هم فاسدوي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۶۴)

مسئله: دجنازې لمونځ هم په هغو شیانو فاسدیږي کوم چې نور لمونځونه ورباندي فاسدیږي، یوازې دومره توپیر شته چې دجنازې په لمانځه کې قهقهه خندا اودس نه ماتوي او له میرمنې سره په خواکې دریدل، فساد نه راولي.

(علم الفقه ج ۲ ص ۱۹۵)

دجنازې له لمانځه پرته که مړی خښ کړای شي؟

مسئله: کوم ماشوم که ژوندی وزیږي دجنازې لمونځ یې فرض دی، که پرته له جنازې خښ شي، هغه خلک چې ورباندي خبر دي هغوی ګنهګار دي، دداسې جنازې حکم

چې پرته له لمانځه خښ شوی وي ، دادی چې په قبر یې د
جنازې لمونځ کیږي، دا تر هغه چې په خرابیدلو یې ګمان نه
وي .ددې تحدید ځینې علماوو په دریو ورځو کړی دی. خو
صحیح داده چې څه وخت ورته ټاکل شوی نه دی تر څو یې
دخرابیدلو اټکل نه وي تر هغه لمونځ کول ورباندې فرض
دی. خو چې هغه وخت تیر شي او لمونځ ورباندې ونکړي
خلک ګنهګار پاته شول .کفاره یې داده چې توبه او استغفار
وکړي او بیا داسې کار ونکړي.بس همدومره کافي دي نور
سختۍ له همدې خلکو سره ونشي ځکه داکار یې په ناپوهۍ
سره کړی دی.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص۲۸۸ ، ردالمحتار ج ۱ ص۸۲۶ په حواله)

مسئله :دمړي دجسد ترخرابیدلو او شړیدلو وړاندې یې په
قبر دجنازې لمونځ کیدلای شي او دجسد دخرابې موده یې
معلومه نه ده. بلکې ددې مدار دمړي په جثه ، موسم او
دځمکې په حالت او خاصیت پورې اړه لري. ځینې ځایونه
درې ورځې ، ځینې لس ورځې او ځینې ځایونه مړی تر یوې
میاشتې نه خرابیږي. دځمکې دتاثیر او نورو په هکله له
ماهرو مسلمانانو څخه پوښتنه وشي او په هغې خبره عمل
وشي. دجسد تر خرابیدلو وروسته یې په قبر دجنازې د
لمانځه جواز نشته.(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص۱۸۹ ، درمختار مع شامي ج ۱ ص۸۲۷
په حواله، بحر ج۲۱ ص۱۸۲)

دبیرته تللو لپاره په اجازه اخلي ؟

مسئله : دجنازې تر لمانځه وروسته تر خښولو وړاندې که

څوک بیرته ځي دمړي له خپلوانو اجازه اخستل مستحب ده .
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۱۴ ، دخانیه ج ۱ ص ۹۱ په حواله)

مسئله : داجازې اخستلو ضرورت نشته ، خو تر خښولو
وړاندې تلل تر هغه کم ثواب لري چې که تر خښولو وروسته
لاړ شي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۶ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۸ باب الجنائز)

مسئله : دجنازې تر لمانځه وړاندې بیرته تلل مطلقاً مکروه
دي. تر لمانځه وروسته که دمړي خپلوان اجازه ورکړي نو
بیرته تګ مکروه نه ده.(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۶۹)

دهدیرې آداب

یوه عامه غلطي داده چې هدیرې ته په رسیدلو خلک ددنیا
خبرې نه پریږدي ،حال داچې هدیره دعبرت ځای دی. دقبر او
اخرت او دهغوی دویروونکو مرحلو او په خپل انجام دفکر
کولو ځای دی.

قبرستان ته په ورتلو چې دسلام ویلو کوم کلمات رانقل
شوي دي ، اکثر خلک ورڅخه غافل دي . ډیر کسان هدیرې
ته دننوتلو مشهوره او معلومه لاره پریږدي، په قبرونو دپاسه
تیریږي او دمړي قبر ته درسیدلو هڅه کوي ، کله خو دقبرونو
دپاسه خیژي ،خو یاد ولرئ چې داسې کول منع دي.معلومه
او ټاکلې لاره که څه هم اوږده وي خو په هغې تلل ضرور دي.
ځینې کسان چې هدیرې ته ورسیږي، دمړي خواوشا کینې،
دمړي دخښولو کار ګوري خو ددوی له ناسې څخه دمړي
خپلوان او قبرکندونکي په تکلیف کیږي، د ډیروالي له امله

یو او بل ته ضرر رسوي ، خوا او شا نور قبرونه هم تر پښو لاندې خرابوي. دا په یاد ولرئ چې د ښخولو کار لیدل فرض او واجب نه دي ، خو نورو ته په دې کار سره تکلیف رسول حرام دی. د قبرونو خرابول هم جواز نلري نو له دې ګناهونو څخه ځان ساتئ . له قبر سره یوازې د قبر جوړوونکی پریږدئ، تر څو په اسانۍ سره خپل کار وکړي ، د خاورو د ورکړي وخت چې راشي هغه ورته ورکړئ.

ځینې کسان د خاورو ښخولو د ورکولو په مهال خورا بیړه کوي، یو له بل سره په ټنګ وهي او تکلیف سره رسوي، دا هم ناجایز دی.(احکام میت ج ۱ ص ۲۳۵)

په پیل کې چې توحید لا د خلکو په زړونو کې پسم ځای نیولی نه و ، له شرک او جاهلیت څخه ډېر موده تیره شوي نه وه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک قبرونو ته له تللو څخه منع کول، ځکه د شرک او قبر لمانځنې له ککړتیا څخه ویره وه. خو کله چې د امت توحیدي مزاج پوخ او کلک شو او له هر ډول جلي او خفي شرک څخه یې په زړونو کې کرکه پیدا شوه او قبرونو ته له تللو څخه د شرک د جراثیمو د پیدا کیدلو اندیښنه ورکه شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم قبرونو ته د ورتلو اجازه وکړه او دا یې هم څرګنده کړه چې دا اجازه ځکه وشوه چې د قبرونو په زیارت کولو سره له دنیا سره مینه کمیږي او په زړونو کې د آخرت یاد پیدا کیږي.

(معارف الحدیث، ج ۳ ص ۴۸۸)

په هدیره کې په پټو پښو ګرځیدل

پوښتنه : ځینې ځایونه عادت دی چې په هدیره کې په تیریدلو بوټ یا څپلۍ کاږي، ځکه په پټو پښو په هدیره کې ګرځیدل د مړو بې عزتي ګڼي. د دې شرعي حکم څه دی؟

ځواب : په قبر د پاسه ګرځیدل بې احترامي ده، که هغه په پټو پښو وي او که په لوڅو ، خو په تګ له هدیره کې په پټو پښو ګرځیدل بې احترامي نه ده. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۳۴)

مسئله :په قبرونو د پاسه لاره جوړول منع دي، که هغه په پټو پښو تګ وي او که په لوڅو پښو ، خو که د قبرونو د پاسه نه وي یا په پټو پښو تګ راتګ هم صحیح دی.

په خپل ژوند ځان ته قبر جوړول

مسئله :که هدیره عامه وقف وي.چا پکې ځان ته قبر وکنده او خوندي یې وساته ، کوم بل شخص خپل مړی پکې ښخ کړ، په دې صورت کې دې د مړي خپلوان یوازې د قبر کندلو اجوره د قبر څښتن ته ورکړي. صاحب القبر د جسد د ایستلو اجازه نلري.که قبر ونه باسي یوازې په زړه کې دا ولري چې زه به دلته ښخیږم ، په دې صورت کې که هلته بل مړی ښخ کړای شي، دی د هیڅ شي حق نلري.د جسد د ایستلو حق یوازې په هغه صورت کې شته چې ځمکه د چا په ملکیت کې وي او د ده له اجازې پرته څوک پکې ښخ کړل شي.

(کفایت المفتي ج ۷ ص ۱۲۵ ، فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۴۰۶)

مسئله : تر مړینې وړاندې په ژوند د ځان لپاره په کفن او قبر

(چې ځمکه وقف نه وي) چمتو لوکې کومه خبره نشته.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۶)

دقبر ځمکه به په کوم مال (پیسو) اخستله کیږي؟

پوښتنه: مړی خوېې ځینې وارثان په عامه هدیره کې خښوي، خوځینې بیا دقبر لپاره ورته ځمکه اخلي او هلته یې خښوي. ایا دځمکې بیه دمړي له مال او ملکیت څخه ورکوي او که دوارثانو؟

ځواب: دالګښت په تجهیز او تکفین کې شامل دی، نو دمړي له شتمنۍ څخه ورکول کیږي. وارثانو ته داضروري نه ده چې هغه مړی په عامه هدیره کې خښ کړي، بلکې که غواړي نو د قبر په اندازه دې ځمکه ورته واخلي او هلته دې خښ کړي، وارث او یا پوروالا یې مانع کیدلای نشي. هوکه یې هغه په خپله خوښه په عامه هدیره کې خښوي هم جواز لري. خوکه مړي میرمن وي او میړه هم ولري، هغه یې دتجهیز او تکفین ذمه وار دی، نو دمیرمنې دترکې له مال څخه دې دالګښت نه کیږي. میړه دې دخپل حیثیت او خوښې برابر دتجهیز او تکفین کار وکړي. که یې میړه نه وي او یا انکار وکړي نو بیا دې دمیرمنې له ترکه مال څخه دتجهیز او تکفین لګښت پوره کړي. (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۲۶۰)

مسئله: دمړي په خښولو او نورو کارونو کې یې مسنونه طریقه خپله شي تر څو نه پکې اسراف وشي او نه هم پوروړیو وارثانو حق ته زیان ورسیږي، مثلاً قبر هم خام جوړ

شي، که مړی شتمن وي او که بې وزله، که غسل ورکول او قبر کندل په اجوره وي، هغه لګښت هم له حیثیت سره سم او په متوسطه درجه کې وي. که په عامه هدیره کې ورته ځای و نه موندل شي، دقبر لپاره دې ورته ځمکه واخستله شي دهغې بیه دې هم دتجهیز او تکفین دسامان په ډول دترکې له شتمنۍ څخه ورکړل شي. (مفید الوارثین ص ۳۲)

دمملوکې هدیرې حکم

مسئله: هدیره که وقف وي، نو دکومو کورنیو لپاره چې وقف ده، هغه خپل مړي هلته پکې خښولای شي او متولي یې دمنع کولو حق نلري، متولي داهل استحقاق حق باطلولای نشي. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۱۷)

مسئله: که دپاچا له لوري چاته ځمکه دتملیک په ډول ورکړل شوې وي. هغه یې ملیکت ده. که یې په هغې ځمکه کې یوه ټوټه دخپل اولاد دخښولو لپاره وقف کړه، داخاص وقف دی. تر څو هغه کسان چې ورته وقف شوې وي پاته وي نوروته دخښولو اختیار پکې نشته. خو که یې وقف نکړي او په خپله مملوکه ځمکه کې یې خښ کړي نو په هیڅ حالت کې نورته دخښولو حق نشته. خو په دې ټولو حالاتو کې دملکیت ثبوت ورکول دمدعي په ذمه دی. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۱۷)

مسئله: دقبرونو ځمکه که دقبرونو لپاره وقف نه وي، دچا ملکیت او یا دبل څه لپاره وقف شوې وي. کله چې دمړي

دبدن داجزاوو دنه پاته کیدلو ګمان غالب شي، نو په قبرونو ودانۍ جوړول یا کښت کول اویا هغه کارکول چې ورته وقف شوي ده، جواز لري. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۱۸)

مسئله: دهدیري ځمکه که دخښنولو لپاره وقف شوي وي، هغه دهستوګنځای په توګه استعمالول جواز نلري، همداسې له هغه ځای څخه دقبرونو نښې لري کول هم جواز نلري.

خو که ځمکه وقف نه وه بلکې دچا په ملکیت کې وه او هلته یې دښښتن له اجازې پرته څوک خښ کړل شول یا یې اجازه ورکړه خو ځمکه یې وقف نکړه نو په دې صورت کې که داګمان غالب شي چې نورنو مړی خاوري شوی دی، مالک ته یې په هغې ځمکه ودانۍ جوړول جواز لري.

(کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۲۲)

مسئله: دعامي هذیري لپاره دوقف شوي ځمکې خرڅول جواز نلري، په کرایه ورکول پیرل او پلورل یې جواز نلري. دقبرستان لپاره په وقف شوې ځمکه دهستوګنې ځای جوړول ناجایز دي. هو! که دهدیري دساتلو په مقصد دمحافظ لپاره څاله یا بل ځای جوړیږي دامباح دي.

(کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۳۶)

دعامي هدیري حکم

مسئله: هغه هدیره چې دعامو مسلمانانو لپاره وقف شوي وي. که هغه دکلي له مسجد سره وي یا بل ځای وي هلته له خښولو څخه ممانعت دمتولي په اختیار کې نه ده، که هغه

کوم مړی له خښولو څخه منع کړي، ظالم دی. متولي ته په خپله هدیره کې چې دمسلمانانو لپاره وقف وي له چا څخه دقبر پیه یاد نور څه پیسې اخستل جواز نلري. همداسې هلته قفل اچول او له خښولو څخه ممانعت کول ظلم دی.

(کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۴۷)

مسئله: که هدیره دعامو مسلمانانو لپاره وقف نه وه، کومې ځانګړې ډلې یا کورنۍ ته وقف وه نو چې چا ته وقف وي، هغوی ته ځانګړې ده او هغه حقوق پکې ورته حاصل دي چې عامو مسلمانانو ته په عام وقف کې حاصل دي، خو هغوی له موقوف علیه څخه پرته نورو ته هم دمړي دخښولو اجازه ورکولای شي، ځکه هدیره یې ملکیت نه ده بلکې د هغه موقف علیه حق دی. هغه څوک چې دا هدیره ورته وقف ده، نورو مړو ته دخښولو اجازه ورکولای شي خو دځمکې دبیې اخستل ورته جایز نه دي. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۴۷)

له اجازې پرته دفن کول

پوښتنه: که دځمکې دمالک له اجازې پرته څوک دهغه په ځمکه کې مړی خښ کړي، ایا دځمکې مالک یې بیرته ایستلو ته مجبورولای شي؟

ځواب: دمړي وارث ته دي وواېي چې مړی وکاږي، که یې ونه کاږي دځمکې مالک حق لري چې قبر وسپړي او مړی وکاږي یا دقبر ځمکه هواره کړي.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۳، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۰ په حواله)

مسئله: كه مړى راوباسي عام مسلمانان دي دمملوكه ځمكې اجازه واخلي يا دي په عام موقوفه ځمكه كې خښ كړي.(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۴۱۲، دمجمع الانهر ج ۱ ص ۱۸۵ په حواله، فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۵)

(دمړي درا ايستلو يا يې دقبر په هموارولو مړي ته هيڅ عذاب نشته، داغلطي دڅوندو ده چې ولي يې اجازه نه اخستله، كه مالک ورته اجازه وركوي په دي كې يې ثواب ده. محمد رفعت قاسمي)

په مسجد كې قبر جوړول

پوښتنه: يوه خونه وقف على المسجد ده، متولي په هغې كي خپل پلار خښ كړ. ايا داكار شرعاً جواز لري او متولي لره څه حكم دى؟

ځواب: داخيانت دى، له همدي امله متولي واجب العزل دى. په حاكم يا عامو مسلمانانو لازم دي چې داقبر وسپړي، مړى راوباسي ياقبر له ځمكي سره برابر كړي، ځكه دقبر په پاته كيدلو دمسجد وقف معطل پاته كيږي او اشغال بالغير ورته لازميږي. (احسن الفتاوى ج ۴ ص ۱۹۳، ردالمحتار ج ۵ ص ۱۷۴ په حواله)

مسئله: دمسجد غرب لورته چې كومه ځمكه دمسجد له وقف ځمكې څخه بهر وي قبر پكې جوړول منع نه ده.
(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۵)

مسئله: دقبر دځمكي په بام (مسقف قبر) باندي لمونځ كيدلاى شي. (فتاوى رحيميه ج ۸ ص ۱۰۹)

مسئله: كه مسجد ته نژدې دمړو دخښولو لپاره كوم ځاى ځانګړى وي، هلته يې خښول كومه خبره نه ده، داسي ځاى دي خښوي چې ورته خاص وي. (فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۹، دردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۵، باب صلوة الجنايز په حواله)

له هديرې څخه بيل دمړي خښول

پوښتنه: دعام مسلمانانو له هديرې څخه بيل دمړي خښول جواز لري كنه؟

ځواب: مسلمانان په عامه هديره كې خښول مسنون كار دى. ددې خلاف يو خاص ځاى خښول يې مكروه دي. دكوم عالم يا بل مشر خښول دمدرسې يا مسجد ترڅنګ يا بل خاص ځاى يې مكروه ده. دكوم عالم يا بل مشر خښول دمدرسي يا مسجد ترڅنګ يا بل خاص ځاى اوس يو عام كار شوى دى، فقهاوو داكار ښه بللى نه دى. نو په لاړښود جنابانو داوصيت كول واجب دي چې ترمړينې وروسته دي په عامه هديره كې خښ كړي.
(احسن الفتاوى ج ۴ ص ۴۰۶، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله)

مسئله: ګنبده جوړول يا يې په تعمير كې خښول له انبياوو پرته چاته جايز نه دي. (فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۵، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۶، دمشكوة باب دفن الميت ج ۱ ص ۱۴۸ په حواله)

په ګډه هديره كې دمړي خښول

مسئله: مسلمان مړى په داسې هديره كې خښول چې هلته غيرم مسلمانان، هندوان، سيكان او عيسايان هم خښ وي،

بنه نه ده، مکروه ده .خو چې بل ځای د خښولو لپاره موندل
شي .اما که مجبوري وه او له دغه شریک قبرستان پرته بل
ځای نه و، د مسلمانانو بیله هدیره نه وه، نو بیا دي هلته خښ
کړي. دغسې ځای د جنازې لمونځ هم کول مکروه دي، خو که
هلته کوم ځای پاک وي چې د قبرونو نښې پکې نه وي او د قبلې
لور ته کوم قبر نه وي، نو د جنازې لمونځ او نور څه هلته صحیح
دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۹، ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۳، باب تکره صلوة في
الکیفیة په حواله)

په ناپاکه ځمکه قبر جوړول

سوال: که په کوم ځای کې له ډیره وخته نجاست پروت وي،
خاوره پرواچول شي بیا مړی پکې خښول صحیح دي او کنه؟
ځواب: په حدیث شریف کې راځي: ځمکه په وچیدلو سره
پاکیږي. نو چې په دې کډې کې خاوره واچوي او هغه ځمکه
وچه شي، هغه پاکه ده، مړی پکې خښول صحیح دي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۸۲)

که په ودانۍ کې قبر راوخوت

مسئله: په یوه ودانۍ کې د تادا او کندلو په مهال جسد
راووت، هغه به هلته بردي ځکه جسد چې چیري وي له هغه
ځایه یې بې ضرورته نقل کول جایز نه دي. خو که یې هلته
اېښودل ستونزمن وي او د بې عزتي ویره یې وي . مثلاً په دې
تاداب کې جسد وي او یا بله مجبوري وي نو بیا جواز لري
چې بل ځای په کومه هدیره کې یې پرته د جنازې له لمانځه

دفن کړي. تر څو د مړي احترام وساتل شي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۹،
ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۰ په حواله غنیة ص ۵۶۳، امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۱۹)

روافض چیري خښ کړای شي؟

مسئله: که له روافضو څخه څوک ومري، که یې خپل خلک
موجود وي هغه به یې تجهیز او تکفین وکړي خو که هغوی
څوک نه وو، نو نورو مسلمانانو ته لازمه ده ترڅو یې تجهیز او
تکفین وکړي. که هغه رافضي داسې څوک وي چې د کفر حکم
وربانـدې جاري شوی نه وي، نو تجهیز او تکفین دې
د مسلمانانو په شیر وشي، د جنازې لمونځ دې اداء کړي او
خښ دې کړي. خو که وربانـدې د کفر حکم جاري کیدلای
شوای، نو په تجهیز او تکفین کې دې د سنت مراعات نه کیږي
او د جنازې لمونځ دې هم نه کوي، هسې دې دفن کړي.
(کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۹۴)

مسئله: هغه څوک چې شیخینو (ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما))
ته بد رد وایي ډیر فقهایې کافر ګڼي او هغه روافض چې د
عایشې (رضی الله عنها) په افک قایل دي یا د ابوبکر (رضی الله عنه) له
صحابي والي منکر وي یا علی (رضی الله عنه) ته د الوهیت قایل
وي، هغه په اتفاق سره کافر دي او په مختار شامي کې دي
چې د داسې روافضو په تکفین او تجهیز کې مرسته کول، د هغوی
د جنازې لمونځ کول، د مسلمانانو په هدیره کې یې خښول صحیح
نه دي او له هغوی سره متارکه او مقاطعه باید وسي تر څو
وپوهیږي او اهل سنت ومني.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۳، ردالمحتار ج ۱ ص ۳۹۸
، فصل المحرمات په حواله، فقه اکبر ص ۱۸۸)

دجذامي تدفین

مسئله: دمسلمان جذامي جسد دمسلمانانو په هدیره کې دفن کړای شي. په هغه مالګه اچول خاوري کول یا سوځول شرعي کار نه دی، بلکې لکه نورمسلمانان مړي داسي دې دفن کړای شي. (فتاوی دارالعلوم ج۵ ص ۴۰۴، ردالمحتار ج۱ ص ۸۳۷ په حواله، مشکوة ج۱ ص۱۴۹)

(دمسلمان جسد سوځول جواز نلري، دايو مشرکانه توهم لمانځنه ده نوځکه یې خښول په کار دي.) (محمدرفعت قاسمي)

مسئله: که څوک په بحري بیړیه کې ومري او ساحل ته تر رسیدلو دمړي دخرابیدلو ویره نه وه، نو په وچه کې دي خښ کړای شي او کنه په اوبو کې دي وغورځول شي او داچولو په مهال که درونډ وزن ورپوري وتړل شي ښه ده، ترڅو داوبو تل ته لاړ شي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۰، ردالمحتار ج۱ ص ۸۳٦، په حواله مشکوة ج۱ ص۸٦۱)

دلادرکه خښول

مسئله: که څوک په کوهې یا بل ځای کې ولویږي یاتر ودانۍ لاندي شي او ومري، دهغه دجسدرا ایستل شونی نه وي، نو دمجبورۍ له امله یې غسل او کفن معاف دي. چیري چي جسددی هغه ځای یې قبروبلل شي او دجنازې لمونځ یې وشي. داترهغه چې جسد خراب شوی نه وي. (شامي ج۱ ص ۸۲۷)

[illegible]ئله: که څوک په سمندرکې لاهو شي او ومري او دجسد [illegible] معلوم نه وي. یا په بل ډول مړ شي او جسد یې ورک

شي، په داسي حال کې یې غسل، کفن دجنازې لمونځ او خښول هرڅه معاف دي، دجنازې لمونځ دې په غیاب کې نه کوي، ځکه دجنازې دلمانځه لپاره یو شرط دادی چې مړی به حاضر وي. (شامي ج۱ ص ۸۲۷)

په زاړه قبرکې نوی مړی ایښودل

مسئله: که قبردومره زوړ وي چې مړی بالکل پکې خاوري شوی وي، په داسي قبرکې دوهم مړی خښول صحیح دي او له ضرورت پرته داسي کول منع دي خودضرورت په مهال جواز لري. که په قبرکې زاړه هډوکي موجود وي، هغه دې بیل په قبرکې کښېښېږدي. خوکه مړی په قبرکې بالکل سالم موجود وي هم دضرورت په مهال په داسي قبرکې بل مړی ورسره ایښودل جواز لري، خو د زاړه او نوي مړي ترمنځ دې دخاوري حائل جوړ شي.

مسئله: که کله په یوه وخت کې په یوه قبرکې دڅو مړو دایښودلو اړتیا پیدا شي، که ټول سړي وي او یا ټولې ښځې وي نو ترټولو لومړی دې افضل په لحد کې کښېږدي او بیا نور. که مړي ګډ وو، نو لومړی دې سړي بیا هلکان، بیا خنثی او وروسته ښځې کښېښودلې شي او ددوی ترمنځ دې خاوري واچوله شي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۱۱، دالتبیین هندیه ج۱ ص ۱۰۷ په حواله، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۰، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۸، درمختار ج۱ ص ۸۳۵)

مسئله: په یوه قبرکې تر یوه زیات مړي خښول که ضرورت نه وي، مکروه دي. خو که ضرورت وي بیا کیدلای شي په یوه

قبرکې تر یوه زیات مړي خښ کړای شي.

(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۶۷ – علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۸)

دقبر خاوره دتبرک لپاره وړل

پوښتنه: که څوک دښو خلکو له قبرڅخه دتبرک لپاره خاوره یوسي او له ځان سره یې کښیږدي ایا جواز لري؟ که جواز نلري نو هغه خاوره چیرې واچوي؟

ځواب: له وقف شوي هدیرې څخه خاوره وړل ناجایزه ده، ځکه هغه وقف ده. له خپل مملوکې هدیرې څخه خاوره وړل جواز لري، ځکه دی یې مالک دی. خو دتبرک لپاره دکوم ښه سړي دقبر خاوره وړل او له ځان سره ایښودل یو محدث (نوي پیدا شوی) کار دی.

مړی چې کله خاوري شو دقبرځای که یې خپل ملکیت وي کرل یې صحیح دی، نو له دې څخه معلومیږي چې دقبرد خاوري کوم ځانګړی درناوي په شریعت کې نشته، مړی احترام لري نو ددې خاوري اچول په عامه لاره کې هم صحیح دي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۵۳)

مسئله: عهدنامه لیکل یا قرآن کریم یا بل څه په قبرکې ایښودل جواز نلري، دافقهاوو منع کړې دي، ځکه ویره ده چې په نجاست ناپاک شي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۲۷ او ج ۵ ص ۴۴۱ تفصیل یې په شامي کې ده، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۹)

په قبرکې دننه پخې خښتې، ډبره یا بل شي لګول

مسئله: په قبرکې دننه دمړي خواوشا له ضرورت پرته د

دلرګې تختې، ډبرې، سیمنت او پنبه په بټۍ کې پخې شوې خښتې لګول تحریمي مکروه دي.

مسئله: که ځمکه ډیره نرمه وه، رطوبت پکې وا و دقبر دلویدلو ویره وه، نو دا اړتیا په اندازه داشیان پکې لګول جواز لري. که په لرګیو، ډبرو یا سمتو دا اړتیا پوره کیدله یا دي په بټۍ کې له پخو خښتو او وسپنې څخه ډډه وشي، ځکه هلته پکې داوراثر دی خو په ډبره او سمتې خښتوکې دا بدوالی نشته.

دداسې ضرورت په مهال دلرګیوا او وسپنې په تابوت کې مړي خښول جواز لري خو دا وسپنې له تابوت څخه دې تر ممکن حده ډډه وشي، په هر ډول تابوت کې غوره داده چې دلاندې پکې خاوره واچوله شي او دمړي دواړو لوروته خامې خښتې کښیښودلې شي. دننه لوري یې په ختې وپوښل شي.

۳– دمړي پاسنۍ لورته پرته له ضرورته لرګي، ډبره یا دسمت ګل (اخیړ) یا اوسپنه لګول جایز دي.

۴– له پاسه قبرته دختو اخیړ ورکول صحیح دي خو ډډه ورڅخه کول غوره دي.

۵– په قبر دپاسه دسمتو پلستر یا کوم ډول خښتې لګول جواز نلري. پلستر او ودانۍ ورباندې جوړول په صراحت سره په لحدیث کې منع شوي دي. خښته لګول هم په ودانۍ کې

شامل دي ، دادزینت په نیت حرام دي او د استحکام لپاره
تحریمي مکروه دي چې په ګناه کې له حرام سره برابر دي. خو
د درندګانو له ویرې خامې خښتې لګول پروا نلري.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۹ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۹ په حواله ، فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۹۲)
مسئله :دقبر لحد خام پرېښودل او خواوشا پخول هم صحیح
نه دي . (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۴)

له زاړه قبر څخه خښتې را ایستل

مسئله :په دې کې شک نشته چې له اړتیا پرته په قبر کې
دننه پخې خښتې او ډبرې لګول صحیح نه دي . په پاسنۍ
برخه کې یې هم اجازه نشته . خو د خښتو او ډبرو درا ایستلو
لپاره قبر پرانستل هم صحیح نه دي. لکه دا چې کوم مړی خښ
شي او بیا معلومه شي چې غسل نه دی ورکړل شوی . نو تر
خاورو اچولو وروسته د مړي د غسل لپاره قبر پرانستل صحیح
نه دي. خو که په قبر د پاسه ډبرې یا خښتې لګیدلي وي نو
هغه لرې کولای شي.په دې شرط چې وارثان یې راضي وي ،
دفتنې کومه ویره نه وي او خلک خبر وي چې پوخ قبر جوړول
صحیح نه دي. نو بیا پاسنۍ برخه چې ډبرې او خښتې پکې
لګیدلي وي هغه لرې او قبر له خاورو سره سم شي. که وارثان
خوښ وو داسې کیدلای شي.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۱۴)
مسئله :هدیره د مسلمانانو لپاره وقف ده . د هدیرې دکتې
لپاره هلته دکانونه جوړول شرعاً جواز نلري . په هدیره کې
د مړي خښول اصل مقصود دي. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۸۰)

قبر څرنګه جوړ شي ؟

مسئله : قبرونه په دوه ډوله دي : بغلي او صندوقي . بغلي
قبر سنت دی . د دې شکل او صورت دا دی چې د پوره قبر تر
کندلو وروسته د قبلې لورته تر دیوال لاندې یې وکندي او
دومره ځای جوړ کړي چې میت په اسانۍ پکې کښېښودل شي.
بیا یې مخته خامې خښتې داسې کیږدي چې هغه ځای بند
شي کوم چاک او چوله پاته نشي . که خامې خښتې نه وي نو
بانسونه دې کښیږدي که هغه هم نه وي بیا دې دلرګي تختې
کښیږدي . بیا دونو پاڼې او خزلې یا د خرماوو څانګې د خونې
دچت په څیر ورباندې واچوي تر څو خاورې ترې تیرې نشي.
خو دا بغلي قبر په کلکه ځمکه کې جوړیدلای شي . که په نرمه
ځمکه کې جوړ کړای شي نو ژر لویږي . په دغسې ځمکه کې
صندوقي قبرونه جوړوي . دهغه صورت دا دی چې د قبر تر
کندلو وروسته ، دهغه په تل کې په اوږدوالي دویالې په څیر
دومره ځمکه وکاږي او پاکه یې کړي چې مړی پکې څملولای
شي .په هغه د پاسه خامې خښتې ،بانس، دلرګې تختې که
داشیان نه وو ، ډبرې ورباندې کښیږدي چې قبر مسقف
دصندوق په څیر جوړ شي او دلاندې خاورې ورته تویې نشي .
بیا د پاسه خاورې ورباندې واچوي او قبر ډک کړي.
مسئله : که مړی په قبر کې کښېښودل شي او له پونښ (چت)
پرته ورباندې خاوره ولویږي دا د سنت خلاف دی . دا د مړي بې

عزتـي هـم ده . (یعنـي اول دي تختـي او نورڅـه پـه لحد
کښیښودل شي او بیا دي وربانديي خاوري ولـویږي، ترڅو پـه
مړي باندي راساً خاوره ونه لـویږي).(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۸۳
،عالمګیري ج ۱ ص ۱۶۵ په حواله ،و فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۷۲)

مسئله : که دځمکې دنرموالي له امله دقبر دلویدلو ویره وه
نو صندوق (میانه ګور) قبر جوړول جایز دي. دقبردخولي
دپټولو لپاره که خامي خښتې، تختې یا نورڅه نه وو یا
ضرورتاً دډبرې هم استعمالیدلای شي. ترڅو ځناوران قبرونه
سپړي او مړي ته ونه رسیږي. خو ښه داده چې دډبري لاندي
لوری هغه چې دمړي خواته وي په خټه ګل (اخیړ) شي ترڅو
دمړي څلورو لورو ته خاوري معلومې شي .
(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۳۸۴ ، شامي ج ۱ ص ۸۳۶)

مسئله : په نرمه او شګلنه ځمکه کې چې قبر دریدلای نشي
په خامو خښتو دلحد سمول جواز لري .که دضرورت له امله
دلحد هر لوري ته خښتې کښیښودلي شي، جواز لري ،آن
مستحب دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۱ ص ۳۷۲)

مسئله :که دخپلې کورنۍ او خپلوانو قبرونه سره نژدې وي،
کومه خبره پکې نشته . که ممکن وي نو داکار غوره او افضل
دی. که بیل ، بیل وي پیژندل یې ستونزمن وي، یو ځای سره
ښه دي.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۹۵)

مسئله :قبر مربع جوړول مکروه دي ،مستحب دادی چې قبر
ولاړ وي، داوښ دکومې په څیر وي ، لوړوالی یې یوه لویشت

(۱۹ انچه = ۲۲ سانتي) یا تر دي څه زیات وي.

مسئله : تر یوه لویشت زیات قبر لوړول مکروه دي.
(علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۱)

(له قبر څخه په راکښلو شویو خاورو یې لوړول پروا نلري. خو
وروسته نوره خاوره اچول او لوړول مقصد دي چې پري لوړ نشي.)

دقبر (لحد) کډی والی به څومره وي؟

پوښتنه : داسې مشهورده چې لحد به دومره لوړ وي چې کله
ملایکې دسوال لپاره ورته راشي او مړی کښینوي ، سر یې
پورته ونه لګیږي، داخبره کوم اصل هم لري ؟

ځواب : دقبرپاسنۍ برخه دسینې یا ټول بدن په اندازه لوړه
وي، چیري چې مړی ږدي، هغه (لحد) دومره لوړ وي چې
مړی پکې کښیږدي ،نو پاسنۍ تخته ورسره ونه لګیږي، که
نژدي دوې لویشتې وي نو له مړي سره نه لګیږي.دمړي دخښولو
په مهال نه دملایکو دراتلو لپاره دځای دپرېښودلو ضرورت شته او
نه دمړي دراکښینستلو ، که ملایکې ورته راځي هغه دناستې لپاره
خپل ځای لري، دقبر خاوره دمړي لپاره داوبو په څیر نرمه وي.

مسئله : دقبر اوږدوالی او سور دومره وي چې هلته دمړي او
دورکښېنته کوونکي ځای پکې وي.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۰۵ ، طحطاوي ص ۳۳۳ په حواله، فتاوی دارالعلوم ج
۵ ص ۳۸۷ ،کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۶۱)

مسئله :داهسې ناپوهي ده ،ملایکې مړي په قبر کې نه بلکې
دبرزخ په عالم کې راکښېنوي . دلحد او شق کډی دومره لازم
دی چې مړی پکې دسنت مطابق ستوني ستغ څملولای شي.

پورتنۍ برخه له جسم څخه بیله، خو ډیره ورته نږدې وي، تر
څو له ځیرونکو حیواناتو څخه خوندي وي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۴۲ ، امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۹)

مسئله : دفقهاوو مطلب له نیم قامت څخه دټول قبر ګډ والی
دی چې دایې لږه اندازه ده . تر دې زیاته تر یو قد پورې ښه ده
او ګټه یې داده چې بدبوی یې پورته نشي او له ځیرونکو
حیواناتو ساتلی وي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۴۳ او امداد الاحکام ج ۱ ص ۳۳۸)

دقبر دلحد لوری

مسئله : مستحب دادي چې لحد په قبر کې دقبلې لور ته وي،
خو که مړی دغفلت یا کوم عذر له امله دابل طرف ته
کښېښودل شي او خاورې وراندې ولویږي نو بیا دقبر سپړلو
او دمړي سمولو ته اړتیا نشته.
(فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۴۲۷ ، عالمګیري ج ۱ ص ۱۶۴ په حواله)

مسئله : په قبر کې لحد کندل سنت دي ، که دلحد دکندلو په
هکله کوم عذر و، بیایې (میانه ګور) شق کول لازم دي . له
لحد یا شق پرته دمړي په جسم باندې دغسې خاوره اچول
دسنت خلاف دي . (فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۳۸۹)

که دقبر دکندلو په مهال هډوکي راوخیژي ؟

مسئله : که وړاندې لاپوهیږي چې دلته به هډوکي راخیژي
هلته دې قبر نه کاږي. خو که وړاندې نه پوهیږي او دقبر د
کندلو په مهال هډوکي راووزي. هغه دې یوه لور ته کښېږدي
دهغوی او مړي ترمنځ دې خاوره واچوي. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۷)

مسئله : که قبر کندل وخت غواړي او یا ځای کم وي نو په
یوه قبره کې دځو مړو ایښودل جواز لري خو لومړی دې داسې
شخص کښېږدي چې بستر عالم یا باتقوی شخص وي ،
وروسته دکمې درجې اشخاص کښېښودل شي.
(الجواب المتین ص ۳۳ - میان صاحب)

که دخښولو په مهال قبر ولویږي

پوښتنه : که مړی په قبر کې کېږدي ، تختې او نور څه ورکړي،
دخاورې اچولو په مهال تختې کښته ولویږي، هغه را ایستل
او سمول او یا بل قبر ته دمړی وړل جواز لري او که نه؟
ځواب : که تختې په خاوره کې پټې شوې وي نو بیایې
راکښل جواز نلري. هغسې دې خاوره وراندې واچوله شي.
خو که دتختو ترپټیدلو وړاندې وي بیایې راپورته کول جایز
دي ، که دا قبر دبیرته سمولو وړ نه وي نو دا اړتیا له مخې دې
بل قبر جوړ کړل شي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۳ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله ، فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۲۸۷)

که زوړ قبر کښېني

پوښتنه : که زوړ قبر کښېني ، ایا دهغه تختې را وایستلي
شي او سمې شي او که بل قبر ته نقل شي؟
ځواب : په قبر دپاسه دې خاوره واچوله شي او سم کړای شي،
قبر سپړل ، دلاندې تختې سمول یا مړی را ایستل او بل قبر ته
وړل جواز نلري . (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۳ ، ردالمحتار په حواله ج ۱ ص
۱۳۹ ، فتاوی دار العلوم ج ۵ ص ۳۸۶)

مسئله :قبرونه چي ونړيږي خاوره ورباندي اچول جايز دي. خو دعاشورا يا بله ورځ ددې كار لپاره ځانګړي كول كوم اصل او دليل نلري .(كفايت المفتيج ۴ ص ۳۸)

(كه اړتيا وه خاوره دي ورباندي واچوي . كومه ورځ دي ورته نه ځانګړي كوي.)

مسئله :په قبرباندي خاوره اچول صحيح دي قبر كه په مملوكه ځمكه كې وي او كه په وقف ځمكه كې، جواز شته.
(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۲۹۶)

كه په قبر كې كوم سامان پاته سي ؟

مسئله : كه دچا كوم سامان دمړي دخښولو په مهال په قبر كې پاته شي ،بيا كندل او پيسي يا بل څه را ايستل جواز لري.
(احسن الفتاوى ج ۴ ص ۲۱۴ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله ،امدادالفتاوى ج ۱ ص ۷۳۴)

په زاړه قبر خاوره اچول

مسئله :دقبرسپكاوى شرعاً منع دى نو ځكه په هغه كښيناستل، ګرځيدل او نجاست ورباندي اچول هرڅه ناجايز دي. كوم قبرچې خراب شوي وي نو په دي نيت چې له سپكوالي څخه ساتلى وي ، په هغه خاوره اچول صحيح دي.
(فتاوى محموديه ج ۷ ص ۳۳۳ ، دمجمع الانهر ج ۱ ص ۱۸۷ په حواله، فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۳۸۴ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۲۷ ،دفن الميت)

پوخ قبر جوړول

دقبرپوخ جوړول شرعاً اجازه نشته،منع دى. په حديث شريف كې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دپاخه قبر جوړولو ، ورباندي ودانۍ جوړولو او ورباندي كښيناستلو

ممانعت كړى دى.

له همدې امله فقهاوو په قبر كې دپخو خښتو له ايښودلو او ځلورو خواوو ته پخې چوترې له جوړولو ، په قبر دپاسه له اور او په هغه له پاخه شوي څه څخه ممانعت كړى دى.
(ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷)

نو له ضرورت پرته، دقبر لپاره دديوالونو اړتيا نشته . په خام قبر كې دمړي ګټه ده ، په خام او غير مشهور حالت كې قبر د الهي انوارو او رحمت ډير مستحق دى. دا دزيارينو په زړونو اغيز كوي او مړينه يې يادېږي او دنړۍ دزوال نقشه يې ستركو ته درېږي. دزيارت القبور چې كوم مقصد دى، هغه تر لاسه كيږي. له مړي سره دميني له امله دا ضروري نه ده چې په هغه ښكلى او پوخ قبر جوړ شي. صحابه رضى الله عنهم درسول الله صلى الله عليه وسلم ريښتوني مينه وال وو ، دهغه داوداسه اوبه به يې ځمكې ته نه پريښودلي ، په لاسونو او مخ اوستركو به يې وهلي. له داسې ميني سره ،سره يې دخپل خوراګران بادار قبر پوخ جوړ نكړ، خام يې پريښود. موږ ته هم دهغوى په لاره تلل لازم دي.

مسئله :كه اړتيا محسوسه شوه چې دقبر نښان پاته شي ، كله ، كله دي ورباندي خاوره اچوله كيږي .دقبرد نښې دپاته كيدلو او دافكر چې له بې عزتي څخه ساتلي وي او دخلكو تر پښو لاندي نشي نو په هغه باندي يې نوم او دمړيني تاريخ

ليكل كيدلاى شي (خو چې ځمكه وقف نه وي) په هرحال دضرورت په صورت كې كه فقهاوو استثنا پكې راوستلې ده خو بيا هم غوره داده چې څه ورباندې ونه ليكل شي.

په شرعي حكم كې ډېر مصلحتونه او حكمتونه وي. كه پوخ قبر منع نه واى، نن به هرلورته قبرونه وو دودانيو او كښت كروندې لپاره به هم ځمكه نه موندله كيدله. (فتاوىٰ رحيميه ج۱ ص ۳۸۵ دشامي ج۱ص۸۳۹ په حواله، مشكوة شريف ج۱ ص۱۴۸، نورالايضاح ص۱۴۰ دتفصيل لپاره وګورئ فتاوىٰ رحيميه ج۸ ص۱۹۸، فتاوىٰ دارالعلوم ج۵ ص۳۷۷، كتاب الفقه ج۱ ص۸۶۴)

مسئله: كوم ديني مشر هم دقبر پخول خوښ كړي نه دي. كه كوم بل شخص دكوم دينې مشر قبر پوخ كړ، نو په هم هغه دينې مشرېې مواخذه نشته. (فتاوىٰ دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۵)

(كه دكوم دينې مشر داباور وي چې زما تر مړينې وروسته، زما بې فكره خير غوښتونكي زما قبر ته غير شرعي بڼه وركوي، نو په مړه كيدونكي باندې له غيرشرعي امورو څخه دده ممانعت وصيت لازم دى. كه په ژوند كې وصيت ونكړي نو مواخذه به شي. والله اعلم. محمدرفعت قاسمي.)

په قبر باندې ديوال راګرځول

پوښتنه: په قبر باندې خواوشا څلور پنځه فوټه لوړ ديوال له چت څخه پرته دخوندې ساتلو لپاره جواز لري او كه نه؟ چوتره جوړول او ورباندې قبر جوړول چې دباران دسيلاب له اوبو څخه خوندي وي او دزايرينو دناستې لپاره ځاى پاك وي جوازلري؟

ځواب: دښكلا په نيت دقبر دپاسه هرډول ودانۍ جوړول

حرام دي. داستحكام په نيت تحريمي مكروه ده. په ګناه كې تحريمي مكروه له حرامو سره برابر دي.

خواوشا ديوال كه څه هم يوه خښته وي، دهغه دودانۍ شكل څرګندوي او چوتره بلكې تر اصل خاورو نوره زياته خاوره اچول هم په ودانۍ كې راځي. دهديرې دخونديتوب لپاره يې خواوشا ديوال جايز دى. له دې سره په قبر باندې ديوال راګرځول دګنبدې دجوړولود رواج سبب دى او په داسې ديوال په وقف ځمكه باندې دنورو حق دضايع كيدلو ګناه هم ده. احاطه كه هرڅومره وړه هم وي، بيخونه يې لاندې ځمكه له ضرورت پرته نيسي چې دنورو حق تلفي پكې ښكاره ده.

دزايرينو لپاره دپاك ځاى په غرض چوتره جوړول كوم شرعي مقصد نه دى. كه دسيل (اوبو) خطره وي نو دقبر دننه داسې سمتې خښتې چې په اورپخې شوې نه وي لګول، چاك او چولې يې په سمتو پوښل كيدلاى شي. په دې ډول قبر له كښيناستلو څخه هم ساتلي وي او دنښې دپاته كيدلو لپاره يې دسرلورته كومه ډبره ايښودل كافي دي. (خو چې ځمكه خپل ملكيت وي.)

كه دسيلاب له امله يې خاوره لرې شي نو په ځاى يې نوره خاوره اچول او قبر سمول صحيح دي، كه بيا هم قبر ته دخاورې اچولو اړتيا وه دچوترې په ځاى دې دقبر څلورو لورو ته ددالان په ډول خاوره واچوله شي او هغه ځاى دې داړتيا په

اندازه لوړشي. دقبرساتل ترهغه مهاله ضروردي ترڅو دمړي جسد خاوري کیږي، ترهغه وروسته یې دحفاظت ضرورت نشته. دقبردکلکتیا ډیراهتمام کول صحیح نه دي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۰ ،بحرالرائق ج ۲ ص ۱۹۴ په حواله ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۸، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۵)

مسئله: دهدیرې داحاطې په جوړولو کې دسود او زکوة دپیسو استعمال جایزنه دی. داځای دحلالې ګټې پیسې غواړي. دزکات دپیسو په مصرف یې زکات نه اداء کیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۱۰۸)

په قبردنوم ډبره اېښودل

مسئله: خام قبرجوړول سنت دی. پوخ قبر جوړول دشرعي خلاف او ګناه ده. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۷۶ ، طحطاوي ص ۳۳۵)

مسئله: په قبر باندي دمرحوم په نوم ډبره ایښودل مرحوم ته هیڅ ګټه نه لري. مرحوم ته اجراو ثواب په دي رسیږي چې له خپل حیثیت سره سم له بې وزلو او مسکینانو سره مرسته وشي. یادکوم صدقه جاریه کارلپاره لګښت وکړي، دا دمرحوم په هکله غوره ده. (فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۳۰۸)

مسئله: دقبرپخول یا وربانديې ودانۍ جوړول منع دي، جواز نلري. لیکنه هم وربانديې مکروه ده (چې هدیره وقف وي). جابررضی الله عنه وایي: دقبرله پخولو، په قبرله لیکلو او دقبرترپښو لاندي کولو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړي ده. (ترمذي شریف، جواب المتین میاصاحب ص ۵۳ ، امدادالاحکام ج ۱ ص ۸۱۳ ، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۹ ، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸٦۲)

ددفن مسئلې

مسئله: دشپې له خوابې شکه او شبهې دمړي خښول جایزدي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۲ ، ترمذي ج ۱ ص ۱۷۱ په حواله ، ابن ماجه ص ۱۰۹)

مسئله: قبرته دمړي دکښته کولو دعاء: بسم الله وعلی ملة رسول الله. (ترمذي شریف ج ۱ ص ۲۰۲)

مسئله: دمړي دخښولو په مهال دکیوړه څانګې (یوه خوشبویه ونه ده) یادبتۍ لګول پرقبریا تري بیل ناروا او بدعت دی. په شریعت کې یې کوم ثبوت نشته. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۹۸ ، طحطاوي ص ۳۳۳ په حواله ، احسن الفتاوی ص ۳۷۱)

مسئله: له جنازې سره نامحرم هم ځي نو له همدې امله دخښولو په مهال دقبر دپاسه پرده کیږي. په قبرکې دایښودلو په مهال دي دمیرمنې جسد نامحرم ونهویني. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۴۷)

مسئله: دمیرمنې دخښولو په مهال دپردې حکم دټولو ښځو لپاره دی، یوازې دپرده کوونکې لپاره نه دی. (دټولو لپاره یو ډول دی).
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۲ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳ په حواله ، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۰)

مسئله: دمیرمنې دجنازې دلمانځه په مهال پرده جوړول نه ثابت دی او نه هم ضروري. (کفایت المفتي ج ۴ ص ۷۷)

مسئله: دمیرمنې په جنازه یعني کټ باندي څه شی اچول ضروردي او دخښولو په مهال هم وربانديې پرده کول ضرور دي ان تردې چې په لحد کې کښېښودل شي ځکه ښځه له سره ترپښو دپردې شي دي، دخښولو په مهال خو یې کوم ځای لوڅیږي، نو که کوم ځای لوڅیږي پرده کول ورته واجب دي. (دلته ددیوبند په هدیره کې پرده کیږي چې قبرته یې محرم کښته

کوي هم د محرم سترګي يې په کوم ځاى ونه لګيږي او غير محرم قبر ته د کښته کولو په مهال پيليږي . محمد رفعت قاسمي)

مسئله :د سړي د دفن په وخت کې په قبر پرده کول نه ده لازمه خو که عذر وي مثلاً باران وي يا واوره وي يا ډيره تودوخه وي بيا جايز دى.(علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۰)

په قبر کې د مړي په ښي اړخ اينبودل

سوال :په قبرکې مړى ستوني ستغ کښيښود شي يوازې مخ يې قبلي ته وي . يا يې په ښې اړخ کښيږدي چې ټول مخ يې قبلي ته شي .کوم صورت يې غوره دى؟

ځواب :په اړخ دي شي او مخ دي قبلي ته شي يوازې د مخ په اړولو دي کفايت نه کوي.(فتاوى محموديه ج۲ص۴۲۲،احسن الفتاوى ج۴ص۲۳۵،هنديه ج۱ ص۱٦٦،غنية المستملي ج۱ص۵۵۳،مراقي الفلاح ص۳۳۴، فتح القدير ج۱ص۴۷۱ بحر الرائق ص۱۹۴،فتاوى البدايع ج۱ ص۳۱۹)

(سنت طريقه دا ده چې مړى په ښې اړخ مخ په قبله کښيښودل شي ، د شا لورته ورته خاوره وا چوله شي ترڅو مړى نه وا وړي يعني پوره مخ يې قبلي ته وي ، دا غوره او له پورته يادوو شويو حوالو څخه ثابت دي – محمد رفعت قاسمي)

مسئله :په قبرکې په قصد سره د مړي مخ له قبلي ګرځول د معصيت سبب دى خو که سهواً وشي پروا نلري، تر خاورو اچولو وړاندي که معلومه شوه چې مخ يې د قبلي لوري ته نه دى ، نو قبر دي وسپړي .يعني خښتې، بانس ، تختې او نور څه دي لري کړي، مخ دي د قبلي لور ته کړي .تر خاوره اچولو

وروسته د قبر څيرل ګناه ده.(فتاوى رحيميه ج ۸ ص ۸۵ ، شامي ج ۱ ص ۸۳۷ ، دفن الميت په حواله – علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۸)

مسئله : مړى شمالاً او جنوباً خښول چې مخ يې قبلي ته وي يو مسنون عمل دى . ځکه په حديث شريف کې دي چې کعبه معظمه په ژوند کې هم قبله ده او په مړينه هم . دا تفاولا (نيک فالي) ده ترڅو دا ګمان ورباندي وشي چې په ايمان او اسلام سره وفات شوى دى. (فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۴ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله او ابوداود)

مسئله :په قبرکې مړى ستوني ستغ څملول او مخ يې قبلي ته کول هم جايز دي او په اړخ اينبودل ،شاته يې خاوره اچول هم جايز دي. دا صورت يې ترستوني ستغ غوره او افضل دى.
(کفايت المفتي ج ۴ ص ۳۷)

مسئله :د مسلمان مړي مخ به په قبرکې د قبلي لورته وي، په کوموهيوادونوکې چې قبله ختيځ لورته وي د مړي سر د جنوب او پښې د شمال لورته مخ په قبله خښيږي.
(کفايت المفتي ج ۴ ص ۵۱)

په قبرکې د مړي د اينبودلو مسنونه طريقه

مسئله :په قبرکې د مړي اينبودل د قبلي په لور مسنون دي. په ښي اړخ يې اينبودل مخ يې د قبلي لورته کول سنت دى ، د قبلي لورته يې پښې کول ناجايز دي. د ځينو فقهاوو په نظر په قبرکې د مړي مخ قبلي ته کول واجب دي. (فتاوى رحيميه ج ۱ ص ۳۷۰ ،شامي ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله ، هدايه ج ۱ ص ۱٦۲)

مسئله :کله چې قبر تيار شي مړى د قبلي له لوري قبر ته

کښته شي ، ددي صورت دادی چې جنازه له قبر سره قبلي لور
ته کښیږدي ، کښته کوونکی دقبلي لورته مخ کړي او مړی
راپورته کړي ،قبرته یې کښته کړي. قبرته دکښته کوونکو
شمیر طاق یا جفت مسنون نه دی. رسول الله صلی الله علیه
وسلم قبرته څلورو کسانو کښته کړ.

مسئله :په قبرکې داېښودلو په مهال بسم الله وعلی ملة
رسول الله ویل، مستحب دي.

مسئله :په قبرکې تراېښودلو وروسته دکفن هغه غوټې
پرانستلي کیږي ،کومي چې دکفن دخلاصیدلو له ویری
ورکړل شوي وي.(علم الفقه ج ۲ ص ۲۲۰)

تر ښخولو وروسته به هرڅوک څومره خاوره اچوي ؟

مسئله :چي مړی په قبرکې کښیښودل شي، په تختو او نور
څه بوریا اچول او خاوره تویول جایز دي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۴ ، شامي ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۷)

مسئله : دمړي تر ښخولو وروسته، په قبر باندي هرڅوک
څومره خاوره واچوي ؟ په دې کې کوم حد او اندازه نشته.
غوره داده چې دري ، دري موټه خاوره قبرته واچوي داکار
ټولو حاضرینو ته مستحب دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۸۸ ، ج ۵ ص
۴۱۴ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۸ په حواله)

هرسړی دی ددواړو لاسو ډک موټ خاوره (یوه لپه) دري
ځله په قبراچوي.

مسئله : دعالمګیري په باب الصلوة الجنــایز ج ۱ ص ۱۶۳

کي دي چې مستحب داده ترڅو هرڅوک چې په ښخولوکي
حاضر دي ، دري لپي خاوره په قبر واچوي ،په اول ځل
ووایي: مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ .

له دوهم ځل اچولو سره ووایي : وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ .

له دریم موټ (لپي) سره ووایې: وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۴)

مسئله :دقبرتر بشپړولو وروسته، که څوک راشي خاوري
اچولو ته یې اړتیا نشته . (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۸۴ ، امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۷)

تر ښخولو وروسته دبقرة دسورت پیل او پای لوستل

مسئله : دمړي ترښخولو وروسته، یوسړی دبقرة دسورة پیل
له الم څخه تر مفلحــون پوري دسرلورته اوبل سړی دبقري د
سورة پای له امن الرسول ترختم پوري دپښولورته په ټیټ غږ
ووایې،داله حدیث څخه ثابت دي. په قبرباندي اذان کول
ثابت نه دي.(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۳۱)

مسئله : تر ښخولو وروسته، دسورة بقره پیل او پای لوستل
له حدیث څخه ثابت دي ، دشهادت په ګوته په قبرکې خاوره
ایښودل ثابت نه دي ، خو دمشایخو معمول دی. نو په دواړو
صورتونو کي کومه خبره نشته .

دمړي تر ښخولو وروسته، یوه لحظه ځنډ کول، په ذکر او
تسبیح مشغولیدل،دمغفرت دعاکول،کومه خبره نه ده، بلکي
لاغوره دي ترڅو یې په سوال او جواب کې سهولت راشي،ځینو

صحابه وو خو به لا دي کار وصيت کاوو. (فتاوی محموديه ج ۲ ص ۲۷۹، ابوداود ج ۲ ص ۴۵۹ په حواله، شامي ج ۱ ص ۶۰۱، کفايت المفتي ج ۴ ص ۵۲، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۱)

مسئله: ترخښولو وورسته خو قدمه تلل او دعا کول، د مړي په کورکې راټوليدل او دعا کول د سنت خلاف يو عادت دی.
(فتاوی رحيميه ج ۲ ص ۱۹۴، شامي ج ۱ ص ۸۴۲)

تر خښولو وروسته لاسونه اوچتول او دعا کول

مسئله: دثواب غوښتلو لپاره په قبر لاسونه پورته کول ضروري نه دي، دلاسونو له پورته کولو پرته هم ثواب رسيږي. له دي څخه چاته دا اشتباه هم پيدا کيږي چې ګواکې د قبر له مړي څخه شي غواړي. نو ښه دا ده ترڅو لاسونه هسک نشي. که پورته کيږي نو مخ پر قبله دي ودريږي، دا اشتباه به هم ختمه شي.
(فتاوی محموديه ج ۷ ص ۲۲۱ – امداد الاحکام ج ۱ ص ۸۳۷)

مسئله: دجنازي تر لمانځه وروسته دي مړي ته دعا نه کيږي ځکه، دجنازي په لمانځه کې دزياتوالي اشتباه پيدا کيږي.
له صحيح او معتمد طريقې څخه ثابت دي چې د مړي تر خښولو وروسته چې په څومره وخت کې يو اوښ حلاليږي او غوښه يې ويشله کيږي، هغومره وخت له قبر سره په تلاوت او استغفار مشغوليدل مستحب دي، له دي څخه مړي ته اُنس او ګټه پيدا کيږي. دا صحيح او ثابته طريقه پريښودل د مغفرت ارزښناک وخت په دنيايي خبرو تيرول، هسې دنوم لپاره دعا کول او تلل د سنت خلاف او وقت ضايع کول دي.
(فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۳۵۹، مرقاة المفاتيح ج ۲ ص ۳۱۹ په حواله)

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې به دچا له خښولو فارغ شو، هلته به دريده او ويل به يې: خپل وررور ته له الله تعالی څخه مغفرت وغواړئ، هغه ته دثابت قدمي دعا وکړئ، اوس ور څخه پوښتنه کيږي. (فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۲۶، ابوداود شريف ج ۱ ص ۹۵، مشکوة شريف ج ۱ ص ۱۴۹، فتاوی دارالعلم ج ۵ ص ۴۰۱ مشکوة ج ۱ ص ۲۶)

مسئله: مړی خښول او بيا قدمونه وروسته اخستل او دعا کول بد عادت او مذموم او ناجايز دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۸۱)

(پورته ياده شوي سنت طريقه دي نه پريښودله کيږي.)

مسئله: له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې دقبر دسرلورته دبقره پيل تر مفلحون پوري او دپښو لورته ئې دبقري وروستني اياتونه لوستل مستحب دي. په قبر دګوتي اېښودو يا ورته اشاره کول کوم ثبوت نلري، که يې څوک ونه کړي نو دعتاب ور نه ده او تارک يې ګنهګار نه دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۹۱، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۸، اوج ۱ ص ۸۴۲ په حواله)

مسئله: د مړي ترخښولو وروسته دبقري دسورة پيل او پای پټ لوستل کيږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۵ او امدادالفتاوی ج ۱ ص ۸۲۵)

په قبر باندي اوبه پاشل

پوښتنه: کله چې مړی خښ شي بيا په قبر اوبه پاشي يا چې کله څوک فاتحه لولي نو ضرور اوبه پاشي، ايا دا صحيح ده؟

ځواب: دقبر خاوري دکلکولو لپاره ورباندي اوبه پاشل يو مندوب عمل دی، هغه ضروري ګڼل يا يې دثواب مستقل کار بلل بدعت او ګناه ده. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۴)

مسئله : په دي فکرچي دقبر خاوره کلکه او قبر ساتلي وي تر خښولو وروسته اوبه وربانديپاشل جایز بلکي مستحب دي. له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي. دسرله لوري يي وپاشي ،تريښو يې ورسوي اوختم يي کړي. که دقبر خاوره تویږي، قبرسمول او بيا اوبه اچول پروا نلري، خو هره پنجشنبه یا جمعه داوبو پاشلو اهتمام کول کوم ثبوت نلري.
(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۷۷)

له قبر سره په اجوره قرآن کریم لوستل

پوښتنه : ځيني ځايونه دادستور دی چي دمړي ترخښولو وروسته څو ورځي په ځانګړي اهتمام ، مړي ته په اجرت قرآن ويل کيږي ،داشرعاً څنګه دي؟

ځواب : ناوارا ده ، لوستونکي او چي څوک يې مزودري ورکوي دواړه ګنهګار دي . دا اجوره حرامه ده ،بیرته ورکول يي ضرور دي.(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۶ ، علم الفقه ج ۲ ص ۲۱۴)

مسئله : په راجح قول دامنع نه ده چي له اجوري پرته له قبر سره قرآن کريم تلاوت کيږي بلکي صحيح ده . دناظري او حفظ پکي تفصيل نشته. خو ځيني ځايونه يي ضروري ګڼي داجوازنلري اودتارک ملامتول يي سخت منع دي.
(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۵ ،احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۷۵)

مسئله : مړي ته دعاکول صحیح دی، دعا دي داسي کيږي چي که يي څوک ويني داسي ګمان ونکړي چي ګواکې له قبر څخه څه شي غواړي.(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۳۴ ،احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۶)

په قبر لاس پورته کول او دعا کول

مسئله : دمړي لپاره استغفار ويل، لاس پورته کول او دعا کول په هديره کي جايز دي، له لاس پورته کولو پرته هم دعا کول صحيح دي. خو دا چي خلک قبرونو ته ځي او له هغوی څخه خپل مرادونه غواړي چي دا حرام او شرک دي ، نو له همدي امله دي لاس نه پورته کيږي. دا اشتباه اودهغه عمل تائيد به نه کيږي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۹۴، فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۰۸)

مسئله : دعا دلاس له پورته کولو پرته کيدلای شي او په لاس پورته کولو هم کيږي . رسول الله صلی الله علیه وسلم به دمړي ترخښولو وروسته مخ په قبله ودريد او په پورته شويو لاسونو به يي دعا کوله .

که لاسونه پورته شي او دعا وکړي، درسول الله صلی الله علیه وسلم ،پیروي به شوي وي ،خو مخ دي دقبرلورته نه کوي بلکي دقبلي لورته دي ګرځوي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۰۶ ، فتح الباري ج ۱۱ ص ۱۲۲ په حواله ، احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۵۲)

پر قبر اذان کول

پوښتنه : ترتدفين وورسته په قبرباندي اذان کول څرنګه دي؟ داعقيده ده چي اذان مړي له شيطاني شرارت څخه ساتي؟

مسئله : رسول الله صلی الله علیه وسلم مړي ته دمغفرت ، دقبرله عذاب اوشيطاني شرارت څخه دساتلو لپاره دجنازي لمونځ کاوو او په قبرکي دمړي دايښودلو په مهال به يي ويل :

بسم الله وعلى ملة رسول الله . دخاورې اچولو په مهال به يې
درې لپې خاورې ورباندې واچولې. په لومړی ځل به يې ویل:
مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ. په دوهم ځل : وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ او په دریم وار به يې
ويل : وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى.

دهمدې ويلو لاربنوونه به يې كوله . ترخښولو وروسته به
يې دسر لورته دبقرې دسورة پيل او دپښو لورته دبقرې
وروستني اياتونه لوستل او تر ډيرو دتلاوت او نورښه ويلو
او دالله په دربار كې په عاجزۍ سره مړي ته ددعا كولو ثبوت
هم شته .(مشكوة شريف ج ۱ ص ۱۴۸)

كه داسې وخت داذان اړتيا واى، نو رسول الله صلى الله عليه
وسلم به امر كړى واى او ترځان تيرو صحابه وو به ضرور هغه
عملي كاوو.

درسول الله صلى الله عليه وسلم په مباركه زمانه كې او دهغه
تر وفات وروسته، دراشدينو خلفاوو په دوره كې، په زركونو
صحابه او تابعين وفات شول خو دچا په قبر اذان شوى نه دى،
نه يې په دې عمل كړى دى. په مسنونه طريقه عمل كولو كې
زموږ نجات او ژغورنه ده . له هغې څخه خلاف كول دلارې
دوركولو سبب دی
نو هغه څه
په دين ك

له همدې كبله داخترونو دلمانځه او خطبې لپاره اذان او
دجماعت لپاره اقامت نشته ، ځكه درسول الله صلى الله عليه
وسلم په زمانه كې په دين كې نه وو. همداسې په قبر باندې
اذان كول په دين كې شامل نه دي، بالكل بدعت دي. ځكه له
سنت څخه ثابت نه دي. (فتح القدير ج۲ ص۱۰۲، بحرالرائق ج۲ ص۱۹۶، عالمګيرې
ص۱۶۶، تفصيل په فتاوى رحيميه ج ۱ ص ۳۶۵ كې وګورئ.)

مړی بل ځاى ته نقل كول

پوښتنه : مړی چې چيرې ومري دوهم ښار ته په منتقل كولو
كې يې څه تحقيق دى ؟
ځواب : بل ښار ته دمړي وړل تحريمي مكروه ده، بل ځاى ته
يې په وړلو كې دښخولو ځنډ او دمړي دخراييدلو ويره وي،
نور دا مفاسد هم ورسره موندل كيږي:
۱- هغه لازمي بلل كيدل . ۲- د ډير لګښت او دزياتو
ستونزو زغمل.
۳- دا لازم بلل چې په پلرنۍ هديره كې دفن شي او په دې
باندې ټينګار داعقيده ثابتوي چې مړي له يوه او بل سره
ملاقات كوي . حال داچې دا غلطه خبره ده.
۴- دجنازې په انتقال كې دجنازې دلمانځه دتكرار احتمال
يږي او دا ناجايز ده .
(احسن الفتاوى ج ۴ ص ۲۰۹ ، طحطاوي ص ۳۳۷ په حواله، بحرج ۲ ص ۱۹۵)
مسئله : مستحب داده چې ميت داسې ځاى ښخ كړاى شي
چې هلته مړشوي وي. ترښخولو وړاندې كه له يوه ښار څخه

بل ښارته وړل کیږي څه خبره پکې نـــشته ،خو چي د جسد د خرابيدلو ويره نه وي.

مسئله : ترخښولو وروسته دمړي ايستل ناروا دي، پرته له هغه صورته چي په داسي ځمکه کې خښ شوی وي چي په ناروا توګه هغه ځمکه غصب شوي وي يا ترخښولو وروسته چا په شفعه خپله کړي وي.(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸٦۵، کفايت المفتي ج ۴ ص ۵۰، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۸)

په امانت ډول خښول او بيا نقل کول

ځيني ځايونه چي چيري څوک مړ شي په تابوت يا بل څخه کي يي امانت خښوي، بيا يې وروسته تابوت راباسي، خپلي سيمي ته يي وړي او هلته يي خښوي ،خو ترخښولو وروسته که امانت خښ وي يا د غسي دوباره يې را ايستل جواز نلري. امانت خښول هم شرعي اصول ندي. (عزيز الفتاوی ج ۱ ص ۲۴۲)

مسئله :په امانت خښولو کې دا خيال وي چي څومره وخت ځمکي ته سپارل شوي دي تر هغه وخته مړي نه خرابيږي . په شريعت کې د دي کوم اصل نشته او داسي کول جواز نلري. څوک چي په داسي عقيدې سره دا کار کوي ، ګنهګاريږي. ځکه ترخښولو وروسته شرعاً دمړي را ايستل ناروا دي او بل ځای يي خښول سم نه دي، دا حکم عام دی.

داسي چي امانت خښيږي يا امانت نه وي، خو امانت خښول له شريعت څخه ثابت نه دي.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۰۳، وج ۵ ص ۴۰۸، ردالمحتار باب صلوة الجنايز ج ۱ ص ۸۳۷ په حواله)

قبر سپړل او مړی را ايستل

مسئله :ترخوپوري چي داګمان وي چي د مړي کوم اندام له خرابيدلو او اوبوی کولو څخه خوندي نه دي، نو د قبر سپړل حرام دي. خو دا څو خبري وتلي دي : يو دا چي که مړی په نيول شوي ځمکه کي کښيږدي او مالک يې د قيمت له اخستلو څخه انکار وکړي يا په غصب شوي ځمکه کښ خښ شي او مالک يي پکې خښول نه غواړي. يا دا چي له مړي سره څه مال په قصد يا هيره سره خښ کړای شي. که هغه مال دمړي وي يا د بل چا، که مال ډيروي يالږ، يعني که فقط يو درهم هم وي، په دي صورت کې قبرسپړل او مال را اخستل جوازلري، که جسد خراب شوي وي او که نه وي.(کتاب الفقه ج ۱ ص ۲٦٦ علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۷)

دمړي تر خښولو وروسته يې بيا بل ځای ته وړل

پوښتنه :که دمړي ترخښولو وروسته يې د انتقال دا صورت چي د قبر او لحد د سپړلو په ځای ټول قبر يوړل شي، څلور خواوي يې دوه ، دوه نيم ګزه وخيزي ديوې ستري ونې په څير قبراو لحد ټول پورته کړای سي.

پوښتنه داده چې په دي صورت کې به هم هغه حکم وي کوم چي د قبر د سپړلو او دمړي درا ايستلو دی.

ځواب : حامداً او مصلياً : اصل خبره داده، انسان چي په کوم کلي او ښارکي ومري ،په هغه ښار يا کلي کې دي خښ کړل شي: که هغه وصيت کړي وي چي ما فـــلانی ځای خښ

کړئ، داسې کول ضروري نه ده. شرعاً دا وصیت باطل دی.
(شامي ج ۱ ص ۶۰۲)

پاته شوه دا خبره چې دغه په قبر تیرېږي وايې که زما وس وای دلته مې نه خښولې بلکې چیرې چې مړ شوې وای هلته به مې خښ کړای وای. په دې مسئله کې دوه مره تنګي هم نشته. امام محمد رحمه الله تر یو دوه میله لرې د خښولو دا امکان خبره کړې ده. (شامي ج ۱ ص ۶۰۲)

خو تر خښولو وروسته یې دیا وړلو اجازه ورکړې نه ده.

طحطاوي تر خښولو وروسته د انتقال درې صورتونه لیکلي دي:

یو دا چې که مړی په پردۍ ځمکه کې له اجازې پرته دفن کړل شوی وي، دا ځمکه غصب ده او مالک په هیڅ ډول د مړي په دلته پاته کیدلو خوښ نه وي، بلکې دغه په ایستلو ټینګار کوي نو په داسې حالت کې دې بل قبر ته نقل کړای شي. دا صورت په اتفاق سره جواز لري.

دوهم صورت یې دا دی چې هسې د وهمي هدیرې ته وړل یې موخه وي، که دا د مړي د عظمت یا محبت له امله وي یا د مړي غوښتنه او وصیت په خاطر، دا صورت په اتفاق سره ناروا دی.

دریم صورت دا دی چې: د مړي په قبر د اوبو راتلل زیات شي او مړی ورڅخه خوندي نه وي، په دې صورت کې ځیني علماء وايي چې د انتقال اجازه یې شته، خو ځیني یې منع وايي. د تاویل چې دوه، دوه نیم ګزه ځمکه وخیږي او یوړل شي، دا کار نه ورکوي، ځکه اصل مقصد خو د جسد انتقال

دی، څه شي چې ورسره وړل کیږي، هغه د مړي تابع دی، اصل مقصود نه دی، دې ته هم د مړي انتقال وايي او د خاورې انتقال نه بلل کیږي. (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۰۴، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۴ او ص ۳۸۰، غنیة ص ۵۶۳، ردالمحتار ص ۸۴۰)

که مړی یووړل شي لګښت یې د چا په غاړه دی

مسئله: د مړي د انتقال لګښت د دفن په مصارفو کې نه راځي په ترکه کې نه راځي که د بالغ وارثانو په خوښه مړی منتقل شي یا وروسته وربانـدې راضي شي د هغوی له برخې دې مصرف ورکړل شي، د وړو ارثانو له برخې دې نه ورکول کیږي. (فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۶۴)

په ټریکټور یا بل څه هدیره پاکول

پوښتنه: دلته یوه پخوانۍ وقف شوې هدیره ده، له څو کلونو راپه دې خوا پکې مړي نه خښیږي، ځای، ځای پکې کږي دي. د ځمکې د هموارولو او پاکولو لپاره تر دریو فوټو د ځمکې کندل شرعاً څرنګه دي؟ ایا دا کار په ټرکټور یا بلدوزر یا بل شي کیدلای شي کنه؟

ځواب: د ځمکې د سمولو لپاره دې داسې لاره غوره شي چې د مړو احترام وساتل شي، د قبرونو بې احترامي کول، وربانـدې ګرځیدل او کښیناستل جواز نلري، دا خبره له حدیث څخه ثابته ده. په اسلام کې چې د مړو او قبرونو څومره درناوی دی هغه له احادیثو څخه معلومیدلای شي. په بلدوزر یا ټرکټور د ځمکې سمول د مړو ډیر سپکاوی او توهین دی. په قبرونو له

تیریدلو او کښیناستلو څخه ممانعت شوی دی نو د ترکتور د ګرځولو په څرنګه اجازه وي ؟

داچي هدیره پخوانۍ ده نو د ډيرو قبرونو نښي به پاته نه وي داخیال کول چي قبرونه به نه وي، کیدلای شي هلته قبرونه وي نو د ترکتور اراده مه کوئ. دوړو ماشومانو قبرونه ډیرکډي نه وي، دقبرونو دسپړلو امکان ډیردی ، دا اراده دي پریښودله شي او دهدیري دپاکولو دي بله لاره غوره شي .

(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۸۲ ، دمشکوة شریف ج ۱ ص ۱۴۸ په حواله)

په هدیره کي دکښیناستلو لپاره چوکۍ جوړول

پوښتنه : دلته دزړو کسانو لپاره په هدیره کي چوکۍ ږدي ترڅو وربانـدي کښیني ، پـه هـدیره کـي چـوکۍ ایښودل کیدلای شي کنه ؟

ځـواب : کـه سـپین ږیـرو تـه تکلیـف وي، دامقصد څرګندیدلای شي، خو ورو ، ورو لـه دي څخـه غلطـه پایله راوزي ، بي خبره خلک له هدیري څخه دتفریح ځای جوړوي هلته به ناست وي او په بي کاره خبرو اترو به مشغول وي، ستاسو چي کوم نیک مقصد وي هغه به پاته وي نو په هدیره کي دي په زړه او ساده طریقه کښیني چوکي یابل څه دي نه ږدي . که سپین ږیري په تکلیف وي په ځمکه کښیناستلای

[illegible] ۸ ص ۱۷۱)

[illegible] ی دی دتفریح ځای او باغ نه دی
[illegible] ې وشي، که خلکو ته دزیارت لپاره

په تلو ، راتلو کي ستونزه وه ، قبرونه دي پریږدي خوا وشا دي خالي ځایونو تـه ځـي هغـه دي پـاکوي او هلتـه پـه ځمکـه کښیناستلای شي . محمد رفعت قاسمي)

مسئله : په هدیره کي دجارو او صفا کولو لپاره دښځو مقررول صحیح نه دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۵۷۹)

(ځکه دفتني ویره ده نو ښځي دي دزیارتونو دصفایي او څارني لپاره نه مقررېږي. محمد رفعت قاسمي)

مسئله : دهدیري په خدمت کي دي داسي کسان لګیا وي چي دقبرونو په ادب او احترام باندي پوهیږي ،ددي لپاره تر څو شوني وي مسلمان شخص ورتـه دچوپړ لپاره درول لازم دي. که مسلمان شخص ونه موندل شي، بیا خو مجبوري ده .

(کفایت المفتي ج ۷ ص ۱۳۷)

دهدیري دګټي لپاره وني ایښودل

پوښتنه : دهدیري دعاید دزیاتوالي لپاره په هدیره کي میوه لرونکي وني ږدي، څه حکم یي دی ؟ او پـه دي باندي ډیر لګښت هم کیږي ،څه موده وروسته عاید تري ترلاسه کیږي؟

ځـواب : پـه هـدیره کـي داسـي ځـای چـي فـارغ وي او اصـل مقصد ته چي دمړو خښول دي زیان ونه رسیږي، وني ایښودل جوازلري، ددي ونو څرخول هم جایز دی او دمیوې بیه دي دهدیري په کارلګیږي، دجواز لپاره یې دا شرط هم دی چي دونو ساتلو ، دمیوو تویولو او دټولولو په مهال په قبرونو ګرځیدل او هغه ترپښو لاندي کول نه وي. دونو په ایښودلو کي

يي که دکتې تمه وي دهديرې پيسې لګول جايز دي.

(کفايت المفتي ج ۴ ص ۱۲۱)

مسئله :دهديرې دونو دميوې خوړل په دي وجه چې هغه دقبرونو ده ، پروا نلري خو که هديره وقف وي، نو دهغې په اړه چې څرنګه شرط یاتعامل دی هغسې دي وشي. که دخرڅولو شرط و، بې بيې دي نه خوري، که بې وزلوته وقف و، شتمن خلک دي نه خوري. (فتاوی دارالعلوم ج۵ ص ۴۱۲، فتاوی عالمګيري ج ۱ ص ۱۵۶)

دهديرې دونو حکم

مسئله :دهديرې ونې که تر هديرې وړاندې پکې وې او ځمکه دچا مملوکه وه او بيا يې هديرې ته وقف کړه ، ونې دده دي چې هرڅه وربانديې کوي. که ځمکه دچا ملکيت نه وې ونې دي هغسې پکې پاتې شي، لکه دهديرې ترجوړولو وړاندې چې وې. (کفايت المفتي ج ۴ ص ۱۱۶)

مسئله :دهديرې ځمکه که دچا په ملکيت کې وه، دا ونې که يې ايښې وې او که پخوا په خپله شنې شوې وې، دمالک دي که يې هديرې ته زيان رسيده مالک ته يې وهل جوازلري.

خو که په ملکيت کې نه وې،وقف وې او ونې دځمکې دوقف په حالت کې راشنې شوې وې ، نو دمقبرې اهل يې په تصرف کې اجازه لري. ځکه هغه ونې هم دوقف په حکم کې دي، اختيار يې له قاضي يا متولي سره ده . که چيرې قاضي نه وي نو هلته دهديرې اهل يې په تصرف کې واک لري. (کفايت المفتي ج ۴ ص ۱۱۵ ،هنديه ج ۲ ص ۴۵۵)

(که وغواړې ودې پلورې ،دمقبرې په کار کې يې لګولای شې)

په قبر دپاسه کرونده جوړول

پوښتنه :دزيد په باغ کې دچا قبرؤ. هغه يې په يوې کولو وران ويجاړ او بې نښې کړ. هلته يې دانې وکرلې، دلته له دانو څخه دراټوکيدلو او دقبرو دورک کولو حکم څه دی؟

ځواب : که قبر دومره زوړ وي چې مړی پکې خاوري شوی وي ،هلته دقلبه(يوې) کولو څه خبره نشته ، بلکې هغه کښت او کرونده صحيح ده.(خو چې ځمکه يې خپله وي) يا که چا دزيد له اجازې پرته خپل مړی پکې خښ کړی وي، بيا هم زيد ته جايز ده چې هغه داځای وکري . که دزيد خپل مړی وي او يا دزيد په اجازه پکې خښ شوی وي، نو دزيد لپاره تر هغه چې دامړی خاوري شوي نه وي دکرلو جواز نشته ، ترڅو هلته په غله دانو کې خرابې رانشي.له دي څخه دقبربې نښانه کولو حکم هم معلوم شو. (فتاوی محموديه ج ۷ ص ۲۲۱)

مسئله : په موقوفه هديره کې کرونده کول، قبرونه هوارول، ځمکه يې په کرايه ورکول او نور څه جايز نه دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۷۹ ، ردالمحتار ص ۸۴۰)

مسئله : داچې هديرې ته داوروړلو ممانعت دی نو په قبرونو دپاسه به دوچو وښو دسوزولو څرنګه اجازه وي. دپاکولو لپاره دي بله طريقه وکارول شي. (فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۰۳)

دهديرې دونو دمصرف ځای کوم دی ؟

پوښتنه :په يوه احاطه هديره کې چې په مابين کې يې يو وړوکی مسجد هم دی ، هديره خورا زړه ده ، څلورو خواوو ته

چې کوم تملیکي ځمکې راځي ، هغه یې هم خرڅې کړې دي.
که دهدیرې ونې څوک ووهي او خپله کټه ترې واخلي ، د
مسجد مصارف په مرسته او چنده پوره کړي حکم یې څه دی؟
ځواب :که هغه هدیره وقف وي، لکه څرنګه چې عادت او
عرف دی ، نو هیچاته دونو دوهلو او په خپله ښه کولو جواز
نشته . بلکې دوقف په ځایونو یې لګول واجب دي او له
هدیرې څخه شنه ونه له ضرورت پرته وهل جواز نلري. خو
وچې ونې دي ووهي او دوقف په ځایونو کې دي مصرف
کړي. که وقف کوونکی په مسجد کې دلګولو اجازه ورکړي
هم صحیح ده، که چا خپل ملکیت خرڅ کړی وي، په دغسې
حال کې هم هغه وهل او خپل کار وربانديې کول جواز نلري .که
هدیره وقف نه وي بلکې دچا ملک وي نو بیا وچې ونې وهل
او په خپل کار کول ورته جایز دي.

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۳۹ ، دعالمګیري ج ۱ ص ۲۴۴ په حواله)

مسئله :دهدیرې دوښو دغوڅولو ممانعت له دې امله دی
چې دهغو له تسبیح څخه چې کومه ګټه مړو ته رسیږي له هغو
څخه بې برخې کیږي . خوله قبرونو خواوشا که دلارې د
جوړولو یا پاکولو لپاره ریبل کیږي، پروا نلري. دوښو
دسمولو لپاره که کله دقبر دپاسه واخستل شي هم کومه خبره
پکې نشته اماله تسبیح څخه چې یې کومه ګټه مړو ته رسیږي
په ریبلو یې هغه بې برخې کیږي،ښه داده چې غوڅ نشي ،تر
وچیدلو وروسته یې غوڅول صحیح دي. (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۸۹)

په هدیره کې څاروي څرول

مسئله :په هدیره کې څاروي دوښو دخوړلو لپاره څرول منع
دي. نجاست او ناپاکي یې په قبرونو پاته کیږي چې دادمړي
بې عزتې ده . (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۴۰۹ ، بحر الرایق ج ۵ ص ۲۵۴ ، کتاب الفقه ج ۱ ض ۱۲۵)

مسئله : دیوه وقف شتمني دبل وقف په هکله استعمالول
شرعاً جواز نلري . نودهدیرې لپاره وقف به دمشاعرې او
نورو لپاره مصرف کول څرنګه جواز ولري ؟ یعني اجازه یې
نشته . (فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۱۸۹)

دقبرونو زیارت کول

مسئله :دقبرونو زیارت کول یعني هلته تلل او هغه لیدل
مستحب دی چې په هره اونۍ کې لږ تر لږه یوځل ورشي . ښه
داده چې دا ورځ دجمعې وي ، دمیرمنو لپاره هم دقبرونو
زیارت جواز لري، خو په دې شرط چې ځوانې نه وي او دغم
دتازه کولو لپاره زیارت ونکړي. بلکې دعبرت او برکت د
ترلاسه کولو لپاره وي.(علم الفقه ج ۲ ص ۲۱۴ ، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۸٦
،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۳ ،فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۴۴)

مسئله :دقبرونو زیارت کول دعبرت حاصلولو اودآخرت
دیادولو په غرض مستحب دی. په تیره دجمعې په ورځ او تر
هغې یوه ورځ وړاندې یا وروسته .زیارت کوونکي ته ښایې
چې دعا او زارۍ وکړي ، عبرت واخلي او دقرآن کریم تلاوت
وکړي چې له دې څخه مړي ته ګټه رسیږي.
(کفایت المفتي ج ۱ ص ۸۷۰)

چې کوم تمليکي ځمکې راځي ، هغه يې هم خرڅي کړي دي.
که دهديري ونې څوک ووهي او خپله ګټه ترې واخلي ، د
مسجد مصارف په مرسته او چنده پوره کړي حکم يې څه دی؟
ځواب : که هغه هديره وقف وي، لکه څرنګه چې عادت او
عرف دی ، نو هيچاته دونو دوهلو او په خپله ښه کولو جواز
نشته. بلکې دوقف په ځايونو يې لګول واجب دي او له
هديري څخه شنه ونه له ضرورت پرته وهل جواز نلري. خو
وچې ونې دي ووهي او دوقف په ځايونو کې دي مصرف
کړي. که وقف کوونکی په مسجد کې دلګولو اجازه ورکړي
هم صحيح ده، که چا خپل ملکيت خرڅ کړی وي، په دغسي
حال کې هم هغه وهل او خپل کاروباندي کول جواز نلري. که
هديره وقف نه وي بلکې دچا ملک وي نو بيا وچې ونې وهل
او په خپل کار کول ورته جايز دی.

(فتاوی محموديه ج ۷ ص ۲۳۹ ، دعالمګيري ج ۱ ص ۲۴۴ په حواله)

مسئله :دهديري دوښو دغوڅولو ممانعت له دې امله دی
چې دهغو له تسبيح څخه چې کومه ګټه مړو ته رسيږي له هغو
څخه بې برخي کيږي . خو له قبرونو خوا وشا که دلاري د
جوړولو يا پاکولو لپاره ريبل کيږي، پروا نلري. دوښو
دسمولو لپاره که کله دقبر دپاسه واخستل شي هم کومه خبره
پکې نشته امااله تسبيح څخه چې يې کومه ګټه مړو ته رسيږي
په ريبلو يې هغه بې برخي کيږي،ښه داده چې غوڅ نشي ،تر
وچيدلو وروسته يې غوڅول صحيح دي. (فتاوی رحيميه ج ۲ ص ۱۸۹)

په هديره کې څاروي څرول

مسئله :په هديره کې څاروي دوښو دخوړلو لپاره څرول منع
دي. نجاست او ناپاکي يې په قبرونو پاته کيږي چې دا د مړي
بې عزتي ده . (فتاوی رحيميه ج ۲ ص ۴۰۹ ، بحر الرائق ج ۵ ص ۲۵۴ ، کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۲۵)

مسئله : ديوه وقف شتمني دبل وقف په هکله استعمالول
شرعاً جواز نلري . نودهديرې لپاره وقف به دمشاعري او
نورو لپاره مصرف کول څرنګه جواز ولري ؟ يعني اجازه يې
نشته . (فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۱۸۹)

دقبرونو زيارت کول

مسئله :دقبرونو زيارت کول يعني هلته تلل او هغه ليدل
مستحب دی چې په هره اونۍ کې لږ تر لږه يو ځل ورشي . ښه
داده چې دا ورځ دجمعې وي ، دميرمنو لپاره هم دقبرونو
زيارت جواز لري، خو په دې شرط چې ځواني نه وي او دغم
دتازه کولو لپاره زيارت ونکړي. بلکې دعبرت او برکت د
ترلاسه کولو لپاره وي.(علم الفقه ج ۲ ص ۲۱۴ ، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۶
،ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۳ ،فتاوی محموديه ج ۲ ص ۴۴۴)

مسئله :دقبرونو زيارت کول دعبرت حاصلولو او دآخرت
ديادولو په غرض مستحب دی. په تيره دجمعې په ورځ او تر
هغې يوه ورځ وړاندې يا وروسته .زيارت کوونکي ته ښايي
چې دعا او زاری وکړي ، عبرت واخلي او دقرآن کريم تلاوت
وکړي چې له دې څخه مړي ته ګټه رسيږي.

(کفايت المفتي ج ۱ ص ۸۷۰)

هديري ته دتللو مسنونه طريقه

مسئله :کله چې دقبر دزيارت کولو لپاره ځوک ځي ، قبرته په رسيدلو ووايي : السلام عليكم دارقوم مؤمنين وانا ان شاء الله بكم للاحقون ونسال الله لنا ولكم العافية .

مسئله : دزيارت کولو په مهال ودريږي او په ولاړه ، ولاړه څه لوستل او ثواب يې مړي ته ببښل ، هغه او ځان ته دعا کول مستحب دي. (علم الفقه ج ۲ ص ۲۱۵ –ترمذي ج ۱ ص ۲۰۳)

مسئله :په ولاړه دي فاتحه ولولي، که ځوک ډير پاته کيږي يا په ولاړه ستړى کيږي، کښيناستل هم صحيح دي. که په ژوندکې له مړي سره بې تکلفه اړيکې وي نو دواړه ډوله صحيح دي . (فتاوى محموديه ج ۲ ص ۴۰۵ ، دشامي ج ۱ ص ۵۴۳ په حواله، احسن الفتاوى ج ۴ ص ۲۱۲)

مسئله : داخلاص سورت يا نور څه ويل او ثواب يې ورته ببښل هم ښه دي.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۱)

په قبر باندي دسلام ويلو څه ګټه ده؟

پوښتنه :دانسان تر مړينې وروسته دانسان روح جنت يا دوزخ ته ځي نو په هديره کې دسلام جواب له چا څخه پيدا کيږي؟

ځواب : دمړي دروح اړيکې له قبر سره پاته وي ، ددي لپاره چي السلام عليكم ويل کيږي تفصيل يې په کتاب الروح دابن قيم کې وګورئ . دمړي له لوري دسلام جواب ويل دحديثو له

صحاح کتابونو څخه ثابت نه دي خو په نورو کې شته .
دصحاح کتابونو له روايتونو څخه ښکاري چي فقط دالسلام عليكم ويلو حکم دى.ددي وجه داده چې که څه هم مړى يې نه اوري او نه ځواب ورکولاى شي. خو زيارت کوونکي ته دعبرت لپاره دا الفاظ مشروع شوي دي ، لکه چې انتم لنا سلف ونحن لكم خلف، څرګند دي. (احسن الفتاوى ج ۴ ص ۱۹۴)

دقبر دزيارت کولو لورى

مسئله : که دمړي دسر لورته ودريږي نو مړي ته دستونزو سبب دى، دپښو لورته دي ودريږي او فاتحه دي دثواب دبښلو لپاره ووايي .(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۲۲۷،دشامي ج ۱ ص ۹۴۲ په حواله)

دناپاکي په حالت کې دقبرونو زيارت کول

مسئله :قبرته دپاکي په حالت کې ورتلل ښه دي ، ځکه هلته دقرآن کريم تلاوت هم مسنون دى . دقرآن تلاوت دناپاکي په حالت کې هم جواز لري. که قرآن کريم نه تلاوت کوي نو دجنابت په حالت کې هم ورتګ ګناه نه ده، خو خلاف يې افضل او غوره دي.(يعني په پاکي کې ورتلل ښه دي .)
(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۲۶۴ دشامي بحث زيارت القبور ج ۱ ص ۹۴۲ په حواله)

داختر په ورځ کې دقبرونو زيارت

مسئله :داختر ورځ دخوشحالۍ ورځ ده . ډير وخت په خوشحالي کې له آخرت څخه غفلت کيږي او دقبرونو په زيارت کولو اخرت ياديږي. که ځوک داختر په ورځو کې د

قبرونو زیارت وکړي ښه دی کومه خبره پکې نشته .خو التزام
که څه هم عملي وي چې نور دا فکر وکړي چې لازمي دی بیا
صحیح نه دی.

که څوک دا ختر په ورځ د قبرونو زیارت ونکړي په هغه
ملامتي ویل صحیح نه ده ، په دي کې احتیاط لازم دی.
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۷۷)

مسئله :دشپې زیارت کیږي یا مړو ته څه ویل او ثواب یې
ورته بخښل صحیح دي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۳ –مشکوة ج ۱ ص ۱۵۴)

مسئله : دمور او پلار زیارت ته تلل که په خپل ملک کې وي
او که په بل ملک کې، دورځې له تعین پرته څه خبره نه ده ،
ورتلای شي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۸)

د مزاراتو د نذر حکم

پوښتنه :کومه ځمکه چې پاچهانو د پیرانو په نوم وقف کړې
وي ، که د هغه عاید یې دلنګر لپاره جاري کړی وي نو خوړل
یې څرنګه دي؟ هغه چې پیرانو ته نذر شوي وي ،د هغه خوړل
څرنګه دي؟ ایا میراث پکې جاري کیدلای شي؟

ځواب : که وقف کوونکي د وقف عاید لنګر ته د جاري کولو
اجازه ورکړي وي نو مستحق ته یې خوړل جایز دي.که نذر
د پیرانو او مزارونو په نوم وي نو خوړل او نظریې جایز نه دي
او که د بېوزلو لپاره وي، نو هغوی ته یې خوړل جواز لري.که
هغه په شرعي ډول وقف شوي وي په میراث کې نه وړل کیږي،

بلکې واقف چې یې برخه څرنګه معلومه کړي ده هغسي دي
په مستحقینو ویشل کیږي. که منظم وقف نه وي بلکې د کوم
خاص شخص ملکیت وي نو په شرعي ډول میراث پکې جاري
کیږي.(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۵۴ د طحطاوي ص ۴۰۳ په حواله)

مسئله :له زیارت سره نژدې که مسجد وي یا کومه کوټه، څه
خبره پکې نشته ، که قبر دلمونځ کوونکي مخته نه وي نو په
هدیره کې لمونځ کول پروا نلري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۵)

مزارته پیسې ورکول څرنګه دي؟

پوښتنه : زه چې په کومه لاره موټرګرځوم ، په هغې لاره یو
مزار دی ، خلک پیسې راکوي چې زیارت ته یې ورکړم ،
زیارت (مزار) ته د پیسو ورکړه څرنګه ده؟

ځواب : مزارته پیسې په دې نیت ورکول چې په بې وزلو به
یې صدقه کړي جواز لري.که د مزار نذرانه مقصد وي، بیا
ناجایزه او حرامه ده. دا خو د اصولو خبره ده . خو نن سبا د
خلکو د حالاتو په لیدلو ویل کیږي چې د عوامو مقصد دوهم
دی نو ځکه ممنوع بلل کیږي. (آپ کې مسائل ج ۸ ص ۲۶۵)

مسئله :د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر د زیارت کولو
لپاره کومه ورځ مغلومه نه ده . دکال په جریان کې مینه وال
ورته په هره نیټه راځي. دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم
په مبارکه روضه عرس او غونډه نه کیږي نو د نورو دیني
مشرانو په مزارونو به څرنګه جایز وي ؟ له همدې امله دیني

مشرانو ، محدثینو او فقهاوو په څرګندوو الفاظو دا رواجي عرسونه ناجایز بللي دي .(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۳۱۹)

په قبر د څادر غوړول

پوښتنه :په قبر څادر غوړول څرنګه دي؟ چا ویل چې په کعبه پوښ غوړیدلي دی نو پر قبر باندي یې اچول څه خبره ده؟

ځواب : دعایشې رضی الله عنها له روایت سوي حدیث څخه په دیوالونو باندي د څادر د ځوړند کولو ممانعت راغلی دی ، داله دي سره چې په ښکاره کومه بدي پکې نه وه ، دشرک شبه یا بل څه پکې نه وه، نو په قبرونو باندې څادر غوړول دشرک د وهم او د غیر الله د تعظیم له امله په لومړۍ درجه ناجایز دي.

کعبې مبارکې ته خو په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښ ورکړی و ، دهغې تعظیم کفر ته مفضي نه دی. ځکه یې هم په لمانځه کې استقبال ضروري دی خو قبرونو ته په مخ ګرځولو لمونځ مکروه ده.(احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۷۶)

مسئله : په قبر باندي د ښکلا لپاره ګلان اچول ښه نه دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۵۷ ، دعالمګیري ج ۱ ص ۳۶۳ باب السادس په حواله)

که د ګلانو بیه مړي ته د ثواب په نیت صدقه شي مړي ته یې ګټه رسیږي. رفعت قاسمي.

په قبر باندي د څراغ حکم

[پو]ښتنه : په قبر باندې د څراغ ، ګرېتې ، لوبان یا نورو [illegible] حکم څه دی؟

ځواب :بدعت او منع دی. د مړي لپاره خوشبویي په دري وختونو کې ثابت دي : یو د روح ختلو په مهال ، دوهم د غسل ورکولو او دریم د کفن ورکولو په مهال.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول او فعل د پوهیدلو لپاره د صحابه وو تعامل کتل ضروري دي، دهغو کړه وړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول او فعل تفسیر دی.

نن سبا چې د دي دومره اهتمام کیږي، هغه لازم بلل کیږي، نو په بدعت کې یې څه شک او شبهه نشته ځکه هم ناجایز دي په شریعت کې کوم ثبوت نلري.

(احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۷۴ ، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۱۵)

مسئله : دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک لاس برکت دی ،بیا دا چې دسترو ، سترو مشایخو او اولیاوو په مزارونو ګلان اچوي ، دهغوی په هکله دا عقیده هم مشکله ده چې دهغوی د عذاب تخفیف ته اړتیا ده . که کوم شتمن و مړي او ډیر حقوق یې په ذمه پاته وي ،دنصوصو په حکم د قبر دعذاب وړ دی نو دهغه په قبر دي ګلان نه ږدي .

(علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۸ ، فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۸۲)

داولیاوو له مزارونو څخه غوښتنه

سوال : د دیني مشرانو په دربارکې حاضریدل او داویل چې تاسي مستجاب الدعوات یاست، ماته دعا وکړئ چې الله تعالی مو فلانی وړاندیز پوره کړي ، په شریعت کې د دي څه اصل دی؟

ځواب: په دي هکله مشروع خبره داده چې د زیارت کولو په مهال، له سنت سره سم سلام وربانديي وواېي او قبرونو ته د مغفرت دعا وکړي. که څه وواېي ثواب يې د هغه روح ته وبښې. دا خورا ښه دي. که کومه غوښتنه کوي، له الله تعالی څخه دي کوي، مثلاً داسي: ای الله! د دي په برکت زما حاجت پوره کړي. مشرانو ته داسي ونه واېي چې تاسي دعا وکړئ، یا وواېي زما فلانی کار وکړئ، دا ثابت نه دي او قرآني ایاتونه په دي دلالت کوي. نو داسي هغه مخاطب کول چي تاسي دعا وکړئ، نه ویل کیږي. بلکي له الله تعالی څخه هغوی ته د مغفرت دعا کیږي او د درجو د لوړتیا غوښتنه يې کیږي او که د هغوی په ذریعه د خپلو حاجتونو د پوره کیدلو دعا وشي هم څه خبره نه ده. په حصن حصین کې راغلي دي چې د صالحانو په واسطه دعا کول مستحب دي. چې الله تعالی د هغوی په برکت دعا قبوله کړي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۴۲ – ۴۴۳ . حصن حصین ص ۱۸)

مسئله: له مړي څخه په دي عقیده غوښتل چې ګواکې هغه متصرف في الامور دی (واک لري) لکه د عوامو عقیده چې ده، دا صیحح نه ده بلکي په دې سره د کفر ویره ده.

که له الله تعالی څخه د هغه په واسطه، دعا او غوښتنه وشي مثلاً وویل شي: یا الله! زما دا کار د فلانی دیني مشر په برکت ترسره کړي. جواز لري. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۲۴، ردالمحتار ج ۱ ص ۱۷۵ باب الاعتکاف په حواله)

مسئله: قبر ته سجده کول حرام دي عام او خاص و یوه ته هم صحیح نه ده. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۲)

ایا تر مړيني وروسته د اولیاوو فیوضات باقي پاته وي؟

پوښتنه: د اولیاوو تصرف د هغوی فیوض او برکات تر مړينې وروسته يې هم پاته کیږي او که تر دي ظاهري مړينې وروسته ختمیږي؟

ځواب: فیوض او برکات يې تر مړينې وروسته پاته وي. مثلاً دا چې له زیارت او نژدیوالي څخه يې زایرینو ته برکات حاصلیږي او په دوی هم درود او رحمت وي، تر هغه چې اولیاء د الهي رحمت مورد وي ځکه چې يې زیارت کوي هغوی هم له خپلو مرتبو سره برابر له برکتونو څخه ګټه اخلي.

پاته شوه دا خبره چې هغوی تصرف کوي او کنه؟ هغوی ته څه اختیار ورکړل شوی دی، کنه؟ په دي هکله سمه عقیده درلودل لازم دي.

په عالم کې له الله تعالی پرته څوک متصرف نشته، د هغه وحده لاشریک، ذات له حکم او ارادې پرته یو ذره هم حرکت کولای نشي. د هغه په خدایي کې هیڅوک شریک نشته او هیچا ته د څه شي اختیار نشته. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۷۸)

ایا د مړي روح کورته راځي؟

پوښتنه: د مړي روح کورته راځي او که نه؟ که نه راځي نو په خوب کې ولي لیدله کیږي؟

ځواب :په خوب کې دچا روح لیدل دا معنی نلري چې دهغه روح کوزته راځي. په خوب کې لیدل دروحاني تعلق په سبب ده. له کور سره دهغې هیڅ اړیکې نشته . ډیر ژوندي خلک چې لري ، لري هستوګنه لري په خوب کې لیدل کیږي. دخوب کیسه بیله ده ، دشیانو څرګند تړون ورسره ضرور نه دی. ارواحو نړۍ بیله ده.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۶۰ ، امدادالاحکام ج ۱ ص ۸۱۸)

مسئله: روح کورته نه راځي، ددې کوم ثبوت نشته، داسې خیال او عقیده مه لرئ.(فتاوی دارالعلوم ج۵ ص ۴۳۳)

مسئله : داعقیده غلطه ده چې دپنجشنبې په ورځ روح د خپلو قریبانو کره راځي او دثواب په هیله وي، دجمعې د لمانځه ترکولو وروسته ځي. ددې هیڅ حقیقت نشته.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص۴۶۹)

دروح سرګرداني

دځینو کسانو داعقیده ده چې که څوک ځان وژنه وکړي، دهغه ورح ګمراه او لالهانده کیږي، په روحګانو کې ځای نشي موندلای .داخبره بالکل غلطه ده ، بې اصله ده ، په شریعت کې هیڅ اصل نلري خو ځان وژنه یوه ستره ګناه ده.

مسئله :دنیا ته دمړو دروح دتلو راتلو فکر غلط دی. ځکه هغه چې نیک دي دنیا ته راتلل نه غواړي ، هغه چې بد دي هغوی اجازه نلري .

مسئله :ځینې ناپوهان دافکر کوي چې که کومه میرمن د ماشوم دزیږولو په مهال ومري ناپاکه ده. داخبره بیخي غلطه ده بلکې په حدیث کې راځي چې دا میرمن شهیده ده.

مسئله :ځینې خلک دا باورلري چې دبرات په شپه دمړو روح کورته راځي او ګوري چې زموږ لپاره څوک څه پخوي کنه ، داسې عقیده باطله ده.

مسئله :دځینو عوامو داعقیده ده چې دهرې پنجشنبې ماښام دمړي روح خپل کورته راځي او ګوري چې څوک ورته ثواب ببښي. که څه ثواب وموندل شي خوښه،کنه ناهیلي بیرته ګرځي .داخیال غلط دی، بده عقیده ده په شریعت کې کوم اصل نلري.(اغلاط العوام ص ۲۰ ، دزیات تفصیل لپاره زما کتاب مسایل شرک او بدعت وګورئ)

ایا مړی ، خپلوان پیژني ؟

مسئله : ترمړینې وروسته دروح ملاقات ثابت دی، په یوه روایت کې دي ، هغه خپلوان چې پخوا مړه شوي وي داسې ورته خوشحاله وي ، لکه څوک چې له سفر څخه بیرته راشي. خپلوان ورڅخه دنورو ژوندو خپلوانو دحال احوال پوښتنه کوي. دهغوی په ښو حالاتو خوشحاله کیږي او دمور او پلار په هکله، دوړو ماشومانو سعي او هڅه له حدیث څخه ثابته ده چې دهغوی دبښنې لپاره یې کوي. (فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۰)

مسئله: مړ پیدا شوی ماشوم هم دوالدینو شفاعت کوي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۵)

دمړي دکور غړو ته خواره استول

مسئله :په کوم کور کې چې څوک مړ شوي وي، دهغه کورته خواړه استول سنت دي. څوک چې دمړینې یا په بل مصیبت کې

اخته وي، هغوی ته دي خپلوان یا همسایه خلک څه پاخه کړي
او ورته دي لیږي. نور تکلیفونه او د نوم لپاره کارونه یا په
بدل کې کارونه لکه اوس چې رواج دي، معیوب او منع دي.
د مرستې په نیت د ثواب لپاره خواړه ورته استول مناسب دي.
دا خواړه یوازې د هغو خلکو لپاره وي چې د مړي په کار یا غم
کې لګیا وي. داسې نه چې ټول خپلوان یې خوري. دا هم
د ناپوهۍ خبره ده چې وایې د مړي په کور کې تر دریو ورځو څه
پخول جایز نه دي، یا بد دي او یا هم د وبال سبب دي.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم سکنی د کاکا زوی، جعفر
رضی الله عنه په شام کې بیت المقدس ته نژدې شهید شو.
د هغه د شهادت خبر مدینې منورې ته د وحي په ذریعه رسول الله
صلی الله علیه وسلم ته را ورسیده او رسول الله صلی الله علیه
وسلم خلکو ته خبر ورکړ چې د جعفر رضی الله عنه کورنۍ ته
خواړه چمتو کړئ، ځکه هغوی ته چې خبر ورسیږي هغوی به
مصروف کړي. (چې د جعفر رضی الله عنه د مرګ خبر راغله هغوی به
په غم او تکلیف کې وي د خوړلو څښلو انتظام به ونکړي).
(بخاري ج ۱ ص ۱۷۱، ابوداود او ترمذي، الجواب المتین ص ۵۴، کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۷۰)

مسئله: څوک چې ومري، د هغه خپلوانو او ګاونډیانو ته
مستحب ده چې هغوی یې په دغې ورځ د خوړلو څښلو انتظام
وکړي، دوی ورسره کښیني او ټینګار وکړي تر څو یې
وخوري. د غم، تجهیز او تکفین له امله د خوړلو پخولو موقع
ورته نه موندله کیږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دې

امر کړی دی. (مشکوة ص ۱۵۱ – مرقات ج ۴ ص ۹۶)
نو په حدیث د عمل کولو په نیت، د مړي خپلوانو ته مستحب
ده تر څو یې د کور لپاره د خوړو بندوبست وکړي. دا د اجر او
ثواب کار او د مړي له کورنۍ سره د همدردۍ څرګندونه ده.
خو دا کار یوازې د الله تعالی د رضا او په حدیث باندې د عمل
په نیت وي. یوازې د رسم، نوم او ریا لپاره نه وي. د محققینو
په نزد د دې موده یوه ورځ او یوه شپه ده. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۹۵،
دشامي ج ۱ ص ۸۴۱ په حواله، غایة الاوطار ج ۱ ص ۴۲۲، احسن الفتاوی ج ۴، ص
۲۰۴، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۱)

مسئله: په شریعت کې یوازې دومره ثابت دي چې تر هغه
وخت د مړي د کور د خوړو بندوبست وکړای شي چې د غم او
تکلیف زیاتوالی دی. د هغوی تسلا وشي، هغوی ته خوړل
څښل برابر شي، هغوی راوبولي یا یې هلته ورووړي. خو را
غوره داده چې دا خواړه برابرونکي په خپله هم ورسره په دې
نیت شریک شي چې د هغوی تسلا وشي. تر دې زیات څه
ثابت نه دي. بلکې د مړي خپلوانو ته د خوشحالۍ د ورځې په
څیر میلمستیا ورکول مکروه دي. په شامي کې راځي چې که
د دفن لپاره له لرې څوک راغلي وي یا د تسلا لپاره وي،
هغوی ته په دې خوړو کې د ګډون ځای شته، لاکن خپلوان چې
له لرې، لرې راځي او دلته یې اړولي وي او څو ورځې پاته
کیږي لکه څرنګه چې رواج دی او د خوشحالۍ د میلمستیا په
ډول ټولیږي دا هر څه مکروه او بدعت دی. (نظام الفتاوی ج ۱ ص ۱۴۷)

دمړي كورنۍ ته تر څو ورځو پورې خواړه واستول شي؟

پوښتنه :ايا دمړي كورنۍ ته تر دريو ورځو پورې خواړه استول مستحب دي كه يوه دوه ورځې ؟

ځواب : دمړي كورنۍ ته دا قاربو او ګاونډيانو لپاره يوه ورځ او شپه خواړه استول مستحب دي. تر يوې ورځې وروسته دخوړلو ښبلو شيان ورته استول مكروه دي، په دې رسم كې غيرعادي تكليف او غلو سره ،دا بدوالى هم شته چې عوام يې شرعي حكم بولي او دا په شرعي حكم كې زياتوالى او بدعت دى.(احسن الفتاوى ج ۴ ص ۲۰۴ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۱ په حواله، احسن الفتاوى ج ۱ ص ۳۵۸)

مسئله :دمړي كورنۍ ته چې كوم خواړه يې خپلوان استوي دمړي خپلوانو ته يې خوړل صحيح دي.(فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۴۴۸، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۴ په حواله)

دمړي خواړه څوك خوړلاى شي؟

مسئله :كوم كسان چې دمړي په تجهيز او تكفين كې لګيا وي هغوى هم دا خواړه خوړلاى شي.(معارج النبوة ج ۱ ص ۷۱۰)

مسئله :دمړي كورنۍ ته چې دميلمستيا كوم رواج را پيدا شوى دى دا واجب الترک دى. يوازې دمړي دكورنۍ هغه خپلوان چې له لرې ځخه راغلي دي، بيرته تللاى نشي يا هغه كسان چې دمړي دكورنۍ دتسلا لپاره يې اوسيدل ضرور دي. هغوى كه دمړي دكور خواړه خوري خو خير، نور ټول تعزيه وركونكي دې خپلو، خپلو كورونو ته لاړ شي، نه دې

ميلمستيا خوري او نه دې دمړي په كوركې اوسيږي.

مسئله : دمړي نږدې خپلوان دمړي كورنۍ ته كه ورسره ورخواړه وراستوي مستحب دي.(كفايت المفتي ج ۴ ص ۱۰۹)

مسئله :مړي ښخوونكو ته دمړي دكورنۍ ميلمستيا وركول جايز نه دي.(كفايت المفتي ج ۴ ص ۱۰۷ ،عالمګيري ج ۱ ص ۱۷۸ ،مراقي الفلاح ج ۱ ص ۳۳۹)

مسئله :دا هم صحيح نه دي چې مړى ښخ شي او ټول خلك دمړي كور ته راشي. كله چې له دفن ځخه فارغ شي عام وګړي دې خپلو ، خپلو كارونو ته لاړ شي. (كفايت المفتي ج ۴ ص ۳۳)

دمړي خواړه ضروري ګڼل

پوښتنه : دمړي تر ښخولو وروسته خپلوان دمړي دوارثانو كورته ورسره دخوړلو لپاره راځي، دا خبره ښه ده خو نور هم ډير خلك په دې خوړو كې ګډون كوي، له دې امله هغه خواړه كميږي، ايا دتسلا لپاره په خوړو كې شريك شي؟

ځواب :دا رواج رښتيا هم ناجايز دى ، ډيره بې غيرتي ده .په دې ګناه كې خوړونكي او خواړه وركوونكي دواړه ګډ دي. نږدې خپلوان كه دا رواج لازمي وګڼي او نه ګډون كوونكي بد وګڼي يا دا خواړه دمړي دكورنۍ له لوري وي، نو هغوى ته دا فعل هم ناجايز دى.(احسن الفتاوى ج ۱ ص ۳۸۱، دردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۲ په حواله)

دمړي دخپلوانو له لوري ميلمستيا

مسئله : يو رواج دا دى چې تر ښخولو وروسته دمړي د كورنۍ غړي دټولنې خلكو ته دعوت وركوي چې فلانۍ ورځ راشي او راسره ميلمستيا وخوري.

دایاد ولرئ چې دادعوت او دهغه منل دواړه منع دي.
هیڅکله هم جواز نلري له دي بد رواج څخه ځان ساتل لازم
دي. علامه شامي ددي دعوت په اړه لیکي :ددي په
حراموالي کې هیڅ شک نشته، دشوافعو او نورو هم ددي په
ناوړاوالي کې اتفاق دی .(امداد الاحکام ج ١ ص١١٥)

(ځینې ځایونه ترخنبولو سمدستي وروسته په هدیره کې
دمړي خپلوان اعلان کوي چې ټول خلک دي زما کورته راشي
اوله موږ سره له ډوډۍ خوړلو پرته دي نه ځي. داطریقه هم
دشرعي خلافه ده، دعقل خلاف هم ده. ځکه په کوم کورکې
چي مړی شوی وي، هغوی په غم کې ډوب وي. له لوږې سره،
سره یې خوړلو ته رغبت نه وي او دی په منظم ډول دخوړلو
ددعوت اعلان کوي.

الله تعالی دي موږ ټولو ته په ژوند او مړینه کې دشریعت
موافق عمل کولو توفیق راکړي. –محمد رفعت قاسمي)

دخوړو داستولو غلط رواج

مسئله :ځینې ځایونه دمړي دخپلوانو له لوري ورته خواړه
راځي، دابنه خبره ده .بلکې مسنونه طریقه ده، خو په دې کې
ځینې خلک په ډول، ډول خرابیو کې اخته دي چي اصلاح یې
ضروري ده. مثلاً بعضي ځایونه دادل بدل په خیال وي. خواړه
داسي ورکول کیږي لکه ددوی په مړي چي هغوی ورکړي
وي. یا هم تر هغه په کمه اندازه .

که دنژدې خپلوانو په موجودیت کې لري خپلوان خواړه
واستوي داعیب ګڼي. نژدې خپلوان که لاس تنګې هم وي
دنوم بدي له ویري، له تکلیف سره لوریه خواړه استول
ضروري ګڼي که څه هم ددي کار لپاره پور اخلي.
داسې رسمونه دشریعت خلاف دي، په خوړو استولو کې له
بې تکلیفي او سادګي څخه کار اخستل مناسب دي. ځینې
خلک لري خپلوانو ته استول نه کوي. دا ټول امور داصلاح وړ
دي. (اصلاح الرسوم ص ١٧٧، مولانا تهانوي رحمه الله)

دمړي په کورکي خواړه خوړل

پوښتنه :اوریدل کیږي چې دمړي په کورکې تر څه مهاله
مخله او دکور خلک دخوړو خوړل سم نه ګڼي، ددي شرعي
حکم څه دی؟

ځواب :ددي کوم ثبوت نشته، بلکې دمړو خپلوانو یعني
دهغه کور چې مړی پکې شوی له خوړو څخه شرعي پرهیز
نشته، داچې دغم له امله یې نه خوري بیله خبره ده.

نن سبا دا رواج جوړ شوی دی او اهتمام یې هم کیږي تر څو
دمړي په کورکې وي له لوږي سره، سره دخوړو خوړل ګناه
ګڼي.

ددي رسم پرېښودل واجب دي، په تکلیف سره دي څه
خوري. په عزیزانو، خپلوانو او ګاونډیانو دالازم دي چې
دمړي په خپلوانو په ترغیب او تشویق سره څه وخوري.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ٢١۴)

دمړي په کورکي د ميرمنو غونډيدل

دمړي په کورکې کله ميرمنې هم راغونډيږي. حال داچې تر يوه وار تعزيې (فاتحې) وروسته بيا تعزيه مکروه ده. (دا دعوامو لپاره، خو اصو ته نه ده).

په ښکاره خو د ميرمنو راتلل د صبر او تسلا لپاره وي خو هلته د تسلا يوه خبره هم نه کوي، بلکې غم يې زياتوي او په ژړلو پيل کوي يا هلته کښيني، د دنيا خبري پيل کړي او د مړي خپلوان تر نور بار او دباو لاندې کړي، ډيري ميرمنې خو لا داسې جامې اغوندي لکه په خوشحالۍ کې چې ګډون کوي. نور هم مفاسد او منکرات پکې ليدل کيږي چې ځان ساتل ورڅخه ضروري دي. (اصلاح الرسوم، ص ۱۷۴)

ډير ځايونه خو ميرمنې د ژړلو په حال کې بې پردې کيږي د پردې هيڅ خيال نکوي. ځينې ځايونه خو ميرمنې د غم له زياتوالي له نامحرمو خپلوانو لکه ليور، د کاکا زوی، د ماما او خاله زوی او نورو سره په نژدې نژدې کې ژاړي. دا هم حرام دي. ځکه د غم او درد په حالاتو کې خو د شريعت احکام نه ختميږي. ځينې ځايونه خو د کور او خپلوانو ميرمنې له کور څخه د جنازې د ايستلو په مهال ژاړي او تر کور بهر وزي. د غير محرمو خلکو په وړاندې بې حجابه کيږي، دا ټولې ناروا دي. ځينې ځايونه راغلي ميرمنې په قصدي ډول داسې خبري کوي چې د کوروالو ژړا راسي او ځينې ميرمنې خوهسې په تکليف

ژاړي داټول غلط او منع دي، يعني د شريعت خلاف دي.
(اصلاح الرسوم)

ځينې ځايونه خو د نزع په مهال د دي په ځای چې کلمه او ياسين ولولي او مړی ته د نزع د سهولت او خاتمې د خير دعا وکړي ميرمنې ژړا پيل کړي، که ناروغ څه پوهيږي هغه ډير پريشانه کيږي، د دي په ځای چې د نزع تکليف يې کم شي هغه زياتيږي. يادولرئ چې په زوره ژړل، غم کول او ګريبان څيرل ټول حرام او ګناه دي. که ژړا راتله له اواز ايستلو پرته داوښکو په راتلو څه پروا نلري. (اصلاح انقلاب امت ج ۱ ص ۲۳۳)

(د رسول الله صلی الله عليه وسلم زړه به له غم او تکليف څخه غمجن کيده او په دغسي حالت کې به يې له سترګو څخه اوښکې هم راتلې، دا د انسانيت کمال دی چې له خوشحالۍ او د خوشحالۍ له خبرو ورته خوشحالي پيدا کيږي او د زحمت او غم له اسبابو څخه ورته غم او تکليف پيدا کيږي، که د چا دغسې احساس او خيال نه وي دا نيمګړتيا ده، کمال نه دی.)

په مړي باندې ژړا کول

مسئله: په مړي باندې په لوړغږ ژړل او چيغې وهل حرام دي. له غږ پرته داوښکو په بهيدلو ژړل په اتفاق سره مباح دي.

نوحه جواز نلري يعني داسې چې د مړي نيکۍ بيانيږي او ژاړي، مخ توروي، مخ وهي، ګريبان څيري او نور ناروا دي. ځکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد دی: (څوک چې ځان په چاپيره وهي او ګريبان څيري هغه له موږ څخه نه دی.)

څرګنده ده چې د مړي د پاته کسانو له ژړا څخه چې یو حرام
کار دی، مړی په عذاب کیږي. هو! که مړي د ژړلو وصیت
کړي وي (عذاب شته). که مړي ته معلومیده چې دده خپلوان
دده تر مړینې وروسته په غیر شرعي طریقه ژاړي او داګمان
ولري چې که له منع کولو یې وصیت وکړي نو خلک منع کیږي
او په وصیت یې عمل کوي، نو وربانديي واجب دی چې (له
غیر شرعي) ژړلو څخه د منع کولو وصیت وکړي، که همداسې
وصیت ونکړي نو ددوی په ژړا مړي ته تکلیف رسیږي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸٦۰)

(ترغسل ورکولو وروسته، د میني له امله مړی ښکلول جواز
لري. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې عثمان ابن
مظعون رضی الله عنه ښکل کړ او ابوبکر رضی الله عنه
د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک تندی تر مړینې
وروسته ښکل کړ. محمد رفعت قاسمي)

مسئله: غم او درد بې اختیاره کار دی. شرعاً پکې کوم
حد او اندازه نشته. مخ نیوی یې هم نه کیږي. دا منع ده چې
دغم لباس واغوندي، داخبره ثابته نه ده. (بیان یا نور څه کول
او ژړل دا منع دي.) (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۷)

(رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو راضي بقضاء الهي او
حمد ویونکی و، له دې سره، سره یې د خپل زوی ابراهیم په مړینه
د میني او شفقت د زیاتوالي له امله وژړل خو په دغه حالت کې یې
هم زړه د الله تعالی له رضا او شکر څخه ډک ؤ او ژبه یې په ذکر

او حمد مشغوله وه. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد
دی: الله د سترګو په اوښکو او د زړه په غم سزا نه ورکوي
ځکه دا د بنده په واک کې نه دي، د خپلې ژبې لور ته یې اشاره
وکړه، ارشاد یې وکړ: خو د دې په غلطۍ، یعني په ژبه نوحه
او غم کول سزا ورکوي. محمد رفعت قاسمي)

دغم موده او کاربندول

مسئله: د کوم خپلوان په مړینه تر دریو شپو پورې غم کول
مباح دي، د دې ثبوت له صحیح حدیث څخه شته، د رسول الله
صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: په الله او اخرت باندې د
مومني میرمنې لپاره دا روانه ده چې تر دریو ورځو ډېر غم
وکړي. خو د میړه په مړینې تر څلورو میاشتو او لس ورځو غم
کوي. (شامي ج ۲ ص ۸۵۱)

مسئله: په عالمګیري کې دي چې د مصیبت په مهال تر دریو
ورځو په کور کې کښیناستل جایز دی خو پرېښودل یې ښه
دي. خو نوحه کول ناجایز دي.

مسئله: د ورځو او تاریخ له تعین او د رسم او رواج له پابندۍ
پرته، د قرآن تلاوت کول او ثواب یې بخښل ځای لري.

مسئله: د چا د خپلوانو د مړینې له امله یې خپلوانو ته تر دریو
ورځو کاربندول جایز دي، خو دا دي ضروري نه ګڼي او څوک
چې کار نه بندوي هغه دي نه ملامتوي.
(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۹۰- ۱۹۳، مجموعه فتاوی ج ۳۱ ص ۹۸ عیني ج ۳ ص ۳۰٦)

ثواب بخښل څه شی دی؟

تر مړینې وروسته یې خدمت او یا ورسره ښه کول خو یو دادی چې له الله تعالی څخه ورته مغفرت او رحمت وغواړې.
لکه چې وویل شول : د جنازې د لمانځه هم اصلي مقصد همدا ده. د زیارت قبور په لړکې چې کوم حدیثونه راغلي دي، په هغوی کې هم د قبر څښتنانو ته له سلام سره، سره مغفرت هم وغوښتل شي. د خیر د غوښتلو له دې طریقې سره، سره رسول الله صلی الله علیه وسلم د مړو د خدمت او هغوی ته د ګټې رسولو یوه بله طریقه هم ښوولې ده چې د هغه له لوري صدقه ورکړي او یا بل د خیر کار وکړي او ثواب یې ورته وبخښي.
ثواب بخښل د دې نوم دی چې ور څخه د ژوندو غم سپک شي او مړو ته اسانتیا هم پیدا شي. (معارف حدیث ج ۳ ص ۴۹۰)
د ثواب د بخښلو طریقه خورا ساده او اسانه ده. خو هغه طریقې چې دا اوس غوره شوې دي؛ دا نه الله تعالی، نه رسول الله صلی الله علیه وسلم ښوولې دي، نه صحابه وو غوره کړې دي او نه هم د دین امامانو خوښې کړې دي. د دې طریقو عاملین وایې : که موږ د ثواب د رسیدلو دا رواج ونکړو ورونه (خلک) ناراضه کیږي نو ځکه به یې موږ کوو.
دا یوازې بدعت نه دی بلکې شرک هم دی. ځکه کوونکي یې دا د الله جل جلاله لپاره نه کوي، بلکې له ټولنې څخه دومره داریږي چې هغه یې خدای بللی دی، دا شرک دی چې د غیر الله

د رضایت لپاره یې کوي.
هر نفلي عبادت چې انسان یې د ځان لپاره کوي، هغه دي نورو ته د ثواب د رسیدلو په نیت وکړي، د هغه ثواب ورته رسیږي، مړه او ژوندي دواړو ته ثواب رسیږي، فقط دا نیت وشي چې د دې ثواب فلاني ته بخښم، نو ثواب ورته رسیږي.
(اصلاح الرسوم مولانا تهانوي رحمه الله)

د ثواب د بخښلو لپاره غونډه

مسئله : د نافله صدقاتو، تلاوت، تسبیح او تهلیل یا نور څه بیل، بیل ثواب مړي ته بخښل له حدیث څخه ثابت دي، خو د ثواب بخښلو او رسیدلو لپاره د غونډې اهتمام، په هغه کې د قید او رسم پابندي یا د مړي د خپلوانو له لوري میلمستیا کول، دا ټول بدعت او ناروا دي.
(احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳٦٦، درد المحتار ج ۱ ص ۸۴۲ په حواله)
مسئله : څوک چې څه شی ولولي ثواب یې رسیږي. که یې نوي ولولي یا یې وړاندې لوستلي وي.
مسئله : د ثواب لپاره د ټول قرآن لوستل ضروري نه دي څومره چې ولولي د هغوی ثواب بخښل صحیح دي.
مسئله : بل چا ته د تلاوت کولو ویل صحیح دي، په دې شرط چې ورباندې در نه تمامه نشي، کنه بیا صحیح نه ده.
(آپ کې مسائل ج ۸ ص ۴۵۷)

ایا ثواب ویشل او بیا بخښل کیږي؟

پوښتنه : که څو مړو ته ثواب وبخښل شي ایا ورباندې تقسیم او بیا رسیږي؟

ځواب : په دې مسئله کې د علماوو اختلاف دی. د ځینو نظر دی چې د برخې په اندازه رسیږي .لکه څوک چې یوه روپۍ په څو بېوزله کسانو وویشي، ټولو ته یوه ، یوه نه رسیږي، بلکې وربانديي ویشل کیږي او برخه ورته رسیږي.

ځینې علماء وایي : هر یوه ته پوره ،پوره رسیږي. ځکه دالله تعالی رحمت ډیر پراخ دی، که هر یوه ته دیوې ،یوې روپۍ پوره ثواب ورکړي، کوم کمښت نه راځي، بلکې د رحمت دپراخۍ غوښتنه داده چې هر یوه ته پوره ،پوره ورسیږي.

دثواب ډیر او کم رسیدلو دارومدار په خلوص پورې دی .که له اخلاص سره لږ څه دثواب لپاره ورکړي، هغه به زیات وي ترهغه چې د ډیرشي ثواب پرته له اخلاص څخه ورته وبخښي.

نو ډیره اړتیا خلوص ته ده او که له دې سره څه شی هم زیات وي، بیا خو نو غوړ په غوړو دي.

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۳۴ ، درد المحتار ج ۵ ص ۶۰۵ په حواله)

مسئله : که یو مهال څو مړو ته ثواب وبخښل شي، ټولو ته رسیږي .خو که لومړی یوه مړي ته وبخښل شي، بل وخت د دې صدقې یا نور څه ثواب نورو مړو ته نشي رسیدلای. ځکه هغه ثواب لومړني مړي ته رسیدلی دی.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۹ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۴)

مسئله : که څوک د یوه عبادت ثواب څو مړو ته وبخښي، هغه ثواب په ویش سره د هغوی روحګانو ته نه رسیږي، بلکې هر یوه ته پوره ، پوره څومره چې د هغه د عبادت لپاره مقـــرر دی

رسیږي .(علم الفقه ج ۲ ص ۲۱۰ ، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۹)

له علي رضی الله عنه، څخه روایت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دي :څوک چې په هدیره تیریږي او یوولس ځله داخلاص سورة (قـل هـو الله) ولولي او د مړو روحګانو ته یې وبخښي .د غو مړو ته چې څومره ثواب ورکوي هغه یوازي دالله فضل دی، دهغه په خزانه کې د څه شي کمښت نشته .(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۸۸)

ایا دثواب په بخښلو ټول ګناهونه معاف کیږي؟

پوښتنه : که څوک وفات شي په ژوند کې یې دوړو او سترو ګناهونو ارتکاب کړی وي،اوس که یې اولاد ډیر قرآن کریم او ډیره صدقه خیرات کړي نو وړې او غټې ګناوي یې ټولې معاف کیږي او که یوازې وړې؟

ځواب : په دې باندې اتفاق دی چې طاعات او حسنات د وړو ګناهونو کفاره کیږي او دسترو ګناهونو نه کیږي. لکه په قرآن کریم کې چې له " إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ" څخه مطلب وړې ګناوې دي نه غټې. له حدیث څخه هم داثابت دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۳۶)

مسئله :مړو ته د صدقو او قرآن کریم ثواب رسیږي، مړو ته دژوندو له دعاء او استغفار څخه ګټه رسیږي. داله قرآني نصوصو او حدیثونو څخه ثابت دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۴۷ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۴ ، باب صلوة الجنایز په حواله)

****

دیولک پنځه ویشت زره ځله کلمه ویلو ثواب بخښل

پوښتنه : یولک پنځه ویشت زره ځله کلمه ویل او بیا مړي ته یې دبخښلو امید دی. دا روایت په کوم کتـاب کې دی او لا اله الا الله ویل کیږي که محمد رسول الله هم ورسره یوځای شي ؟

ځواب : دا روایت دحدیث په کتابونو کې ترنظر تیر شوی نه دی. ځینو مشـایخو رانقـل کـړی دی ، نـو عمـل وربانـدي صحیح دی. معمولاً ، لااله الا الله دی .کله ، کله محمدرسـول الله هم ورسره ویـل کیږي . دترمذي او ابـن ماجه پـه حدیث کې راغلي چې(افضل الذکر لا اله الا الله).

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۴۲ ، مشکوة باب ثواب التسبیح ص ۲۰۱ په حواله)

په اجرت(مزدوري) دثواب بخښل

مسئله : په معلوم یا مشروط اجرت که قرآن کریم دمړي لپاره وویل شي، په دې هکله محققین لیکي چې مړي ته یې ثواب نه رسیږي. چې ویونکي ته یې ثواب نه وي ځکه دا اجرت نیت لري، نو مړي ته به له څه شي ورسیږي. خو که څوک یوازې دالله تعالی لپاره قرآن کریم تلاوت کړي او ثواب یې مړي ته وبخښي، انشاء الله ثواب به یې مړي ته ورسیږي. که یې کور ووایي او که په قبر او ثواب ورته وبخښي ، فرق نلري.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۳۵)

مسئله :درجب په میاشت کې مړي ته ثواب بخښي، ددې کوم اصل نشته. دکومې ورځې له قید څخه پرته چې کومه

ورځ غواړي په بې وزله خلکو خواړه وخوري یانغدي پیسې ورکړي ، ثواب دې مړي ته وبخښي .

مسئله : که څوک په ژوند کلمه او قرآن کریم ووایې او خپل ځان ته یې ثواب پریږدي، تر مړینې وروسته ورته رسیږي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۱ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۴ په حواله)

دثواب بخښلو طریقه

مسئله:دثواب بخښلو په طریقو کې نن سبا ډیري نامشروع خبري او رواجونه ګډ شوي دي. ان تردې چې ډیر خلک هغه شیان مسنون اومشروع فکرکوي چې بالکل ناروا دي او همداسې خرابي پکې پیښیږي.

مسئله :دثواب دبخښلو اواستولو طریقه داده چې دکوم عبادت چې ثواب لیږل مقصودوي، دهغه عبادت له فراغت څخه وروسته ،الله تعالی ته دعا وکړي چې یا الله ددې (نفلي) عبادت ثواب دفلاني شخص روح ته ورسوې.مثلاً ،دقرآن کریم کوم سورت تلاوت کړي یا بل ذکر وکړي یا نفل لمونځ وکړي یا کوم بې وزله ته خواړه و ر کړي یا نفلي روژه ونیسي یانفلي حج وکړي. بیا له الله تعالی وغواړي یا په زړه کې دثواب رسیدلو نیت وکړي،نو الله تعالی یې په خپل فضل سره دهغه دعبادت ثواب ورته رسوي.(علم الفقه ج۲ ص۲۴۰ ،فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۲۴ ، شامي ج ۱ ص ۸۴۴ ، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۱)

مسئله :کله چې عبادت کوئ ورسره سمدستي هم هغه وخت نورو ته دثواب په نیت کوم شرط نه دی. تر دې چې له

هغه شخه فارغ شئ او دثواب درسیدلو نیت وکړئ هم جایز دی او ثواب یې نورو ته رسیږي. (علم الفقه ج ۲ ص ۱۲۰، فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۰۸، دشامي ج ۱ ص ۶۰۵ په حواله)

مسئله: نابالغ ته هم دخپلو حسناتو (نیکیو) ثواب رسیږي. له دې شخه دا هم معلومیږي چې بل ته هم ثواب بخښلای شي. په جنازه کې یې هم دعا کول ګټوردي، له دي شخه هم دثواب بخښلو افاده ثابتیږي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۵، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۱۹، مشکوۃ ج ۱ ص ۸۲، عالمګیري ج ۵ ص ۹۴)

ثواب بخښونکي ته هم ثواب پیدا کیږي؟

مسئله: که څوک دخپل نفلي عبادت ثواب بل چاته وبخښي، داسي نه کیږي چې دهغه عبادت ثواب ده ته ببخي پاته نشي، بلکې ده ته هم رسیږي او هغه ته هم رسیږي چې ورته بخښلي یې دی. دا یو الهي فضل دی. له همدي امله علماء لیکي: څوک که نفلي عبادت کوي هغوی دي دهغه ثواب دمؤمنانو روح ته بخښي ترڅو یې ده ته هم ثواب ورسیږي او هغو خلکو ته هم، بلکې مؤمنانو ته دګټه رسولو په سبب امید دی ده ته دوه برابره ثواب ورسیږي. (علم الفقه ج ۲ ص ۲۱۰، فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۴۱)

دثواب بخښلو مسائل

پوښتنه: مړي ته دصدقي، خیرات، تلاوت او یا نورڅه ثواب رسیږي. اهل سنت اوجماعت دثواب رسیدلو په هکله متفق دی. امام ابوحنیفه (رح) دبدني نفلي عباداتو دثواب په رسیدلو هم قایل دی. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۳۰)

یعني میت ته دنفلو ثواب رسیږي.

مسئله: مړي ته دثواب رسیدلو لپاره لومړی، دریمي، لسمي او څلوېښتمي ورځو قید ختمول ضرور دي. شرعاً دا ځانګړتیاوي دثواب رسیدلو لپاره روا نه دي، بدعت او حرام دي. دتاریخ له قید شخه پرته کله چې وغواړي ثواب بخښلی دي کوي. څلورمه، پنځمه یا اوومه یا دکومې بلې ورځي له تخصیص پرته بې وزلو ته خواړه ورکړل شي، دارسوم او رواجونه چې عوامو معلوم کړي دي، څه اصل نلري. هره ورځ دثواب بخښلو اواستولو لپاره برابر ده. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۳۴، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۲ په حواله)

مسئله: په دریمه ورځ تلاوت اودقرآن کریم ختم له خیر القرون شخه ثابت نه دي، اوس یې التزام دومره کیږي چې عوام هغه ضروري ګڼي، له همدي امله باید هغه ترک شي. دارسم ماتول ضرور دي، که بیاهم کومه ورځ داسئ لازمه وبلله شي او رواج شي هغه هم بندول ضرور دي. کومه طریقه چې له سلفو ثابته نه وي، هغه لازمول که څه دعقیدي په لحاظ نه وي، هستي په عمل کې وي واجب الترک ده.

فاتحه او ورانـدي خواړه ایښودل جایز نه دي. همداسې یوولسمه ورځ هم جوازنلري. ټول هغه رسوم چې شارع علیه السلام، صحابه وو او ددین امامانو کړي نه دي یا یې حکم کړی نه دی، هغه ټول ناروا او بدعت دي، خو کفر او شرک نه دي.

(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۳۷، دردالمحتار ج ۱ ص ۸۴۲ په حواله)

مسئله: څوک چې مسلمان ومړي ثواب ورته بخښل کېږي.بې لمانځه مسلمان ته هم کيدلای سي .

(فتاوای دارالعلوم ج۵ ص۴۳۷)

مسئله :که د چا ټول قرآن کريم ياد نه ؤ او يوازې لس جزء يې يادؤ، که هغه لس سيپارې درې ځله تلاوت کړي،د ټول قرآن کريم ثواب ورته نه حاصليږي. خو دلسو سيپارو درې ګونه ثواب ورته ترلاسه کيږي. که پوره قرآن کريم نه کيږي دا غوره ده چې دهمدې لسو سيپارو تلاوت شو،څو ځله وکړي، ثواب يې وبخښي ،مړي ته رسيږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۳۲)

مسئله :که دهندوانو په کومه هديره کې، کوم ماشوم خښ وي، هلته ورتلل او څه لوستل ضرور نه دي .

مسئله : داهل هنود (هندوانو) ماشوم چې ومړي هغه جنتي دی.(خو ثواب بخښل يوازې دمسلمانانو په هديره کې حکم لري. يعنې يوازې دمسلمانانو په هديره کې يې د لوستلو او ويلو حکم شوی دی.) (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵۳ ، شرح فقه اکبر ص ۱۲۱ ، مشکوة باب زيارت القبور ج ۱ ص ۱۵۴)

مسئله : که د غير مسلم ماشوم،کوم مسلمان په زوی والي نيولې وي،دفقه له قاعدې سره سم هغه ماشوم کافر بلل کيږي ځکه د ماشوم لپاره دمور او پلار ديوه اسلام شرط دی او يا به هغه ماشوم دشعور او تميز په حالت کې اسلام منلی وي او که له دې وجوهاتو کومه يوه نه وي نو دفقه دقواعدو په حساب هغه مسلمان نه ګڼل کيږي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۷۰ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۸۳۱)

ايا په ميره صدقه کول ضروري دي؟

مسئله :مړه شوي ته دخيرات کولو په هکله حکم دادی چې که مړي وصيت کړی وي نو دهغه دپاته مال په دريمه کې عملي کول ضروري دي او ترهغه زيات دوارثانو په اجازه پورې اړه لري .که وارثان بالغ وي او اجازه ورکړي نو په زيات مال کې هم وصيت جاري کيږي اوکه نه، نو بيا نه کيږي. که مړي وصيت کړی نه وي او ومړي ، ترمړينې وروسته يې ټول مال له ملکيت څخه وزي او دوارثانو په ملکيت کې ورځي. بيا دوارثانو اختيار دی چې څومره غواړي هغومره دې خيرات کړي اومړي ته دې ثواب وبخښي.که کوم وارث نابالغ وي، دهغه په برخه کې صدقه کول جواز نلري.

په ميره باندې کومه صدقه اوخيرات کول لازم نه دي، که يې په خپله خوښه صدقه وکړه نو ثواب يې رسيږي.

(فتاوی دارالعلوم ج۲ ص ۴۲۴ کتاب الجنايز)

ناراضه والدينو ته دثواب بخښل

مسئله :که والدين له چا څخه ناراضه وو او وفات شول ، د هغه لپاره دقرآن کريم تلاوت،صدقې او خيرات ثواب وبخښل شي، ورته استغفار وشي، دهغه پورونه اداکړل شي،که يې وس ؤ، دهغه له لوري حج وکړل شي . انشاء الله هغوی به راضي شي او اولاد به مطيع وګڼل شي. په حديث شريف کې راځي: څوک چې دمور يا پلار له لوري حج وکړي، هغه دهغه له لوري اداء کيږي اودهغه روح ته زيري ورکول کيږي او اولاد

دخدای جل جلاله په نزد مطیع او امر منونکی بلل کیږي.

مسئله: دنفلو په واسطه هم ثواب ورته استول کیږي.

(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۳۸۷) دتفصیل لپاره وګورئ: (مشکوة شریف ص ۳۲ کتاب العلم، ترمذي ج ۱ ص ۱۸۵ او شامي ج ۴ ص ۸۴۴)

دمړي له خوا حج بدل کول

مسئله: دمړي له لوري حج بدل کیدلای شي، که هغه وصت کړي وي دهغه دشتمنۍ په دریمه برخه حج بدل (دهغه لپاره حج) کیدلای شي. که په دریمه برخه حج ناشونی و، بیا که وارثان بالغ او حاضر وو او په ټول مال یې دحج بدل اجازه وکړه نو په ټول مال هم اداء کیدلای شي. که مړي وصیت کړي نه و، بیا دوارثانو خوښه ده. دالري نه ده چې الله تعالی یې په دي صورت کې هم حج قبول کړي او ګناهونه یې وبخښي.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۴۰)

یادونه: دمړي له لوري دحج بدل کولو په هکله تفصیل زما په "مکمل ومدلل حج وعمره کتاب" کې وګورئ.

دمړي له خوا قرباني کول

دمړي له خوا او دمړي لپاره قرباني کیدلای شي. ددې لپاره څو صورتونه دي:

۱- چې مړي وصیت کړی وي چې زما له شتمنۍ زما لپاره قرباني وکړئ، دهغه له وصیت سره سم چې دهغه له مال څخه قرباني وشي، جواز لري. خو ددې قربانۍ ټوله غوښه او نور څه مستحقو کسانو (هغوی چې دزکات مستحق دي) ته صدقه

کول واجب دي.

۲- که مړي وصیت کړی وي یا یې کړی نه وي، خپلوان او دوستان یې په خپلو پیسو ورته نفلي قرباني کوي، دا صحیح دي او ددې قرباني غوښه شتمن او بې وزله ټول خوړلای شي.

۳- څوک له خپل مال څخه او په خپل نوم قرباني وکړي، ثواب یې یوه یا ډیرو مړو ته وبخښي، داسي هم صحیح ده. ددې غوښه هم ټول شتمن او بې وزله خوړلای شي.

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۸۶، شامي ج ۵ ص ۲۹۳)

دمړي لپاره قرباني ښه ده او که صدقه؟

پوښتنه: مړي ته دثواب لپاره پیسې صدقه کول ښه دي او که په هغو پیسو قرباني وشي او ثواب یې ورته وبخښل شي کوم یو غوره دی؟

ځواب: دقرباني په ورځو کې دپیسو او نورڅه تر صدقې قرباني کول او ثواب یې بخښل غوره دي، ځکه په صدقه او خیرات کې فقط دمال ورکړه ده او په قرباني کې دمال ورکړه ده او فدا کول یې هم دي. یعني دوه مقصده ترلاسه کیږي.

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۸۷)

دثواب دبخښلو غوره طریقه

مسئله: دثواب لپاره دا طریقې غوره او ښې دي چې ددینې مدرسوله بې وزلو زده کوونکو سره څه نغدي یا دجامو مرسته وشي یا دتفسیر، حدیث او فقه کتابونه او نورڅه واخستل شي مدرسې ته وقف شي، ترڅو طالبان ورڅخه ګټه واخلي او مړي

ته هم تل ثواب رسیږي.دتاریخ او ورځې له تعین پرته بیوزلو
ته خواړه ورکړل شي او ثواب یې وبخښل شي،دا هم ښه دي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۵٦ ، درد المحتار ج ۱ ص ۸۴۴ په حواله)

تعزیتي جلسه جوړول

مسئله :دکوم مسلمان په مړینه دمړي دخپلوانو تعزیت
کول، یعني دصبر تلقین کول له سنت څخه ثابت دي.که هلته د
ورتللو موقع نه وه،دلیک په واسطه هم تعزیه له سلفو ثابته ده.
که له مړینې څخه ډیرو کسانو ته صدمه ورسیږي،دډیرو
کسانو تعزیې ته ضرورت احساسیږي او دټولو هلته تلل او
رسیدل ستونزمن وي، نو ددې لپاره اسانه لاره داده چې یوه
تعزیتي جلسه وکړي او ډیر کسان دسفر له ستونزو ژغورلي
وي. دمړي په خپلوانو هم دډیرو میلمنو بار نه وي او په ستره
غونډه کې یو ځای دعا کول هم دقبول وړ وي.په ښکاره خو په
داسې تعزیتي جلسه کې کومه بدي نشته، خو ډیر ځایونه دي
کارهسې دیوه رسم او رواج بڼه خپله کړې ده . مقصد یې دا
وي چې په اخبارونو کې یې نوم راشي، شهرت یې وشي، یا
وايي که تعزیتي جلسه جوړه نکړو خلک به مو ملامت کړي او
داسې نور،که داسې وي ترک یې ښه دی.(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۲۴)

مسئله:دچا په مړینه دري څلور دقیقې پټه خوله کښیناستل
اودغم ښکاره کول، رواطریقه نه ده.په دې سره له نصارا او
نورو سره مشابهت راځي نو ځکه دا رواج پریښودل ضروردي.

دتعزیې (فاتحې) مسنونه طریقه

مسئله :تعزیه تر دریو ورځو ډیره جواز نلري،خو که غایب
تر دریو ورځو وروسته راشي، بیا هم کیدلای شي، دډلې په
شیر یې راتلل صحیح نه دي ،که په ناڅاپې توګه سره یو ځای
شي پروا نلري. دهر یوه بیل، بیل تعزیه کول مسنون دي. خو
که دکومې کورنۍ څوک مشر وي اوله هغه سره کشران هم
وي، نو بیا دمشر تعزیه کافي ده ،دتعزیې دعا ده :

اعظم الله اجرک واحسن عزائک وغفر لمیتک.

تر دې زیات داسې مضمون بیانیدلای شي چې ورسره غم
سپکیږي، تسلا او داخرت فکر پیدا کیږي، دتعزیې په دعا کې
لاس پورته کول بدعت دي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۵ کتاب الجنایز)

مسئله :دتعزیې سنت طریقه داده چې ترخښولو وړاندې
(که موقع نه وه) وروسته، دمړي کورته ورشي، تسلا ورکړل
شي، دصبر تلقین او ترغیب ورکړل شي، دمړي په هکله دعایه
جملې وویلې شي. دتعزیت الفاظ او مضمون تعین شوی نه
دی.بیل،بیل دي.دصبر او تسلا لپاره چې کومې جملې برابرې
وي هغه وویلې شي.دتعزیې په هکله په حدیث شریف کې ډیر
فضیلت ښودل شوی دی. په یوه حدیث کې راځي څوک چې
دمصیبت او پریشانۍ په مهال خپل ورور ته تسلا ورکړي
اوتعزیه یې وکړي،الله تعالی به دقیامت په ورځ هغه ته دعزت
جامه وراغوندي. (ابن ماجه شریف ص ۱۱٦)

همداسې په حدیث شریف کې دي: څوک چې د غم رسیدلي تعزیه وکړي، الله تعالی به هغه ته دومره ثواب ورکړي څومره چې هغه مصیبت رسیدلي ته یې (دهغه په صبر کولو) ورکوي.
(ترمذي ج ۱ ص ۱۲۷)

مسئله: که څه مجبوري یا لریوالی وي او په خپله حاضریدلای نشي، دلیک په واسطه هم تعزیه کیدلای شي، داسي هم سنت دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ ابن جبل (رضی الله عنه) ته، دهغه دزوي د مړینې له امله لیک ولیک.
(فتاوی رحیمیه ج ۶ ص ۳۴۲ دحصن حصین پنځم منزل ص ۱۸۰ په حواله)

دتعزیې موده

مسئله: په کوم کور کې چې څوک مري، دهغه د غم په هکله پوښتل مستحب دي. دغم دپوښتلو یعني تعزیې وخت له وفات کیدلو وروسته تر دریو ورځو پوري دی. تر هغه وروسته مکروه دی. له هغو پرته چې یا پوښتونکی او یا د کور څښتن موجود نه وي چې په داسي صورت کې تر دریو ورځو وروسته هم مکروه نه ده. ددې لپاره کوم خاص الفاظ مشخص نه دي، بلکې د حال له مقتضا سره سم د غم پوښتل او تسلا کیږي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۶۸)

مسئله: په تعزیت کې به د تسلا الفاظ ویل کیږي لکه دا: صبر کوئ الله تعالی به درته د صبر کولو اجر درکړي او نور. د تعزیې لپاره په مسجد کې (ددې کار لپاره منظم) کښیناستل مکروه دي، په کور کې به وي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۴۱۷، علم الفقه ج ۲ ص ۲۰۷)

د مړینې یا دغسې دبلې سختې پیښې له امله تسلا ورکول او ورسره دهمدردۍ اظهار کول، دهغه دغم دسپکولو هڅه کول په مکارم اخلاق (ښو اخلاقو) کې دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله ددې اهتمام کړی دی. نورو ته یې هم ددې لارښوونه کړې او ترغیب کړی یې دي. لکه له عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه چې روایت دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وکړ: چاچې دمصیبت دڅښتن تسلا وکړه هغه ته دمصیبت دڅښتن په برابر اجر دی.
(معارف الحدیث ج ۳ ص ۴۶۳ دجامع ترمذي او ابن ماجه په حواله)

درسول الله صلی الله علیه وسلم تعزیتي لیک

له معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی چې دهغه زوی وفات شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د تعزیت لیک ولیک. دهغه ژباړه داده:

بسم الله الرحمن الرحیم

دالله درسول، محمد صلی الله علیه وسلم له لوري، معاذ بن جبل ته، تاسې دې سلامت یاست. زه لومړی دالله حمد وایم، هغه چې له هغه پرته بل معبود نشته. تر حمد او ثنا وروسته، دعا کوم چې الله تعالی درته ستر اجر درکړي. دصبر توفیق درکړي او موږ او تاسو ته دشکر کولو برخه راکړي. ددې لپاره چې زموږ ځانونه، مالونه، اهل او عیال ټول، لوی الله جل جلاله دښې تحفې په توګه راته سپارلي دي، امانت دي (له دې سره سم ستا زوی له تاسره دالله جل جلاله امانت ؤ.)

الله هغه تاته له خوشحالۍ سره درکړی ؤ ، له هغه څخه د ګټې
اخستلو موقع یې درکړې وه. اوس یې درڅخه دلوی اجر په
بدل کې واخیست، تاسو ته دالله تعالی له لوري د رحمت او
لارښووني زیری دی، که ته دثواب په نیت صبر وکړې نو ته له
صبر(اوشکر)سره اوسه.(ګوره)ستاژړاستا اجرضایع نکړي،
بیابه ورته پیښمانه یې.په یاد ولره چې دچا ژړل مړی بیرته نه
راګرځوي او نه داغم او درد لرې کوي، هغه چې د کولو دی،
هغه، هغه کوي. هغه چې شوي دي ، هغه شوي دي. والسلام.

درسول الله صلی الله علیه وسلم په دې تعزیت لیک کې هر
مؤمن ته دتعزیې ، نصیحت او تسلی پوره سامان دی. چاته
چې کومه صدمه ورسیږي، کاشکي په خپلو مصیبتونو کې
درسول الله صلی الله علیه وسلم له دې ایمان روښانوونکي ،
ارام کوونکي تعزیې څخه ارامي حاصله کړو صبراوشکر خپل
شعارکړو اوپه اخرت کې دالله تعالی له رحمت او هدایت څخه
برخمن شو. (معارف الحدیث ج ۳ ص ۴۶۸)

په مړینه باندې دصبر اجر او ثواب

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله
صلی الله علیه وسلم ارشاد وکړ : دالله تعالی لارښوونه ده چې
کله زه دیوه مؤمن یو خپلوان ترې واخلم بیا هغه دثواب په هیله
صبر وکړي.له ماسره دهغه بدله له جنت څخه پرته بل څه نه
دی.(ترمذي ج ۱ ص ۱۹۸ ،بخاري ج ۱ ص ۱۷۵ باب الجنایز ،معارف الحدیث ج ۳ ص ۴۶۴)

دمیره مړې (کونډې) عدت

مسئله : که دچا میره دمیاشتې په لومړی نیټه وفات شو،
میرمن حمل نه درلود نو دسپوږمۍ په حساب یې عدت تر
څلورو میاشتو او لسو ورځو پورې دی. که پرته له لومړۍ
نیټې په کومه بله نیټه ومري، هره میاشت دیرش شپې
وشمیرلې شي ، څلور میاشتې او لس ورځې پوره کړي.یعنې
ټولې یوسل او دیرش ورځې، تروفات وروسته چې دومره
وخت تیرشي نو عدت ختم شو.

مسئله :که میرمنې حمل درلود او میره یې مړشو نو د
ماشوم تر پیدا کیدلو پورې یې عدت دی. په دې صورت کې
میاشتو ته اعتبار نشته. که دمیره تر مړینې څه موده وروسته
ماشوم وزیږید نو هم عدت ختمیږي.
(عالمګیري-امداد الفتاوی،احکام میت ص ۱۲۶)

مسئله :دحاملې عدت دماشوم په زیږیدلو ختمیږي، خو
که ماشوم نقصان شي نو تفصیل یې دادی چې که دماشوم
کوم اندام مثلاً ، پزه، ګوته یا بل څه جوړ شوي ؤ، نو عدت یې
ختمیږي او که کوم اندام جوړ شوی نه و،فقط دغوښې یوه
ټوټه وه ، په هغه سره عدت نه ختمیږي ، داسې اټکل کیږي
چې دامیرمن حمل نلري،عدت به یې ترڅلورو میاشتو او لسو
ورځو پورې وي.(شامي ج ۲ ص ۸۳۱ ،احکام میت ص ۱۲۸)

مسئله : که تر نکاح وروسته، تر واده وړاندې یې میره
مړشو ، بیاهم په میرمنې باندې دوفات عدت واجب دی.

مسئله: که دکومي میرمنې په ګیډه کې دوه بچیان وو، یو وزیږي او بل پاته وي، ترڅو چې یې دوهم ماشوم زیږلی نه وي عدت نه ختمیږي. (شامي ج ۲ ص ۸۳۱ – احکام میت ص ۱۲۹)

یادونه: داعدت دهغې میرمنې دی چې میړه یې مړشوی وي، په دې کې دمیرمنې دعمر قید نشته، که په هر عمر وي خو که طلاقه شي دهغې دعدت حساب بیل دی.

کله چې کومه میرمن کونډه شي، دعدت په رسم میرمنې راټولیږي، وایې موږ دې له عدت څخه دوتلو لپاره راغلي یو. ځینې میرمنې دا ضروري ګڼي چې کله یوه میرمن له عدت څخه خلاصه شي، هغه له هغه کوره بل کورته بیایې او ددې ډیر اهتمام کوي، دا دواړه خبرې غلطې دي. مسئله داده چې کله څلور میاشتې اولس ورځې یې تیري شي یا یې دحمل وضع وشي، هغه میرمن له عدت څخه په خپله وزي، که څه هم په هغه کورکې هستوګنه لري. (اصلاح انقلاب امت، احکام میت ص ۱۴۱)

(ځیني ځایونه چې دمیرمنې عدت پوره شي، والدین یا دکورنۍ غړي ورته جامې ورکوي، داغیر شرعي شیان دي، ځان ژغورل ورڅخه ضرور دي. رفعت قاسمي)

دمړینې په حال دمهر معاف کیدل

یوه غلطي چې خورا عامه ده داده چې کله کومه میرمن مري ورته وایې، مهر معاف کړه او هغه یې معاف کړي، میړه یې همدا معاف کول کافي ګڼي او ځان دمهرله بار څخه خلاص ګڼي. که یې کوم وارث پاته شي هغه ته یې نه ورکوي.

په یاد ولرئ چې یو خو په داسي وخت کې معاف کول دسخت زړه خبره ده، بله خبره داده چې کله هغه په فکر او حال کې هم وي او په خپل زړه یې معاف کړي هم مهر نه معافیږي. ځکه دمرض الموت په وخت کې معافول د وصیت په حکم کې ده او میړه ته وصیت کیدلای نشي. ځکه دوارث په هکله وصیت کول باطل دی. خودمیرمنې بل وارث چې عاقل او بالغ وي خپله برخه میراث په دې مهرکې په خپله خوښه پرېښودلای شي، که یې پریږدي. خو که وارث لیونی یا نابالغ وي، دهغه برخه دهغه په اجازه هم نه بخښل کیږي.
(اصلاح انقلاب امت ج ۱ ص ۲۳۸)

یوه غلطي په خلکو کې داده چې کله یې دمړینې وخت راشي او دی شخص مهرورکړي نه وي، میرمن یې مجبوروي ترڅو مهر ورته وبخښي، په داسې حال کې میرمن په زړه کې ورباندې راضي نه وي، خو دخلکو په ټینګار یا پر رواج مجبوریږي له شرمه هغه معافوي. یاد ولرئ چې دمهر داسې معافول جواز نلري، ستر ظلم دی. (احکام میت ص ۲۲۶)

دناروغ په ناسته لمونځ کول

مسئله: کوم ناروغ چې له دریدلو څخه بې وسه وي یعنې که قیام کوي نولویږي یایې ناروغي ډیریږي یایې دنه رغیدلو ویره وي، یا ورته ډیر تکلیف وي. هغه ته په ناسته لمونځ کول جایز دي. خو که ددریدلو وس یې وي او په ناسته

لمونځ کوي بیا جایز نه دی.که دلږې شیبې لپاره دریدلای
شي، هغومره دې ودرېږي آن تر دې که یې په ولاړه دتحریمې
تکبیر ویلای شوای ،یعني طاقت یې ؤ، نو دتحریمې تکبیر
دې په ولاړه ووایي بیا دې کښېنې. ځیني ناروغان ولاړ وي،
کښیني او دتحریمې تکبیر وایې .داسې صحیح نه ده.

(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۳۰ –شامي ج ۱ ص ۷۱۰)

مسئله : دناروغ معذورلپاره غوره طریقه دده چې د
لمانځه لپاره ستونې ستغ څملي، دواړه پښې دقبلې لور ته
کړي. ځنګنونه ودروي او سرڅه لوړ کړي ترڅو یې مخ قبلې
ته شي، داسې هم کیږي چې په ښي یا کیڼ اړخ څملي لمونځ
وکړي، بیا هم ښي اړخ تر چپ غوره دی.

خوداټول صورتونه په داسې حال کې دي چې څوک د
داسې کولو وي او که څوک له داسې کولو څخه هم بې وسه و،
څرنګه چې ورته شوني وي هغسې دې لمونځ وکړي .

(کتاب الفقه ج ۱ ص ۸۰۳)

که تر مړینې وړاندې قضاء شوی لمونځ ادا نکړای شي؟

پوښتنه : که دقضا شوي لمانځه داداءکولو وار نه راغی او
څوک په مرض الموت اخته شو او دقدیې طاقت یې نه و، نو له
مواخذې څخه دخلاصیدلو یې څه صورت دی؟

ځواب :دپاته شویو لمونځونو اداءکول یا (تر مړینې وروسته)
فدیه ورکول له عذابه دخلاصي سبب کیدلای شي نور نو دالله
خوښه ده لکه چې ارشاد کوي :

ویغفر مادون ذلک لمن یشاء . (فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۶۲)

مسئله : که قضا شوي لمونځونه ډیر وو چې شمیرل یې
مشکل ؤ ، تر ښه فکر کولو وروسته دې تخمیني حساب ورته
وکړي. مثلاً په ۱۴ یا ۱۵ کلنۍ کې بالغ شوی دی تر څلور
پنځه کلونو یې لمونځ کړی نه دی یا یې کله کړی او کله یې
پري ایښی دی. په دې صورت کې ددې شخص اندازه مثلاً
څلور کلونه کیږي، نودی دې په خپل اټکل دغومره لمونځونه
وکړي.

په نړۍ کې که څوک پوروړي وي، اندازه یې معلومه نه وي په
تخمین سره هغه اداء کوي چې په ذمه یې څه پاته نشي.
همداسې دې فکر وکړي چې څومره لمونځونه تري قضا شوي
دي، هغه دې اداء کړي او مناسب داده چې څومره کیدلای شي
زیات دې وکړي چې سراسر ګټه ده .

(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۵۳ ، هدایه ص ۱۳۸ باب القضاء)

که دلمونځ نه کوونکي له لوري فدیه ورکړل شي

مسئله :که کوم مړي وصیت کړی نه و او څه شتمنې ورڅخه
پاته شوي نه وه ،په وارثانو باندې یې دده له لوري هیڅ کفاره
واجب نه ده . که دتبرع په توګه دهغه دلمونځونو کفاره اداء
کړي صحیح ده او خورا ښه خبره ده . کیدلای شي الله تعالی تر
ګناهونو ورتیر شي . په دې کې څه خبره نشته . دایقیني خبره
نه ده چې مړی دې بري الذمه شي خو هیله یې شته .اما دافدیه

ورکول دي شتمن خلک دلمانځه په پرېښودلو زړور نکړي.
ځکه ایا دلمانځه پرېښودونکي داباور دی چې دده وارثان به
یې فدیه ورکړي کنه ، دوهمه داچې له وصیت پرته او دمال له
پرېښودلو پرته که یې فدیه ورکړي برائت یې یقیني نه دی.
په هرحال دفرایضو پرېښودل ستره ګناه ده ،پوښتنه یې
حتمي کيږي،بخښنه دالله تعالی اختیار دی.ویغفرمادون ذالک
لمن یشاء.(فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۳۶۵ ، ردالمحتار ج ۱ ص ۶۸۵ باب قضاء الفوائت)

دمړي له لوري دلمانځه او روژې اداء کول

مسئله :که دمړي وارثان دهغه په حکم دهغه قضا شوي
لمونځونه اداء کړي ، دالمونځونه دهغه له لوري صحیح نه دي
ځکه لمونځ بدني عبادت دی او هر مکلف ته یې حکم دی چې
هغه یې په خپله اداء کړي، دبل چا په اداء کولو دده په ځای نه
اداء کيږي.خو په حج کې نیابت قبليږي یعنې که وارث د مړي
له لوري حج وکړي نو دده له ذمې فرض ساقطيږي، که څه هم
مړي یې وصیت کړي نه وي.(درمختار ج ۱ ص ۶۷۳ ،امدادالاحکام ج ۱ ص ۶۶۸)

که ناروغ په ژوند کې دلمونځونو فدیه ورکړي دا څرنګه ده؟

مسئله :شیخ فاني(ډېر زوړ،دژوندپه وروستیوشپو ورځو کې)
که دروژې فدیه ورکړي صحیح ده خو دلمانځه فدیه که په
خپله په ژوند کې ورکوي صحیح نه ده او لمونځونه یې په دي
فدیه سره نه ساقطيږي . ځکه په لمانځه کې دا سهولت شته
چې که یې په ولاړه کولای نشي په ناستودي وکړي او که د

کښیناستلو وس ورسره نه وي په څملیدلو دي وکړي،که یې په
رکوع او سجده سره کولای نشوای په اشاره دي وکړي.خو تر
مړینې وروسته یې دپاته شویو لمونځونو او روژو فدیه
ورکول په وارثانو ضرور ده چې وصیت یې کړي وي او مال یې
هم پاته شوي وي.ددې حکم دزکات په څیر دی چې دبې وزله
تملیک پکې ضرور دی، که یې داسلامي علومو بې وزله
شاګردانو ته ورکړي هم صحیح ده، په دې کې یې ثواب ډېر
دی. ځکه ددیني زده کړې له زده کوونکو سره مرسته ده.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۳۸ ، هدایه ج ۱ ص ۲۰۴ دکتاب الصوم په حواله)

مسئله : په توبه یا حج یوازې ګناه بخښل کيږي فرایض نه
معاف کيږي.داسې چې که څوک حج وکړي یا توبه وباسي نو
دپوروړیو پورې یې هسې په ذمه پاته دی. لکه څرنګه چې تر
حج وړاندې و. همداسې حقوق الله چې قرض دي لکه لمونځ
او نور ، په اداء کولو اداء کيږي. په توبه یې تاخیر معاف
کيږي او ژر اداء کول یې لازم دي. ان که په قضا راوړلو کې
تاخیروشي بیا ګنهګاره کيږي.(فتاوی دارالعلوم ج۴ ص ۳۳۷ ، شامي ۲- ۲۷۶)

مسئله : دقضا شویو لمونځونو کفاره دهغوی اداء کول
دي او الله تعالی ته په عجز سره توبه کول دي. صدقه ورکول
واجب نه دي ،خو که صدقه ورکړي، دا چې په صدقه سره الهي
غضب دفع کيږي نو هیله ده دالله تعالی غضب چې دلمانځه په
تاخیر یا ترک کې وي، هغه پاته نشي او د بې وزلو دحاجت په
پوره کولو کې الهي رحمت وشي . کنه اصل خو دلمانځه اداء

کول دي چې په ژوند کې دصدقي په ورکولو نه ساقطیږي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۵۴)

مسئله :قضاء شوي لمونځونه او روژې یوازې په توبه نه معاف کیږي، بلکې قضا راوړل یې لازم دي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ص ۳۶۳ ، ردالمحتار ج ۱ص ۶۸۰)

په مرض الموت کې په خپله فدیه ورکول

مسئله: که څوک دمرض الموت په مهال په خپله دلمونځونو فدیه ورکړي دانه صحیح کیږي . په ده واجب دی ترڅو وصیت وکړي، دروژې فدیه که په خپله په مرض الموت کې ورکړي دا جواز لري خو صحت یې دده تر مړینې وروسته ثابتیږي.

مسئله :دلمانځه اوروژې فدیه،یوه بې وزله(چې دنصاب خاوند نه وي) ته دیوې فدیې پیسې ورکول صحیح دي، بل ته یې هم ورکولای شي. (درمختار ج ۱ ص ۶۷۴)

دقضا شویو لمونځونو فدیه څه وخت ورکړل شي؟

په ژوند کې دپاته شویو لمونځونو فدیه نه اداء کیږي. بلکې دپاته شویو لمونځونو قضا راوړل لازم دي.خو که څوک په همداسې حال کې ومري چې قضا شوي لمونځونه یې په ذمه پاته وي، نو دهر لمانځه فدیه دفطر دصدقې په څیر پاوکم یوچارک غنم دي.دفدیې په ورکړه کې ورځني قیمت ته اعتبار دی.دغه وقت چې غله په څومره وي په هغه حساب فدیه ورکړل کیږي.داچې وتر مستقل لمونځ دی نو له دې امله په یوه ورځ اوشپه کې شپږ لمونځونه شمیرل کیږي . دیوې

شپې او ورځې په قضا شویو لمونځونو کې شپږ صدقې لازمیږي. که مړی ددې وصیت وکړي نو دمال له دریمې برخې څخه یې دا صدقه ورکول کیږي او دا واجب ده. که یې وصیت کړی نه وي نو دوارثانو په ذمه واجب نه ده. ټول وارثان که عاقل او بالغ وو او په خپله ،خپله خوښه دا صدقې اداء کړي نو هیله ده چې دمړي دا بار له غاړې واوړي.(آپ کې مسائل ج ۲ ص ۳۵۹)

دلمونځونو فدیه څومره ده؟

مسئله:ترمړینې وروسته دلمونځونو کفاره وارثان ورکوي، په ژوند کې دکفارې حکم نشته. دلمانځه کفاره پاوکم یو چارک (یو کیلوګرام او ۶۳۳ ګرامه) غنم دي. په شپه او ورځ کې دشپږو لمونځونو ورکول کیږي یعنې له وترو سره . په فدیه ورکولو کې شخص اختیار لري چې غنم ورکوي او که نغدې پیسې .نغدې ښې دي ځکه نوري اړتیاوې په پوره کیږي.که دینې کتابونه ورباندې واخلې داهم صحیح ده . خو داپکې ضروري ده چې هغه کتابونه به په بې وزله زده کوونکو ویشي اودهغوی ملکیت به یې ګرځوي.داسې چې په دینې مدرسوکې کیږدي جواز نلري، په هغوی سره کفاره نه اداء کیږي. بلکې مالک ګرځول پکې ضروردي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۳۶۴ فتاوی محمودیه ج ۱۳ص ۵۰)

مسئله :دهرې ورځې روژې فدیه له یوه لمانځه سره برابره ده. درمضان المبارک له روژو پرته که بله کومه نذر روژه پاته وي ، دهغې فدیه هم ورکوله کیږي.

مسئله :زکات که د څومره کلونو پاته وي، دهغه حساب کیږي او اداء کیږي.

مسئله : فرض حج که مړي کړي نه وي ، دمړي له کلي څخه دي څوک دحج بدل لپاره واستول شي او پوره لګښت دي ورکړل شي.

مسئله:څومره دفطرصدقي چې پاته وي، دهرې يوې فديه دې ورکړل شي.

مسئله :واجبه قرباني که پاته شوي وي، يو پسه يا ديوې برخې بيه صدقه کيږي .

مسئله:که دتلاوت سجده پاته شوي وي احتياط په دې کې ده چې دهرې سجدې په بدل کې ديوه لمانځه بدل فديه ورکړل شي.

مسئله :که پاته شوي لمونځونه يا روژې سمي شميرلاى نشي په اټکلي حساب دي وګڼي. (رساله حيله اسقاط، محمد شفيع رحمه الله)

مسئله : ددي مصرف هغه دى چې دزکات او صدقي مصرف دى، ډيرمستحق کسان دي چې ډيراړ دي لکه قرضداره خلک يا نور. که دمدرسې زده کوونکو ته ورکړل شي هم ښه مصرف يې دى خو په فس، مني ارډر، درافټ او نورو کې نه حسابيږي.

(فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص۴۶۹)

مسئله :که مړی وصيت وکړي اوشتمنې هم تري پاته شي، او وارثان يې په دريمه برخه کې هغه وصيت پوره نکړي ګنهګاره کيږي. مړی هم له اخروي مواخذې ترهغه وخته خلاص نه دی څو يې الله تعالى ونه بخښي.(فتاوى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۶۸ ،ردالمحتار ج ۱ باب قضا الفوائت.فتاوى محموديه ج ۷ ص ۹۸)

مړيني ته دچمتوکيدلو طريقه

له الفرقان مياشتنۍ (لکهنو) ۱۹۷۷م ۱۳۹۷هـ څخه په منند.

يادونه : د ۱۳۶۱ هـ کال دذي قعدې دمياشتې د ۲۹ نيټې په شپه، دګران ورور حاجي محمد حسين مرحوم دخښولو په مهال چې قبرڅه وځنډيده مولانا منظور نعماني مرحوم د ديوبند دارالعلوم دشورى غړي چې کومه وينا کړې ده ، دلته به دتبرک لپاره راوړله شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلاَّ مَتَاعُ الْغُرُورِ (آل عمران -ايه ۱۸۵)

درنو حاضرينو! تر اوسه لا دقبر تيارولو ته وخت شته ، يوه وروره راته وويل چې په دې ځنډ کې څه ووايم . دده په دې خبره راته ياد شول چې دايو نبوي سنت هم دى. په صحيح بخاري شريف کې يو بيل باب دى چې دهغه عنوان دى:

باب موعظ المحدث عند القبر.

په هرحال ددې سنت داداء کولو په نيت زه څو توري عرض کوم، الله تعالى دي قبول کړي او موږ ته دې الله ورڅخه دګټې اخستلو توفيق راکړي.

ما چې دآل عمران دسورت آيت تلاوت کړ،دهغه ژباړه داده: (هر ژوندى به دمړينې خوند وڅکي او ستاسو داعمالو نتايج

به په بشپړه توګه دقیامت په ورځ درته ورسیږي نو په هغه ورځ
چې څوک له دوزخ څخه وژغورل شي او جنت ته ننوزي، هغه
به بریالی وي او دادنړۍ ژوند هسې دغولولو متاع ده.)

له دې ژباړې څخه به درته معلومه شوې وي چې په دې آیت
کې دمړینې او آخرت یادونه شوې ده. ددې په لمړنۍ برخه کې
ویل شوي دي چې هر ژوندی شی مري او دژوند څښتن ته به
یوه ورځ هرو مرو مړینه راځي.

که قرآن کریم داهم ویلي نه وای، زموږ هم داباور و چې هر
ژوندی موجود یوه ورځ مري. هغه انسان چې په قرآن کریم
باندې هم ایمان ونلري، دهغه په مړینه کې هم کوم شک نشته.
څرنګه به څوک پکې شک وکړي چې دنړۍ دټول عمر تجربه
داښیي چې دهر ژوندي پای مړینه ده.

په هر حال دایو حقیقت دی چې هر ژوندی به دمړینې خوند
وڅکي. دایو یقیني بلکې په سترګو لیدل شوی حقیقت دی
چې کوم کافر هم ورڅخه انکار کولای نشي.

خو دانبیاوو علیهم السلام معلومات چې دالله لورې دي،
ترمرګ وړاندې داهم وایي چې مړینه هسې یوازې فناه او
ورکه نه ده، بلکې په حقیقت کې مړکیدل له یوې نړۍ بلې نړۍ
ته تلل دي. یوه ورځ داسې هم راتلونکې ده چې لکه په ورځنۍ
ډول چې په انفرادي ډول خلک مري او له دې نړۍ بلې نړۍ ته
ځي، همداسې به ټول عالم او بشپړه نړۍ په یوه شیبه کې فناه

شي. دامهال چې چیرې هم په کایناتوکې کوم ژوندی سری
وي، هغه به ټول ومري او بلې نړۍ ته به لاړ شي. دانړۍ چې
موږ پکې هستوګنه لرو خرابه او ویرانه به شي، کوم خلک چې
له دې نړۍ څخه تللي وي، دالله تعالی په قدرت سره به بله
نړۍ ورته جوړه شوې وي. دلته چې یې کوم بد یا ښه کار کړی
وي یا یې دلته ښه یا بده زندګي تیره کړې وي. هلته به له دې
سره ورته برابره سزا یا جزا موندله کیږي. دادآیت ددې جز
انماتوفون اجورکم ،مطلب دی.

په هرحال دانړۍ زموږ لپاره دعمل ځای دی اودجزا
ورکولو ځای بله نړۍ ده . هغه چې موږ تر مړینې وروسته
ورځو ، هلته چې کوم ژوند راکول کیږي هغه به محدود او
دڅو ورځو نه وي، تل پاتې اولامحدود به وي. دا زموږ خوښه
ده چې دهغه ژوند لپاره کار نه کوو او ځان نه په دوزخ کې
ژوند جوړوو که له بدیو اوګناهونو څخه ځان ساتو، نیکي
کوو او په جنت کې ژوند جوړوو. غرض دادی چې دخپل ځان
دجنتي او دوزخي جوړولو سبب په خپله موږ او زموږ اعمال
دي. شاعر ډیر ښه وایي :

"په عمل سره ژوند جوړیږي دجنت او ددوزخ هم
داخاورین په خپل فطرت کې نه نوري دی او نه ناري."

کله چې دامعلومه شوه چې دانړۍ دارالعمل دی، په
راتلونکې کې به ددې ځای داعمالو په نتایجوکې اوسو، نو

فکر وکړئ چې هغه کسان څومره غلطي کوي او څومره
زیانمن دي چې ددي ژوند مهلت او وخت په بېخبرۍ کې
تیروي او له دې ځایه تر تللو وروسته چې په هغې نړۍ کې د
تل لپاره دهستوګنې دارامي لپاره به یې هیڅ تیاري کړې نه
وي، بلکې ددې نړۍ په خوندونوکې دومره ډوب دي چې
ګواکې تل همدلته اوسیږي او کله هم مړینه نه راځي.

پیغمبران ولي راغلي دي؟

له دې غفلت څخه درابهرکولو او ددنیا دمینه والو لپاره د
آخرت دیادولو لپاره، دالله تعالی پیغمبران راغلي دي او دالله
تعالی په ټولو کتابونو کې یې دادرس ورکړی دی. خو انسان
داسې بې خبره او بې فکره دی چې له دې سره ، سره له آخرت
څخه بې پروا ده اوخپله مړینه یې بیخي هیره کړې ده. ددې
غفلت لوړه درجه داده چې هغه همداسې انسانان چې هره ورځ
مري او له دې نړۍ څخه سفرکوي وینې خو بیا هم دانبیاوو له
دې درس څخه خپله مړینه نه یادوي.هغه تر ځان مشران بلکې
همزولي او واړه وینې چې ناروغه کیږي،ناروغي یې ډیریږي.
دطبیبانو او ډاکټرانو له ډیرو هڅو سره ،سره ددرملنې ورته
کومه ګټه نه رسیږي. کومه دوا ورته کار نه ورکوي. دناروغ
وروستنۍ شیبې راځي، نزع پیل کیږي، څوشیبې وروسته
ورته دمړینې ملایکه راځي ،روح یې اخلي اودی هسې بې
روح جسد پاته کیږي. غسل ورکوونکی یې له بسترې څخه

اخلي او په یوه وړه ډره یې لمبوي ،کفن ورکوي دجنازې
لمونځ یې کوي. په وحشت ځای ځنګل کې یې دزړګونوو ران
ویجاړ قبرونوپه منځ کې خښوي،پنځوس منه خاوره ورباندي
اچوي،ټول همدا مړی یوازې پریږدي، هریو خپل کورته ځي...
څه غور خو وکړئ، هر مړی زموږ دعبرت او نصیحت لپاره
څومره سامان له ځان سره لري، خو غافل انسان دا هرڅه وینې
کله هم فکرنکوي چې موږ ټول به له دې منزل څخه تیریږو او
زموږ دژوند پای به هم همداوي. په حقیقت کې دغفلت دا
درجه چې دنورو مړینه وینې اوخپله مړینه ورته په یاد نه
راځي، له نړۍ څخه دنورو تلل وینې خو په خپله داخرت دسفر
لپاره دچمتو کیدلو فکر نه کوي، وروستنۍ درجه ده.
مړینه تر ټولو ښه نصیحت او واعظ دی. په مبارک حدیث
کې راځي : "کفی بالموت واعظاً"
یعني مړینه دانسان لپاره ښه واعظ دی.
په یوه بل مبارک حدیث کې دغفلت دلرې کیدلو لپاره یو
خاص تدبیر بیانوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد
کوي: "اکثر ذکرها ذم اللذات."
یعني دخوندونو ختموونکي مړینه ډیره یادوئ.په دې سره
به مو له زړونو څخه غفلت لرې شي.
درسول الله صلی الله علیه وسلم عادت ؤ چې دشپې به ډیره
برخه تیره شوه او لږه برخه به یې پاته وه ، دکورنۍ کسان به یې

دغفلت له خوب څخه راویښول او ارشاد به یې کاوو:

" اذکر الله ،اذکر الله جاءت الراجفة تتبعها الرادفة جاء الموت بما فیه جاء الموت بما فیه. (پاڅئ، الله یاد کړئ، الله یاد کړئ ددینا دلاندې باندې کیدلو داخرت زلزله راتلونکې ده، هغه چې وراندې ترې راځي، هغه به هم راشي، ستاسو له ټولو سختیو او مصیبتونو سره، سره راځي، وګورئ مرینه راځي.)

مقصد داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دغافلو خلکو دهوښیارولو او له غفلت څخه دایستلو لپاره دمرینې یادونه کوله. خو زموږ غفلت په داسې اندازه دی چې له مرینې څخه مو هم نشه نه لرې کیږي او زموږ په څېرنور چې مري او په ځمکه کې خښیږي، وینو بیا هم زموږ دقبرېوزلي او یوازیتوب نه رایادیږي او فکر نکوو چې کله زموږ دا وخت راشي چې یقیناً راتلونکی دی، په موږ به څه تیریږي.

دخپل قبر لپاره څه وکړو؟

درنو مشرانو او ګرانو ورونو! اوس مهال چې موږ ژوندي یو، جوړیو، ګرځو راګرځو، موږ ته شوني ده او زموږ اختیار دی چې په قبر کې د ارامې، روښانتیا او اُنس انتظام وکړو او له دې تنګ او تاریک کډې څخه دځان لپاره ښکلي باغ تیار کړو. خو که موږ دامهلت په غفلت تیر کړو کوم څه چې داخرت لپاره یې کول وړ دي. ونه کړو، له الله ونه ډاریږو، داخرت له محاسبې څخه بې پروا سو، دالله تعالی نافرماني او دخلقو

حق تلفي وکړو نو یقین وکړی چې داقبر به یوه تاریکه کوډله نه وي، بلکې یو وړوکی دوزخ به وي. په هغه کې به اور وي. په هغه کې به مار او لړم وي، هلته به دخبراخیستلو لپاره څوک نه راځي، کوم یار او مرستندوی به نه وي، تنده به وي خو څوک داوبو ورکولو به نه موندل کیږي. ښي او کیڼ لورته به اور وي، دژغورلو به څوک نه وي، چیغې او نارې به مو وي خو داوریدلو به څوک نه وي. بیا به دا د یو دوو ورځو کار نه وي، که مو اعمال درحمت او قبول وړ نه وي نو ترقیامته به داعذاب مسلط وي. (الله تعالی مو دې ترې وساتي. آمین)

درسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک حدیث کې دي:

"انما القبر روضة من ریاض الجنة او حفرة من حفرة النار."

(قبر به یا دجنت له باغونو څخه یوه باغچه وي یا به ددوزخ له ژورو څخه یوه ژوره وي).

په یوه بل حدیث کې راځي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ارشاد وکړ: هره ورځ قبر ناري وهي:

"انا بیت الغربة انا بیت الواحدة ،انا بیت التراب،انا بیت الدود."

(یعني زه دنابلدتیا کور یم، زه دیوازیتوب جونګړه یم، زه دخاورو کور یم، زه دچنجو خزانه یم.)

وړاندې په همدې حدیث کې نبوي ارشاد دی:

کله چې دالله تعالی مؤمن بنده خښ کړای شي، قبر یې په مینه استقبال کوي هغه قبر ورته دومره پراخ شي چې ترڅو یې

نظر لګیږي ، هغه پراخي او پراختیا ویني. خو که کوم بدکاره
او بې ایمانه خښ کړای شي نو د قبر معامله ورسره دیوه دښمن
په څیر وي، هغه ورته ډیر تنګ شي ، خواوشا ورسره داسي
زهرجن ماران وي چې که یې یو ځمکه وچیچې هغه به بې وښو
شي ، دشنه کولو صلاحیت به تري لري شي.

چې په مړینه زموږ باور دی نو بیا ؟

اوس تاسو فکر وکړئ، موږ په یقني توګه مرو او قبر ته ځو،
په قبرکې چې له موږ سره کومه معامله کیږي، دهغه په هکله
رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر راکړی دی او موږ هم په
هغه سم پوهیدلي یو. که مو ترقبر وروسته دخپلو بدو کړو،
ورو له امله خدای مکړه دوزخ ته واستوي، هلته هم تر قبر په
سخت عذاب زموږ باور دی. نو له قبر او اخرت څخه بي
پروایې او په غفلت کې ژوند تیرول ، مړینه هیرول ، دلته دځو
ورځو په عیش کې مست پاته کیدل، په خپل ځان باندي
څومره ستر ظلم دی.

مشرانو او عزیزانو ! څه چې کولای شئ په دې ژوند کې یې
وکړئ، همداوخت یې وکړئ . دامعلومه نه ده چې سباڅه
مهال دمړینې ملایکه داجل پیغام راوړي اوتاسو به څه کولای
نشي. په الله سوګند دلته چې زموږ ټول ژوند په غفلت کې تیر
شي، هغه چې ورځ او شپه بلکې میاشتې اوکلونه په موږ په
غفلت تیریږي اوځي، هلته به دشیبې ،شیبې ارمان وي او که

موږ وغواړو چې ددې غفلت دتلافي لپاره مو یوه ورځ یا لږه
موده دنیا ته بیرته را واستوي یا ددوه رکعته یا یوې سجدې
وخت بیا راکړي یا یوازې دتوبې او استغفار لپاره یوازې یوه
شیبه ددنیا ژوند راته وبخښل شي، نوموږ ته دافرصت نه
راکوي زموږ غافل او مجرم خلکو به هغه مهال دډیري رسوایي
او ستر غم وخت وي. قرآن کریم دهغه ذلت او حسرت تصویر
داسې انځور کړی دی :

وَلَوْ تَرَى إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُؤُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا
أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ .(السجده -۱۲)

ژباړه :او چې ته ووینې چې مجرمان سرښکته دخپل رب په
وړاندي ولاړ او وایې :ای زموږ ربه! موږ اوس ولیدل، او
وامو وریدل ، نو موږ بیرته ولیږه ، موږ به ښه کارونه وکړو
اوس مو پوخ باور راغلی دی.

خو داچې غوښتنه به غلطه او بې ځایه وي، نو نه اوریدله
کیږي او څرګند به وویل شي :

فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا إِنَّا نَسِينَاكُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ
الْخُلْدِ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ . (السجده – ۱۴)

ژباړه :نو اوس یې خوند وڅکئ، ځکه چې تاسې له دې
ورځې سره مخامخ کیدل هیر کړي وو.اوس موږ تاسي هیر
کړي یې. دخپلو کړنو په بدل کې دتل پاتې عذاب خوند
وڅکئ.

په قرآن کریم کې دي چې بل ځای به وویل شي :

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ .(المؤمنون، ۹۹)

ددي آیاتونو مطلب دادی چې دا مجرمین او هغوی چې خدای یې هیر کړی ؤ کله وړباندي مرینه راشي ، دخپلو بدیو او غفلت پایلې وګوري نو داګړ بر پیل کړي چې ، ای الله! دڅه مهال لپاره موږ بیا دنیا ته واستوه ، هغه چې موږ پریښودله او ترې راغلو ترڅو ښه کړه وړه وکړو. خو داسې به هیڅکله هم ونشي. دابه هسې ددوی چیغې وي، دقیامت تر ورځې به هغوی دبرزخ په عالم کې پاته شي ، هلته به دخپلو کړو، وړو خوند څکي .کله چې دقیامت وخت راشي او دصور شپیلۍ پو کړای شي . دحشر اونشر دوهم عالم ودریږي په هغې ورځ اړیکې سره وشلیږي، کوم عزیز او دوست ورسره پاته نشي، نه یې څوک د کومې خبري پوښتنه وکړي، هسې به پریکړه وشي چې په کومه پله کې دایمان او ښېګڼو درنښت وي، هغه به ژغورلي وي، کامیاب به هغوی وي، په کومو پلو کې چې داوزن نه وي یعني د رېښتني ایمان او غوره اعمالو له شتمنې څخه خالي وي ، له دې نړۍ څخه تش لاس تللي وي، هغوی به هلته ډیر په زیان کې وي ، هغوی ته به دوزخ وي هلته به پاته وي . ددوزخ اور به یې مخونه سوزوي، صورتونه به یې ورته خرابوي او دلیدلو وړ به نه وي.

****

*****

له غفلت څخه راوېښ شئ

الله تعالی په بیا ، بیا اعلان کړی دی ، څوک چې څه کوي ددې نړۍ په ژوند کې دي وکړي تر دې وروسته به چاته دعمل مهلت پیدا نشي.

نو ای دخدای بندګانو ! دژوند دا مهلت چې دایې هم معلوم نه دي چې تر څه وخته به وي غنیمت وګڼئ،قدر او ارزښت یې وپیژنئ، که تر اوسه درباندي وخت په غفلت کې تیر شوی دی، له اوس څخه ویښ شئ ، داخرت او دهغه دژوند لپاره چې رېښتونی ژوند دی تیاري ونیسي .

زما مطلب دا نه دی چې تاسو له دنیا او دهغې له شیانو څخه بیل شئ ، دفقر تغر وغوړوئ ، په ځنګل کې کښینئ ، کور او اولاد پریږدئ. یوازې تسبیح وواياست.نه،نه دشریعت غوښتنه دا نده ، نه دخدای درضا او داخرت دسمولو لپاره ددې اړتیا ده. الله تعالی له موږ څخه دومره غواړي چې دهغه په را استول شویو او درسول الله صلی الله علیه وسلم په راوړل شویو لارښونو کې ژوند وکړو، زموږ په زړونو کې ایمان وي، کړه وړه مو نیک وي، موږ ددنیا ټول ضروري کارونه وکړو خو دالهي احکامو پابندي پکې وي.

وروڼو! دا دنیا دمؤمن لپاره هم ده او دکافر لپاره هم ، خو توپیر پکې دادی چې مؤمن دالهي احکامو پابند وي او په دنیا کې تصرف کوي او کافر له دې پابندۍ پرته پکې لتاړ دی.

دالله تعالی درضا او داخرت دنجات اوفلاح لپاره دي ته ضرورت نشته چې تاسو بالکل تارک الدنیا اوسئ؛ یوازې ددي ضرورت دی چې څه کوئ، هغه دالله تعالی دقانون په دننه کې کوئ او دایوازې په لمانځه اوروژه کې نه دي، بلکې په خوړلو څښلو،تجارت او راکړه ورکړه کې ، له خپلو مشرانو او وړوخپلوانواو دوستانو ،خپلو ګاونډیانو ،عامو انسانانو سره په معامله کې ، لنډه داچې دژوند په هره څانګه کې دالله تعالی داحکامو او دهغه دلاربښوونومتابعت وکړئ. بس همدا داسلام حقیقت دی چې ورباندي داخروي نجات او د الهي رضا دارومدار ورباندي ولاړ دی.

دغفلت دلري کولو طریقه

زه پوهېږم او دامنم چې الحمدلله زموږ په زړونو کې ایمان شته ، خو څه کمې چې سته او ربښتیا هم ډېر کمښت دی، ددې سبب هغه غفلت دی چې زموږ په زړونو کې دی اودهغه له امله نه دخدای له نیولو او نه یې هم له محاسبې څخه څه راته په یاد راځي او نه موږ داخرت فکر مشغول کړي یو. نوتر ټولو لومړی او تر ټولو سترکار زموږ دغفلت زایلول او له منځه وړل دي ، دآخرت لور ته زړونه متوجه کول دي. داغفلت لري کیدلای شي، فقط په وار وار سره دمړینې اوترمړینې وروسته دقبر، حشر او نشر او په آخرت کې د را پیښیدونکو پیښو په یادولوسره کیږي. نو زه تاسو ټولو جنابانو ته ،هره یوه ته بیل

، بیل عرض کوم چې ډېر نه، په شپه او ورځ کې لږ تر لږه یوځل ضرور داسې وکړل شي چې هغه مهال په ډېره توجه دافکر وشي چې، یوه ورځ به موږ هم ضرور همداسې مرو، لکه نور چې وینو. نو پام وکړئ هغه وخت به څومره سخت وي، چې په قبر کې مو کښېږدي، څه حال به مووي،ترقیامته به څه راباندي تیریږي،بیا به دحساب اوکتاب په مهال چې زموږ دګناهونو فهرست زموږ په وړاندي وي او زموږ په خلاف زموږ لاسونه شاهدي ووایې ، زموږ به څرنګه رسوایې وي اوکه موږ د بخښلوړ نه وو او دوزخ ته واچول شو هلته به مو حال څه وي.

همداسې په دې فکر کې چې په زړه کې دخدای ویره پیدا کړي ورسره دخپلو ورځنیو ښو او بدو اعمالو محاسبه وکړي. په دې توګه به په داسې کولو سره غفلت لري شي، خدای دې وکړي چې یو وخت داسې کیفیت پیدا سي چې دهرکار په کولو په زړه کې دافکر پیداشي چې، آیا په دې سره الله راضي کیږي اوکه دالله دنارضایتي کار دی؟

دداسې کیفیت نوم تقوی او خشیة الله دی چې دټولو نیکمرغیو بنسټ دی او دا دولایت مقام دی .بیا به مو له مړینې څخه کومه ویره او تر هغه وروسته په راتلونکو مراحلو کې کوم زیان او اذیت نه وي ،بلکې په خوشحالۍ سره به دمړینې استقبال کیږي اوپه هره مرحله کې به دالله تعالی فرښتې دالله تعالی زیري درکوي ، تاسو به ډاډمن کوي او

درته مبارک شه به وو ایې: أَلا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ . الَّذِينَ آمَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ . لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ لاَ تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ.(یونس ۶۲ – ۶۴)

ژباړه: واورئ! دالله په دوستانو نه ډار شته او نه به غمجن کیږي. دوی همهغه دي چې ایمان یې راوړئ او له الله څخه ډاریږي. په دنیا او آخرت کې دهغوی لپاره دخوښې زیرې دی. دالله پاک خبر اوړي راوړي نه، او بس همدا ډیره لویه کامیابي ده.

په ځینې روایتونوکې راځي چې کله دمړینې ملایکه کوم مؤمن ، صادق او نیک بنده ته راشي او روح یې اخلي نو لومړی ورته وایې : " لاتخف مما انت قادم علیه" یعني هغه بل عالم ته چې ځې ، هلته ستا لپاره راحت او سوکالي ده . په دې مړینه به ستا ټول وحشت او ویره ختمه شي. بیا ملایکه ورته وایې : "لاتحزن على الدنيا ولا على اهلها وابشر بالجنة"

یعني ددنیا او ددنیا اهل چې ستا خپلوان او عزیزان دي، هغه چې درڅخه پاته کیږي، دهغوی لپاره غم مکوه، خوشحاله اوسه چې ددنیا بدل جنت او ددنیا داهل بدل به دجنت له اهل څخه به ستا په واسط پاته شي، ته مړکیدونکی په خوشحالي له دنیا څخه تللو ته چمتوشه.

په ځینې روایاتوکې راځي، هغه صالح بنده ته چې له الله تعالی

سره یې زړه لګیدلي وي، دمړینې ملایکه راشي نولومړی دالله له لوري ورته سلام رسوي او ورته وایې :

رب یقرء ک السلام – ستا رب په تا سلام وایي.

اوس تاسو پوهیدلای شئ چې کله دمړینې فرشته دا ډول پیغامونه کوم نیک مرغه بنده ته ورسوي، هغه به څومره خوشحاله وي او څرنګه په بشاشه او غوړیدلی څهره به له دې نړۍ څخه ځي.

دالله تعالی نیک بندګانو ته تر مړینې وروسته پیښبو په اړه قرآن کریم دا زیری اوروي :

يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ . ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً . فَادْخُلِي فِي عِبَادِي. وَادْخُلِي جَنَّتِي . (الفجر ۲۷ – ۳۰)

جنابانو! دالله تعالی دا انعامونه او دملایکو دا بشارتونه حاصلول زموږ هریوه لپاره شوني دي، شرط یوازې دادی چې موږ دا اوسنی دغفلت حالت لرې کړو، دالله تعالی څخه ویره او تقوی په ځان کې پیدا کړو او بیا خپل ژوند دهغه له لارښوونو سره برابر تیر کړو.

یو عارف ښه وایي : " درته یاد دي چې کله تا په دې دنیا لومړنی قدم کښیښود، کورنۍ دي خوشحالي کوله خو تا ژړل اوس په دنیا کې داسې ژوند وکړه چې کله له دې نړۍ څخه لاړ شي، ټول درپسې ژاړي خو ته خوشحاله لاړ شي ګواکې له قید څخه خلاصیږي او خپل کورته ځي."

دابن جریر(رح)په تفسیرکې یو روایت دی: کله چې یو
صالح مؤمن شخص ته د مرګ فرښته راشي نولو مړی ورته
وو ایې: "زه تا راسره بوزم او که دې په دې نړۍ کې پرېږدم ؟"
هغه ورته وایې ته مادلته په پریشانیو او مصیبتونو کې پرېښودل
غواړې. قدموني الی الله تعالی – ما په بیړه دالله لور ته بوزه.

ځینې داډمن کسان دامهال له دې کبله هم خوشحاله وي
چې اوس به موږ هغه عالم ته رسیږو چې هغه ته رسول الله
صلی الله علیه وسلم او دهغه نور اصحاب او پخوانې انبیاء
پخوا لا تللي وي. هلته به انشاء الله دهغو جنابانو زیارت او
لیدل کتل را په برخه شي. لکه په شفاء دقاضي عیاض کې چې
منقول دي : دبلال رضی الله عنه دوفات وخت چې راغی، د
هغه دمیرمنې له خولې ووتل :(واحزناه) یعني های څومره
دغم وخت دی. بلال رضی الله عنه سمدستې وویل : نه ، نه !
واطرباه غدا القی الاحبته محمداً وحزبه.

ډیرد خوشحالي ځای دی، زه به سبا انشاء الله دخپلو تللو
دوستانو یعني رسول الله(صلی الله علیه وسلم)او دهغه دملګرو
ملاقات وکړم.

خو داکیفیت او داشتمنې به هغه مهال حاصلیږي چې موږ
ورته ځان ور وګرځوو، که موږ په داسې غفلت کې ژوند تیر
کړو، داخرت له محاسبې څخه بې پرواشو، دشیطان په لاره لاړشو
هغه چې زموږ عام حال دی، نو موږ لره مصیبت دی او غم دی غم.

څه پوهیږو که داوړځ دژوند وروستنی ورځ وي؟

موږ ډیر په دې غلطي کې یو چې ښه ژوند وکړو او کله چې
مړینه راشي توبه به وکړو، الله تعالی غفور او رحیم دی. خو
دایاد ولرئ چې دا شیطاني وسوسې دي. یو خو دا چې څوک
خبر دي چې دمړینې وخت راشي، ایا دتوبې وخت به هم پیدا
شي. ورسره دا چې دتوبې قبول او نه قبول قانون په څرګنده په
قرآن کریم کې بیان شوی دی چې دتوبې منل او نه منل دهغو
کسانو په هکله دي چې په ناپوهې سره بدکارونه وکړي او
کښېني بیا ژر دزړه له کومې توبه وکاږي. خو هغه خلک چې
ټول عمردتوبې په بې باکۍ کې ګناه کوي چې مرګ ته ورنژدې
شي بیا توبه کوي، په داسې بې پروایو کې تو به هیڅ هم نه
ده. قرآن کریم په خورا څرګندو تورو اعلان کړی دی : إِنَّمَا
التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن
قَرِيبٍ فَأُولَـئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيماً حَكِيماً .
وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّى إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ
الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الآنَ .(النساء ۱۷-۱۸)

ژباړه: الله پاک یوازې دهغو خلکو توبه مني چې په ناپوهۍ سره
بدکار وکړي او بې له درنګه ترې توبه وباسي نو دهمدغو
خلکو توبه الله پاک مني، او الله پاک په هرڅه ښه پوه او دحکمت
څښتن دی. خو دهغو کسانو توبه نشته چې دمرګ تر غرغر، غرو بد
کارونه کوي او چې مرګ ووینې وایې اوس مې په رښتیا توبه ده.

داهم چاته معلومه نه ده چې مړینې ته څومره وخت پاته دی، څه پته ده چې داورځ دژوند وروستنۍ ورځ او داشپه دژوند وروستنۍ شپه وي. همدا موږ اوتاسو اورو چې فلانی صاحب ښه روغ ناست ؤ ناڅاپه یې زړه ودرید او په دوو دقیقو کې ختم شو.

په هرحال هره ورځ بلکې هره شیبه دتوبې او استغفار وروستنۍ مهلت وګڼل شي او ژر تر ژره له الله تعالی سره خپله معامله پاکه شي. کوم وخت چې په غفلت تیر شوی او کوم بدکارونه چې په دې غفلت کې راڅخه شوي دي، دهغوی په هکله په پاک او عاجزه زړه له الله تعالی څخه بخښنه وغواړو او دبیا لپاره په بشپړ عزم ددې امر منلو وعده وکړو او ورته دمغفرت او رحمت هیله ولرو. که زموږ داتوبه، دامعافي غوښتل له پاک زړه څخه وي نو په یقین سره به زموږ وړاندې ګناهونه وبخښل شي. په حدیث شریف کې دي:

التائب من الذنب کمن لا ذنب له.

یعني له ګناه څخه تر توبه کولو وروسته انسان بالکل بې ګناه غوندې وي. بلکې په یوه حدیث شریف کې راځي:

کیوم ولدته امه " یعني تر ریښتوني توبه کولو وروسته انسان له ګناهونو څخه داسې پاکیږي لکه هغه چې دزیږیدلو په مهال بې ګناه دنیا ته راغلي دی.

په قرآن کریم کې له یوې اشارې څخه داسې معلومیږي چې دتوبه کوونکي پخوانې ګناوې هم په نیکیو بدلیږي. په سورة فرقان کې یو آیت دی:

إِلاَّ مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلاً صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا.(الفرقان–۷۰)

له دې آیت څخه معلومیږي، هغه نیک مرغه خلک چې ریښتوني توبه وکړي، پاته ژوند په ریښتوني او ښو کړو وړو سره تیرکړي نو دهغه ګناهونه هم الله پاک په نیکې بدل ورکوي. الله اکبر! داده درحمت کرشمه.

خو داسې فکر کول چې یوازې په ژبه داویل چې زما توبه ده، یا د "استغفرالله ربي من کل ذنب واتوب الیه." په ویلو به مستحق وګرځي، نه هیڅکله نه.

دتوبې حقیقت دادی چې په تیرو غلطیو او ګناهونو له زړه پښېمانه وي او دبیا لپاره په حتمي توګه داپریکړه وشي چې بیا به داغلطي او ګناه نکوي.

که بیاهم دبشري کمزورۍ له امله هغه خطا وکړل شي بیا دې هغسې توبه وکړل شي، الله تعالی بخښوونکی او رحمت کوونکی دی.

په هرحال دتوبې په مهال په زړه کې پښیماني او په پخوانیو غلطیو خفګان او دبیا لپاره له ګناهونو څخه ځان ساتل ضروري دی. له دې پرته که په ژبه زر ځله هم توبه وویله شي ګټه نه ورکوي.

ښه یاد ولرئ ، انسان هر چاته دوکه ورکولای شي ، دخپل ځان په غولو لو کې هم اخته کیدلای شي، خو الله ته هیڅکله هم دوکه ورکولای نشي،هغه علیم بذات الصدورذات دی، ښه پوهیږي چې ستا توبه هسي په ژبه ده او که له زړه څخه هم ده.

اوس زه داوینا پای ته رسوم او په پای کې له الله تعالی څخه دخپلو ګناهونو معافي غواړم او تاسو ته هم الله تعالی ته دمغفرت او رحمت دعا کوم. تاسو هم ،ځان ته او ماته داسي دعا وکړئ . دخدای رحمت ته دسپارلو لپاره موږ دا د شپې مهال دلته را غونډ شوي یو.

(تردې وروسته په دعا او استغفار ویلو دا سلسله ختمه شوه.)

مړینه څوک نه پریږدي

که ستاسو اړیکي پراخي هم نه وي بیا هم تر اوسه څومره دوستانو مو ستاسو په وړاندي له دې نړۍ څخه سفر کړی دی. څرنګه جوړ او ځواکمن ځوانان ، څرنګه سپورت کوونکی ، پهلوانان،څرنګه کشران ، څرنګه واړه ماشومان چې په خیال کې یې هم مړینه نه راتله ، په کتلو ، کتلو لاړل . نوموتي علماء چې دعلم او فضل شهرت یې فضا نیولی وه ، وتلي لیکوالان چې دهغوی دقلم یوې ، یوې لیکي دشوق او عقیدې سترګي رڼولې، دقومونو مشهور مشران چې دهر قدم نښې ته یې په کروړونو متعلقین منتظر پاته کیدل ، ددین سپیڅلي مشران چې تقوی یې دبشریت ویاړ او نازوه ، ځواکمنان چې درستم

او سهراب نوم ونه یې روښانه کول ...

مینه ناک میړونه ، ترځان تیري میرمنې، خوږې میندې، نیک مرغه زامن ، خدمت کوونکي لوڼې ، خواږه دوستان ، ددې ټولو دیو په یو تللو دردناک او زړه دردوونکي مثالونه ډیر ستاسو تر نظر تیر شوي دي.

نوداڅه دي چې ددي ټولو تر لیدلو وروسته بیا هم په داسي غفلت او بې پروایې کې اوسئ.

په ژبه اقرار کوو چې دمړینې وخت معلوم نه دی،هرځای ، هروخت ، هره شیبه اوهره ګړۍ هرانسان ته دمړینې پیغام رسیدلای شي، خو ستاسو په زړه کې مړینه تاسو ته په زړه کې نژدې نه ده ، مړینه چې رانژدې شي نه ځوان پریږدي نه زوړ، نه ماشوم ، نه بد او نه نیک ، نه روغ او نه هم ناروغ.

دنورو مثالونو په کتلو تاسو هم دا ګلیه بشپړوي. خو له دې ګلیې څخه خپل ګران اوخوږ ځان مستثنی کوي. پلانونه جوړوي چې فلانۍ ازموینه به په فلاني کال تیروم ، تر فلاني کال پوري به دومره روپۍ جمع کوم ، په فلاني کال به هلک یا نجلۍ ته واده کوم ، په فلاني کال به له فلانۍ دندي څخه تقاعد اخلم . په فلاني کال به دومره جایداد اخلم ، په فلاني کال به له فلاني کار څخه دومره ګټه ترلاسه کوم. مړینه او بې وخته مړینه هروخت وینئ بیا هم په خپل ذهن کې هر وخت داسي طرحې جوړوئ...

ستاسو به هم تعزيه (فاتحه) واخستله شي

هغه ورځ رانژدې کیدونکي ده چې تاسو به دبل په ځای کې نه بلکې نوربه ستاسو په ځای کې ستاسو دتعزيې لپاره راغونډ وي، تاسو به بې حسه، بې حرکته، دواوري په ځیرسوړ، پرتخته دپاسه دغسل لپاره پراته یاست.

کله چې تاسو په دې درجه بې وسه شئ چې په خپله بې وسي به ستاسو هم رحم راځي. کله چې ستاسو ماشومان ستاسو درابللو لپاره ناري وهي او تاسو اشاره لاهم کولای نشئ. کله چې مو میرمن ستاسو په غم ژاړي، لیونتوب ته ورسیږي او تاسو یې یو ځاځکی اوښکه هم وچولای نشئ، کله چې مو مور او پلار ویش او واخ کوي او تاسو تسلا ورکولای نشي. کله چې ستاسو جسد په چارپایي کښیږدي او اوچت یې کړي، کله چې نور ستاسو دجنازې لمونځ کوي، کله چې تاسو په تنګ او تیاره کړې (قبر) کې کښیږدي او په زړګونو منه خاوره درباندی واچوي، ....

هغه وخت ژر راتلونکی دی، هغه شپه رارسیدونکي ده، چې ته په دخوشحالي مجلسونه، په خوشحاله محفلونو کې، رنګین او له خوند ډکو ناستو کې، په خپلو خنداګانو افسوس وکړي.

آیا یادیږي دي "مړينه!".

(مرحوم مولانا عبدالماجد دریاابادي، دصدق جدید لکهنو نه په منند.)
(۷ صفر المظفر ۱۳۹۷ هـ، ق ۲۸ جنوري ۱۹۷۷ م)

پای

ربنا فاغفرلنا ذنوبنا وكفرعنا سياتنا وتوفنا مع الابرار.

محمد رفعت قاسمي ددیوبند خادم
۲۷ ذي قعده ۱۴۲۹ هـ ق
۲۷ نومبر ۲۰۰۸ دجمعي شپه

دژباړې پای
عبدالله ګل ریان
دهجرت دنړۍ لالهانده ژوند
دیکشنبې ورځ ۱۴۳۱/۲/۲۳ هـ ق، ۱۳۸۸/۱۱/۱۷ هـ ش